# د کندهار فولکلور



لیکوال:

ننګیالی بخرکی

# اهداء

زما د ګران ملګري شهید محمدرفیق حرکت

سپېڅلي روح او د ده د مبارزې د لارې

د ټولو شهیدانو د یاړونو په نوم



استادمحمدرفیق دکندهار یوسیاسي ټولنیز شخصیت ؤچې دهیواددښمنانو بې ګناه دارغستان په لاره کې دلوی اختر په شپه دښوونکې په ګناه شهید کی «روح دې ښاد وي»

# سریزه

زما د دې کتاب عنوان (د کندهار د فولکلوریکو دودونو ځیني برخې) دئ، مګر زه چې څومره فکر کوم زما دغه څېړنه په دې برخه کې نیمګړې او ناقصه ده، ځکه چې د دودونو معنی او کلمه ډېره پراخه ده. د یوه بحر په څېر غني ده. نو له بحر څخه څو قطرې رااخیستل اصلاً نامحسوسه او نه معلومېدونکی کار دئ. خو زه به کوښښ وکړم چې د دې دودونو نورې برخې هم په آینده کې راواخلم او خلکو او د فرهنګ مینه والو ته به ئې وړاندې کړم. ولې دا کار یوازې د یوه نفر کار نه، بلکې د ټولو فولکلور پېژندونکو دنده بولم چې د خپل ملک له غني فرهنګ څخه څه راواخلي او د ټولني په پېژندنه کې له همدغې لارې کومک وکړي.

موږ پوهېږو چې ټولنیز علوم یو له بله ارتباط لري. د یوه علم څېړل د بل علم په تکمیل کې پوره مرسته کوي نو که موږ دلته فوکلوریک علوم رااخیستي دي او د کندهار دودونه مو یکښي څېړلي دي دا به د کندهار د اتنوګرافۍ د علم سره پوره کومک هم وي او برسېره پر دې به مو په دې خاصه پښتني سیمه کې ډول ډول انساني او ټولنیز اقتصادي اړیکي څېړلي وي. د کندهار د فولکوریکو دودونو کتاب کې چې په څو برخو کې لیکل سوی د کار او کارګر ټولنیز اړیکي، د ځوان او پېغلې اړیکي، د زاړه او ځوان اړیکي، د کو چني او زوړ اړیکي د هغو پرګنیزو اړیکو پر بنسټ چې د خلکو له پرګنو د خوا څخه منل سوي دي او زموږ په پرګنیز فرهنګ کې ئې ځای نیولی دئ رااخیستي او په دې کتاب کې مې د یوې مجموعې په توګه ځای کړي دي او زه پوره باور لرم چې د خلکو د فرهنګ د مینه والو له پاره به بې ګټې نه وي.

باید ووایم چې نوموړي فولکلوریک مواد چې تراوسه پوري چا کار نه دئ پر کړی او که ئې پر دې برخو باندي کار کړی هم وي لږ او متفرق غوندي وو نو ځکه مې له نوموړو موادو د راټولولو له پاره پښې رالوڅي کړې او دروازې مې وټکولې څو په هره برخه کې خپل معلومات ثقه کړم او د دې موادو په راټولولو کې مې کوڅه په کوڅه پوښتنه کړې ده او د خلکو له سینو څخه مې د خلکو مال رااخیستی دئ او د خلکو په اختیار کې مې د هغوی د ګټې له پاره تقدیم کړی دئ. نوموړی کار زما د کار د شروع په حیث باید ومنل سي او

زه ډېره هيله لرم چې په دې برخه کې نور کار هم وکړم او يو دوهمه مجموعه هم ايجاد کړم. په نوموړې راټولونه کې چې د کندهار د فولکلور مختلفې برخې نوميږي د ډاکتر صاحب قاسم اڅکزي څخه ممنون يم چې په دې مجموعه کې ئې زما څخه هيڅ ډول هاند و نه سپموی او ځان ئې راسره ستړی کړ او هغه علمې، تاريخې او فولکلوريک معلومات چې د کندهار په مختلفو برخو کې ئې قاسم اڅکزی لري د يادوني وړ ګڼم. د محترم حضرت محمد وياړ له مرستو څخه هم مننه کوم.

په هر صورت د فولکلور په هکله زه خپل نظر داسې څرګندوم چې:

د فولکلور اصطلاح چې اصلاً د انګليسي Folk يعني وګړنيز، خلقي يا فولکلور په معنی سره د يو عام مفهوم لري او د يوه علم په څېر ئې ځان څرګند کړی دئ او د خپلې ځانګړې موضوع څېړونکی علم دئ، څنګه چې نور علوم د خپلې ځانګړې ساحې حدود لري، فولکلور هم د يوه علم په توګه ځانګړې يادونې، نمونې او اصطلاحات لری.

فولکلور د خلکو پر دودونو او راز راز رواجونو او دستورونو باندې رڼيږي، چې د نوو انساني اړيکو څېړنه او ايجاد هم د هغه پخواني فولکلور محصول ګڼلای سو. د فولکلور مفهوم خورا پراخ او دا يوه ډېره بااهميته موضوع ده که څه هم فولکلوريک دودونه فرق او توپير سره لري ولې په دې کې هم شک نسته چې د هري سيمې دودونه چې هر ډول وي د خپل ټولنيز جغرافيايي او وټيزو شرايطو سره سم ايجاد سوي او د هغې ټولنې محصول ګڼل کيږي. لکه څنګه چې موږ دا موضوع په خپل ګران هيواد کې ګورو. په لرغوني افغانستان کې ډېر د ارزښت وړ دودونه سته چې د يوې سيمې دودونه ئې د بلې سيمې له دودونو څخه توپير لري. نو د هر يوه دود سپړل نه يوازې دا چې د هغې سيمې دود مو را اخيستی دئ يا هغه سيمه مو پېژندلې ده بلکې يو باارزښته او تاريخې مواد مو د پناه کېدو څخه ژغورلي دي. لکه څنګه چې زموږ د تېرو ليکوالانو څخه موږ ته ليکني راپاته دي په همدغه پېر (زمانه) کې موږ هم د راټولولو دنده پر غاړه لرو څو فولکلوريک مواد له ورکېدو څخه وساتل سي او د لرغونو تجربو څخه ګټه واخيستل سي او د فولکلور تعبير بايد په درسته توګه وسي او دا بايد خلکو ته ورپه ګوته کړو چې نننې انسانان په همدغه هوښياري چې نن دي په پرون کې نه وه، خو موږ يعني اوسني انسانان د پخوانيو له تجربو څخه زده کړه کړې ده اوس هم په کار ده چې دغو تعبيرونو ته علمي بڼه ورکړه سي او د نورو علومو

په ځېر ئې اصطلاحات او ځانګړتیاوي په علمي ډول سره څرګندي سي. مثلاً د فولکلور د تعبیرونو څخه موږ دغه اصطلاحات ګورو د (رسوم، عقاید، خرافات، رواجونه، اولسي سندري، اولسي موسیقي، نڅاوي، متلونه او د ورځني انسان د ژوند ورځني مشاهدات) دا ټول د فولکلور تر عنوان لاندي مطالعه کیږي او د فولکلور علم ئې جوړ کړی دئ. لکه د بیالوژي په علم کي چي حجره، ساتر و پلازم، د حجرو جذب او دفعه ژوند او مرګ او نور اصطلاحات دي او مجموعاً یو علم ځني جوړ سوی دئ دغسي د فولکلور د یوه علم په ځېر پورته موضوعات څېړي او د هره څانګه یا اصطلاح چي مو ولیده، موږ ئې په جلا څانګه کي څېړلای سو او په همدغه ډول د فولکلور د عالمانو له نظره څخه فولکلور په لومړي سر کي پر دوو برخو باندي وېشل کیږي:

لومړې ته ئې د فولکلور شفاهي برخه او دوهمي برخي ته د فولکلور مادي برخه ویل کیږي. نوموړي دوې برخي باید د کار په جریان کي سره جلا سي او د جلا جلا څانګو په ډول باید بحث پر وسي. که څه هم شفاهي فولکلور او د مادي فولکلور برخه ډېري نژدې اړیکي هم سره لري او د یوه علم دوې برخي هم دي او دواړي برخي د فولکلور تر علم لاندي راځي ولې توپیرونه هم سره لري چي په لاندي ډول به بحث پر وکړو:

**لومړی - شفاهي فولکلور:** د فولکور هغه برخه ده چي د ګړهاري اعضاوو یا ژبنیو اجزاوو په وسیله ګړهار کېدای سي یا هغه برخه ده چي ویل کیږي او د ګړ (ویلو) په وسیله ئې څرګندولای سو، لکه: لنډۍ، ټوکي، کیسې، افسانې، نکلونه، متلونه او نور ...

**دوهم - د فولکلور مادي برخه:** هغه رسومات، رواجونه، دودونه او عنعنات دي چي په مادي او واقعي توګه ئې د یوه واقعیت په څېر په لاس راوړلای سو. لکه عامیانه طب، ترکاڼي، د موچڼو دود او دستور، کرهڼه، موسیقي، د واده دودونه او هم دغه رنګه نور مادي فولکلوریک اړخونه یادولای سو. خو برسېره پر دې هم چي د یوې ځانګړي رشتې او علم په څېر ځانګړې موضوع او علم دئ. نوموړی علم د فولکلور د اتنوګرافۍ (بشرپېژندني) د علم سره ډېري نژدې اړیکي لري او د اجتماعي علومو د څانګو له جملې څخه یو هم فولکلور ګڼلای سو. زما په عقیده فولکلور د یوه علم په څېر د اتنوګرافۍ سره دومره نژدې اړیکي لري لکه تاریخ او اتنوګرافي چي ئې په خپلو منځو کي سره لري او له بله طرفه د اجتماعي علومو د عام خصلت او ځانګړتیاوو له مخي چي ټول علوم یو له

بله سره نغښتي او نژدې اړيکي سره لري نو يو له بله جلا کېدای هم نه سي، ولې دا خبرهم د يادولو وړ ګڼل کيږي، برسېره پر دې چي نوموړي علوم سره نژدې هم دي مګر فاصله هم سره لري او هر علم د خپل ځان د ثبت له پاره ځانګړې موضوع حلولای سي او مجموعاً علوم په ګډه او مجموعي توګه څرګندېږي او د فلسفې د علم په څېر راڅرګندېږي او د کايناتو د نړۍليد په هکله څېړنه کوي او په خپل وار سره د انسان اړيکي د طبيعت او ټولنيز ژوند سره څېړي. له دې ستر او لوی کار سره هر علم په جلا جلا توګه مرسته کوي، که د کېميا علم د طبيعت هغه برخه څېړي چي څنګه لرګی په سکور بدل سو يا مو د (Kcl) پوتاشيم کلوريت څخه K+CL د پوتاشيم برخه جلا کړه او څنګه مو کلورين په لاس راوړل. همدغسي کېميا د نورو عناصرو په لاس راوړنه، د تغير او تبديل اساسي مسئلې څېړي او د طبيعت په يوه ګوښه کي څېړنه کوي او دا چي څنګه د تخل خول قابليت يا د فشار قانون او هم نور فزيکي قوانين څېړي مګر د کېميا څخه د يو طرفه نوموړی د فزيک علم جلا نه دئ او له بلې خوا څخه بېله د کېميا د علم د زده کړي څخه يو فزيک دان نه سي کولای چي د فشار قانون يا د اتم موجوديت تثبيت کړي. نو په همدغه توګه څرګندولای سو چي اجتماعي او ټولنيز علوم هم يو له بله په ارتباط کي او ګډې اړيکي سره لري او يو له بله نه جلا کيږي.

همدغه ډول په اجتماعي علومو کي که څوک د تاريخ د زده کړي علاقمندي ولري نو د هغه ابعاد يعني جغرافيه، سوسيالوژي او د اتنوګرافۍ په علم او فولکلور باندي د هغه منطقې او سيمي بايد بلديت ولري که نه نو ښه تاريخ دان کېدای نه سي. نو په دې توګه که څوک غواړي چي فولکلور وليکي نو د خپلي سيمي په اړيکو او د هغه ځای د خلګو راشه درشه بايد پوره ورمعلومه وي او د خلکو پخوانی حالت د هغه موادو څخه پيدا کړي چي د خلکو مال وي او د خلکو څخه ئې راټول کړي. مثلاً د افسانو پيدا کول د خلکو مال دی. او د خلکو په سينو کي پرتې او يو لړ داسي وګړيزي اړيکي پکښې پرتې دي چي په پخوانيو زمانو کي د انسانانو مناسبات او اړيکي څرګندولای سي او په راتلونکي کي هم د ګټي وړ دي، لکه څنګه چي موږ يو لړ پخوانۍ اولسي کيسې لرو چي هلته د انسان اراده پيدا کولای سو او يو مثال ئې موږ د کندهار د ډېر نامتو فولکلور ليکونکي محترم محمدګل نوري صاحب په ليکونو کي ليدلای سو. د مثال په توګه د زبرباني شاپېرۍ نکل. دا هغه

نکل دئ چي نن موږ ته يو خيال څرګنديږي ليکن د نن خيال ممکن په پخوانيو وختونو کي يو واقعي جريان وو. ولي سينه پر سينه تر نن ورځي پوري راغلی دئ او ډېر تغيرات پکښې راغلي دي. نو ځکه افسانې ګڼوري دي. په نوموړي نکل کي د انسان اراده توضيح سوې ده او هلته د ديب او انسان تر منځ په ارتباط خبري سوي دي او اولي انسان پر ديب باندي د خپل هوښيار فکر په درلودلو سره بريالی کيږي او هغه په خپله شاوخوا کي داسي سره نغږي چي انسان ته د تسليمی سره ټيټوي. که څه هم د ديب جسم په نوموړي نکل کي داسي انځور سوی دئ چي پرتله ئې د انسان سره د جسم پر اساس نه سي کېدای. ولي د نکل څخه څرګنديږي چي دغه ډول ستونزي د انسان په مخ کي موجودي وې انسان د هغه ستونزو څخه بريالی راوتلی دئ، نو ځکه موږ وايو چي له دغه ډول شفاهي ادب څخه نن هم ګټه او الهام اخيستل کېدای سي.

همدغسي د فولکلور علم د بشري ټولني په تاريخ کي د لرغون پېژندني له علم سره نژدې اړيکي لري او ډېري مرستي ورسره کولای سي او نتيجه دا چي فولکلور پېژندنه د يوې ټولني هغه شتمني ده چي هغه ټولنه په پېژندل کيږي. نو ځکه بايد ډېر ارزښت ورکړو او پخوانيو شتمنيو ته د بې ارزښته متاع په سترګه و نه ګورو. په همدغه دليل ما ځان په دې مکلف کړی دی چي دخپلي سيمي دودونه را ټول کړم..دلته ديادوني وړ بولم چي ووايم: په دغه شرايطو کی چي زما دژوند سهار په ماښام تبديليږي،دغه داسي شرايط دی چي هيواددسختوکړاونوسرمخامخ دی اوهيوادوال دخپله کوره څخه يا جلا وطنه دي او يا هم په خپلو کورونو کی دجنګونو او نا خوالو په سبب نا ارامه دی .اوزه چی دکندهار دفلکلوردغه لومړی وار چاپ خپروم دکابل په هغه شرايطو کي ناست يم چی په يوه ځانګړې محدوده کی يم،لاس مي دولس سره اړيکو ته نه رسيږي. خوخدای او هست بيا هم هغومره چی کولای سم دغه مجموعه دفلکلورمي وليکل او خپره می کړه.
خو دوهم وار چاپ هم زه په هيواد کي نه يم ناست او دهيوادنه بهر دهالينډ په هيوادکي ژوند کوم. چی بيا هم لکه څنګه چی لازمه ده نورغني فلکلوريک موادپر ډېر کړم او دکندهار دفلکلور کتاب په غني يا بشپړه کړم.

# تقریظ

د کندهار د فولکلوریکو دودونو ځیني برخي

ځرنګه چي دغه اثر ما ته د فولکلورددیابرتمینټ له خواد تقریظ له پاره راسپارل شوی دی نو زه دغه فولکلوری باارزښته اثر د خپل تقریظ یا نظر په چوکاټ کي په لاندي ډول سره ارزیابي کوم:

پوهان وایي: «که تاریخ او تاریخي پلټني د یوه ملت او دیوې ټولني د موجودیت ظاهري بڼي خلکو ته ښیي او ور په ګوته کوي ئې نو فولکلور خلک د هغې ټولني د روح سره آشنا کوي. دا فولکلوردئ چي د تاریخي څېړنو له پاره زمینه برابروي او مورخینو ته د څېړني له پاره باارزښته فولکلوري مواد وړاندي کوي.»

فولکلور د یوې جامعې او ټولني د ژوند هینداره ده، نو که څوک وغواړي چي د یوې ټولني او جامعې د خلکو په افکارو، عقایدو او نورو کړو وړو باندي ځان پوه کړي نو د همدغي جامعې او ټولني فولکلوري او کلتوري مطالعه ورته ضرور ده.

فولکلور یوه جامع اصطلاح ده چي په هغې کي اساطیر، منظومې، کیسې، متلونه، لوبي، سرودونه، رسم او رواجونه او ځیني نور فولکلوري مواریث چي د یوې ټولني څخه بلي ټولني او جامعې ته انتقالیږي موجود دي. که څه هم په دغو پورته یادو شویو موادو کي ځیني ئې به اتنوګرافیکي جوړښت پوري اړه لري، خو له فولکلور سره ئې اړیکي زیاتي دي. نو که څوک وغواړي چي د فولکلور په حقیقي معنی پوه شي نو د ټولني د اتنیکي خصوصیاتو څخه دي بې خبره نه وي، ځکه چي د دغو دواړو په پېژندلو سره د ټولني سمه او درسته پېژندنه په لاس راځي. نو د دې له پاره چي فولکلوري مواد د وخت په تېرېدو سره له منځه ولاړنه شي او د زمانې سېلابونه ئې له ځانه سره یو نه شي نو فولکلور پوهان په دې هڅه کي دي چي دغه قیمت لرونکي مرغلري د زمانې له سېلابونو څخه بچ کړي او راتلونکي نسل ته ئې د یو ډېر دروند او ښه سوغات په توګه پرېږدي.

نو دغه دئ زموږ ځوان لیکوال او محقق ننګیالي بځرکي دغه درونداو باارزښته کار د خپل توان او وس په اندازه په ډېره سړه سینه سره کړی دئ او د خپلي سیمي د

سپین سرو ښځو ا وسپین ږیرو سړو څخه ئې فولکلوري مواد راټول کړی دي او لیکلي دي چې دغه کار ئې د قدر وړ دئ. نوموړي په خپله سریزه کې د کلتور او فولکلور په باره کې ډېر څه ویلي  او لیکلي دي چې دواړه سره نژدې اړیکي لري. ځیني مثالونه ئې راوړي دي او خپله ادعا ئې ثابته کړې ده. وروسته وايي تر څو پوري چې یو تاریخ لیکونکی د اولس کلتور او فولکلور مطالعه نه کړي هغه ښه تاریخ لیکونکی نه شمېرل کیږي او دا رښتیا هم ده، ځکه چې فولکلور د تاریخ لیکونکي له پاره تاریخي مواد برابروي نو تر څو پوري چې یو تاریخ لیکونکی د جامعې او ټولني په فولکلور او کلتور باندي پوه نه شي هغه درست او سم تاریخ نه شي لیکلای.

۱. نوموړي لیکوال د کندهار د خلکو د کوزدې او د واده د دود او دستور په باره کې ډېر څه لیکلي دي او ډېري فولکلوري مرغلري ئې راسپړلي دي چې ټول کتاب د مطالعه کوونکو له پاره ډېر په زړه پوري دئ او دا هلته سرې ته جوتېدای شي چې ټول کتاب مطالعه کړي. همدغه ډول ئې د اوبو یخولو، لوښو او نورو وسیلو په باب ډېر په زړه پوري معلومات لیکلي دي.

۲. د نظرمات فولکلوریکه سندره ئې په ډېر ښه ترتیب سره د خپلي سیمې له سپین سرو څخه ثبت کړې ده چې د یو فولکلوریسټ له پاره ډېره په زړه پوري ده.

۳. د کندهار د ځینو سیمو د عنعنوي مېلو په باره کې ئې ډېر فولکلوري مواد راټول کړي او ثبت کړي دي او د اتڼ سندري خو ئې د یو فولکلوریست له پاره ډېر ارزښت لري.

۴. ښاغلي بخرکي د کتاب په وروستی برخه کې د کنداهار د خپلي سیمې اولسي فولکلوري لوبې په ډېر ښه شان سره شرحه کړې دي. ژبه ئې روانه ده او د لوستلو څخه ئې سړی خوند اخلي او هغه پخوانی اولسي لوبي سړي ته رایادوي. رښتیا چې د پښتونخوا په پښتني سیمو کې د اولسي دود او دستوراو اولسي لویو فولکلوري مرغلرو ستره ذخیره پټه پرته ده نو که دغه قیمتي مرغلري رابرسېره نه شي د زماني سېلاب به ئې یوسي او بیا به وخت تر وخته تېر وي.

څرنګه چې د اولس کلتوري موضوع یوه ډېره مهمه موضوع ده او دغه موضوع وخت پر وخت د تغیر او بدلون سره مخامخ کیږي او یا د وخت په تېرېدو سره له منځه ځي او ورکیږي نو باید چې ځوان لیکوالان وهڅول شي او تشویق شي تر څو دغه قیمتي

مرغلري د خپلو سيمو څخه راغونډي کړي او راتلونکي نسل ته ئې د يو باارزښته سوغات په توګه وړاندي کړي.

ښاغلي بخړکي خپل کتاب په ۲۷۰ مخونو کي ليکلی دئ اودفولکلوريستانو فولکلوري تنده ماتولی شي او د فولکلور په باره کي يو ستره ذخيره او ګټور اثر دئ نو چاپ ئې ضروري دئ او زه ئې د چاپ طرفدار يم چي دغه باارزښته مرغلري خوندي پاته شي.

په درناوي

د سرمحقق مرستيال محمدمومن پتوال

يادونه : زه چی دادکندهاردفلکلورکتاب ددوهم ځل دپاره خپروم. نوهغه تغيرات چی دلومړی چاپ څخه وروسته راغلی دي . دهغو يادونه ضروری بولم.

دلته غواړم چی دخدای بخښلی مؤمن پتوال درند روح ته ددعا لاسونه پورته کړم.خدای دی دده سره ښه وکړی ډيرمهربانه،هيواديااله اودوخت يواکاډميک لوړشخصيت وو. نومړی درند اکاډميک شخصيت دسرمحقق يا پوهاند تر حده خپل ځان دخپلو کړنو او زيار په نتيجه کي رسولی وو.هغه لوی استاد،څيړونکی وو، چي دخپل ځانګړی طبعت له مخی داکاډمی پرتولو غړوباندي ګران وو.اوديوه درند مشر په توګه ئې احترام ور ته درلودی. خدای بخښلی پتوال صاحب دعلومو اکاډومی علمی غړی وو، چی دعلوموااکاډمی په ژبو او ادبياتو په ريا ست کي دنده تر سره کوله، هميشه ئې دپښتنو دپاره ليکني کولي،چی دده په ليکنو سره دپښتوادبياتو ډير غني مواد خپل کړی وه.خدای بخښلي مؤمن پتوال دتولو پيژندنکو په زړنو کي ځانګړی ځای درلود. پر ما هم ډير ګران وو.او ديوه مهربانه مشر په توګه مې درناوی درلود. جرئت می وکړ چي زما دکتاب په کتنه کي مرسته را سره وکړي.او يوه ارز وينه زما پر کتاب باندی وکړي.خو! خدای بخښلی مؤمن پتوال په ډيره مينه سره زما کتاب په ډيره دقيقه توګه ولوستی او خپل مهربانه نظر ئې هم پر وړاندي کړ. چي زه به دده مهربانی هم هيره نه کړم. نومی دکتاب په دوهم ځل خپرولو کي دخدای بخښلي مؤمن پتوال څخه بيا هم دلو ستونکوسره دياد په خاطر دپتوال صاحب څخه دمننی يادونه وکړه او دده پاک روح ته دعاکوم «روح دې ښادوي او يادډې تل وي»

# تقریظ

د کندهار ځيني فولکلوري دودونه محترم پوه ننګيالي بخرکي ليکنه چې په رسمي توګه ما ته د تقريظ او نظر غوښتلو له پاره راسپارل شوې خپل نظر په لاندي ډول وړاندي کوم:

۱. نوموړی اثر چې د کندهار د سيمي يوه کلتوري او فولکلوري مجموعه ده چې د کندهار د سيمي غوره دودونه او ځيني ټولنيزي لاري چاري پکي راټولي شوي دي نوموړی اثر نه يوازي د فولکلور پوهانو له پاره ګټور دئ بلکي د اتنوګرافانو او تاريخ پوهانو له پاره هم ګټوره او په زړه پوري مجموعه ده. څرنګه چې د يوه اولس دوديزي لاري چاري او کلتوري پانګه يوه ډېره مهمه او باارزښته موضوع تشکيلوي د بلي خوا نه ګورو چې د زياترو خلکو او نفوسو مخه د ښاري ژوند په لور مخ په چټکي سره روانه ده او د خلکو په ژوند او ټولنيزو لارو چارو کي هم په چټکي سره بدلون رامنځته کيږي چې ورو په ورو د اولسونو او پرګنو دغه سوچه او نګه دودونه هم بدلون مومي او بالاخره له منځه درومي نو د دې له پاره چې دغه سوچه دودونه او ټولنيزي لاري چاري له منځه لاړي نه شي او خوندي وساتل شي نو ځوان ليکوالان او څېړونکي بايد وهڅول شي چې د خپلو اولسونو او سيمو څخه په زړه پوري ټولنيزي لاري چاري او ګټور دودونه راټول کړي، تر څو چې دغه قيمتي او باارزښته مرغلري د خپلو سيمو څخه راغوندي کړي چې راتلونکي نسل ته ئې د يوه باارزښته سوغات په توګه خوندي وساتي. محترم ليکوال بخرکي صاحب دغه باارزښته کلتوري او فکلوري مواد په ښه شان سره راټول کړي او په روانه ژبه ئې په دې وړې مجموعې کي راځاى کړي دي چې د راتلونکو څېړونکو له پاره د يوه باوري ماخذ په توګه ګټور کار دئ.

۲. په نوموړي اثر کي د کندهار د سيمي د واده او کوزدې ټول دودونه راټول شوي دي. د کندهار د سيمي ټول ټولنيز، اقتصادي او د ټولنيز جوړښت بڼې او شکلونه پکي جوت شوي دي چې د واده او کوزدې په دودونو کي ډېر ارزښتمن او ګټور کار دئ. د واده سندري چې يو ځانګړی فولکلوري ارزښت لري او د فولکلور پېژندونکو له پاره ډېر ګټور او

په زړه پوري مواد برابروي او تر اوسه دا مهم کار محترم بخرکي صاحب تر سره کړی چې یو ګټور فولکلوري کار ګڼل کیږي.

۳. په نوموړي اثر کې بل ډېر مهم کار چې د فولکلور له پاره ډېر ګټور ارزښت لري هغه د اتڼ نارې دي چې د اتڼ نارې د شفاهي ادب او فولکلور غټ اصل جوړوي.

۴. په نوموړي اثر کې د فولکلور د یوې برخې د کرکو او کړنو، یوه برخه د نظرماتي ده چې د نظر ماتولو فولکلوریکه سندره ئې په ډېر ښه ترتیب سره د کندهار د سیمې له سپین سرو او پاخه عمر لرونکو ښځو څخه ثبت او رانقل کړې ده.

۵. محترم لیکوال په دې مجموعه کې د کندهار د سیمې فولکلوري لوبي او د هغو ډولونه په ښه توګه سره ځای کړي چې فولکلوري څېړنو له پاره یو ګټور کار ګڼل کیږي.

۶. محترم لیکوال په دې وړه او ارزښت ناکې مجموعه کې د کندهار د سیمې لاسي کارونه لکه کلالي، خامک دوزي، د موچنو او کوښو د جوړولو د لومړنیو بنو څخه تر اوسه پوري د جوړښت په تغیر څېړنه شوې. دا کار هم ګټور او په زړه پوري دئ. په تېره بیا د هغه چا له پاره ډېر ګټور دئ کوم چې غواړي د کندهار د سیمې د لاسي صنایعو په برخه کې څېړنه تر سره کړي.

۷. په نوموړي اثر کې د کندهار د سیمې د موسمي او عنعنوي مېلو د ساعت تېریو او د هغو د جوړېدو ځایونه په مفصل ډول سره څېړل شوي چې د عنعنوي مېلو د اجراء کولو خاص طرزونه او جوړېدنه کټ مټ د سیمې د خلکو نه ثبت او رانقل کړي دي چې د اتنوګرافۍ څېړنو له پاره ګټور مواد پکې ځای شوي دي.

۸. همدارنګه په نوموړي اثر کې د عنعنوي مېلو د ثبت او لیکلو په برخه کې د لیکوال ابتکار په دې کې وینم چې د بېلابېلو مذهبي فرقو لکه مسلمانانو او هندوانو او همدارنګه د نر او ښځو د مېلو د تم ځایونو په ښودلو سره ئې دغه برخه ډېره ښکلې کړې ده او هم ئې فولکلوري اصطلاح ګاني په ښه ډول سره ثبت او رانقل کړي دي د ساري په توګه: (اتراک) چې زما په نظر یوه فولکلوري اصطلاح ده او هغه ځای ته وایي چې د مېلې ډله د فرش یو شی لکه دری، ټغر، څادر یا بل شی هوار کړي او ورباندي کښېني. سره د دې چې د محترم بخرکي په دې مجموعه کې ډېر په زړه پوري او ګټور مواد نور هم راټول شوي دي چې د کندهار د سیمې په کلتور او فولکلور باندي رڼا اچول شوې زه ئې د هغو نورو

یادونو نه تېر شوم خو په اخیر کي دومره زیاتوم چي بښرکي صاحب سر ته رسولی تر اوسه پوري په نوموړي سیمه کي چا نه دئ کړی. زه د نوموړي کار د ستاینې وړ بولم او د دې وړې مجموعې چاپول ضروري ګڼم او د چاپ سره ئې موافقه لرم.

په درناوي

محقق شهزاده زیارن

د فولکلور دیپارتمنت علمي غړی

خدای بخښلی محقق شهزاده زیارن دپښتوژبي او ادبیاتو یولوی استاد او دعلومو داکاډمۍ علمي او باصلاحیته غړی پوهه ؤ.خدای بخښلی استادزیارن برسیره پر علمي صلاحیتونو په سیاست کي هم ګړندی سیاست پوه وو.د خدای بخښلي زیارن صاحب دژوند ډیره برخه په سیاست ، هیوادپالني اوادبي کارونو کښي تیره سویده.زیارن صاحب یو مهربانه ټولنیز شخصیت وو.چي هروخت ئې مادمجلس څخه خونداو پنداخیستی. خدای بخښلی زیارن صاحب دعلوماواکاډمۍ پرعلمي کدر برسیره دحزب دموکراتیک خلک دسیاسي کدرونو دجملې څخه هم وو.خدای بخښلي زیارن صاحب دادبیاتوپه برخه کي ډیري لیکني اوداررزښت وړکتابونه دځانه پرایښي دي. داستادزیارن صاحب څخه ته وخت چی ما هیله وکړه چي دنوموړي کتاب دکندهارفلکلورپه ارزوینه کي مرسته وکړي ،نونه یوازي داچي په ډیره مینه ئې زما غوښتنه ومنل،بلکي دکتاب په اصلاح کي هم په ورین تندي مرسته را سره وکړه ،چی نومړي مرسته زما دپاره دپوررزښت وړګڼل کیږي.خپله زیارن صاحب هم دفلکلورپېژندني په برخه کي خوراډیري لیکني اوغني موادخوندي کړي دي.چي دعلوموپه اکاډمۍ،پوهنتو ن او نورو علمي مؤسیسو کې زده کونکي ګټه ترې اخلي.

خدای بخښلی شهزاده زیارن سره ما دنژدې څخه پیژندل هغه وخت چي زه دعلومو اکاډمۍ دخپرونودچارومرستیال وم.خدای بخښلی زیارن صاحب سرپرست دعلوماواکاډمي دخپر و نودریاست ریس وو.دغه وخت ئې په نوموړي ریاست کي ډیره پاملرنه دمستحقو کتابونو خپرولو ته وکړه، په ادری تنظیم کې هم ډیره پاملرنه درلودله.زما سره ئې دعلومو اکاډمۍ دهری برخي خاطرې را سره دي خو اوس داسی وخت را غلی دی چي خدای بخښلی په حق ورسیدی او هغه کتاب چي موږ به ئې پر هر برخه باندی خبري اتری کولې اوس زه دمړیني یادونه کوم . په پای کښي وایم : دشهزاده زیارن دی روح ښادوي یاددې تل وي.

## دکندهار دفلکلوردکتاب ددوهم ځل دخپرېدو ضرورت

## یادونه

دکندهارفلکلورکتاب چې دکابل پوهنتون دژبې اوادبیاتودپوهنځی او دافغانستان دعلومو داکاډمۍ په غوښتنه ما دخپل زیاراو زحمت په ګاللو سره دلومړي ځل دپاره دکابل په دولتي مطبعه کې په ۱۹۹۰م کال داپرېل په میاشت کې چې د۱۳۶۹هـ ش کال دحمل دمیاشتي سره برابره ده د۲۰۰۰ ټوکه په تیراژسره خپورکړ.دعلومو اکاډمۍ په چوکاټ کی دغه یونوی کتاب وو،چې خپورسو.ددغه کتاب په خپرېدوکې زه دکابل په ښارکې وم. چې داهغه شرایط وه چې یوه ولایت او بل ولایت ته لاري بندي وې او تګ اورا تګ ګران کاروو. او دکندهاردفلکلور لمنه ډېره پراخه ده او خورا ډېره ځېړنه غواړي. چې دغه ځېړنه چې ماکړې ده دهغه وخت دشرایطو سره وړده؛خو بشپړه نه ده.او دنوموړي کتاب تیراژ که څه هم ۲۰۰۰ته رسیده،خو دخلکو دغوښتنو په سبب په ډېر لږ وخت کي دکتاب دمینه والو دخوا څخه را نیول سو. او دبازاردکتاب پلورنځیو څخه ټول کړل سو. زه چې کابل ته خپله په ۲۰۰۴م کال او ۲۰۱۶م کال کی تللی وم. ددغه کتاب دتر لاسه کولو هڅه می هم وکړه، خو بریالی نه سوم. ولې په کندهار کې مي دیوه ملګري کتاب پلورنکی څخه یو ټوک رانیوی. په خوشحاله سوم.خوڅه وخت چی مي کتاب سرترپایه وکتۍ، نودکتاب کاغذدومره وران سوی وو، چی هم ئې رنګ تغیر موندلی وواو هم ئې توري په ډېرو ځایو کې دویلو وړنه وه. نومي دځانه سره پریکړه وکړه چې دغه کتاب باید ددوهم ځل دپاره بیا خپورسي.او مخکې ترهغه چی زه ددې تصمیم ونیسم وماته دډېروکتاب پلورنځیودخوا څخه هم به بیلا بیلو ختوکې دهمدغه کتاب ددوهم ځل دخپرېدو یادونه را ته سوې وه. خو ما دغه کتاب


ومناسب وخت ته پرېښودی، ځکه؛ ما نور کتابونه چې دورځي موضوعګاني ئې درلودلې دهغه کتابونودخپريدو په خيالو کی غرق وم. چي دهغه دجملې څخه دمرحوم محمد علم بڅرکي کتابونه وه.او همدغسي او زما يوسلسله کتابونه لکه : دخدای بخښلي محمد علم بڅرکي په باب کتاب ( دمحمد علم بڅرکي دژوند ځيني برخي) ، دخدای بخښلي بهرام خان اڅکزی کتاب ( دمؤلوي بهرام خان اڅکزي دژوندملي اوډمو کرا ټيکی مبارزې) ، دحاجي محمد انورخان اڅکزي خاطرات ليکونکی (محمد علم بڅرکی)،دښځوو تاريخ ته يوه کتنه ليکونکی (محمد علم بڅرکی)، همدغسي يوه سلسله نور کتابونه می هم دکندهار تر فلکلور مخکي خپاره کړه چی نومونه ئې دهمدغه کتا ب په ورستی برخه کی را غلي دي. نو همدغسي ما خپل ورستي کتابونه دښاغلي روهيال استادپه تشويق سره خپاره کړه چي دکندهاردفلکلوردکتاب دخپريدو غوښتنه ئې هم را څخه وکړه،کورئې ودان چي ددغه تشويش څخه ئې هم خلاص کړم او ددغه کتاب چاري ئې هم پر خپله غاړه واخيستې.خو ! نن چی زه دغه کتاب خپروم هغه کسانو چي ددغه کتاب په لو مړي ځل خپريدو کې مرسته کړې وه هغه اوس زموږ په منځ کی نسته او زه دهمدغه يادونی په سلسله کی دهغوی پاک روح ته دوعا کوم. خدای دې جنت فردوس نصيب کړي.چي په دغه کتاب کې زما سره مرسته کړې ده. نو موړی کسان لکه : دافغانستان دعلومو اکاډمی علمي قدر دسرمحقق مرستيال خدای بخښلی محمد مؤمن پتوال چي خپله هم خورا ډيری ليکنی لري. خدای بخښلی شهزاده زيارن چي دعلومو اکاډمی علمي قدر دمحقق وياړلې علمي رتبه ئې درلودله او دفلکلور دديپارټمنت علمي غړی وو، مرسته ئې ديادونی وړګنم. همدغسي دپيداګوژۍ دپوهنتون علمي مرستيال خدای بخښلی علي

محمدرسولي مرسته چي دكتاب په علمي برخه اود كتاب په خط نويسی كې مرسته كړيده دهغه تشويق او دخدای بخښلي مخامخ مرسته ديادولو وړبولم ، په دې سلسله كې خدای بخښلی محمد قاسم اڅكزی چی ددوا جوړولو يا (فارميسي)دمؤسيسې درياست مرستيال او دواكسين جوړولو دبرخي امر وو، دكندهارپه رواجوكې ډيره تجربه درلودله په ځانګړې توګه داڅكزوپه كلتوری برخه كې ماته ښې مشورې را كړی دي. روح دې ښادوي ،نن ددوهم ځل دكتاب دومره ډيروخت تير سوی دی،چی دغه ټوله يادونكې كسان په حق رسيدلي دي. او زه هم په دوهم ځل خپرولو كي ددې فرصت پيداكوم چي ددغو ټولوعلمي شخصيتونو روح ته دوعا وه كړم.

وختونه تير سول ددغسي فرهنګي كتابونو ضرورت ورځ تر بلي ډيريږي. نن ورځ چي دكمپيوټر دوران دی ، هغه هلكانو چي به دآزادي هوا په چاپيريال كی دهوائي مرغكه يا توډنډې لوبه كول اوس ئې دكمپيوټر په وسيله نوري هغه لوبو ته مخه كړې ده چي دبهرنيو هيوادونو په تخنيكي مهارت سره ئې په كمپيوټرونوكی دانټرنيټ په مرسته دنړۍ نوروهيوادوته رسوي. نودافغانستان هلكان او نجونی هم نن دخپلو لوبو څخه مخ اړولی دی او په اسانه توګه ئې په خپل كوراو خونه كي لوبه تر سره كوی اووخت پر تيره وي. اودبله پلوه بيا دنفوسو دډيروالي پر بنسټ هغه پراخ ميدانونه چي دهلكانودلوبودپاره وړاو مناسب وه؛هغه اوس نسته دبيلګي په توګه سالوخان چمن په كندهار كي اوس دخلكو داستوګني ځای دی. همدغسي نورنو ځكه هغه پخوانی لوبي هم دوخت داقتصادي شرايطوسره تغيرخوری. خوزه هيله لرم چي نوي ځوانان دغه لوبي دوخت سره سمي په كمپيوټراوياهم په ځانګړی ميدانو كښي دفرهنګي ميراثونوپه څير وساتي. ننكيالی بڅركی

# لومړی څپرکی

## په کندهارکي د واده دوداو دستور



په دې مراسمو کي تر هرڅه مخکي او لومړی ناوې او زوم ډېر اصلي رول لري چي د واده مراسم پردوی باندي جوړېږي. په دې مراسمو کي زوم هغه څوک دئ چي دلومړي ځل له پاره د یوې پېغلي سره د ژوند شریک او د ژوند په خوږو او ترخو کي ګډ مسئولیت پیدا کوي او د راتلونکي ګډ ژوند مسئولیت سره لري.

ناوې هغه څوک ده چي د لومړي ځل له پاره د زوم کورته راځي او دکورچاري ورسپارل کيږي او واده د ناوي او زوم په ژوند کي تر هر څه يو جالبه او له خاطراتو ډکه برخه ده.

د واده په دود او دستور کي نه يوازي دا چي يوه پيغله او يو ځوان د واده او کوزده کولو په دود سره يو ځای سي، بلکي نوموړي مراسم په ډېر مصرف،جمع وجوش او ساعت تېري سره نيول کيږي او په دې ورځ هر واده کوونکی کوښښ کوي چي خپل د واده مېلمانه خوشحاله وساتي او ډېره ښه ډوډۍ ورپخه کړي، څو دراغليو مېلمنو ښه عزت وسي. نو په همدغه دليل هر ځوان کوښښ کوي چي مخکي د واده کولو تر مراسمو ټول مصرف او پيسې تهيه کړي.

د واده په اړيکو کي د زوم او ناوي دواړي خواوي خپل دوستان خبروي او د خبرولو په دود او دستور کي د زوم او ناوي دواړي خواوي ګډ تفاهم او پوهول او راپوهول سره کوي او بيا په هغه اندازه پيسې د زوم طرف ورته تهيه کوي. که چيري د زوم اقتصادي او وتيز ژوند ښه وي؛ نو په دې صورت کي مصرف زياتيږي، يعني زوم ډېر مصرف کوي او د کندهار ښار يا شاوخوا څخه شوقيان (غزل ويونکي) هم راولي او د شوقيانو د راوستلو سره هغه کسان چي رسمي خبر دي دلې (دلته) ډوډۍ په واده کي خوري ولي د شاوخوا کلي خلک چي د شوقيانو څخه خبريږي چي په پلانکي کلي کي شوق دئ بيا خپله ډوډۍ په کورکي خوري او بيا شوق ته تر سهاره کښېني. ولي برسېره پر دې غټ - غټ سماوارونه د چايو جوش وي او هر څوک چي د چايو غوښتنه ولري په وړيا توګه چای خوړلای سي. نو پر همدغه اساس يوه جالبه له خاطراتو څخه ډکه ورځ ده چي د واده مراسم ئې په دې ترتيب سره را پيل کيږي:

۱. د زوم له خوا ښځې پرکورو باندي ګرځي، تر څو يوه داسي نجلۍ پيدا کړي چي ښايسته او پر ښايست سربېره دکار صفت ولري. په کندهار کي کار عبارت دئ: داوړو اخښل او ډوډۍ پخول، جارو، کالي ګنډل، خامک او داسي نوري د کور چاري لکه: صفايي (تدبير منزل) سربېره پر دې د پيغلي بل ښه صفت هم دا دئ چي پيغله بايد شرمناکه او قانع وي نو په دې اصطلاح قانع نجلۍ وايي.

څه وخت چې د دې شرایطو سره سم د زوم له طرفه ښځې له یوه کور څخه نجلۍ انتخاب کړي، نو بیا خپله د زوم سره په دې باره کې خبرې کوي، خو زوم په اول سر کې تر تاثیر لاندي راغلی وي شرمېږي او موریاخوریا خاله،چې دده په انتخاب کې رول لري، له ده څخه پوښتنه کوي اودی جواب ورکوي. خو بیا هم داد یوې عنعنې شکل لري. پس له دې څخه زوم راضي کېږي. نوردزوم موراو خاله د انتخاب سوي نجلۍ او یا پېغلې کور ته ځي او یادونه ورته کوي، دې ته مرکه ویل کېږي.

مرکه چې د پېغلې یا آینده ناوې کورته ورغله، نو ناوې د هغې په درک سره، چې زما له پاره مرکه ده ځغلي او په بله خونه ننوزي یا پټېږي او کوښښ کوي چې په داسې خونه کې پټه سي چې د مرکې په هکله خبرې واوري. د ناوې د کورنۍ غړي د مرکه کوونکو احترام کوي او دعزت په سترګه ورته ګوري چای سره ځښې او د هلک او نجلۍ (ناوې او زوم) په باره کې خبرې کېږي.

په خوږو او صمیمي خبرو کې د زوم د کورنۍ د خوا یادونه کېږي. په دې وخت کې د ناوې د کورنۍ له خوایو نامعلوم جواب ورکول کېږي، چې مور به خبرې پکښې وکړو، خو په دې جواب سره د زوم موراو نورمرکه کوونکي قناعت نه کوي. په عمومي ډول رواج داسې دئ، چې په لومړۍ ورځ (هو یا نه) جواب نه ورکول کېږي؛ خو د لومړۍ ورځې په ماښام د ناوې د پلار او ورور سره خبرې کوي. هغوی بیا د نوموړي هلک یا زوم په باره کې معلومات پیدا کوي که ئې و پېژندی تصمیم نیسي. نو په دې ترتیب مرکه کوونکي هم یوه یا دوې ورځې معطله کېږي، څو پلټنه وکړي چې نوموړی هلک څه صفتونه لري؟ په څه مصروف دئ؟ یعني کسب لري که نه؟ پر دې سربېره یې د ټولنیز، سیاسي او اجتماعي محیط پلټنې کېږي، چې له کومو کسانو سره ناسته ولاړه لري؟ ځکه د ناستې ولاړې خلک زیات تأثیر لري. نو وروسته له هغه چې هر اړخیزه پلټنه وسوه (پوښتنه وسوه) نو پس له دغه فرصت، چې یوه او یا دوې ورځې په برکې نیسي، د بیا له پاره د زوم مور، خاله یا خور ورځي او یادونه ورته کوي.

کله کله داسې هم پېښږي چې د ناوې له خوا څخه په دې، چې د ناوې قدر ئې زیات کړی وي، نو بیا هم مثبت جواب نه ورکوي، خو له خبرو څخه ئې معلومېږي، چې د (هو) جواب وایي. یا وایي مور بیا هم معلومات کوو او یا وایي چې مور ئې (ماما) نه دئ پوښتلی.

په هرصورت د مرکه کوونکو امید بیا هم موجود وي حتی داسي راغلې ده، چي د څلورو څخه تر پنځو پلاوو وروسته شېريني ورکړي. خو البته د ناوي له خوا څخه په دوی کي دا اصطلاح وي چي قدرمنه سي او کله داسي هم پېښېږي چي په اوله پلا سره بیا دوی و ښځو ته شېريني نه ورکوي او ورته وايي چي نارينه مو سبا را ولېږئ چي شېريني ورکړو. څه وخت چي نارينه ورسي د ناوي له خوا څخه هغه نژدې، هوښيار، پاخه سپين ږيري سره راټولېږي او د زوم د طرف له سپين ږيرو سره معرفي کيږي.

په دې وخت کي د زوم د خپلوانو ښه هرکلی کيږي. په دغه وخت کي شيدې يا چای خوړل کيږي او په ډېر صميميت سره تبادل افکار او خبري کوي. د خبرو په منځ کي پر اصلي موضوع باندي مرکه کوونکي په داسي ډول پيل کوي:

لومړی د ناوي د کورنۍ صفت کوي او خپل علايق ښيي وايي چي: ستاسي يوه ډېره نجيبه کورنۍ ده او موږ غواړو چي ستاسي سره دوستي وکړو.

مقابل لوری هم څه ناڅه د دوی له ستاينې څخه مننه کوي. په دې ترتيب د هلک او نجلۍ د نامزادۍ يا کوزدې مراسم پيلېږي، نو د نجلۍ له طرف څخه يو مشر سړی د هلک له خپلوانو څخه غواړي چي يو څه د نجلۍ پر نامه کړي او هغه دوی مني يا نه؟ خو د مناقشې په صورت کي جرګه فيصله کوي او يا هغه مشر چي له دوی سره يو ځای راغلی دئ هغه مداخله کوي او وايي چي: سره جوړ سئ! د جوړېدو په صورت کي بيا د ناوي طرف د زوم و طرف ته شېريني ورکوي. شېريني ئې دمخه لا په يوه پتناسه کي اچولې وي او يو يا څو دانې قند ئې د شېرينۍ سره يو ځای په پتناسه کي ايښي وي، يو زرين دستمال ئې پر سر وراچولی وي او د زوم د پلار يا کوم بل مشر ته ئې ږدي اوس نو دلته دوه حالته موجود دي:

۱. هغه حالت دئ، که چيري دستمال ورکوي، فقط دغه شېريني ورکول کيږي او د ناوي له کور څخه راوزي، شېريني اخلي او د دستمال د مراسمو ورځ تعين او ټاکي.

۲. که ددستمال په نامه بله ورځ و نه ټاکل سي په دغه ورځ باندي شېريني هم اخستل کيږي. ملاصاحب هم د مرکې سره يو ځای راځي او د نکاح شرعي اصول سر ته رسېږي. په دې ډول د ناوي له پلار څخه پوښتنه کوي چي د ناوي نوم اخلي او وايي: پلانکۍ يا و پلانکي، د پلانکي زوی، د پلانکي لمسي ته د دغو نغدو پيسو يا شرعي مهر په بدل کي

ورکړې ده، ور کړې دي وه؟ په مقابل کې د ناوي پلار هوکې وايي. بيا له ناوي څخه په دغه ډول پوښتنه کيږي. که چيري ناوې نه حاضرېدله کولای سي د نفس وکيل ونيسي. څو مثبت يا منفي نظر وړاندي کړي. هغه د نفس وکيل بيا و ملاصاحب ته وايي. بالاخره د مقابل طرف يعني د زوم پلار ته هم عيني خبري تکراروي او جواب ئې په شرعي ډول غواړي. کله چي دا مراسم پای ته ورسېدل، د ناوي له کور څخه راوزي ددروازې په خوله کي ډزي او ټکان کوي، څو خلک له موضوع خبر سي او د ټکانو په بدرګه باندي شېريني رااخلي. که مراسم د دستمال وه، نو په دې صورت کي د زوم له طرف څخه و ټولو هغو کسانو ته چي په مراسمو کي ئې ګډون کړی وي، يو دستمال او شېريني ورکول کيږي. شېريني کله کله ديو قند په ډول او کله کله د نقلو او چاکلېټو په ډول وي. څه وخت چي شېريني ورکړه سوه، نو مبارکي يو بل ته سره وايي او د زوم طرف په خوشالۍ سره ولاړيږي.

دستمال د زوم د ورور پر اوږو باندي وراچوي، که ئې ورورنه درلود، نو د بل کوم نژدې خپل، شېرين دوست پر اوږو ئې ورتړي او دباندي د ناوي له کورڅخه ډزي کوي، معنا ئې دا ده چي د پلانکي لور ئې ورکړه. په دغه شکل نورمراسم هم موجود دي. مثلاً: جوړه استول، فالوده استول او ګردونو ته د زوم دعوت او بالاخره واده کول. د واده په سهار د زوم او ناوي ورتګ د خواښې و خسر کور ته چي و دې ته په اصطلاح سره د سلامۍ مراسم وايي. هر يو ئې په تر تيب سره لاندي تشريح کيږي:

## جوړه استول:

تر واده مخکي د دوو کورنيو د ښه نيت پر اساس زوم د ناوي کور ته جوړه استوي چي په جوړه کي د ناوي کالي، موچني يا بوټونه، جراپي او نورد آرايش سامانونه او نکرېزي ايږدي. دا ټول شيان په منظمه توګه سره په چرمي بکس کي اچوي او د يوې ښځي او يوه کوچني هلک په لاس ئې ورکوي چي و دې ته په اصطلاح کي (خنچه) هم وايي. خنچه د زوم په اقتصادي حالت پوري اړه لري.که ئې په قدرت کي وه نودزياتو پيسو خنچه جوړوي او که ئې قدرت نه درلود نو کم مصرفه او اقتصادي خنچه جوړوي.

که چيري خنچه ياجوړه قيمتي وه،نو په هغه صورت کي د ناوي زړه زيات خوشحاله کيږي او دوستان ئې راځي او خنچه ګوري، چي د دوی په عقيده د قدر په سترګه ئې ورته

کتلي دي که نه؟ نو ځکه هر څوک کوښښ کوي چې زیاتې پیسې په جوړه کې مصرف کړي.څه وخت ئې چې جوړه وروړله نارینه سمدستي د نارینه وو سره په سراچه (دېره) کې کښېني.

مګر ښځې په کور کې له ښځو سره کښېني. تر چایو خوړلو وروسته یو دستمال هغه چا ته ورکوي چې خنچه ئې وروړې وي او یو هم په هغه کې ایږدي چې جوړه پکښې وروړل سوې ده لکه: پتنوس یا کوم بل شي کې دستمال ایږدي او بېرته ئې د زوم کور ته وراستوي. دا مراسم یوازې د جوړې په نامه یادېږي چې په خاصو وختونو کې د ناوې کور ته وراستول کېږي او هر وخت نه وراستول کېږي. مثلاً د اختر په ورځو کې، د اختر نوي کالي او نکرېزې او هم په پنځلسې کې جوړه ور استول کېږي.

## فالوده استول:

په کندهار کې د ناوې کورته د زوم له طرفه یو تعداد مجمې فالوده وراستول کېږي. دا فالوده عادي نه وي، لومړی د فالودې والا دوکان ته فرمایش ورکوي، څو هغه ښه فالوده (میرواري[1]) او شربت ورجوړکړي وروسته ئې د ناوې کور ته د یوه کوچني هلک په لاس ورلېږي. څه وخت چې ئې فالوده د ناوې کور ته ورواستوله، نو سمدستي د ناوې په کور کې هغه په نورو لوښو کې د ناوې په نامه د خپلو دوستانو کورو ته وراستوي. کله کله داسې هم سوي وي چې د ناوې له طرفه ټول دوستان د ناوې کور ته د فالودې له پاره راغواړي،څو د ناوې فالوده په ګډه سره وخوري او د خوشحالۍ په مراسمو کې ګډه خوشحالي سره وکړي. ولې دا ورځ خاصتاً د خوشحالۍ ورځ ده، ځکه د کال په یوه موسم یعني د ژمي په موسم کې فالوده خرڅېږي او هر څومره فالوده، چې ئې تهیه کړې وي ناوې ته ئې وروړي. خو د جوړې په ډول نه ده، چې په پنځلسې (د برات پنځلسم)، کوچني اختر او لوی اختر کې ورواستول سول. که چیري واده وځنډېږي نو په هر کال کې نوموړي

---

[1] میرواري: پر فالوده باندې یو ډول اوړده، ښوی او خواږه غوندې څیزونه اچوي چې په کندهار کې میرواري ورته ویل کېږي.

مناسبات د خپلو خاصو مراسمو سره پر ټاکلي وخت سر ته رسیږي او که د واده مراسم په لنډ وخت کې وسول، نو ددغو مراسمو ضرورت هم پاته نه سي.

د واده ځنډول په دوو صورتونو کې امکان لري: لومړی: که ئې ولورنه وو تحویل کړی نو واده نه ورکوي. دوهم: که ئې د واده کولو له پاره پیسې نه درلودې. دریم حالت داسي هم پېښېږي چي د ناوي د پلار له طرفه څه جنجال پېښ سي، چي و دې جال او جنجال ته په اصطلاح کې (بابېړی) وایي. بابېړی په هغه صورت کې کیږي چي خُسر یعني د ناوي پلار وغواړي چي د لوریا ناوي ولورلوړ کړي. یا ئې څه پر نامه ځني واخلي. خو بیا هم دلته دوه حالته ځني پیدا کیږي: یابه ئې مني یا نه؟ که ئې ومني نو به واده صورت ونیسي او که ئې و نه مني د نه منلو په صورت کې بابېړی (جنجال) پیدا کوي او د یوې لانجې رنګ پیدا کوي. د لانجې په صورت کې د دواړو خواوو څخه سپین ږیري سره راټولیږي او یوې نتیجې ته سره رسېږي. تر خبرو اترو وروسته د واده ورځ تعینیږي او د دې ورځې له پاره امادګي نیول کیږي. خریداري، اشپز او شوقیان سره برابروي.

شوقیان: دا هغه هنرمندان دي چي خلګ ئې د سنتی، واده او نورو ښادیو له پاره له ځان سره بیایي. څه وخت چي دا ټول ترتیبات ونیول سول نو د واده تر شپې یوه شپه دمخه د نکرېزو شپه رارسېږي.



په کندهار کې دښځینه دنکروزویوه بیلګه

**د نکرېزو شپه:**

د ناوي په کورنۍ کي د ناوي لاسونه او د زوم په کور کي د زوم لاسونه ور سره کوي. د لاسونو په سره کولو کي د زوم د چپ لاس ورغوی او ضمیمه ګوته ور سره کوي. لیکن د ناوي مکمل لاسونه ور سره کیږي او بیا د ناوي له کور څخه نکرېزي په یوه مجمه یا پتنوس کي اچول کیږي. شمعان (شمعي) ئې په سر ورلګوي. د خپلوانو او ګاونډیانو کورونو ته ئې وروړي؛ څو هغوی هم خپل لاسونه سره کړي. د لاسونو له سره کولو څخه اصلي مقصد یعني په خوشحالۍ کي ګډون کول دي او عموماً لاسونه سره کول د یوې خوشحالۍ په مقصد کیږي. داسي رواج هم سته چي د نکرېزو پتنوس، چي شېریني او نخود ئې پر سر ورایښي وي او شمعان ئې هم پر سر لګیږي. له کور څخه ئې راباسي او په ښار او کوڅو کي ئې ګرځوي. عموماً له ښځو څخه دریې ورڅخه وي او دغه فولکلوریکه سندره وایي:

زموږ نکرېزي ښکاپورۍ دي
حنابکاره پیراهن ګلي نارا
اوسني ځوانانو واچوئ روپۍ
حنابکاره پیراهن ګلي نارا
بالاخانه پر څلور کونجه
پکښي ولاړه ده زما د جانان ناوې نارنجه
حنابکاره پیراهن ګلي نارا
په کور دوه زرغونه شاله
زما جان ورته ولاړ دئ لاس ئې نه ورځي له خیاله
حنابکاره پیراهن ګلي نارا
یو ئې چارسو څلور بازاره
پکښي تېرېږي زما جان او ناوې دواړه

دغه سندره په دسته جمعي توګه په بازارو کي وایي او خوشحالۍ کوي. بالاخره بېرته کور ته راځي او د نکرېزو شپه په دې ترتیب سره پای ته رسېږي او په همدغه ورځ او شپه ټول استراحت کوي. کالي ترتیبوي او حمام کوي. څو د واده اصلي شپه راورسېږي.

د واده په شپه د ناوي خپلوان د ناوي کور ته او د زوم خپلوان د زوم کور ته راځي یا په وروسته کې د زوم خپلوان د زوم سره یو ځای له ورا سره د ناوي کور ته ورځي. د ورا په سر کې ښځې رواني وي او د ورا سندري وايي. سندره دا ده:

زما جانانه ورا دي خوږه
په مخ کې ئې زېبا پرتندي ئې پيلبو ده
پر دېوال ويشتلی سکور دئ
زما جانان چي واده راوړينه ګلبشرې په غېږ کې زوی دئ
ورا دي راغله ټک ئې نسته
د ټوپک دارو ئې نسته
د ټوپک دارو ئې ورکړو
د ويشتو سړی ئې نسته
د ورا وري مولمور دي
زما جانان په ورا راغلي هغه ټوله شمله ور دي
ناوي! پينګ پر پيکي کښېږده
مشر لېور دي (شېرآغا) نوم باندي کښېږده
ناوکی خانواده ده
د پلار له کورې بيايي خانزاده ده

هو، څه وخت چي د زوم د کور ښځې سره راټولي سوې، نو له خپل کور څخه د ناوي د کور طرف ته حرکت کوي. په مخ کې ئې ښځې وي او ښځې په ډېره خوشحالي سره سندري وايي. په دغو سندرو کې دزوم د ورورستاينه کوي. ټولو نوي کالي اغوستي وي. د زوم د خوا ښځې هم ورسره وي. په لاره کې د ناوي د کورتررسېدو پوري ګډېي نځاوي او سندري وايي. و دې ښځو ته په اصطلاح کې (ورا) وايي او دا ورا عموماً د مازيګر په وخت کې حرکت کوي. د ورا له پاره د ناوي طرف هم ډېر انتظار لري. ځيني کوچنيان ئې د کوڅې او یا کور په خوله کې درولي وي. څه وخت چي د ورا ږغ واوري، ناري په ګډېي سي او کور ته خبر ورکړي. له کور څخه ښځې مخ ته راوزي ګلان پر پاشي او خپل صميميت او علاقه ښکاره کوي، سپلني ورته دودوي. وروسته له هغه چای ورته راوړي، چي دامراسم په ځينو

قومونو او اولسواليو کي برعکس رواج لري. البته دا رواج ډېر لږ په ښار او زيات ئې په اطرافو کي رواج لري؛ مثلا: په زياتره اڅکزو، نورزو، کاکړو او سليمانخېلو کي دا رواج ډېر خطرناکه او وروسته پاته په زړو مناسباتو کي اخرنۍ نخښي دي. هغه دا چي څه وخت چي ورا ورځي د ناوي د ببولو له پاره په ورا کي د زوم او ورا سره ملګري ځوانانو صفت کيږي. د ورا په اوربدو سره د ناوي له خوا څخه پر دوی باندي د ډبرو وارونه کيږي، حتي تر دغي اندازې چي د زوم د طرف نفر زخمي کيږي، ليکن سربېره پر دې هم د دوی د ډبرو پر مخ ورځي، څو چي ځان ورورسوي. ليکن څه وخت چي ورورسېدل بيا روغبړ کوي او د ټکانو رېغ پورته کيږي يعني ټکان يوازي د رېغ او د کلي د خبرېدو په خاطر کوي. خو څه وخت چي دوی يو ځای سره کښېناستل نو بيا د يو طرف له خوا څخه يو پر بل باندي مسخرې او پېغورونه سره ورکوي، په دې خاطر چي يو پر بل ځانونه اصل معلوم کړي. يو د بل د قوم پېغورونه ورکوي او په ضمن کي د خندا په خاطر هم دا کار کوي. پورته رواج نن ورځ ډېر کم دئ او د کندهار په ډېرو لږو اطرافو کي ئې اوس هم ډېر لږ آثار سته، نو ځکه اوس موږ دغه دود يوازي د نمونې په ډول سره دلته وکيښ او اصلاً عمومي دود غواړو، چي څه نا څه وځېړو.

هو! څه وخت چي د زوم طرف د ورا سره د ناوي کور ته ورغلل، تر چای خوړلو وروسته د ناوي د راايستلو په مراسمو پيل کوي. ناوې په دې وخت کي په جلا خونه کي د خپلو همزولو سره ناسته وي او بيا ئې له زوم سره يو ځای راباسي البته درايستلو په وخت کي د ناوي او زوم پر سر قرآن شريفونه نيول کيږي.

په کندهار کي عمومي داسي رواج دئ، چي د ناوي طرف هيڅ ډول خوشحالي نه کوي، يوازي او يوازي د زوم د خپلوانو طرف خوشحالي کوي او د ناوي طرف دا عيب ګڼي چي دوی هم له زوم سره خوشحالي وکړي، خو څه وخت چي ناوې له کوره راوباسي، نو د ناوي موريا کوم بل دوست ئې اوبه پسي شيندي يا ورپاشي. په دې خاطر چي خوشبخته واوسي او د رڼا معنا هم لري. هم هغه وخت چي ناوې ئې راويستله، نو ناوې د پلار د کور په ارمان يو څو ترخې اوښکي تويوي او د پلار له کور څخه ئې د مېړه کور ته بيايي. ناوې د پلار له کور څخه په دوه ډوله د مېړه يا خسر تر کوره رسوي: يو ئې د کجاوې په واسطه او بل ئې د موټر په واسطه.

الف - د کجاوې واسطه: کجاوه د کوچنیانو د زانګو په ډول له تختو څخه جوړه سوې وي او پر اوښ باندي ئې ټینګه تړي. ناوې په کجاوه کي کښېنوي اوښ ته حرکت ورکوي. که ناوې له یوه کلي څخه و بل کلي ته بوزي او یا ئې ځای نژدې وي، نو د دوو تنو غښتلو ځوانانو پر اوږو کجاوه ایږدي او د مېړه کور ته ئې راوړي.

د کجاوې استعمال په کندهار کي عنعنوي وسیله او لرغونی دود ګڼل کیږي. خاصتاً په هغو کلیو او ځایو کي چي هلته موټر نه سوای ورتللای، نو به له کجاوې څخه کار اخیستل کېدی.

اوسمهال کجاوې په ښار کي له منځه تللي دي او ځای ئې و نورو متکاملو وسایلو ته پرې ایښی دئ. په هر صورت څه وخت چي ناوې د مېړه کور ته راغله کله چي په سرای ورننوزي ددروازې په خوله کي کي یو د اوبو ډک منګی په مخ کي ورته ایږدي او ناوې هغه په لغته او یا پښه سره وهي، څو منګی مات کړي او اوبه ئې توی سي. څه وخت چي منګی مات سو او اوبه ئې توی سوې نو د رڼا مانا لري یعني رڼا په کور راننوتله. د منګي ماتېدل د غښتلي توب مانا هم لري. وروسته سپلني ناوي ته نیسي، دا په دې مانا چي نظر نه سي او سپلني د یو چا د نه نظر کېدو په خاطر لوګی کوي.

کله چي ناوې راولي په خونه کي ئې کښېنوي. په دغه وخت کي ناوې د خوني زلفۍ او یا ځنځیر نیسي او په خونه نه ننوزي او بیا ئې خُسر یا لېور راځي او د ناوي له پاره یو څه مني، څو هغه زلفۍ ایله کړي او خوني ته ننوزي. څه وخت چي خوني ته ورننوتله بیا هم نه کښېني، خو بیا هم یو شي په خُسر یا لېور ومني او وروسته له هغه کښېني. نوري همزولي نجوني هم ورسره کښېني او مجلس ورسره کوي. دا په دې چي له یوه طرف څخه ئې ډاډه وساتي او له بل طرف څخه ئې وخت په خوشحالي سره تېر سي.

تر خوني دباندي د ډول او خوشحالۍ ږغونه اوربدل کیږي. وروسته له هغه څخه د ائینه مصحف په نامه هم د واده په جریان کي دود یا رواج سته چي په لاندي ډول وړاندي کیږي.

**ائینه مصحف:ائینه بسپ**

حينابسپ د واده په مراسمو کي يو په زړه پوري رواج دئ. دغه مراسم په واده کي د ښځو زياته پاملرنه جلبوي. دا مراسم د زوم او ناوي تر منځ په کيک او شربتو سره پيلېږي، چې د زوم په لاس و ناوي ته په خوله کي شربت او يا کيک ورکول کېږي. همدغسي ناوې هم په خپل لاس زوم ته کيک او شربت ورکوي. و دې دود ته حينابسپ ويل کېږي. د دې مراسمو په ترڅ کي يو بل رواج د چله اليشئ هم سته چي البته دا رواج زياتره د کندهار په ښار کي رواج لري، په اطرافو او کليو کي چندان رواج نه لري.

### چله اليشي:

چله د سرو زرو يوه ګرده حلقه ده. دمخه تر واده زرګر ته خبر ورکول کېږي، يا ناوې او زوم خپله و زرګر ته ځي او د ګوتي اندازه ئې اخلي. د زوم پر چله د ناوي او د ناوي پر چله د زوم نوم او تاريخ ليکل کېږي. دواړي چلې د واده تر ورځې پوري ساتي او د واده په شپه د حينابسپ په مراسمو کي چله اليشي کوي. زوم د ناوي په ګوته کي او ناوې د زوم په ګوته کي چله وراچوي. داسي هم رواج دئ چي ناوې خپله چله په لاس کي ټينګه نيسي او زوم د هغې لاس ور خلاصوي، خو چله ځني واخلي.

### د نغري دود:

پښتانه داريائي قبيلو يوه غوره لرغوني قبيله ده چې دهغه وخت دودونه ئې هم دځانه سره ساتلي دي اوتراوسه ئې هم سينه پرسينه ديوه نسل څخه وبل نسل ته په ميراث ورپرايښي دي.لکه:دناوي راولاړول ونغري ته يادناوي په وسيله دابو ښندل دکور دراننوتلو په وخت کي چي او سئ مورږ دلته دنغري ددود په نوم يادونه کوو.

کوم وخت چي ناوې نغري ته نژدې سوه لاس راباسي او يوه دانه قند، چي د پلار له کور څخه ئې راوړی وي په نغري کي ايږدي او نغری ننګوي. البته دادودپښتنو ته له پخوانيو اريايانو څخه ورپاته سوی دئ، ځکه چي نغری هره ورځ تودېږي او هيڅ وخت نغری سوړ نه وي. په نغري کي چي قند کښېښودل سو د زوم د کورد يوې ښځې له خوااخيستل کېږي

او تر دې مراسمو وروسته ناوې یوې ځانګړي خوني ته چي په دې خونه کي به له زوم سره اینده ژوند کوي بېول کیږي او پر ځانګړي ځای کښېنول کیږي.

**د ناوي مخپېتک:**

کوم وخت چي ناوې وکتل سوه، د کور هر غړی تحفه (مخپېتک) ورکوي، تر مخپېتک وروسته زوم را غوښتل کیږي او د ناوي و څنګ ته ئې کښېنوي. په دې وخت کي یوه دانه هینداره راوړل کیږي او د قرانکریم یوه سوره ورته پرانیستل کیږي او د ناوي او زوم له خوایوځو توري لوستل او یا ورته ګوري. په دې وخت کي د ناوي مخ ورلڅوي او په هینداره کي سره ګوري. تر دې وروسته خپلوان راځي او د ناوي مورد زوم مورته مخپېتک یا پیسې ورکوي. که د زوم خپلوان وي د زوم مور ته او که د ناوي خپلوان وي د ناوي مور ته د خپل ځان او خپل فامیل په نمایندګي پیسې ورکوي. په آخره کي هر څومره پیسې چي ئې ورتولي کړي وي زوم ته ئې ورکوي.دلته چي هرڅوک پیسې ورکړي اعلانیږي، چي پلانکي(دوغنده) افغانۍ مخپېتک ورکړ.البته داروا ج د مخپېتک ورکولو دود بولي او د هري شځي توجه ئې اړولې وي. وروسته له دغه دود څخه ناوې او زوم یوازي په خپله خونه کي پاتیږي او دواده مراسم په دې ترتیب پای ته رسېږي. په سهار کي د ناوي ناری (خواړه) راوړي هغه داسي دي:

**د ناوي ناری:**

دسهار دچایو خوړلو دودته په کندهار کي دسهار ناری وائي نوداچي دسهار ناری په یا دسهار چای خوړل یوه عامه ولسی اصطلاح ده نو همدغسی که دناوی دسهار دچایومراسم تر سره سوه. نو ودغه ته هم دناوی دسهار ناری ویل کیږي.چی نو موږی دسهارناری څه وخت چي دزوم کورته ورغلی نو دغه دناوي دکوریو دوددی چی تر سره ئې کړی.نوموی دود دسهار تر چایو دخوړلو تر مخه دزوم کورته وروړل کیږي.چی سهار ناوې او زوم دخوبه را کښیني نو دسهار ناری ئې تیار وي.چيد واده په سهار د ناوي له کورڅخه مکلفه ډوډۍ د زوم کورته راوړي، چي دې ډوډۍ ته د ناوي ناری وایي.دناوی ناری را وړل دپلار دکوره څخه خپله دناوي دکور عزت ګڼل کیږي،نوموړی ناری هم دنورو دودونو په څېر په اقتصادی توان پوري اړه لري.

**د روغتیا زېری ورکول:**

دا رواج او عنعنه داسي ده چي: سهار زوم او ناوې له خوبه پاڅي له اینګو څخه یوه د ناوي دپلار کورته ورځي،ځوخبروړکړي چي د ناوي روغتیایي حالت د ډاډ وړدئ او وروسته تر دې دخُسر کورته دسلامۍ له پاره ورځي.

**د خُسر کور ته د سلامۍ له پاره ورتګ:**

په ځینو خلکو کي داسي رواج دئ چي تر واده دوې یا درې ورځي وروسته د خُسر کورته دسلامۍ له پاره ورځي، خو ځیني خلک د واده په سهار زوم د خُسر کور ته د سلامۍ له پاره وراستوي. څنګه چي کور ته ورسي د خواښي لاسونه مچوي (ښکلوي) او خواښې د کورنۍدې خپلوان ورمعرفي کوي. زوم یو ګړی ناست وي، که چیري د غرمې ډوډۍ نږدې وي ډوډۍ خوري او که دغرمې ډوډۍ لیري وي،چای له خوږو سره یوځای خوري او رخصت اخلي او خواښې ئې یو دسمال له مېوې سره ډک ورکوي. له سلامۍ څخه مقصد دا دئ چي زوم ورته ثابته کړي، چي دی وفادار دئ او په آینده کي به هم د هغوی حقوق ورساتي او احترام به ئې لري.

**د واده دوهمه او دریمه شپه:**

د واده په دوهمه او دریمه شپه د واده د مراسمو ږغ نسبتاً سړېږي، خو بیا هم د زوم په کورکي یوه اندازه مېلمنې ښځي او خپلواني موجودي وي او دکوچنیانو ږغونه تر غوږ کیږي. دواده په دوهمه او یا دریمه شپه د ناوي کلنګ ښکاره کوي، چي دا په نورو منطقو کي کله د واده په سهار ښکاره کوي. په کندهار کي ئې د واده په دوهمه او دریمه ښکاره کوي. کلنګ عبارت دئ له: د ناوي کالي او د کور نور لوښي، سامانونه لکه: ګډوې، دست شوې، د چایو ډول ډول ظرفونه، د ډوډۍ ډول ډول لوښي، رنګ په رنګ لباسونه او د خوب بسترې، د کالیو ګنډلو ماشین او نور د کورني ژوند لازم سامان الات چي د پلار په کورکي ورکړه سوي وي. د زوم په کور کي د ناوي او زوم خپلوانو ته ئې ورښکاره کوي. دا مراسم د ناوي د کلنګ په نامه یادیږي او په دې مراسمو کي د ناوي او زوم خپلوان حاضر وي، خو د ناوي له طرفه ئې یوه داسي ښځه اعلانوي چي ښه آواز ولري او هر شی

په ځانګړي ډول سره ښکاره کوي. دې ته کلنګ وايي. د واده مراسم په دې ترتيب سره پای ته رسيږي. د ناوي په راوستلو سره د خواښي او خُسر غوښتني او اميدونه خورا زيات وي او په خپله نوې ناوې باندي خورا ډېر خوشحاله وي. داځکه چي په کورکي نوي تغيرات او بدلون راغلی دئ او خواښې له خپل ځان سره د کار په ساحه کي ملګرې پيدا کوي. که د ناوي کارونه زده وه خواښې ډېره د ناز په سترګه ورته ګوري.

په کندهار کي داسي رواج دئ چي د واده په شپه زوم و ناوي ته دا نصيحت کوي چي تر هر څه دمخه به زما د مور احترام کوې. داځکه چي: زه ئې لوی کړی يم. تر ټولو ښه ناوې هغه ده چي د خپلي خواښي او خُسر احترام وساتي او په دې ښه صفت تر هر څه زيات شهرت پيدا کوي. بله خبره چي د ښځي دحقوقو په برخه کي ديادوني وړده، هغه دا چي زموږ جامعه يوه طبقاتي جامعه ده، نو په داسي جوامعو کي د توليد پر افرازو باندي اجتماعي مالکيت نه دئ حاکم او غيرعادلانه خصوصي مالکيت استقرار پيدا کړی دئ. ځکه نودښځي حقوق هم پايمال سوي دي. فيوډالانو به په دې چي خپل مالکيت دوامداره وساتي او پښت تر پښته خپله خانخاني او استثماري قدرت پاته کړي، نو به ئې همېشه د زوی او لمسي غوښتنه درلوده. که ئې چيري د ناوي زوی نه پيدا کېدی، نو به ئې دوهمه او دريمه ماندينه هم کوله. دا په دې چي ډېر زامن ئې په کورکي وزېږي او هغه بيا د ده پر ميراث باندي پاته سي. همدغه علت دئ چي زموږ په مملکت کي دنجلۍ په زېږېدو خوشحالی نه کيږي او هيڅ ښادي هم نه نيسي او په کور کي دخوشحالۍ ځای په خپګان او خوابدۍ باندي بدل سي. پښتني کلتوراو فولکلورکي د ناوي د راوستلو سره سم په دې ارمان داسي غزل ويل کيږي، چي د ژوند اميدونه پکښي ښکاره او څرګند دي، مثلاً:

په دېوال ويشتلی سکور دئ

زما جانان چي واده راوړی ګلبشرې په غېږ کي زوی دئ

همدغسي د زوی په نامه فلکلوريک متلونه هم سته، لکه:

متل: د زوی مور سپې ورور ته اړه مه سې.

بل متل: زوی نهه منه سره زر دي.

بل متل: دښمن به دي ولاړه کړي، زوی به دي کراره کړي.

همدغسي نوره د زوی ستاينه زموږ په فولکلورکي زياته راغلې ده. په کندهار کي د زوی په هکله نوري کيسې، متلونه، سندري او عنعنات هم شته چي موږ به ئې وروسته د واده ددودنو په جريان کي په هراړخيزه توګه وڅېړو.ددودونو په دې سلسله کی موږ نور ښه دودونه هم لرو. يو له هغو څخه مېوه لېږل دي:

### په ناوي پسي مېوه لېږل:

دا دود هم د فالودې په ډول سره دئ. په کندهار کي چي د لومړي ځل له پاره مېوه بازار ته راسي، نو د زوم له طرف څخه دناوي کورته په مخصوصو مراسمو سره مېوه لېږل کيږي. لکه چي په فالوده کي مو وويل د زوم د کور، کلي او خپلوانو تر منځ ئې وېشي، البته په دې کار هم د نجلی قدر زياتېږي او هم ځيني د نجلی دوستاني په دې هکله پوښتني کوي،چي مثلاًدانګورو وخت دئ په نجلی ياناوي پسي به ئې انګور نه وي رالېږلي يارا استولي؟که ئې ميوه په ناوي پسي را واستول نو سمدلاسه ئې پر خپلو دوستانو او کله ناکله ګاونډيانو هم ويشي.

### روژه ماتی:

که د کوزدې په وخت کي روژه راسي د زوم له کورڅخه دروژه ماتي په نامه ډوډی وراستول کيږي.داډوډی ډېره مکلفه وي او هر رازخواړه پکښې وي. د روژه ماتي ډوډی ټوله د نجلی په کورکي نه خوړل کيږي، بلکي د خپلوانو په کورکي هم وېشي او په مساوي ډول يو يو غاب لږ او ډېر وروېشي.

### له اينګو سره د زوم له طرفه دود:

اينګې هغوښځو ته ويل کيږي چي پس له واده څخه د ناوي په کورکي دناوي د رهنمايي کولو په خاطر پاته سي. څو له يوه طرفه څخه و ناوي ته د کار جرئت ورکړي او له بل طرفه په کورنيو چارو کي ئې ښه بلده کړي. نو بيا له څو ورځو او هفتو تېرولو وروسته دخپل کورد تګ غوښتنه کوي.دزوم اوکورنی غړي هم اجازه ورکوي او هري

اینګی ته یو یو ټیکری یا پوړنی د تحفې په ډول ورکول کیږي. کله کله یوازي کمیس هم ورسره ورکوي.داهم دزوم دکورنۍ اقتصاد پوری اړه لري چی دڅومره سوغات وس او توان لري.

**د اینګي دود یا اینګی:**

دې دود په کندهار کې یو تاریخي او فولکلوریک شکل ځانته نیولی دئ. څه وخت چې لا ناوې د مېړه کورته نه وي ورغلې او دپلار په کورکې اخیرنۍ دقیقې او شپې حسابوي نوري همزولې هم پر تخت ورسره ناستې وي. په دې وخت کې د ناوي سر ورجوړي یا ئې کوڅې وراویې. دا مهال ناوې په ډېر ارمان یو څو ترخې اوښکې تویوي. دا په دې چې له یوه طرفه د پلار له کور څخه ځي او له بلې خوا ځان د دې کور ډېر وفادار ثابتوي. د ناوي دغه ژړا چې د سر داوبدلو په وخت کې ئې کوي یو عنعنوي شکل لري. په کندهار کې و دې دود ته اینګی یا داینګي دود ویل کیږي. اوس هم په کندهار کې دا دود سته. البته دا هغه وخت کیږي، څه وخت چې ناوې له خوني څخه نه وي ایستل سوې او فقط څو تنې همزولې ئې په جلا خونه کې ورسره ناستې وي. په دې وخت کې د زوم له طرفه ښځې هم د واده سره د ناوي کور ته راځي. کله چې وراراسي نو بیا ناوې راباسي او دبام سر ته ئې خېژوي، چې هلته نو دتوري په سر کې پیاز، منه یا سېب ورکوي.دلته داینګي ددود یو متل هم موږ ته را پاته دی چې وائي: ( که بل ځل واده کیدم اینګی به می زده وي) .

**د توري په سر کې د مڼې ورکولو دود:**

څه وخت چې ناوې د اینګي یا سر اوبدلو له دود څخه خلاصه سوه، نو دخپلو خپلوانو او همزولو سره د بام سر ته خېژي. لاندي ټول د زوم او ناوي دوستان ولاړ وي. ناوې په جګ لاس د توري په سر کې یوه دانه سېب یا پیاز اوچتوي. د یو څو شېبو له پاره ئې نیسي. وروسته نوموړی سېب یا پیاز د ولاړو مېلمنو منځ ته ورغورځوي. لاندي خلک د دې صحنې تماشا کوي. بیا ناوې بېرته توره راکښته کوي او له بام څخه راکښته کیږي په دې وخت کې ناوي خپل مخ په بنارسۍ کې پټ کړی وي او نوري نجوني ئې لار ورته

ښيي، څو په دې ترتيب له بام څخه راکښته سي او د زوم د کور له ښځو سره يو ځای د مېره کور ته راځي.

## ګرځول:

دا دود هم په کندهار کي له نورو دودونو په ډول ډېر اهميت لري. دا دود تر واده وروسته اجرا کېږي. هغه مهال چي ناوې د لومړي ځل له پاره د مېړه له کور څخه د پلار کور ته د مېلمنې په توګه ورځي، دغه حالت ته ګرځول ويل کېږي. دا دود د يو دعوت ډول لري. کله دا دعوت يا ګرځول ژر وي او کله ځنډنی سي خو د پلار کور ته د ناوي ګرځول يو حتمي کار دئ. په ګرځولو کي د ناوي سره د زوم د کورنۍ نور غړي او دوستان هم خبروي او يو لوی دعوت ور ته نيسي. دغه دعوت د ناوي له پاره لويه خوشحالي او هوس دئ. دا ځکه چي له واده راهيسي دې د پلار کور نه وي ليدلی. د هغه کور هره تاخچه د دې په زړه کي يو جهان خاطرې ور په زړه کوي او هر څه ته چي ګوري هغه ور يادېږي. د پلار کور ته د ناوي زياته تلوسه وي او د دغي ورځي په انتظار شپې او ورځي شمېري. حتی زياتره وخت پر مور او نورو اقرباوو باندي زېرمه کوي چي ژر ئې وګرځوي. په ګرځولو کي اوله شپه د ناوي د رسمي دعوت شپه وي او ډوډۍ هم په ترتيباتو مکلفه وي. شپه چي تېره سي په سهار نوري مېلمنې ولاړي سي يوازي ناوې او د مېړه د کور څو تني ښځي ورسره پاته سي. دوې، درې شپې وروسته نوري مېلمنې هم ولاړي سي او ناوې يوازي د پنځلس، شلو شپو له پاره د پلار کره پاته سي څو په اخره کي د مېړه د کور له پاره يو سوغات هم ورکول کېږي. البته دا د پلار په اقتصادي ژوند پوري اړه لري. د چا تحفه (سوغات) درنه وي د چا هغې مناسبه. په هرصورت د ناوي په ګرځولو کي زموږ په کندهار کي داسي رواج هم سته چي د ناوي د پاته کېدو سره زوم نه ورسره پاته کېږي، ليکن دا دود يوازي د کندهار په اطرافو کي سته. په ښار کي د ناوي د ګرځولو سره سم زوم هم شپه ورسره تېروي. د دغه دود يعني ګرځولو او واده تر منځ په کندهار کي يو بل دود هم سته، چي هغه عبارت دئ له ګردونو څخه.

**د ګردونو دود او دستور:**

کله چي ځوان کوزده وکړي او وغواړي تر واده مخکي له خپلي ښځي سره د پلار په کور کي وويني، ورسره بلد او کور و کهول سي دغه ورتګ ته د کندهار په ښار کي خلګ ګردني او کليوال ئې بازئ، لوبي هم بولي. مثلاً: پلانی بازيو (ګردونو) ته تللی دئ. څوک چي د ګردنو خواهش ولري هغه به دا خواهش لومړی خُسرخېلو ته ښکاره کوي او د هغوی رضامندي به په دې موضوع کي حاصلوي. تر موافقې وروسته د ګردونو ترتيبات د زوم له خوا نيول کيږي. په دې ترتيباتو کي لومړی شی چي زوم ئې کوي د نجلۍ له پاره د دوو يا دريو جوړو جامو کول دي او که چيري خُسرخېل وس نه لري د ګردونو د لومړۍ شپې د مصارفو له پاره به پيسې ورکول کيږي. د ګردونو د لومړۍ شپې ډوډۍ که خُسر خپله شتمن وي علاوه پر دې چي د زوم څخه هيڅ هم نه غواړي زوم له پنځو څخه تر شلو نفرو پوري خپلوان او ملګري ورسره مېلمانه کوي. د ګردونو په لومړۍ شپه که زوم خور، مور او نژدې کسان ولري، دوی له څو تنو ښځو سره د مازيګر له خوا د نجلۍ کره ورځي او ماښام زوم د خپلو ملګرو سره، د ډوډۍ تر خوړلو وروسته د زوم ملګري ولاړ سي. زوم د خُسر په کور کي پاته سي او له خپلي ښځي سره وروسته تر اينه مصحف کولو، چي تفصيل ئې د واده په بحث کي راغلی دئ، کله چي شپه تېره او سهار د ملا يا چرګ په اول آذان د خُسر له کور څخه ووزي. د ګردونو دوهمه او دريمه شپه هم که زوم او خُسر شتمن وي په دغه ترتيب اجرا کيږي او زوم له څو تنو سره د خُسر کره ډوډۍ خوري او تر ډوډۍ وروسته نور مېلمانه ولاړ سي او زوم پاته سي. په ځينو حالاتو کي د خپل کور دوی درې ښځي هم دغه درې شپې د ناوي کره ورځي.

**پاته کېدل:**

په کندهار کي د ګردونو تر څنګ د پاته کېدو په نامه دود شته، چي تقريباً له ګردونو سره نژدې او ورته دود دئ. دا دود دګردونو په دريمه ورځ زوم د ناوي کره پاته کيږي او ورځ ټوله هلته تېروي او د نورو شپو څخه برعکس چي پخوا به زوم وختي د چرګ په آذان د خُسر له کور څخه ووت، په دريمه شپه ئې خاطر جمع دئ. د سهار چای او ناری

د خُسر په کور کې د ناوي سره خوري. په دې ورځ زوم تږوله ورځ د ناوي سره وي. د غرمې ډوډۍ هم له ناوي سره خوري. دا ډوډۍ ډېره مکلفه وي. د زوم مور او خور او د ده د کورنۍ نورې مشرانې ښځې او د نجلۍ نژدې خپلوانې لکه خوېندې او نورې مشرانې په دغه ورځ تولې دغې ډوډۍ ته رابلل سوي وي؛ مګر د زوم سره په دسترخوان یوازې پخپله ناوې ناسته وي او نور څوک د ډوډۍ په خونه کې نه وي.

## د جوپان دود:

دغه دود هم د کندهار په کلیو او ښارو کې رواج لري. جوپان د کجاوې برعکس دئ، څکه کجاوه پر اوښ باندې تړل کیږي او له یوه کلي څخه و بل کلي ته وړل کیږي، لیکن جوپان د دوو یا څلورو غښتلو سړیو پر اږو باندې اخیستل کیږي. په تنګو کوڅو کې ئې تېروي او یا په کلیو کې له یوه کلي څخه ئې و بل کلي ته وړي. البته زیاتره له جوپان څخه په هغو ځایونو کې استفاده کوي چې موټر او یا د اوښ کجاوې و نه سي کولای چې ناوې انتقال کړي. نو په دې وخت کې له کجاوې څخه کار اخلي.

په کندهار کې د ناوي سره یو کوچنی هلک هم کښېنول کیږي، له دې څخه مقصد دا دئ چې نوې ناوې په اینده کې زامن وزېږوي. دا دود ډېر له پخوا څخه تر اوسه پاته دئ او اوس هم په کندهار کې سته. جوپان عموماً تر ورا مخکې روان وي او ورا د جوپان مخصوصه سندره وایي. د جوپان فولکلوریکه سندره:



ورځي دوې دي د ښادۍ
يو چي زوی ئې زيږي بل چي راوړي ناوکۍ
خوري! خدای د هر چا خدای دئ
د پلاني د کور سر ته (پلانۍ) جانه د ناوي ځای دئ
ناوي ګل پر تندي کښېږده
لېور دي پلانکی جان دئ آغاګل نوم باندي کښېږده
ناوې نه ژاړي ګيله کړي
پلانی جان ناوې را اخلي په جوپان کي بې سپره کړي

د دغي سندري په ويلو سره ورو ورور د زوم کور ته راځي او ناوې او زوم په خپل کور کي د يو عالم خوشحالۍ او ارزوګانو سره يو ځای کيږي. ځيني نور دودونه مو مخکي وښېړل. تر زياتو څېړنو او پلټنو وروسته موږ د کندهار د واده په هکله دغه عمده ترين او مروج موضوعات په فولکلوري مضمون کي راوړل.

دلته د ځينو نورو دودونو يادونه کوو چي تر واده وروسته او د واده په ارتباط د کندهار په شاوخوا کي د رواج په ډول پاته شوی دئ. مثلاً: د واده په لومړي سهار د ناوي حمام ته بېول.

**حمام ته تلل:**

په کندهار کي داسي رواج دئ چي ناوې په سهار کي تر غرمې مخکي د خپلو همزولو خپلوانو او پېغلو په ملګرتيا حمام ته بيايي. کله کله حمام مخکي لا نيول کيږي، چي يوازي ناوې او د دې ملګري استفاده ځني وکړي. تر حمام وروسته چي ناوې کور ته راسي د هغو ښځو له خوا سينګاريږي چي په همدغه کار مؤظفي سوي وي او تخصص پکښي ولري. په دغه ورځ له سهار څخه ناوې په دومره ګوښه او کنار کي ژوند کوي، چي د کور او کاله يو نژدې غړی ئې لا هم نه سي ليدلای او نه څوک په خبر وي چي چيري ده؟ د ناوي د تنظيف او سينګار ترتيب د هغې ورځي تر ماپښين پوري تکميل سي. تر ماپښين وروسته د ورا ترتيبات نيول کيږي.

د کور په عمومي صفایي، د اطاقونو او مفروشاتو په تنظیم او نورو تشریفاتي مراسمو لاس پوري کیږي او په اخر ماپښین د ناوي کره د ښځو راتګ شروع کیږي. دا زیاتره هغه ښځې وي چې د ناوي خپلوان او یا واده ته خبري سوي وي. هر څومره چې واده د مازیګر خوا ته نژدې کیږي په هغه اندازه دعوت سوي ښځې هم زیاتیږي او شپېه په شپېه خوشحالي او نشاط هم زیاتیږي. د کاله انګړ او ټولي شاوخوا خوني ښکلي او سینګاریږي او یو علم حسن او ښایست له څلورو خواوو څخه لیدل کیږي. بې له زیب او زینت څخه بل څه نه لیدل کیږي. لنډه دا چې په دې مازیګر هر څه ښه معلومېږي. که هلک وي او که نجلۍ، ښځه وي که سړی، چې البته دا خوشحالي د ناوي د حمام کولو سینګارولو او واده په جریان کې وي. حتی د کوڅې د حمام حمامي او کیسه ماله هم له دې خوشحالۍ څخه خبر لري چې پلانکۍ ودیږي نو د راتګ انتظار ئې و حمام ته لري. ولې په دې ورځ کیسه ماله او یا هغه ښځه یا څوک چې د حمام له ښځو څخه پیسې ټولوي هغه هم خپله شېریني له ناوي څخه تر لاسه کوي، ناوې په دې ترتیب حمام کوي او د حمام مراسم پای ته رسیږي.

### د واده ډوډۍ ایښودل:

د واده ډوډۍ ښځو ته تر نارینه وو دمخه ورکول کیږي. د دې سبب دا دئ چې ښځې باید د زوم کور ته پر وخت باندي ځانونه ورورسوي، ځکه نو د واده شپه تر تیاره ماښام قضا پوري وي څو د ښځو له ډوډۍ څخه فراغت حاصل سي. د ورا ښځې چې په دغه شپه د زوم کره ولاړي سي دا ښځې د ناوي په کور کې د دې له پاره پاتیږي، چې زوم د ناوي د بېولو په وخت کې کور ته دننه راولي او د ناوي موچڼي ور په پښو کړي. دوی د زوم لارښوونه کوي او دا ځکه چې زوم خو تر اوسه د خُسر کور ته نه وي ورغلی او نه له چا سره پېژني او نه څوک ورمعلوم وي او نه هم د دغې موقع په دود او دستور او رسمونو بلد وي. دا ښځې باید دلته حاضري وي، چې د ده نابلدي او حیرانتیا ور رفع کړي. د واده په شپه د ناوي ډوډۍ مخصوصه وي. د ناوي د ډوډۍ په غوري کې د پسه مغزی تر وریجو لاندي ږدي، یعني د ناوي د خوراک له پاره له دغو غوښو څخه استفاده کوي. کله چې ښځو ته ډوډۍ ورکول کیږي د ناوي په غوري کې د مغزي موجودیت د خصوصیت نخښه

ده. دغه غوري له اشپزانو څخه لومړی د کور د نارینه وو لاسته او بیا له هغوی څخه ښځو ته لاس پر لاس کیږي او په همدغه نامه چې (مغزی په غوري کې دئ) د ناوي مخصوص سترخوان ته رارسېږي او ورته ایښوول کیږي.

د ناوي په غوري کې مغزی په دې خاطر ایښودل کیږي، چې ناوې تر خپل مېړه او خُسرخېلو پوري په جگ مغزي او لوړه غاړه ورسي، قدر او منزلت ئې د مېړه په کور کې جگ او لوړ وي. هیڅ وخت ئې تر دوی او نورو سیالانو پوري سر کښته او سترگې ټیټې نه وي، کله چې ښځو ته ډوډۍ ورکول سوه، تر هغه وروسته نارینه وو ته ډوډۍ ورکول کیږي. نارینه چې له ډوډۍ څخه وزگار سي، که ئې نکاح دوهمه پلا تړله و به ئې تړي د نکاح مراسم د دعا په ویلو سره خلاصیږي، چې دُعا وسوه په ټول مجلس کې لړ لړ شېریني وېشي او هغه عالم ته چې نکاح ئې تړلې او یا ئې دُعا کړې وي د زوم د مشر له خوا په پاکټ کې یو څه روپۍ د هدیې په ډول وړاندي کوي. د شتمنو طبقاتو په ودونو کې د مجلس نورو سپین بگړیو ته چې د ملا یا روحاني په قیافه وي هغوی ته هم د هر یوه په اندازه هدیه او روپۍ ورکول کیږي.

## په زوم کالي اغوستل:

دا دود هم په کندهار کې له ډېر پخوا څخه رواج موندلی دئ. زوم ته د ناوي د کور له خوا د واده کالي ورکول کیږي. دا کالي د واده تر شپې پوري ورساتي کله چې د واده شپه راورسېده، تر ډوډۍ وروسته په یوه پتناسه کې د مېوې یعني نُقل، چاکلیټ، نخود او کلچو په شمول کالي و ملاصاحب ته را اخیستل کیږي. ملاصاحب پر هغه باندي دُعا کوي او درود شریف ورباندي وایي. وروسته ئې زوم ته ورکوي څو زوم هغه واغوندي او مېوه ئې پر شاوخوا ځوانانو او خلکو باندي وېشي. پر ځوانانو باندي د مېوې وېشل دا مانا لري چې په اینده کې دوی هم ژر ودونه وکړي او د تبرک په خاطر و ځوانانو ته نوموړې مېوه وروېشي.

په کندهار کې کله کله داسي دود هم سته، چې زوم کالي پر هغه کالیو سربېره اغوندي، خو دا دود په ښکاره له منځه تللی دئ او اوس زوم په جلا خونه کې خپل نور کالي باسي او نوي اغوندي. ملاصاحب د زوم د بگړۍ دوه یا درې ولونه د تبرک په خاطر

ورتړي، نوره ئې زوم خپله تړي. د ناوي د واده د شپې پوړنی، چې د زوم د کالیو سره یو ځای ملاصاحب ته وړاندي سوی وو په اصل کي هغه پوړنی ملاصاحب ته ورکول کیږي، چې دغه پوړنی په اصطلاح د (سرسایې) پوړنی هم بولي. ملاصاحب ئې په درود او بسم الله باندي تبرک کوي او پس له هغه ئې بېرته کور ته یوسي نور نو وروسته زوم هم خپل موچړی یا بوټونه په پښو کوي او لومړی د ملا او بیا د خُسر او پلار او که ئې پلار نه درلود، د نورو سپین ږیرو دوستانو لاسونه ورمچوي او بېرته پر خپل پخواني ځای باندي کښېني. کله کله د تبرک شېریني داسي هم وېشل کیږي، چې یو ملګری د زوم د پتناسه شېریني اخلي او د زوم پر سر باندي ئې ورپاشي او په دې وخت کي واړه ماشومان او ځوانان هغه په ډېر ذوق او شوق او خوشحالۍ سره د مځکي له سر څخه راټولوي او ځَکي ئې. دا شېریني یو عادي شېریني ده، ولي د عقیدې له مخي پر دې شېریني درودشریف ویل سوی دئ او هر څوک ئې چې خوري په مراد رسېږي خصوصاً بیا د ځوانانو له پاره د قدر وړ وي.

وروسته له هغه څخه د زوم پلار ته مبارکي ورکول کیږي. په دې ترتیب ناوې هم په خپل کور کي جوړېږي او د ناوي او زوم نارینه دباندي انتظار باسي او ښځي په کور کي په فعالیت باندي بوختي وي. تر زیات انتظار وروسته ښځي و نارینه وو ته خبر ورکوي، چې زموږ له خوا کار سم دئ. تر دې اعلان وروسته زوم د نارینه وو له مجلس څخه را ایستل کیږي او د ناوي او یا خُسر کور ته د لومړي ځل له پاره ورځي. په دې ترتیب سره د زوم سره هغه څوک و کور ته ورننوزي، چې په اصطلاح محرم وي او له نژدې خپلوانو څخه وي. مګر پاته نارینه ئې د کندهار په اصطلاح شوقیان او یا سندري ویونکي وي؛ خو هغه هم د شوق په خاطر د نارینه وو په سرای کي پاتیږي او که نه نو په خپل کار پسي ځي، یعني شپه کور ته رسوي او رخصت اخلي.

زوم او ناوې د پلار له کور څخه په دې ترتیب راولي او د ناوي د کور پر طرف ځي چي په دې وخت کي سرای له کوچنیو ماشومانو ډک وي او په سرای کي شور ماشور جوړ وي. د ډېر شور په سبب له ځینو میندو څخه خپل کوچنیان ورک سي او نارې پسي وهي. زوم هم په داسي حال کي چي دوستانو تر یوې او بلي اوږې نیولی وي، د ښځو تجمع او غونډې مرکز ته ئې راولي. په دې حالت کي ښځي زوم ته لار ورخلاصوي او هره ښځه غوښتنه او تلوسه لري چي نوی زوم وویني او له یوې او بلي خوا څخه ئې تماشه وکړي. د

ښځو په هجوم او زياتوب کې ډېري ښځې د ناوي له خپلوانو څخه وي، ولې دوې يا درې ښځې د زوم له طرف څخه هم وي. په هر صورت زوم له ناوي څخه نسبتاً په څه فاصله ليري ولاړ وي او ډېر په حيا او شرم کې معلومېږي.

هوا! تر لږ ولاړي وروسته زوم د ناوي په پښه باندي کلوښه يا موچړه (بوټ) ورپه پښو کوي، مګر ناوې کوښښ کوي چې پښه پورته نه کړي، ليکن زوم د ناوي پښه په زور سره پورته کوي. که چيري ئې نه پورته کوله، نو يوه کوچنۍ نوکاره هم پر پښه ورکوي څو هغه پښه پورته کړي. په صحرا او اطرافو کې داسي هم پېښېږي، چې يو يا څو کوښې ئې پر پښه باندي وهي، ليکن اوس دا دود له منځه تللی دئ. په هر صورت ناوې له زوم سره يوځای کښېني او په دې ترتيب نور مراسم پيلېږي، چې پورته مو هر يو ذکر کړل. اوس نو هغه پېښې چې تر دې وروسته پر ناوي او زوم باندي راځي ذکروو، ممکن د مضمون په کيفيت کې نور هم دلچسپ وګرځي.

## په ښار کې د ناوي ګرځول (د ناوي ښارګښته کول):

په کندهار کې د واده د مراسمو په اخير کې ناوې په موټر کې د ښار پر شاوخوا باندي راګرځوي او ښارګښته کوي ئې. ولې د داود يوازي او يوازي د کندهار په ښار کې سته نه په اطرافو کې. په دې ښارګښتې کې ناوې او زوم په يوه موټر کې سره ناست وي او د دوی په موټر کې مشراني سپين سري او سپين ږيري هم ناست وي او نور موټران په ترتيب سره د ناوي په موټر پسې وي. پس له هغه چې ناوې ئې پر ښار باندي شاوخوا وګرځوله نو ئې په کندهار کې د رواج له مخې و خرقې شريفي ته راولي. هلته يوازي ناوې او زوم نه بلکې ټول د واده غړي راکښته کېږي او د خرقې مبارکي زيارت کوي، ټول دُعاء کوي او د زوم د ښه بريالي ژوند غوښتنه له پاک خدای څخه کوي. پس له هغه څخه ناوې او زوم بېرته په موټر کې سپرېږي او بيا د دوی موټر تر نورو مخکي روان وي، څو چې ټول د ښار تر چکر وروسته و خپل کور ته راسي. ليکن ناوې او زوم بيا هم سره يوځای او يو له بله ئې تر اوږو نيولې وي او کور ته په يو جهان خوشحالۍ سره راځي او د شپې نور مراسم پيلېږي. يعني ناوې او زوم په يوه کوټه کې جلا او په ځانګړې توګه سره يوځای کوي نور ټول ځني راوزي.

**د واده سهار:**

د واده په سهار د زوم له کوره د اینګو په هدایت یوه ښځه د استازي په ډول د ناوي د پلار کره ورځي څو د ناوي د صحت او خوشحالی زېری وروړي.

**بابولاله:**

دا دود هم یو فولکلوریک دود دئ، چي هم په ښار او هم په اطرافو او شاوخوا کي رواج لري او خپل تاریخي اهمیت ئې ساتلی دئ. په دې دود کي د ناوي د سر اړولو په وخت کي درېې ګاني وهل کیږي او بابولالي ورسره وایي. ناوې او د ناوي نور نژدې خپلوان لکه ورور او نور ئې پکښې یادوي. مثلاً: د ناوي د سر د لاري ایستلو په وخت کي د ناوي ورور ته داسي خطاب کوي او دا مصری وایي:

وروره راسه لار ئې باسه

بابولاله لاله لار ئې باسه

او نور ئې پکښې یادوي مثلا ناوي ته د سر د لاري ایستلو مصری وایي:

که د سروزرو لار نه وي بابولاله د هوسی په ښکر ئې باسه

وروره لاس که په کځوړه

بابولاله لاس که په کځوړه

دا اصیل غمی راباسه

بابولاله خور دي ځي د پلار له کوره

دا غزله په درياګانو او ګډ ډول نجوني سره وايي په داسي حال کي چي د هري يوې تندی له یو عالم خوشحالی او خوله ئې له خندا څخه ډکه وي. بابولاله د واده په مراسمو کي یوه ډېره خوندره او له احساساتو څخه ډکه غزله ده. نو په دې سبب کله کله د زوم او یا د نورو خلکو فرمایش وي، نونجونو ته وائي: چي نجونو! بابولاله او نجونو بوبولاله درواخلئ! نو بیا هغوی هم په دریو کي بابولاله بدله بدرګه کړي. د دغي غزلي اورېدل سړی په جذبه او احساساتو راولي.

**دبابولالي بشپړه غزل**

اوښ ولاړ څنګون ترلی ،اوښ ولاړ څنګون ترلی

وای،وای اوښ ولا ړ څنګون ترلی ،وای ،واای

ترهغو به ئې خلاص نه کړو زما جان نه دی راغلی

وای زما جان نه دی را غلی ، زما جان نه دی راغلی

ناوې تیته ولاړیږي، ناوې تیته ولاړیږي وای ، وای

پلانکي جان امیل ور کړی، وای پلانکي جان امیل ورکړی وای

چي په لمن کې نه ځائیږي په لمن کې نه ځائیږي،په لمن کې نه خئیږي

کور،دکور مخته واښه دي،کوردکور مخته وا ښه دي

داسي زوم مودروستلی، دکاله رنګ مو په ښه دی

دکاله رنګ مو به ښه دی، دکاله رنګ مو په ښه دی

ناوکۍ دي خدای زړه کي د پلانکی پر مړوندونو وای..

ورور ئې بیا تر چولو ګوري، وروړئې بیا تر چولو ګوري

وای ! ولاکه بیا ور ږغ کړې چی دادا ادې دي بولي

چی دادا ادې دي بولي، چی داداادې دی بولي،وای، وای

وروره لاس که په کڅونه ، وروره لاس که په کڅونه

دا اصیل غمی را با سه خور دي ځي دپلار دکوره،

خوردي ځي دپلار دکوره وای! خوردی ځي دپلار دکوره

شین بادرنګ اوبو را وړی، شین بادرنګ اوبو را وړی

وای! الا داسي زوم مودروستلی، وای داسي زوم مودروستلی

چي چاه خوب نه دی لیدلی ،وای، چاه په خوب نه دی لیدلی

ناوي هی که حوصیلی که، ناوی هی که حوصیلی که

په ژاړا کي څه تاثیر دی دهمزولو زړه نری که وای،وای

دهمزولوزړه نری که ،دهمزولو زړه نری که وای، وای

خدای خو داسی زوم درکړی چی چاه په خوب نه دی لیدلی

پلانکی جان درته ولاړدی، په ځوانی ئې هوس کیږي وای، وای

ناوکۍ مو نازدانه ده ترغرمې ئې ځنډويه، ترغرمې ئې ځنډويه

کور په کور څراغ بلېږی، وای، وای کورپه کور څراغ بلېږي

ناوکۍ دکوره وزي لور دموره جلا کيږي. لور دموره جلا کيږي

ناوې نه ژاړي ګيله کړي ، نا وې نه ژاړی ګيله کړي،وا، وای

پلانکی جان به ئې نازواخلی په سرو زرو بې درنه کړي،وای، وای

ناوي مه وهه بغاری، ناوی مه وهه بغاري وای مه وهه بغاري

چې ښندلي مو کالداري، چې ښندلي موکالداري، وای ، وای

دوه ، دوه تاره اخله قيصه ورو، وروړو بيلويه قيصه ورو

ناوکۍ مو ده نازانه ترغرمې، غرمې ئې ځنډويه ترغرمې

ناوي مه ژاړه خوښيږه، ناوی مه ژاړه خوښيږه ،ناوی مه ژاړه خوښيږه

پربن دی نه بيايو سپريږه ،پرنيلي آس درسپريږه سپريږه،پرنيلي آس سپريږه

ای چې ستا په سرکۍ درد سي،وای چې ستا په سرکۍ درد سي

ای نيلی آس دي صدقه سي ، نيلی آس دي صدقه سي، وای،وای

تربالښت لاندي انار دی و ای ، وای تربالښت لاندي انار دي

داسي زوم مودروستلی چې نامي دکندهار دی،چې نا مي دکندهار دی

دسهار چرګه بانګينه، دسهار چرګه با نګينه، وای الا چرګه بانکينه

يوه لويه ناره وکړه ،لور ئې ځی دپلار دکوره، لورئې ځي دپلار دکوره

په سلام سلامي ورونه ، په سلام سلامي ورونه، په سلام سلامي ورونه

دخورکۍ دعزت سيوري چې جلا سوله کورونه، چې جلا سوله کورونه

دوه، دوه تاره اخله قيصه ورو، ورو بيلويه، قيصه ورو ور،ورويبلويه

ناوکۍ مو نازدانه ده ترغرمې ئې ځنډويه، ترغرمي ئې ځنډويه

زوم لمرناوې سپوږمی ده، زوم لمرناوې سپوږمی ده وای، وای

بابولاله زما جان دي خپله بيا ئې ، دسرک تربله غاړه، تربله غاړه

ناوي ښه ولاړ دي تاک دی، وای، وای که دي خدای زوی به نصيب کی

الا ستا تندی دبخت دی، الا ستا تندی دبخت دی وای، وای

زومه اوس دي مبارک سه، خوشحالي دی يو په لک سه

، خوشالي دي يو په لک سه ، خوشحالي دي يوپه لک سه
خلک ژرسی زموږ تلوار دی ، الا ژرسی زموږ تلوا ردی
نا وکی مو په لاس راکی چي زموږ کور پر کندهار دی
پلنکی جان ورته ولاړدی په جوپان کي بې سپره کړي
ناوي تيک پر تندي کښيږده ناوي تيک پر تندي کښيږده
وای الا مشرلیوردي شیراغانوم باندی کښیږده ، شیراغا نوم باندی کښيږده
بابولاله مو ختمیږي،مسخرې مو سره وکړې،مسخرې مو سره وکړې
څوک به نه خوابدي کيږي،وای الا څوک به نه خوابدي کيږي

## د اوږو جوال ته د ناوي راولاړول:

دا دود هم له پخوا څخه پاته دئ، منتها دا دود و ناوي ته د ښې عقيدې او تبرک په خاطر سره پاته دئ. دا دود داسي دئ: وروسته له هغه چي پر ناوي باندي لس پنځلس ورځي تېري سوې او د ناوي له کور څخه يو څو ښځې يا اينګي ګاني چي په اوله شپه د واده هم د ناوې سره ورسره وي، بيا هم د ناوي کور ته ورځي او وروسته تر هغه ناوې د لومړي ځل له پاره اينګي ګاني او د زوم مور او خور او نوري خپلواني ورسره وي ناوې ورته راولاړوي. ناوې د لومړي ځل له پاره په خپلو نازکو او ښايستو سره کړو لاسونو باندي يوه يا درې لپي اوړه په کاشين کي اچوي او اخښې ئې.

د ناوي دا لومړی ځل وي چي د کور په کارونو کي مداخله کوي، يعني ګډون کوي او د کور کار شروع کوي. دا چي اينګي ګاني د دوی په ازدواجي ژوند کي رهنماياني دي، نو ځکه د وږو د راوړلو په مراسمو کي هم ګډون ورسره کوي. څه وخت چي ناوې څو لپي اوړه په کاشين يا لوښي کي واچوي، تر اخښلو وروسته څوالې ځني جوړوي. څه اندازه غوړي، بوره او او نور مواد هم وراچوي، څو روغانۍ غوندي خوندوره راسي.

پس له هغه ئې د روغانۍ په ډول پخوي. دا روغانۍ د ناوي روغانۍ وي، چي هر کور ئې د تبرک په ډول په ښه خوند سره خوري او خپلو تولو خپلوانو ته ئې په اندازه سره وراستوي. څه وخت چي روغانۍ کوم کور ته وراستوي نوموړی کور سم دستي دې نتيجې ته رسېږي چي پلانکی ئې اوږو ته ولاړه کړې ده، چي په دې ترتيب سره و هر کور ته چي

ورځي هغوی معمولاً و ناوي ته دُعا کوي (خدای دې نېکمرغه کړي) نو پس له هغه چې ناوې اوړو ته ولاړه سوه نو ناوې نور کارونه هم په وروسته کي د خواښي تر څنګ او د خواښي په رهنمايي سره سر ته رسوي.

### د زوم د کورنۍ پر غړو باندي نوم ايښودل:

څه وخت چي ناوې په کور کي ښه بلده سوه او شل يا پنځه ويشت ورځي ئې تېري سوې، نور نو د ناوي توب تر ټولو مرحلو تېره سوې وي. نو يوه ورځ د مازيګر، ماښام يا کوم بل مناسب وخت کي ټولي د کورنۍ ښځي او شاوخوا خپلواني له خُسر څخه نيولې بيا تر کوچنيو او وړو ليورونو، ايندرينديو پوري ټول د اينګو په ګډون سره کښېني او نومونه و ناوي ته ورمعرفي کوي.

که خُسر ډېر سپين ږيری وي نو دده د سپيني ږيري سره سم نوم پر ايږدي مثلاً: آغاجان نوم پر ايږدي او که ځوان غوندي وي، نو (جان اغا) يا (ګران اغا) نوم پر ايښودل کيږي. همدغسي پر خواښي باندي هم د خپل عُمر او کال سره سم نوم ايښودل کيږي، مثلاً که سپين سرې وي نو (بي بي) او که څه ځوانه وي نو (بي بي جانه) که تر هغه لا هم ځوانه وي جانګله ئې بولي.

همدغسي که ايندرور ئې مېرمنې او ځوانه وي هم په ترتيب سره نوم پر ايښودل کيږي، مثلاً که مېرمنې وي نو خانمجانه يا راجانه ئې بولي او که پېغله وي نو سپوږمۍ، تورپېکۍ يا ملالۍ يا ګلالۍ نوم پر ايږدي.

که نارينه وي نو شاه لالا ئې هم بولي. نومونه د هر چا د عُمر او کال سره برابر ايښودل کيږي او هر نوم د جرګې په صلاح او مشوره سره ايښودل کيږي. د نوم په ايښودلو کي د هر چا علاقه او مينه ډېره مهمه وي، حتی ځيني وخت ئې وختي لا نومونه سره انتخاب کړي وي او و ناوي ته ئې معرفي کوي. بالخصوص پېغلي نجوني خپل نومونه داسي ټاکي: نازنينه، ګل رنګينه، ماه جبينه او نور. داسي هم پېښېږي چي کله ناوې د جرګې په فيصله نومونه اېښي وي؛ خو د هغوی نه وي خوښ بالاخره مجبوره ده چي د هغه نوم په عوض کي د هغوی په خوښه نوم پر کښېږدي.

په دې ترتيب سره د ناوي د ناوي توب مراسم پای ته رسيږي او نور نو ناوې د کور د يوې غړي په توګه سره ژوند کوي او د کور په کارونو کي د خوابني سره يو ځای ونډه اخلي.

# په کندهار کي په مختلفو څېزونو کي د چښلو داوبو د يخولو دود او دستور

څرنګه چي فولکلور د مدنيت تر پلوشو لاندي ورکېږي او د دې مهمي پديدې ساتل د هري سيمي د ليکوالانو په تېره بيا د فولکلور د مينه والو دنده ده، ځکه موږ د دې مسئوليت د شناخت او درک په لرلو سره د نورو فولکلوريکو دودونو په څنګ کي يو هم په کندهار کي په مختلفو څېزونو کي د چښلو اوبو د يخولو دود او دستور تر څېړني لاندي نيسو. دا ډول دود له ډېري زمانې راهيسي په کندهار کي په ځانګړې توګه سره رواج لري. که څه هم د زمانې اقتصادي او اجتماعي ځانګړتياوو رشد او د توليدي وسايلو د تکامل سره جوخت داسي ماشيني سامان الات او برقي څېزونه رامنځته کړه، چي په ډېره ښه توګه کولای سي د چښلو اوبه يخي او سړې کړي، خو نوموړي سامان آلات هم په يوه پلا يا يو ځلي منځته نه دي راغلي، بلکي نوموړی ساينس او تخنيک د ډېري اوږدې تجربې محصول دئ.

مترقي او پيش رفته وسايل د ګټي وړ څېزونه دي، چي د نن ورځي انسانان ئې له سوکالۍ او هوسايني څخه بهرمند دي. نوموړي برقي سامانونه او د تمدن پلوشې که په تاريخي تسلسل سره وګورو، د هغوی په بطن کي نوي او زړې رابطې څرګندېږي او هغه ابتدايي سامان الات، چي موږ به په خپل مطلب کي د عنعنوي دودونو په څېر څه ناڅه صحبت پر وکړو د نوي وسايلو سره بې ارتباطه او بې اړيکو نه دي.

په کندهار کي په مختلفو څېزونو باندي اوبه يخيږي چي د خپلي منطقې د ځانګړو اقليمي شرايطو او تودوخي محصول دي. د کندهار ښار په شاوخوا سيمو کي يعني له فراه څخه تر مقره پوري تقريباً يو ډول عنعنوي او کلتوري اړيکي څرګندېږي، چي د اوبو يخولو دود په نوموړو سيمو کښي تقريباً يو شانتي دئ او يو ډول لوښي پکښي کارېږي، د کندهار

په سیمه کې د دوبي په موسم کې ګرمي ډېره ده او خولې ډېرې کېږي، نو طبیعي خبره ده چې د ډېرو اوبو څښلو ته هم ضرورت سته. نوموړي اوبه که څېرې یخې وي، نو خوند ئې هم ډېر وي، نو ځکه د کندهار په سیمه کې اوبه یخېږي او د یوې عنعنې په توګه نوموړی دود او دستور پاته دئ، چې په مختلفو څیزونو کې اوبه باید یخې سي. د دې له پاره چې اوبه یخې سي د کندهار ښار او اولسوالیو خلک له سړوبیو (منګیو) څخه کار اخلي. په لاندي کرښو کي به په مفصل ډول پر نوموړي دود وړغېږو.

د اوبو په یخولو کي اصلي یا عمده شی سړوبی دئ. د سړوبي په څېر نور څیزونه هم سته چې اوبه یخوي او زیات رواج لري. د مثال په توګه: ګړونج، کوزه، تونګ یا تروم، خُم، پتک، ژی، غارګېی، سړوبی او په همدې توګه ماټی هم د اوبو یخولو څیزونه دي. د دې جملې څخه سړوبی یا منګی ډېر اهمیت لري، چي موږ به په دې مطلب کي پر هر څیز باندي مفصل وړغېږو.

## سړوبی یا منګی:

منګی له ختو او خاورو څخه جوړ سوی څیز دئ. د کار په لومړي سر کي ختې جوړوي. د نوموړي منګي د جوړېدو خاوره یا جوړه سوې خته عادي خاوره او خته نه ده. بلکي چونګ سوې او صافه خاوره له اوبو سره ګډېږي او یو ډول هندسي، بیضوي یا منحني ګول ډوله منګی ځني جوړوي. ځیني ئې پایه لرونکي یا ببخ لرونکي منګي وي، چي خپله ځان تکیه کولای سي او ځیني منګي ببخ یا پایه نه لري، دېوال یا د کومي بلي وسیلې په واسطه سره تکیه کېږي. دا ډول منګي لږ د اوبو له پاره استعمالېږي؛ ولې زیات ئې د سرکې جوړولو او نورو شیانو کي استعمالېږي او په عمومي توګه د سرکې منګی ورته ویل کېږي. د سړوبي اصطلاح نه ورته راځي او عموماً تکیه ګاه ئې حتی د لښتو په وسیله جوړېږي او یا خښتي داسي ورته اوډي چي یوې او بلې لوري ته حرکت و نه کړي یا چپه نه سي.

برعکس هغه منګی چي خپل ببخ او پایه لري هغه د اوبو څښلو له پاره استعمالېږي او په اصطلاح کي سړوبی هم ورته ویل کېږي. سړوبی هم کوچنی او هم غټ کېدای سي که څېرې تر سړوبي یا عادي منګي کوچنی ډول و، نو د کندهار په اصطلاح کي منګوټی

ورته ویل کېږي. تر کونجۍ لږ څه غټ وي او تر سرږوبي یا منګي کوچنۍ او وړوکې غوندي وي.

سرږوبۍ او منګوټۍ په شکل کې سره نژدې وي او دواړه یو او بل طرف ته د نیولو لاستی لري چې د ضرورت په وخت کې په اسانۍ سره نیول کېږي. یو بل ډول ئې هم ستہ چې په اندازه کې کونجۍ غوندي وي؛ ولې په ډول کې له کونجۍ سره فرق لري. منځ ئې پراخ وي او د منګوټي غوندي یوې خوا ته دوه لاستي لري، چې دې ډول څيز ته ماتۍ ویل کېږي. د ماتۍ بېخ نسبت و سر او منځ ته کوچنۍ وي او د شلومبو د دکۍ په ډول وي.

له دې ډولونو څخه بل مهم ډول تونګ دئ چې له نورو ډولونو سره فرق لري، په دې ډول: تونګ اوږده او نرۍ غاړه لري، وروستۍ برخه ئې پراخه او د اوبو ګنجایش زیات پکښي وي. تونګ چې ځیني وخت ئې تروم هم بولي. نرۍ او صراحي غوندي څیز او ډول لري. د اوبو چښلو په وخت کې ئې د (قل قل اواز پکښي اوربدل کېږي.)

یو بل ډول چې له ختو او خاورو څخه جوړېږي او د اوبو چښلو له پاره استفاده ځني کېږي کوزه ده. کوزه هم د تونګ په څېر په غاړه یا مخکنۍ برخه کې نرۍ او وروستۍ برخه ئې پراخه وي او د اوبو د اچولو او ځایولو قدرت لري. د کوزې ډول و ګډوې ته ورته دئ. یوه چوښکه او لاستی لري. همدغه علت دئ چې ځیني متدیني پرګنې ئې د اودس تازه کولو له پاره د ګډوې په څېر استعمالوي. ولې اصلاً د اوبو د چښلو څیز یا شی بلل کېږي.

پورته څیزونه د اوبو د چښلو له پاره استعمالېږي، چې په عمومي توګه د کلالۍ د صنعت یو جز بلل کېږي. نو بده به نه وي چې د کلالۍ په صنعت باندي هم څه ناڅه رڼا واچوو:

**د کلالۍ صنعت:**

کلال هغه چا ته ویل کېږي چې خاورین لوښي لکه کوزه، منګی، تونګ او داسي نور جوړوي. د اوبو چښلو پر لوښو سربېره نور څیزونه چې د ژوندانه د اړتیاوو په لیږي کولو کې مهم او ستر رول لري هم جوړوي او په ښارو، کلیو او بانډو کې ئې د پرګنو د ضرورت په خاطر پلوري. کلال په خاورینو لوښو باندي د خپل کوښښ په وجه ډېر ښکلي صنعتي او د علاقې وړ څیزونه جوړوي او د کلالۍ صنعت له هغو سره نه شلېدونکي اړیکي

لري. کلال  له خاورو او خاورينو لوښو څخه هنري او ښکلي پاخه يعني کلک څيزونه جوړوي. د کلال په ښکلو صنايعو کې عموماً ګلان، د مرغانو ډولونه، د ونو پاڼي او داسي نور شيان انځورېږي. دا چي هنر د ټولنيز ژوند يوه مهمه برخه تشکيلوي، د ټولنيزو تغيراتو سره جوخت تغير او تکامل مومي. په همدغه منظور د کلالۍ صنايع د هنري ارزښت په لرلو سره د تاريخ په اوږدو کي ډېر مهم او د لرغوني پېژندني ستره برخه جوړوي.

کلال په پخوانيو دورو کي ستر اهميت درلود او د انساني ژوند د اړتياوو د ليري کولو له پاره ئې د لوښو بېل بېل ډولونه، لکه تش چي د کاليو پرېولو او د کرتودزدولوله پاره ئې جوړوي، غټي او کوچنۍ پيالې، ډول ډول خښتي، خومان او د چښنګ د اوبوديخولو مختلف څيزونه منځ ته راوړي.

کلال لومړی پورته شيان له ختو څخه جوړوي، وروسته ئې د اور د کورو په وسيله په ډېر تېز اور سره پخوي چي دماتېدو امکان ئې لږ سي. هغه ځای چي خاورين لوښی پکښې پخېږي هغه ته د اور کوره وايي او هغه څوک چي نوموړي څيزونه په اور کي پخوي هغه ته هم کلال ويل کېږي او نوموړي صنعت ته د کلالۍ صنعت ويل کېږي. کلال مختلف او ډول ډول څيزونه جوړي او پر خلکو ئې پلوري.

په کندهار کي يو فولکلوريک مشهور متل سته چي وايي: «د کلال په کور کي روغه کوزه نسته» يعني کلال روغي کوزې ټولي په بازار کي پلوري او په خپل کور کي ئې روغه کوزه نه وي.

د اوبو د يخولو تر ټولو عمده او مهمه وسيله منګی دئ چي عموماً په دوه وخته اوبه پکښې لوېږي، يعني ماځيګر او سهار منګی ډکېږي. د منګي د ډکېدلو سره نور لوښي هم ډکېږي، چي ټولو ته د چښلو د اوبو لوښي ويل کېږي او د اوبو د چښلو او لوښو يا څيزونو دنده هم په کور کي د ښځو پر غاړه وي او يا زياتره ئې د کورنۍ پېغلي نجوني ډکوي. د ډکولو دود ئې داسي دئ: لومړی منګی، کونجې، ماټې، کوزه، او تونګ پرېولل کېږي، زړې اوبه ځني توېږي (چپه کوی) او بيا ئې منځ ورپرېولي، روښانه شګي وراچوي. د منګي پر سر يو سپين ټوکر د خاصې او يا ډاکې ابږدي. دا په دې چي اوبه صافي کړه سي. شګي ځکه وراچوي چي کوچني ذرات په اوبو کي د شګو په وسيله جذب سي او هم اوبه روښانه معلومي سي. وروسته له هغه چي اوبه په منګيو او د چښلو لوښو ته واچول سي، نو ئې

لوړ بام ته خېژوي او هلته، چي پخوا ئې لا ځای ورته جوړکړی وي پر لوړه تېغه یا لوړ دیوال باندي ایږدي، څو د شمال یا باد جریان تماس ورسره پیدا کړي او اوبه ماښام ته یخي کړي. د کندهار ښار پر زیاترو تیغو باندي ماځیگر مهال منگي یا داوبو لوښي قطار سوي وي.

په کندهار کي د چښلو لوښي د بامو پر تیغو اېږدي، دا ځکه چي په کندهار کي عموماً خلک پر بامونو بیدېږي او څه وخت چي لمر لوېږي د کورنۍ غړي بام ته خېژي او خپل ټول د استراحت څیزونه یا کالی بام ته خېژوي. ځینو کورنیو د بام پر سرو باندي د کالیو (بوغبندانو) له پاره مخصوص ځای جوړ کړی وي، چي د یوې خوني په څېر وي. هلته ځایونه له باد، باران او لمر څخه خوندي او ساتلي وي. بامونه داسي جوړ سوي وي، چي څلورو خواوو ته ئې تیغې وي، چي د نیم قد په اندازه وي او یا تر هغه جگې وي. مقصد چي له نورو خواوو څخه معلوم نه سي. په همدغه دلیل د اوبو لوښي هم بام ته راخېژول کېږي، چي نژدې وي. بامونو ته د لوښو خېژول یوازي په کندهار ښار کي رواج لري، په اطرافو کي دا دود ډېر لږ وي. ولي د کلي او بانډو بامونه عموماً په کندهار کي د گنبدو په څېر جوړېږي، په کلیو کي عموماً د تونگانچې دود موجود دئ، چي د سرای په غولي کي جوړېږي او تقریباً د یو متر په اندازه د سرای له غولي څخه لوړ وي. په همدغه ترتیب د اوبو چښلو څیزونه یا لوښي د دالانچې پر ژۍ یا څنډه باندي ایږدي، چي د شمال یا باد په وسیله یخ سي. کله کله خپله تونگانچه هم تېغې لري او شاوخوا کونجیاني یا سرِوبيورباندي ایښودل کېږي.

د اوبو پر لوښو باندي یا د کونجیانو پر سرو باندي یو ډول جوړ سوی څیز یا شی د یو ډول گورشنیل په وسیله اوبدل سوی وي او شاوخوا سهیلي چک چکې ورسره گنډل سوی وي، د کونجۍ او منگي یا منگوټي پر سر باندي ئې ایږدي، چي په فولکلوریکو اصطلاحاتو کي د منگي څری هم ورته وایي یا ئې د لوښو د سر څوکی بولي. د منگي پر سر څوکی په دې لحاظ اېږدي، چي لوښو ته کوم خزنده یا غوماشه یا بل شی ور و نه لوېږي. سربېره پر دې  له خاورو او خاشو څخه هم اوبه محفوظي ساتي او پاکي پاتېږي. د منگي یا کونجۍ ښکلا هم ساتي ټول ئې له همدغه کبله استعمالوي.

په همدغه ترتیب یو بل ډول دود هم زیات رواج لري. دا دود هم په ښارو او هم بانډو کې رواج لري. هغه کورونه چې په اوړي یا دوبي کې له بامونو څخه استفاده نه کوي او په سرای کې له تونګانچې څخه استفاده کوي، نو یو ډول جوړ سوی ځیز، چې د ګړونج په نامه یادېږي، د هغه په وسیله اوبه یخوي او د ضرورت په وخت کې استفاده ځني کوي.





دکندهارنامتو کولال خواجه شاه محمد اودهغه هنر





**ګړونج:**

د ګړونج ایښودلو دود له ډېرو پخوانیو زمانو څخه رواج لري، په خاصه توګه د اوبو یخولو له پاره ترتیب سوی دئ. د ګړونج په ذریعه د اوبو یخولو دود او دستور هم په ښار او هم په کلیوالو بانډو کې سته. تر ښار په کلیو کې زیاته ګټه ځني اخیستل کېږي. مخکې مو وویل چې په اطرافو کې له تېغو څخه ګټه نه اخیستل کېږي، ځکه نو د سرای په غولي کې ګړونج ایږدي.

ګړونج عموماً په ازاده هوا کې ایښودل کېږي، چې له هر طرف څخه باد د سړوبیانو سره ونښلي او د سړوبي اوبه یخي کاندي. ګړونج عموماً له لرګیو څخه جوړ سوی وي، نو ځکه ئې د ترکانۍ د صنعت یو ځیز بولو. څلور پښې یا پایې لري. د هري پښې فاصله ئې له بلي پښې څخه نسبتاً د مېزو پښو ته زیاته وي او په نسبتاً مایله توګه سره تکیه سوی وي. ځکه ئې د چپه کېدو امکان ډېر لږ وي. په ګړونج کې یا د ګړونج پر سر باندي، څلور یا پنځه غټ او واړه سوري ورکوي. په دې توګه لوی او کوچني یا واړه او غټ سړوبیان

پکښې ایږدي. د هر سوري اندازه د هغه لوښي په نسبت وي، څو هغوی هلته تکیه سي او لاندي و نه لوېږي. نسبت و بل هر ډول څيز ته د ګړونج په وسیله زیاتي اوبه یخي کېدای سي. ولي د ګړونج ټول شاوخوا یا اطراف د باد او شمال د جریان له پاره برابر وي. ګړونج ځای پر ځای پروت او سړوبیان پکښې ایښودل کېږي، یعني د ماځیګر د لمر لوېدو سره یو ځای د چښلو د اوبو لوښي پکښې ایښودل کېږي او تر سهار پوري په ګړونج کي پراته وي. هغه وخت چي پر ګړونج باندي لمر راځي، نو ټول لوښي له ګړونج څخه اخلي او په یو بل داسي ځای کي ئې ایږدي چي د لمر وړانګي ئې اوبه تودې نه کړي. نو د ورځي له پلوه هغه کورونه چي زېرخانې لري او یا ئې د کورونو ترتیب د زېرخانې د جوړولو له پاره برابر وي، نو هغوی لوښي و زېرخانې ته کښته کوي. که زېرخانې و نه لري، نو ئې سړوبیان د دېواله و خوا ته او یا خونه کي اېږدي. څو له تودوخي څخه نجات پیدا کړي او اوبه ئې یخي او سړې پاته سي.

په همدغه ترتیب د کندهار په مختلفو منطقو کي مختلف یا ډول ډول دود او دستور موجود دئ، چي د ورځي له طرفه د اوبو یخولو دود سته، چي یو ئې هم د زېرخانې په وسیله د اوبو یخول یادولای سو. د زېرزمینی یا زېرخانې په یوه ګوښه کي یو ځای د اوبو د لوښو په نوم جوړوي. جوړ سوی ځای یا د کومو ډېرو په وسیله وي او یا ئې ځیني وخت له یو ځای څخه چمن یا مرغه راوړې وي، چي هلته منګی یا سړوبی ایږدي او د ضرورت په وخت کي ګټه ځني اخلي. په همدغه ترتیب سره په کندهار کي دا دود د ژوند یو غټ اړخ سوکاله (هوسا)کړی دئ. خصوصاً تر هغه وخته پوري، چي د یخچالونو دوران منځ ته راځي.

د اوبو یخولو له پاره له سړوبیو څخه ګټه اخیستل له پخوانیو او فولکلوریکو دودونو څخه ګڼل کېږي. له ډېر لرغوني وخت څخه په دغه ډول سره زموږ اوبه یخېدلې او تر نن ورځي پوري ئې هم خپل ارزښت څه ناڅه ساتلی دئ. په دې جریان کي یو بل دود هم د پاملرني وړ دئ. کوم وخت چي منګی یا کوزه یا کونجۍ او یا هم بل کوم لوښی خیرن سي، نو بیا ئې په یو ډول کودرکي باندي پرېولي.

**کودرکي:**

څه وخت چي منګی یا کوزه یا د اوبو چښلو کوم بل لوښی مات سي، نو د هغه ماتو سوو ټوټو ته په کندهار کي کودرکي ویل کېږي. له کودرکو څخه ډېري استفادې کېدای سي. یو ئې هم د اوبو چښلو د لوښو پرېوللو دود او دستور دئ. په دې ډول دود کي تر هر څه دمخه د منګي د ماتي سوي ټوټې یا کودرکي یوه برخه رااخلي او هغه میده میده کوي تر څو ښه میده سي. وروسته ئې د لوښي پر یوه برخه باندي موږي، تر څو نوموړی ځای سپین رنګ یا هغه خپل رنګ وباسي. نو په دې صورت کي لوښی پاک سوی وي.

د کودرکي په ذریعه په دوه ډوله سړوبیان پرېولل کېږي: یو دا چي کودرکي به د خاوري په څېر میده کېږي او بل کودرکی به د یوې ټوټې په څېر پر یو سړوبي موږي. د کودرکي په ذریعه سړوبیان ډېر ښه پاکېدای سی، چي تر بل هر څه دا طریقه د قبول وړ ګرځېدلې ده. څه وخت چي سړوبی پرېولل سو، نو رنګ ئې ډېر ښکلی او سپین سي. په دې ترتیب اوبه هم ډېري روښانه، ښکلي او سپیني پکښې معلومېږي او همدغه رنګ څه وخت، چي منګی د کودرکي په ذریعه پرېولل سو، د منګي د اوبو د یخېدلو قدرت هم زیاتېږي. ولې خیرن او زوړ منګی اوبه نه سي یخولای. نو ځکه هره کورنۍ مجبوراً خپل د چښلو لوښي ژر ژر پرېولي او هغه وخت، چي په سړوبیانو کي اوبه ښې یخي سوې او د اوبو رنګ هم روښانه وګرځېدی، نو دغسي یخو اوبو ته په اصطلاح کي د زیرني[2] اوبه هم وايي.

د منګي د زېرنیو اوبو خوند خورا زیات وي. زیرنۍ اوبه داسي په لاس راوړلای سو، چي اوبه په نوي یا پرېوللي لوښي کي اچول کېږي او هغه بیا و زېرخانې ته ورکښته کېږي؛ څه وخت چي هلته یخي سوې، نو و دغو یخو سویو اوبو ته د زېرخانې زیرنۍ اوبه وايي.

په همدغه توګه داسي دودنه سته چي اوبه یخي کړه سي، خو موږ ئې دلته لنډې څو نمونې ذکر کړې. اوس هم په دغه توګه د کندهار او د هغه په شاوخوا کي په دې ترتیب د اوبو یخولو دود سته او پوره استفاده ځني کېږي.

---

[2] زیرني اوبه: په کندهار کي د زیرنیو اوبو اصطلاح ډېره عامه ده او هغه اوبه چي ډېري یخي وي او د چښلو په وخت کي غاښونه ځانګي پر کوي یا پر برېښي، نو ویل کېږي چي د سړوبي اوبه زیرني یعني ډېري یخي دي.



# په کندهار کې د خامک دود او دستور

که څه هم د فولکوریکو موادو راټولول عادي کار نه دئ خو موږ په دې ځان مجبور کړ، چې د وخت سپین سري او سپین ږیري پیدا کړو او له هغو څخه ئې د قلم د څوکې په مرسته د کاغذ پر مخ د خلکو د زړه کړې او استفادې له پاره اماده کړو.

دلته یوازې د کندهار سیمې د خامک په زړه پورې دود او دستور راټول سوی دئ چې موږ ته له ډېر وخت څخه دا دود په میراث راپاته سوی دئ او اوس هم په نړۍ واله توګه د ارزښت وړ بلل کېږي. په کندهار کې په زیاته فیصدي دا دود رواج لري او اکثره په ځوانانو کې لیدل کېږي. په کندهار کې ئې د خامکي غاړې په نامه سره اغوندي. خامکي غاړې پر ډېرو ښو جامو باندې ګنډل کېږي چې د جامو ښکلاوې څو چنده کوي. خامک یوازې د اغوستلو پر ټوکرانو باندې نه، بلکې پرنورټوکرانو باندې هم کېږي چې مختلفو ډولونو باندې ئې استعمالوي ځکه د خوني او کور جوړولو ښکلا ورزیاتوي. مثلاً روجایي، میزپوښ، سرجایي، د بالښت تکیه، پایڅې، پتنوس او د چاینکي ټوکوزی «سرخولی» او اکثره ټیپ، راډیو او نورو قیمتي لوازمو د ښکلا او ساتلو په خاطر هم له خامکي ټوکر څخه کار اخلي. له یوه طرفه خپله هغه جنس ښه ساتي او له بلې خوا د خوني په ښکلا کې څه وراضافه کوي. علاوه پر دغه تاخچه پوښونه، سربکسی، کوټ بند او بل د ږیري د خرولو د ځنګو دسمال (اعلان) او نورو ډولونو باندې استعمالېږي. که څه هم خامک یو اندازه قیمتي تمامېږي، خو سربېره پر دې ئې هم خلګ استعمالوي. په عمومي توګه ئې بډایه او شتمن خلګ د لاسي کار خامک د زیاتو پیسو په بدل کې کوي. خامک پر دوه ډوله پر ټوکرانو باندې کېدای سي:

يو ئې لاسي کار بولي او بل هم ماشيني کار. که چيرې خامک د ستني په واسطه سوی وې ، لاسي کار ورته ويل کېږي او که ئې د ماشين په واسطه سره کړی وي ماشيني ئې بولي او ارزښت ئې هم چنداني نه وي.

لاسي خامک عموماً د کورنيو نجونو او پېغلو په واسطه کېږي. له يوه طرفه د کورني اقتصاد سره مرسته ده له بلې خوا خپله د پېغلي له پاره په زړه پوري مصروفيت دئ. که چيرې څوک د خامک غوښتنه ولري نو حد اقل بايد د يوې يا دوو مياشتو فرمايش مخکي ورکړي، ځکه خامک دوزي پېغلي ډېرې مصروفې وي او کارونه پر نوبت باندې ايږدي. خصوصاً د اخترونو په ورځو کې د خامک دوزۍ کارونه خورا زيات وي، نو ځکه بايد د هر چا کار نوبت ته کانديد کړي. که چيرې د واده او ناوې کلنګ دود او دستور په خاطر سره فرمايش ورکوي نو هم بايد وختي فرمايش ورکړي څو پر خپل وخت ورته خامکي ګنډل سوي شيان ورکړي.

خامک هم ښه لري هم بد، هم ارزنه او هم ګران کېدای سي، هم لږ کار پر سوی وي او هم ډېر کار پر سوی وي. پر دغو ټولو خبرو سربېره د کار په مضمون پوري هم اړه لري چي د شکل د مضمون ښکاروندی کېدای سي. که چيرې د ستني ټکونه ليري ليري فاصله سره ولري نو ازاد خامک ئې بولي او کار ئې د ښه مضمون او محتوی درلودونکی نه دئ، خو که برعکس د ستني ټکونه نژدې سره وسي او فاصله ئې په منځ کې و نه ليدل سي نو په اصطلاح ميده کار خامک ورته ويل کېږي او کار ئې با ارزښته دئ. که څه هم ميده خامک يو اندازه سخت کار دئ خو قيمت او ارزښت ئې هم په دغه اندازه زيات وي.

سربېره پر دې صاف کار او لړلی کار هم سته چي کار ئې صاف و پاک وي نو رنګ او ښکلا ئې زياته وي ځوانان ئې خوښوي او که لړلی وي شکل ئې خراب راځي چي زياتره کسب کاري نجوني ښه پوهېږي او هره کسبکاره نجلۍ يا پېغله چي د کار په مضمون پوهېږي زيات پلويان هم لري سودا ئې ښه کېږي. د خامکي غاړو يا عمومي خامک صنعت که څه هم په اطرافو او صحرا کي زيات رواج لري او ښار ته را انتقال سوی دئ، پر دې سربېره اوس د ښار نجوني صاف خامک کولای سي او زيات شکلونه په خامک کي رسموي او انځوروي. عموماً د ګلانو ډولونه او نور ډول ډول شکلونه انځورېدای سي چي د کندهار په اطرافو او صحراوو کي چندان رواج نه لري خو خپله د کندهار په ښار کي ئې رواج

زيات دئ. همدغه سبب دئ چي د ښار د نجونو خامک تر اطرافو زيات د قدر وړ ګڼل کېږي او خلګ ئې خوښوي.

خامک په عمومي توګه ډېر ډولونه لري چي هر ډول ئې په خپل وار توکر ته ښکلا وربخښي چي مشهور ډولونه ئې دا دي:

کوکناري خامک، بستونه ډول، د موړک غاښي ډول خامک، ريګي غمی، د ختکي زنې، بندي اوې. دا ډولونه رواج لري چي پر خامکي غاړو يا پايڅو او د نورو شيانو پر خامکونو باندي استعماليږي.

## لومړی - کوکناري ډوله خامک:

په دې خامک کي د توربخۍ په واسطه لوز ډول جوړېږي او د لوز په منځ کي د کوکنار شکل انځورېږي. کوکنار هم غټ او هم واړه کېداى سي. سيده او واړه ټکونه که څه هم د تکليف وړ دي ليکن اهميت ئې زيات دئ او خلګ ئې خامک خوښوي. توربخۍ درې تاره په حساب د توکر په يوه ټک کي اخيستل کېږي او په دغه ډول لوز جوړوي.

## دوهم بستونه:

هم ميده او هم غټ راځي. که ئې ټک ميده وي نو ښکلا به ئې هم زياته وي او که غټ غټ ټک وايستل سي، نو غټ ټک به وي چي غټ ايستلو ته په اصطلاح کي هواداره ټکونه هم وايي چي چندان ئې خلګ نه خوښوي. بستونه څو ډوله لري:

1. ساده بستونه
2. ليسي بستونه
3. کتابي بستونه

بستونه د خښتي په ډول ترل کېږي چي په غاړه کي ئې زيات استعمالوي. د غاړې ډول ئې يا پتنوس او يا محرابي ډولونه وي. د غاړې يو اړخ او بل اړخ ته شرشره اووه ښاخلې يا پنځه بلکي هم ورته ويل کېږي.

**دريم - د مورک غاښي ډول خامک:**

د دې خامک یو ټک میده او بل نسبتاً غټ وي. په عمومي توګه پر درې ډوله دي: اول درې ټکه غټ او درې ټکه هم میده راځي. دوهم دوه ټکه میده او دوه ټکه ئې نسبتاً غټ وي. دريم هغه ډول دئ چي هره خانه یا کور ئې په یوه اندازه سره ډکېږي او درې درې ټکه خېژي او کور ئې ډکوي.

**څلورم - ریګی ډوله خامک:**

دا ډول خامک داسي شکل لري لکه غاښی او یا غاښونه چي په میده او هم غټ ټک خېژي او یوه خانه او یا کور ډکولای سي یا د دوو تارو څخه نیولې بیا تر پنځو تارو پوري. په دغه ترتیب خانه ډکوي. په کندهار کي د ځینو ښځو په اصطلاح (ټیک او زیبا) هم ورته وايي. ټولې خانې ئې په دغه ډکېږي او په اخیر کي شابازونه جوړوي.

**شاباز:**

د غاړي د څنډې خامک ته شابازویل کېږي یعني د خامکي غاړي یو اړخ د شابازونو په نوم یادېږي او د غاړي  په بطن یا دننه کي خامک ته غمی ویل کېږي.

**پنځم - غمی:**

د دوو شابازونو په منځ کي یا د دوو چوکاټونو دننه خامک ته ئې غمی ویل کېږي چي یو اړخ ئې یوه شاباز او بل اړخ ئې بل شاباز چوکاټ کړی وي. غمی پر درو ډولونو خامک کېږي:

1. د دوو کتابو په منځ کي غمی.
2. د غنمو د وږو په څېر چي مکمل چوکاټ ونیسي.
3. مکمله خانه ئې په کتابو ډکېږي.

**شپږم - د خټکي زني:**

د ختکي د زني ډول خامک په مجموعي توګه د غنمو وړي ته ورته وي او پر درې ډوله دئ:

1. د ختکو زني ته ورته په لږ تفاوت سره ورته وي، ولې کاملاً د ختکي زنه نه وي.
2. د مات خط په ډول یعني کوږ ووږ ډول یا منکسرخط په څېر خامک راځي.
3. دا ډول د ونو پاڼو ته ورته والی لري او دښاخلو سرونه ئې هم بولي.

**اووم - بندي اوې:**

دا ډول خامک هم زیات رواج لري او په هر ډول خامکي ټوکرانو کي استعمالېږي او د استعمال وړ ګڼل کېږي. په خاص ډول ئې په خامکي غاړو کي ښکلا زیاته وي. دې ډول خامک ته بندي اوې ویل کېږي. بندي اوې چي په عمومي توګه د کار یوې او بلې خوا ته اوبدل کېږي. یا په بل عبارت د خامک د کار شروع لومړی اوه وي چي خپله اوه د یوې اوږدې لیکي په ډول د کار پر یو اړخ او بل اړخ راځي چي د کار د بطن یا منځ چوکاټ بندي اوې جوړوي چي د یوې او بلې اوې په منځ کي بیا بل ډول خامک شروع کېږي. د کندهار د خامک په دود او دستور کي ئې د ټک او زیبا په نوم سره هم یادوي چي د دواړو په منځ کي انځور کېږي. همدغه اوه په مجموعي توګه پر درې ډوله وي:

1. ساده اوه
2. کره وړه اوه
3. بندی اوې. د اوې یو سر او بل سر ته لیس کېږي چي د بندي اوې په نوم یادېږي.

**لیس:**

لومړی درې تاره ئي یو ټک کېږي. د موړک غاښي ډول ته هم لیس ویل کېږي. د لیس د خامک ډول په مجموعي توګه پر پنځه ډوله دئ. پورته نمونې ئې په خامکي غاړه کي لیدل کېږي. پر خامکي غاړه سربېره په کندهار کي د ښځو پر پایڅو باندي خامک کول هم د یوه دود په ډول پاته دئ چي د پایڅو خامک ئې هم بولي ولې. د ښځو پایڅې خامک

کول یوازي د ښځو په جنس پوري تړلی دود دئ، لیکن برعکس نارینه هیڅ وخت پایڅه نه خامک کوي.

### د ښځو پر پایڅو باندي د خامک دود:

د پایڅو خامک شپږ ډوله لري:

1. ټیک او زیبا
2. لیس
3. بستونه
4. کوکناري
5. دالاني
6. شرشره

د پایڅو د خامک پر ډولونو باندي مو په عمومي خامک کي جلا بحث کړی دئ خو یوازي ئې دالاني او شرشره پاته وه.

### دالاني:

لکه له نامه څخه چي ئې معلومېږي د دالان ډول لري او د یوه دالان په توګه نخش او نګار پکښي کېږي.

### شرشره:

یو ډول کوږ ووږ خامک دئ چي عموماً د پایڅو پر څنډو کېږي دا خامک منکسرخط ته ورته والی لري او یا لکه د آرې دندانې.

### خامکي غاړه او یا د غاړو ډولونه:

پورته مو وویل خامک ټوکر ته زیبایي وربخښي، نو له همدغه کبله ئې هم پر سرمیزی یا هغه ټوکر چي د میز پر سر هوارېږي یا روجایي، سرجایي او نورو شیانو باندي

استعمالېږي. خو سره له دې ئې هم د کميس پر غاړه استعمالوي چې عموماً ئې ځوان هلکان په کندهار کې اغوندي او د خامکي غاړي په نوم ئې يادوي.

خامکي غاړه پر څلور ډوله ده، چې هر ډول ئې له بل څخه په شکل کې هراړخيز توپير لري. ولې د خامک د کار په لحاظ يا د خامک اهميت ئې سره يو ډول وي او يوازي موږ ئې له شکل سره بلدېدلای سوای. مثلاً د خامک کار به ئې يا موږک غاښی وي يا به بندي اوې وي او يا به ريګي ډوله خامک وي. خو سربېره پر دې ئې هم دغه څلور ډوله په لنډ ډول بيانولای سو:

## لومړی - پټنوسي ډوله خامکي غاړه:

د پټنوسي غاړي کار د بست په خامک سره راځي چې بستونه ئې خښته خښته کېږي او ميده خامک ئې ډېر ښه راځي، ولې غټ خامک ئې هواداره راځي يعني (په منځ کې فاصله پيدا کوي) نو ځکه د ځوانانو د زياتي پاملرني او خوښی سبب ګرځي. د پټنوسي غاړي شکل چارکونجه وي او د خامک د کار اندازه ئې نسبتاً زياته وي.

## دوهم - شا بازي غاړه:

شاباز لرونکې غاړه عموماً په ميده خامک او ښاخلو سره راځي. د دې ډول غاړي شکل عموماً يو طرف ته خامک کېږي او په غاړه کې يو خامکي توک راځي او په يوه اړخ کې ئې يو شاباز هم خامک کېږي چې په همدغه سبب ئې شابازي غاړه بولي او که چيري د دې ډول غاړي په منځ کې توک خامک سي، نو بيا و دې ډول غاړو ته د توکي شابازي غاړه هم وايي چې دغه ډول غاړي هم د شابازي غاړي له جملې څخه شمېرل کېږي چې خامک ئې نسبتاً لږ وي.

## دريم - محرابي غاړه:

محرابي غاړه هم د نورو خامکونو په څېر د ښې ښکلا درلودونکې ده. د دې غاړې شکل د یوه محراب شکل ته ورته ده او د محراب په توګه خامک کېږي او د خامک کار ئې په لوزونو سره ډکېږي او د خامک اندازه ئې د پټنوسي غاړې د خامک په پرتله وي.

**څلرم - چپه ګردنه:**

چپه ګردنه د خامک هغه ډول دئ چې عموماً ئې پر کالر باندي خامک کېږي نو له همدغه سببه ئې هم د ملي کالیو پر کالرونو خامک کوي او هم ئې د رسمي کالیو یعني د دریشۍ پر کمیس باندي خامک کېږي. هلکان دغه چپه ګردني خامک زیات خوښوي. د خامک د کار ډول ئې د توک او شاباز په توګه راځي.

هو! په خامکي غاړو کي که څه هم هر ډول ئې له دغو څلورو څخه زیاته ښکلا لري خو هغه چي د ارزښت په لحاظ سره زیات اهمیت او قیمت لري پټنوسي غاړه ده او دوهمه درجه محرابي غاړه ده چي ډېر اهمیت او ارزښت لري چي په وروسته کي د توک او شاباز ارزښت لري.

په مجموعي توګه خامک د ستني له کارو څخه شمېرل کېږي. د ستني د کار ډولونه زیات دي یو ئې هم خامکي کار دئ. په خامکي کار کي د کندهار خامک زیات شهرت لري او زیات خلک ئې استعمالوي. تقریباً په هر کور کي د خامک اثار موجود دي او هر کندهاری د خامکي غاړې یوه نمونه لري. حتی په خپلو دودونو کي په حتمي توګه د یوه دستور په ډول استعمالېږي، لکه د واده په دود کي، په کلنګ کي د خامک نمونې ورکول کېږي او د زوم غاړه په خامکي ډول ورکول کېږي. همدغسي په اخترونو کي د ځوانانو د غاړې جوړول یو حتمي کار بلل سوی دئ خصوصاً هغو کسانو ته چي نسبتاً اقتصادي وضعه ئې جوړه وي (بډای وي).

په هر صورت د خامکي دود او دستور په خپل چوکاټ کي په قانونمند ډول تکامل کوي. مثلاً د زوم له پاره جوړه استول او په هغه کي د ستني خامک یو حتمي شی ګڼل کېږي او همدغسي د خامک په دود او دستور کي باید زیاته کړو چي خامک یوازې په ستني سره نه بلکي په ماشین سره هم خامک کېږي چي د ماشین په خامک کي سونړ او لاندي سپېنسي استعمالېږي چي په همدغه ترتیب د ماشین کار یا ماشیني خامک ارزښت هم لري.

وي. د ماشيني خامک په پرتله د ستني خامک چې له يو طرفه په زيات وخت او زيات تکليف سره سر ته رسېږي د ټوکر دوه اړخونه يعني لاندي باندي ئې سونډ استعمالېږي او قيمت او ارزښت ئې څو چنده د ماشين تر خامک ډېر وي، نو ځکه ئې ارزښت هم څو چنده تر ماشيني خامک لوړ دئ او د خامک کوونکي پېغلي پر سترګو هم ډېر فشار راولي، نو ځکه ئې نرۍوال هم خوښوي.

**سونډ:**

د خامک له پاره استعمالېږي چې يو روښانه او وربښمينه سپڼسی يا تار دئ. درې ډوله لري:

1. نازک سونډ.
2. ميانه سونډ يعني نه نازک او نه پنډ.
3. پنډ سونډ چې عموماً توربخی کېږي.

په هر صورت په افغانستان کي د کندهار خامک ډېر لوړ نوم لري او په عامه توګه په ټول افغانستان کي داسي اصطلاح سته چې د کندهار خامک زيات ارزښت لري او د کابل او نورو ولايتونو پرګنې په خپلو ځانګړو دودونو کي لکه د واده دود او نورو دودونو کي کوښښ کوي چې کندهاری خامک په جوړو او مراسمو کي يو د بله واستوي او راواستوي. خو سربېره پر دې د کندهار خامک په نړۍ کي ډېر خوښوي او په امريکا کي نوموړی لاسي صنعت او خامک ته ډېر ارزښت ورکوي. نو په دغه دليل د غربي هيوادونو سره د کندهاري خامک تجارتونه سته او افغانستان ته د ټوريستانو د راتګ له پاره په کندهار او کابل کي خامکي څېزونه او شيان په دوکانونو کي د پلورلو له پاره ځړول کېږي او ډېر ټوريستان ئې د ځانونو سره د سوغاتونو په توګه غربي هيوادونو ته وړي چې له همدغي لاري څخه ډېرو پرګنو او دوکاندارانو ډېري پيسې تر لاسه کړي او نوموړي خامکي څيزونه د روجايي، بالښت پوښ، کميس او نورو ډولونو په څېر غربي المان، ايتاليا، فرانسې، امريکا، سويډن او نورو هيوادونو ته رسمي او غيررسمي کندهاری خامک استول کېږي او وړل کېږي.



# د موچنو (بنو) د جوړولو دوداو دستور

په لرغوني افغانستان کي ډېر ارزښتمن دودونه سته. د یوې سیمي دودونه له بلي سیمي سره توپیر لري. د هر دود سپړل نه یوازي دا چي د هغې سیمي دودونه مو رااخیستي دي بلکي یو تاریخي او باارزښته مواد مو له ورک کېدو څخه ساتلي دي. په همدغه دلیل موږ دلته د پنو یا موچنو ډېر لرغونی دود را اخلو او لیکو ئې څو په آینده کي د مغزو د سلولونو یعني حافظې څخه که نوموړی دود لیري سوی هم وي د کاغذ پر مخ باندي به خوندي پاته سوی وي.

په لرغونو وختونو کي چي له پنو څخه ګټه اخیسته کېده، تر ټولو لومړی به د یوه حیوان څرمن انتخاب کېدله او بیا به د نیرې[3] په وسیله له کوم تار سره نوموړی پوست د موچنې یا بوټ په ډول ګنډل کېده او له هغه څخه به ئې ګټه اخیسته. نوموړی صنعت په لومړي سر کي د هر چا زده وو او تقریباً هر چا کولای سوای چي چوټي، موچنې او بوټونه جوړ کړی او ګټه ځني واخلي. ولي په هغه وخت کي د موچنو جوړولو صنعت ډېر ضعیف او یوازي د یوې پای پیچي په ډول یا د پښو د پټولو په څېر ګټه ځني اخیستل کېده. ولي د پنو صنعت هم په هغه ساده او ابتدایي ډول پاته نه سو او ورو ورو ئې داسي تکامل وکړ چي اوسنی حالت ئې موږ نن ورځ د سر په سترګو وینو چي نن ډول ډول بوټونه جوړېدای سي. خو پس له هغه څخه چي اړتیا ډېره سوه نو د جوړېدو ضرورت ئې هم ډېر سو او یو

[3] نیره یو تېره څیز دئ چي سر ئې چنګ وي. به آساني په څرمن ننوزي او د راتلو په وخت کي تار هم له ځانه سره راباسي چي په دې ترتیب موچنه ګنډي او کښته برخه ئې به لرګي تینګه سوې وي چي لاس خوږ نه کړي.

تعداد صنعتګران په دې باب راپيدا سول چې به قرار قرار ئې ډېر باخه صنعتګران د صنعت د کار په وېش کې پيدا کړه او نوموړی صنعت او جوړتيا هم د يو عالي صنعت او نورو توليدي صنعتونو په څېر ئې سر وکښی او ځانګړي پوه صنعتګران ئې پيدا کړل چې د پښو په جوړولو کې ئې ځانګړي مهارتونه راڅرګند کړل او د توليد په پروسه کې ئې ډېره پرمختيا وموندله چې د ښاريانو پر ضرورت سربېره ئې د کليو او بانډو ضرورتونه هم ورتر سره کړل. په کندهار کې په ډېره ښکلا سره د موچنو ډولونه رامنځته سول. د ښکلا بېل بېل ډولونه ئې د وخت په بېلو بېلو پړاوونو کې موډ‌او فېشن يا دود پيدا کړ او د کندهار په ښار کې د نوموړي مسلک له پاره ځانګړی ځای وټاکل سو او د هري سيمي بوټ جوړوونکي به د خپل لاسي صنعت له پاره و نوموړي ځای ته راتلل او د دوکان نيولو په لټه کې به وه.

په کندهار کې په لومړي وار د دې صنعت له پاره سرپوښ بازار وټاکل سو او سرپوښه چارسو کې يو طرف ته ټول بوټ جوړوونکي او د موچنو د صنعت کسبګره دوکانداران وه، چې ورو ورو د بوټو او موچنو دوکانونه ډېر سول او سرپوښه بازار ته به ئې کله کله د بوټو يا موچنو بازار هم وايه. د وخت په تېرېدو سره څه وخت چې د امريکا د امپرياليزم له لوري څخه کباړي بوټونه و مملکت ته راداخل سول نو د داخلي بوټونو بازار هم خړپړ سو. ولي په عوض کې ئې يوازي موچنې د يو تعداد خلکو له پاره پاته سوې او د موچنو مينه والو به نوموړي موچنې په پښو کولې او سربېره پر دې د موچنو ډولونه هم نوي سول او ډول ډول ګلابتونونه په نوموړو موچنو کې استعمالېدل او خپل ډولونه ئې پيدا کړل. هر ډول ئې په ځانګړي ډول ځانته مينه وال پيدا کول او پخوانيو خلکو او سپين سرو ښځو چې د پخوانيو موچنو سره ئې عادت پيدا کړی وو. تر نن ورځي پوري هم هغه موچنې اخلي او په پښو کوي ئې. ليکن په ځوانه طبقه او قشر کې د موچنو د په پښو کولو دود کم او په اوسنيو شرايطو کې بيخي له منځه تللی دئ.

یوازې ئې په ځوانانو کې یو ډول خلک چې ځانګړې خصوصیات لري هغوی ئې په عنعنوي ډول اغوندي چې هغو خلکو ته په کندهار کې د کندهار د پایلوچانو[4] اصطلاح ویل سوېده. په هر صورت د موچنو دود نن په کندهار کې د یوه عنعنوي او فولکلوریک دود ځېره ځانته غوره کړېده او موږ به د خپل دې مطلب په جریان کې د یوه فوکلوریک دود په حیث پر وړغیږو، څو وکولای سو چې په کندهار کې د فوکلور ډول ډول ځېرې څرګندي سي او په آینده کې د ګتې وړ وګرځي.

اوس نو موږ ګورو چې په کلیو او بانډو کې عامیانه فولکلوریک څیزونه چې له هغې جملې څخه یو هم د موچنو د په پښو کولو دود او دستور دئ په ځانګړې توګه د کندهار د سیمې دغه دوداو دستور تر څېړنې لاندي ونیسو. دا دود له ډېرې زمانې څخه رواج لري او په پخوانو زمانو کې ئې د پښو کولو یا څپلیو په ځېر ګټه ځنې اخیسته او زیات رواج ئې درلود. اوس مهال ئې رواج لږ سوی دئ لیکن په کلیو کې استعمال لري. په ښار کې ئې اوس رواج د ورکېدو په حال کې دئ. نو باید ځانونه مجبور وګڼو چې دا دود راواخلو او د کاغذ پر مخ ئې خوندي کړو.

په لومړي سر کې موچنه د بوټ په ځېر په پښو کیږي، مګر له بوټ سره په ډول او شکل کې زیات توپیر لري. د موادو په لحاظ هم د بوټ په ځېر نه بلکې بل ډول مواد پکښې استعمالیږي. په موچنه کې ډول ډول خامکونه او ګلان او نور د ښایست څیزونه د موچنې د ښکلا له پاره انځوریږي.

موچنه هم قیمتي یعني باارزښته او هم لږ ارزښته جوړېدای سي، یعني ښې موچنې او خرابې موچنې تر منځ توپیر د هغوی په کیفیت او کمیت کې دئ. د دې جملې معنی او مفهوم دا دئ چې څه ډول او څنګه مواد پکښې کارسوي او یا څومره انساني نېرو استفاده سوې ده او همدغسې نور ارزښتونه دي چې پر کمیت او کیفیت د موچنو ورډیریږي.

---

[4] د کندهار پایلوچان: یو ډول خلک دي چې ډېر زحمتکښه او د ځانګړو عنعنو لرونکي دي. نوموړي خلک د ډېرو وهلو او ټکولو په مقابل کې طاقت لري. د سپیانو د ساتلو ډېر علاقمندان دي، غښتلي او جنګیالي خلک دي. په خپلو منځو کې پر ډېرو عنعنوي اصطلاحاتو باندي سره پېژني او د جنګ کولو څخه وروسته نوموړي خلک پر حکومت باندي عرض نه کوي او په خپله خپل غچ اخلي.

په کندهار کې ډېر ښه کسبکاران سته چې هغوی په اصل او بدل ډېر ښه پوهېدلای سي. موږ په کندهار کې د موچنو دغه ډولونه لرو: سوچه موچنه، جوته موچنه، خړه موچنه، دوبیړې موچنه او د اصیلو وربښمو موچنه. له دغو ډولونو څخه ئې هر یو په خپل وخت او ځای کي استعمالیږي او سربېره پر دې د نر او ښځي ډولونه هم توپیر سره لري. همدغسي د ځوانانو او زړو موچني هم سره بېلي دي نو نتیجه دا چې ډېر ډولونه هم د استعمال او هم د مضمون له مخي سره بېل او توپیر لری. لاندي به هر ډول په مفصله توګه وځېړو:

**لومړی - سوچه موچنه:**

د موچنې دا ډول ډېر رواج لري او د قیمت (بیې) یا ارزښت له پلوه هم د نورو عادي موچنو سره توپیر لری، ځکه په سوچه موچنه کي ډېر اصیل ګلابتون استعمالیږي. د سوچه ګلابتونو ارزښت او بیه زیاته ده او خپله سوچه ګلابتون - ژړ رنګه سوچه ګلابتون، تېز نارنجي ګلابتون او خام طلایي رنګه ګلابتون - چي له دې ډولونو څخه ئې طلایی رنګ ګلابتون خلک خوښوي او د ګلابتون غوره ډول بلل کیږي. سوچه موچنه هم له پورته ډول ګلابتونو څخه جوړیږي ځکه ئې نوم هم سوچه موچنه ده. سوچه موچنه که څه هم په ښار او بانډو (کلیو) کي استعمالیږي لیکن به کلیو کی تر ښار ډېره رواج ده. ښځي ئې هم په پښو کوي او هم ئې نارینه استعمالوي. د نارینه د موچنو د جوړېدو ډول همېشه د ښځو د موچنې څخه توپیر لري. د ښځي د موچنې د مخ برخه پلنه او برداره غوندي وي او یوه اندازه کوچنوټې غوندي جوړیږي. که چیري ښځینه موچنه په سوچه ګلابتونو جوړه سي هغه ته هم ښځینه سوچه موچنه ویل کیږي. سوچه موچنه په دې چې ښکلې، یو لاس او ښایسته راسي نو عموماً میده کار وربانديي کوي چې ډول ډول ګلان، د ونو برګونه (پاني) او نور ښکلي ښکلي انځورونه وربانديي په میده کارو ټکونو بانديي انځوروي. په میده کارو ټکونو سره د موچنو رغول د سوچه موچنو په ځانګړنو کي راځي. پر سوچه موچنو بانديي ډول ډول ګلان لکه پېچک ګل، پلاکس،شبی نوري، د ونو پاني او داسي نور انځورونه د موچني د ښې ښکلا په خاطر کیږي. سوچه موچنه نور ډولونه هم لري چې د واده په مراسمو، اخترونو او نورو بانډارونو (محافلو) او مجلسونو کي په پښو کېدای سي

او همدغسي ئې د جوړو په دود کې هم د ناوې له لوري څخه د زوم په کالو کې ورکول کېږي او هم د زوم له خوا څخه د ناوې په کالیو کې ایښوول کېږي. یعنې موچنه د جوړې په دود کې خصوصاً په کلیو او بانډو کې یو مروج څیز ګڼل کېږي، لیکن د کندهار په ښار کې ئې رواج لږ دئ.

**دوهم - جوته موچنه:**

دا ډول موچنه له یوه پلوه سوچه موچنې ته ورته والی لري، ولې د جوړېدو او جوړو سوو موادو له پلوه د سوچه موچنې څخه توپیر لري او هغه مواد چې په سوچه موچنه کې استعمالیږي په چوته موچنه کې نه استعمالیږي. د بیې او ارزښت له پلوه هم د سوچه موچنې څخه توپیر لري. د ښکلا له پلوه هم بعضې وګړي سوچه او بعضې هم جوته موچنه خوښوي. په عمومي صورت پر پورته مشخصاتو سربېره د جوته موچنې پر سر باندې یعنې د مخ پر حصه باندې ئې یو غټ انځور کېږي، لکه ګل ګلاب یا آفتاب ګردان ګل چې په دې ترتیب ئې د مخ برخه ورغیږي کله کله کېدای سي چې د مخ برخه ئې په کوچنیو ښکلو ګلانو ورخامک کړې وي. جوته موچنه هم د جوړښت له پلوه دوه ډوله ده:

لومړی هغه ډول ده لکه څنګه چې مې مخکې وویل، یوازې ئې ګلابتون د مخ پر برخه باندې کارول کېږي او په همدغه ترتیب جوړیږي. دوهم ډول ئې داسې هم جوړیږي چې پر ټوله موچنه باندې ګلابتون کارول کېږي او په هغه ترتیب د جوته موچنو توپیر چې د سوچه موچنې څخه دئ دا دئ چې په جوته موچنه کې جوته ګلابتون کارول کېږي لیکن په سوچه موچنه کې د سوچه ګلابتون څخه کار اخیستل کېږي.

سوچه او جوته د ګلابتون دوه بېلابېل ډولونه دي چې ډېر شهرت لري. نو که په جوته موچنه کې ګلابتون داسې کارول سوي وو چې ټوله موچنه ئې ډکه کړې وه د ګلابتون څخه هغه د قیمت او ارزښت له پلوه ډېره بیه لري او که یوازې ئې پر مخ یو ګل درلودی نو ارزښت ئې هم لږ وي او د جوته موچنې د ګلانو میده ټکونه لږ وي او عموماً په غټو ټکونو سره رغول کېږي او هم باید وویل سي چې لومړی تر هر څه مخکې په موچنه کې څرمن په یوه معین غالب سره د برندې په وسیله تر غټې ډبرې لاندې پرې کوي او بیا ئې پر مخ باندې نخشونه یا مختلف ډوله انځورونه کارول کېږي. وروسته په نورو ډول ډول

سامان آلاتو سره ګنډل او جوړېږي چې ممکن د مضمون په وروستۍ برخه کي په مفصله توګه وربانديي وړغيږو.

**دریم - خړه موچنه:**

مخکي هم وويل سول چي موچني د ارزښت او هم د موادو د جوړښت له پلوه بېل بېل ډولونه لري او همدغسي موچنه د څرمن يا چرم له پلوه هم توپير سره لري چي په همدغه ترتيب سره خړه موچنه د موچنو بله بېلګه (نمونه) ده چي له خړي څرمني څخه رغول کيږي. د خړي موچني څرمن په نورو ځايونو کي هم استعماليږي يعني د خړي موچني څرمن د پنې له پاره هم استعماليږي. خړه څرمن نسبت نورو څرمنو ته لږ څه پنډه او ټينګه وي. مقاومت ئې نسبت و سوچه موچني ته ډېر وي او د افغانستان په ګوټ ګوټ کي توليديږي او د ګران هيواد په هره سيمه کي پيدا کېداى سي. د دې موچني څرمن د غوايي يا ګاميښي له پوستکي څخه تر لاسه کيږي.

خړه موچنه هم د کندهار په ښار او لېرو سيمو يعني کليو او باندېو کی استعماليږي چي عموماً ئې غريبه او زحمتکښه طبقه استعمالوي. د دې يو علت دا دئ چي د خړي موچني چرم يا څرمن لږ څه ټينګ او مقاومت ئې زيات وي او د ليري مسافرتونو او سختو غرونو، شېلو او دښتو مقاومت (طاقت) لرلاى سي، ځکه چي د دې موچني څرمن پياوړې وي او لکه څنګه چي مو وويل د غوايي او ګاميښي له پوستکي څخه تهيه کيږي. په همدغه دليل ډېر پيدا کېداى سي. د دې چرم يعني څرمن بيه د نورو څرمنو په پرتله لږ ده. بايد ووايو چي څرمني ډېر ډولونه لري، خو موږ بايد دلته هغه ډولونه ياد کړو چي يوازي د موچني په جوړولو کي استعماليږي. د مثال په توګه دغه درې ډوله ئې په موچنه کي زيات شهرت لري، لکه: انګريزي څرمن، وطني څرمن يا د هيواد څرمن چي د خړي موچني څرمن ئې هم بولي چي د غوايي او ګاميښي (سنډا) له پوستکي څخه جوړيږي. دريم د پسو څرمن ده چي د پسو له پوستکو څخه په لاس راځي، مقاومت يا طاقت ئې لږ دئ نو ځکه په موچنو کي لږ استعماليږي او ډېر ځايونه د پسه له څرمني څخه موچنه جوړوي. همدغسي د پورته ډولونه څخه ئې انګريزي څرمن ډېره بيه لري او خلک ئې هم ډېره خوښوي. انګريزي څرمن ته اصيله څرمن هم وايي او زيات شتمن خلک له همدغي څرمني څخه

موچنه جوړوي. د انګریزي څرمني څخه په سوچه موچنه کي کار اخیستل کیږي یعني پر انګریزي څرمنو باندي سوچه ګلابتون د خامک په ډول په رنګ رنګ ګلانو انځوروي او موچنه ځني جوړوي. دغه ډول دوهمه درجه د غوایي او ګامیښي څرمنو ته په موچنه کي ارزښت ورکول کیږي، لیکن دغه دریم ډول د پسه پوستکي د څرمن څخه چي چندان د موچڼي له پاره مساعده او برابره نه بلل کیږي نو ځکه ئې د نور بحث ضرورت هم نسته.

## څلورم - دوبېړۍ موچڼه:

د دوبېړۍ په نوم هم موچنه سته چي د نورو ډولونو څخه ئې توپیر په دې کي دئ چي په خاصه توګه ئې نارینه په پښو کوي. د دوبېړۍ موچڼي مخ پلن جوړیږي او مخکي تر دې چي موچنه وسکښتل یا جوړه سي نو د مخ د برخي څرمن ئې پلنه نیول کیږي. وروسته ئې سکښت په معینه اندازه سره نیول کیږي او د برندې په وسیله سره سکښت کیږي او بیا ئې پر مخ ګلابتون ډول ډول انځورونو باندي کاروي او په همدغه ترتیب جوړیږي. د دوبېړۍ په نوم موچنه د زومانو له پاره د جوړې په کالیو کي لېږل کیږي. ښځي دا ډول موچڼي نه استعمالوي. دوبېړۍ موچڼي د ارزښت په لحاظ هم ډېر ارزښت او بیه لري. که چیري ئې څرمن هم انګریزي څرمن وي نو بیا ئې هر څوک په ډېر ارزښت سره اخلي یا رانیسي.

## پنځم - د اصیلو ورېښمو موچڼه:

دا ډول موچڼه د اصیلو ورېښمو څخه جوړیږي او ګلابتون نه پکښې کاریږي او یا ډېر لږ پکښې استعمالیږي. خو دا ډول موچڼه هم زنانه او هم مردانه یعني هم ئې نارینه په پښو کوي او هم ئې ښځي په پښو کوي. ولي لکه څنګه چي یوه اندازه ښکلي او ښایسته جوړیږي نو ځکه ئې ښځینه مخلوق زیات استعمالوي.

دا پورته پنځه ټول هغه ډولونه دي چي د کندهار ښار په شاوخوا کي تر اوسه هم استعمالیږي. په هر صورت باید ووایو چي اصلاً په اوسني وخت کي د ډېرو مډرنو موزو، چوټو، څپلیو او نورو په رامنځته کېدو سره ئې د موچڼو ارزښت ډېر کښته کړی دئ. دا

ځکه چي د موچڼو مقاومت او توانمندي تر بوټو لږ ده. د وخت او زمانې به تېرېدو سره نوو او موډرنو وسايلو د خلکو پاملرنه ځانته راوګرځوله او همدغه ډول موچڼو خپل ځای و عصري وسايلو ته پرېښود. بايد وويل سي د موچڼو مقاومت او توانايي د باران د لندېدو په مقابل کي ډېر لږ دئ چي د موچڼو د لرېدو علت هم دغه بللای سو او هم موچڼه ډېره ګرانه يعني قيمتي تمامېږي. زموږ پرګڼې کولای سي چي د يوې موچڼي په قيمت يا بيه باندی درې څلور جوړې مناسب بوټونه ځانته رانيسي. نو همدغه علت دئ چي په لومړي سر کي زحمتکښو طبقو او پرګنو خپل مخ ځني واړوی او په دوهمه درجه کي زموږ د ځوان نسل ذوق او علاقې څخه ډېر وروسته پاته رواج وبلل سو، نو ځکه ئې ځوانان هم د استعمال غوښتنه نه کوي او استعمال ئې په لږو خلکو کي سته چي هغه هم په زړو او سپين سرو ښځو او خلکو کي دئ او په همدغه ترتيب بايد وويل سي چي د جوړېدو ځايونه ئې هم لږ دي. نو په کندهار کي په ډېرو مخصوصو ځايونو کي جوړيږي او پلورل کيږي چي ډېري لږي پرګڼې ئې د عادت او پخواني ورپاته سوي دود په څېر استعمالوي.

په همدغه ترتيب په اوسني وخت کي ډېر لږ کسبکاران سته چي اوس هم موچڼي جوړوي، حتی ويلای سو چي په دغومره لږ اقليت سره بيا هم موچڼه په پښو کوي او جوړوي ئې. نن هغه خلک چي موچڼي جوړوي او يا موچڼه په پښو کوي هغه يو د بل سره ډېر ښه پېژني او د مشتريانو په ډول سره راسه درسه سره لري.

د کندهار ښار په دغو مخصوصو ځايونو کي د موچڼي کسبکاران ناست دي چي موچڼي پلوري. د ښار په سرپوښه چارسو کي موچڼي جوړيږي او پلورل کيږي، يعني سرپوښه چارسو او کاکړو کوڅه مخصوص ځايونه دي.

امکان سته چي د وخت په تېرېدو سره دا ډول فولکلوريک مواد ډېر لږ او له منځه ولاړ سي. نو موږ مکلف يو او ځانونه مجبور ګڼو چي همدغه موضوعات چي فولکلوريک اهميت ئې د وخت او زمانې په تېرېدو سره ډېريږي راټول کړو او د کاغذ پر مخ ئې خوندي وساتو. د همدغه نظر له مخې د موچڼو (پڼو) دود او دستور چي د کندهار په ولايت کي له ډېر پخوا او لرغوني زمانې راهيسي موجود دئ موږ وسپاړه او د يوې فولکلوريکي ببلګي په څېر مو په ګوته کړ او دا مو وښووله چي د فولکلور دغه برخه چي د انساني ژوند سره نژدې اړيکي لري. خصوصاً د اتنوګرافي (بشرپېژندني) چي په عمومي توګه د فولکلور يوه

ډېره غوره برخه تشکیلوي او د فولکلور د یوې څانګې په څېر مو خبرې وړاندې وکړې. که څه هم موږ په پوهېدلای سوای چې د زماني په تېرېدو سره به ممکن د موچنو دود هم بیخي له منځه ولاړ سي. لیکن موږ دا ډول دود او دستور د یوه یاداښت په توګه ساتلي او خوندي کړي دي او د همدغه تعبیر له پلوه د فولکلور د مطالعې له پاره ګټور دئ.





# د نظر ماتولو دوداو دستور

د اولس خورا لویه شتمني او پانګه د اولس ژبه او شفاهي روایات دي چې په زرګونو کلونو کې د فولکور په ذریعه راټوله سوي او خوندی ساتل سوي دي. د اولس فکر، هوښیاري، ملي شفاهي روایات، اجتماعي جوړښت، ژوند، کړه وړه او عادات په فولکلور کې په ښکاره او نوي ډول څرګند سوي دي.

همدغسي پښتو چې له باریکیو او استعارو څخه ډکه ژبه ده د فولکلور برخه ئې خورا غني او بډایه ده. ډېري فولکلوریکي برخي لري چې له یوه نسل څخه بل نسل ته پاته کیږي او مثبت اړخونه ئې تکامل کوي. د مثال په توګه له پخواني طبابت څخه نیولې بیا تر ننني طب پوري په زره پوري بدلونونه راغلي دي. ویلای سو چې اوسنی طب اصلاً د پخواني طب پورړوی دئ. په همدغه ترتیب د ژوند د هر اړخ پیښې په فولکلور کې ځای سوي دي. یعني د فولکلور ښاخونه ئې بې شمېره دي.

په فولکلوریکو دودونو کې مثبت او منفي دواړه اړخونه سته. هم رښتیا سته هم درواغ، هم خندا او هم ژړا. هم سم چلند هم ټګي او برګې. هم عقبايي او دنیایي اخلاقي فسادونه او ښېګڼې او نور د ژوندانه بېلابېل اړخونه پکښې ځای سوي دي چې عبرت او ګټه ځیني اخلو.او دانساني ګټو او ژوند یوه لویه منبع جوړوي. څنګه چې د شوروي اتحاد

لوی لیکوال ماکسیم ګورکي په داسي حال کي چي د اولس په دودونو او اولسي آثارو په اهمیت ښه پوهیږي د فولکلور په باره کي داسي لیکي:

«د فولکلور په ساده الفاظو کي تر ټولو لوی حکمت پروت دئ، متلونه او سندري چي د فولکلورښاخونه دي، که څه هم مطلب ئې لنډ وي خو فکر او احساسات پکښي د یوه کتاب په اندازه ځای سوي وي.»

د فولکلوراهمیت خورا زیات دئ. نو هرلیکوال وظیفه لري چي د خپلي ټولني فولکلوري مناسبات د کاغذ پر مخ خوندي وساتي او په راتلونکو کي ئې هاند او هڅه وکړي. پرې نه ږدي چي په سینو کي د هدیرو خاورو ته وسپارل سي. موږ په دې لیکنه کي د پخواني طب یو اړخ چي د سپلنیو دود او دستور دئ رااخلو او یادونه ئې کوو. په دې یادونه کي معلومیږي چي د طب اوسنی علم له ډیرو پخوانیو تجربو څخه رامنځته سوی دئ.

### د بدو نظر:

د نظر مسئله چي په پښتني سیمو کي هر ځای رواج لري او عام دود دئ د کلیوالي طب یوه مهمه برخه جوړوي. پر همدې اساس ئې دلته د څیړلو کوښښ کوو. که چیري زموږ د ګران افغانستان په پښتني سیمه کي کلیو او بانډو کي چا ته یو ناڅاپې ناروغي او یا کوم بل پرابلم پیدا سي، خصوصاً هغه چا ته چي ډیر ښه ځوان او یا ښایسته پیغله وي او یا چاغ ښایسته کوچنی وي او یا هم په مال اوښتو کي تر نورو ښه وي او یا هم دا چي په کارونو کي تر نورو غښتلی وي او هر لوري ته ئې صفت او آوازې خپرې وي نو که ځوک پرله پسې د هغه صفت وکړي او وروسته تر صفت کولو هغه ته څه پېښه وسي یا ناروغه سي او یا هم له بلي کومي تصادفي پیښي پر اساس زیانمن سي نو د خلکو خبري او دودونه د ده په هکله داسي وي چي پلانی سړی نظر سو او یا هم وایي: سترګو واخیستی یا سترګو وخوړ او یا هم وایي: سترګو وهلی دئ. د دغه ډول ناروغی له پاره د نورو کلیوالي درملو څخه کار نه اخلي سم دلاسه ورته سپلني دودوي چي دغه دود سوي سپلني بیا په لویه لار کي چي خلک پر تیریږي اچوي. همدغه رنګه تر دود وروسته د ناروغ پټ نظر د کور ښځي وچوي او دنظر وچولو سره ځیني خاصي دعاوي او کلیوالي اصطلاحات هم وایي. کله کله تر نظر مخکي سپلنی دودوي چي نظر تاثیر پر و نه کړي او یا و مور ته خپل زوی تر

سترګو ښه وايسي او يا بل کوم دوست ته خپل دوست ښه معلوم سي نو وايي چي پلانکی زما تر سترګو ښه معلوم سو. راځئ چي سپلني ورته دود کړو. نو د سپلنيو په وسيله ئې نظر ماتوي.

په ځينو وختونو کي بعضي خلک ښځي او يا سړي يا هم هلکان د نظر خاوندان وي او وايي چي پلانکی سړی يا ښځه يا هلک نظر لري نو که چيري هغه څوک چي سترګي ئې نظر لري نو که د نوي زېږېدلي کوچني کور ته ورسي او د کوچني زيات صفت وکړي لکه: څنګه چاغ کوچنی دئ، څنګه غټ مټ دئ، څنګه سپين ښايسته هلک دئ، نو د کوچني د مورکرکه يا (کرېنه) کيږي او فوراً خپل ماشوم ته سپلني دودوي او که تصادف ناروغ سو نو وايي پلانکی راغلی وو د هغه سترګي ډېر بد نظر لري زموږ ماشوم ئې رانظر کړی دئ.

داسي دود هم سته چي د هغه د پرتوګانښ (واګه) څخه کومه ټوټه يا تار راپرې کړي او کوچني ته ئې دود کړي. زياتره وخت نوی پيدا سوی کوچنی هغه چا ته نه ورښکاره کوي چي د هغه سترګي نظر ولری. حتی ځيني وختونه خوابدي يعني خواشيني د ډېرو دوستانو تر منځ پر همدغه موضوع رامنځته کيږي. ځيني کسان د عقيدې له مخي نظر کوونکي کسان وي او خپله هغه هم کله کله په دې عقيده وي چی زما سترګي نظر لري. په دغو لاندي وختو کي د نظر مفکوره رامنځته کيږي، لکه د کوچني يا ماشوم پيدا کېدل چي په هره لحظه کي سپلني ورته دوديږي او يا هم ناوې چي د لومړي ځل له پاره زوم ته راسي نو مخي ته ئې سپلني ورباسي او هم د واده په مراسمو کي په ډول ډول حالاتو کي لکه د دستمال په وخت کي چي کوم نارينه د ناوي کور ته د دستمال د اخيستلو په وخت کي ورغلي وي نو د ناوي د کورنۍ له لوري په لارکي سپلني ورته دوديږي. کله چي ټول راغلي مېلمانه د سپلنيو تر څنګ تېر سول نو د زوم له لوري د سپلنيو په بدل کي پيسې وراچوي. د پيسو کومه خاصه اندازه نه وي معلومه که ئې زياتي ورواچولې او که ئې کمي. په هر صورت څه وراچوي.

په نوموړي دود کي د زوم له لوري څخه د پيسو وراچولو دنده يا زوم او يا پلار تر سره کوي او يا هم د زوم ورور. په پخوا وختو کي چي به ئې ناوې پر آس سپره کړه او د زوم د کور لوري ته به تلله او توره به ئې په لاس ورکړه نو هم به ئې يوه پلا سپلنيو ته راوستله. په همدغه ډول سپلني دودول يوازي د انسانانو د نظر کېدو په خاطر نه بلکي د

ډول ډول حيواناتو او قيمتي څيزونو له پاره هم استعماليږي، لکه غوا، بوزه، ګامېښه، غوښور پسه، غويی، اوښ او داسي نورو حيواناتو له پاره سپلني استعماليږي. غوا، ميږي او بوزې ته په هغه وخت کي چي لنګه سي او يا ډيري شيدې وکړي نو سپلني ورته دودوي. همدغسي سپلني هم وروسته تر نظر دود کيږي او هم مخکي له دې چي يو ښه حيوان يا انسان يا ماشوم، ځوان چي نظر نه سي په دواړو حالتو کي د سپلنيو دود او دستور سته چي ورته دود کړل سي.

همدغسي نه يوازي په کورونو کي دا دود موجود دي بلکي تر کور دباندي يعني په بازارونو او کوڅو او زيارتونو کي هم د سپلنيو دودولو دود سته چي زياتره ئې ملنګان تر سره کوي. ملنګان په زيارتو کي د سپلنيو کټوري ايږدي او خلک ځني تېريږي او خدای و هست هر يو تر خپله قدرته څه ناڅه پيسې وراچوي. ملنګان دعاوي ورته کوي. همدغسي ملنګان په بازارو کي ګرځي په غټو دکانو او مغازو کی دکاندار او يا مغازه دار ئې رابولي او ملنګ سپلني ورته دودوي چي هټی يا مغازه ئې سترګه وانخلي او ملنګ ته په کټوري کي پيسې وراچوي. ملنګان په بازارو کي و ځوانانو ته هم سپلني نيسي او هغوی په مقابل کي تر وسه پوري پيسې ورکوي. په هر صورت سپلني د نظر په هر ځای کي په بېلو بېلو دودونو سره د پرګنو به بېلو بېلو عقيدو استعماليږي او د استعمال په وخت کي ئې ډول ډول نارې او غزلي يا قافيې لرونکي بيتونه پر ويل کيږي. موږ ئې د نمونې په توګه دلته يو څو بيتونه رانقلوو چي د سپلنيو د استعمال يا دودولو په وخت کي ويل کيږي:

نظرمات - نظرمات هم د دېب هم د پېري.

هم د خپل هم د پردي، هم د لوی هم د کوچني.

نظرمات - هم د تورسترګي هم د شين سترګي.

نظرمات - نظرمات هم د دېب هم د پېري.

هم د خړسترګي - هم د سورسترګي.

نظرمات - نظرمات هم د خپل هم د پردي.

هم د جګ هم د ګردي - هم د لوی هم د کوچني.

نظرمات - نظرمات هم د ښځي هم د سړي.

نظرمات - نظرمات هم د جګ هم د ګردي.

هم د پېغلي هم د هلکي، هم د ښځي هم د سړي.

نظرمات - نظرمات - نظرمات.

که څه هم د پورته بیتونو قافیه او شعري عروض به په هغه اندازه چي لازمه وي نه وي برابر، خو د یوه منل سوي دود په څېر د یادوني وړ ګڼل کیږي چي باید له ورکېدو څخه راوګرځول سي او بل هم د نوموړي ډول بیتونو شاعر نه دئ معلوم، لیکن سینه پر سینه له یوه نسل څخه و بل نسل ته رارسېدلي دي او خوله پر خوله تر همدغه ځایه راغلي دي. امکان ئې ډېر سته چي دغه ډول فولکلوریک بیتونه اوس هم زیات وي چي موږ ئې راټول کړو او هم به زیات دودونه او عنعنې له منځه تللي وي چي اوس زموږ سره نسته. په هر صورت دا ډول دودونه زموږ د ژوند یوه ډېره مهمه برخه جوړوي او زموږ په تاریخي حماسو کي د قدر وړ ګڼل کیږي.

زموږ ملت په همدې دودونو پېژندل سوی دئ او زموږ د ټولني د پېژندګلوۍ سره پوره اړیکي لري. د مثال په ډول په لنډیو کي چي د پښتني فرهنګ یا دودونو یوه ډېره غوره برخه ده چي دا لنډۍ د جنګ په میدان، د جنګ په وختونو کي د غلیم په مقابل کي ویل کیږي چي دلته موږ یوه لنډۍ په داسي حال کي راوړو چي یوه پېغله خپل ژوند قرباني کول غواړي تر هغه ځوان چي د غزا پر لور د غلیم د یرغل په مقابل کی ځان تر وطن قرباني کوي، لکه چي وایي:

پېغلي لوګی تور سپلني کړل

چي ئې په سپینه ورځ آشنا غزا ته ځینه

له پورته لنډۍ څخه په ډاګه څرګندیږي چي سپلني دودول په دې معنی هم دي چي هغه سړی چي سپلني ورته دودیږي د هغه د پلار و مخي ته سپلني مخکي یا وړاندي سول او یا قربانول چي خلک او پرګنې په همدغه عقیده سره سپلني دودوي نو ځکه پېغلي جنګ ته د تګ په وخت کي ځوانانو ته سپلني دودي لکه په پورته لنډۍ کي چي اشاره ورته سوې ده.

د سپلنیو د استعمال هدف او غایه په پورته څو پاڼو کي وڅېړل سوه اوس به بې ځایه نه وي چي د دې سپلنیو فولکلوریک بوټي په هکله څه ناڅه ولیکو.

**د سپلنیو بوټی:**

دا بوټی چي له طبي بوټو له جملې څخه ګڼل کیږي د افغانستان په ګوټ ګوټ کي پیدا کیږي. زیاتره بوټي ئې په دښتو او نرمو خاورو او مځکو کي په طبیعي ډول پیدا کیږي. د بوټي لوړوالی ئې له شلو څخه تر پنځه ویشتو سانتي مترو پوري رسیږي. کوچني کوچني ګلان کوي، ګل ئې سپین رنګ او لږ بوی هم لري. دا بوټی د پسرلي په سر کي راپیدا کیږي او کرار کرار د ثمر یا ګټي ورکولو اخیري اندازې ته رسیږي. دا بوټی د اوړي یا دوبي په سوځنده لمرونو کي مقاومت وکړي، همدغه ډول د اوبو په نسته والي کي هم طاقت کولای سي. تر دې بوټو لاندي دځینومرغانولکه: سیسیو د بچیو ځالي،د هګن او جوري د مرغیو ځالي هم لیدل کیږي. په دښتو کي د دې بوټي موجودیت د دښتو د ښکلا او زینت سبب کیږي. کله چي د دې بوټي ګل ورژیږي د نخود په اندازه کوچنی غوټه پیدا کوي چي د دوبي یا اوړي به آخر کي وچیږي او څلور پلې کیږي، په هره پله کي ئې د سپلنیو داني پرتې وي. تر هغه وروسته چي سپلني وچ سول راټولیږي او بازار ته د خرڅ له پاره راوړل کیږي. په بازار کي ئې عطاران رانیسي. سپلني د کندهار په هر کور کي پراته وي او د دودولو پر مهال په سره انګار اور کي اچول کیږي.

د یادوني وړ ده چي د سپلنیو له بوټو او پاڼو څخه کلیوال خلک د اور لګولو استفاده کوي. کله کله خو ئې کلیوال خلک بوټي د خرڅلاو له پاره بازار ته راوړي.

په عصري طب کي هم د سپلني دود د انټي بیوټیک او ضد مکروب خاصیت لري، مکروبي فضا سموي، کله چي مړی ښخ سي، څه وخت چي خلک د مړي له ښخولو او تدفین څخه راوګرځي او د متوفا کورنی ته فاتحه او تسلیت وایي په دغه وخت کي هم په منقلونو او نغریو کي د خلکو مخ ته سپلني دودیږي. دا کار د مړي د کورنی له خوا کیږي چي خلک سوچه او دمکروبو څخه پاک سي.

نو په نتیجه کي ویلای سو چي:

سپلني د عامیانه طب له ډېرو ښو دواوو څخه ګڼل کیږي چي په وروسته کي به موږ د عامیانه طب په بحث کي هم پر دې موضوع څه خبري وکړو. د سپلنیو په څېر یو تعداد نور بوټي هم سته چي په عامیانه طب کي کاریږي او ګټه ځني اخیستل کیږي. یو هم له هغې جملې څخه د بدره په نوم بوټی دئ چي د افغانستان په ګوټ ګوټ کي پیدا کیږي.

په ځانګړې توګه د شمالي سیمو په کوه دامن کې د نوموړي بوټي زیات څرکونه لیدل کیږي.



## په کندهار کې د ځینو عنعنوي مېلو د تم ځایونو څرک

کندهار هم د نورو سیمو په څېر د مېلو، ساتېریو او تفریح ځایونو له پاره ټاټوبي او تمځایونه لري. ولې د هري سیمې د مېلو سره په کلتوري او عنعنوي لحاظ توپیر لري. حتی د مېلو او ساتېریو په وخت کې ئې د لوبو توپیرونه سته. په خاصه توګه زموږ د کندهار د شاوخوا سیمو ډېر مهم ځایونه چې اوس ئې د دودونو او دستورونو اهمیت پیدا کړی دئ او د کندهار په دودونو کې مفصل بحث پر کېدای سي یادونه وکړو او د فولکور مینه وال به له همدغه فولکوریک دستور څخه خبر کړو او امید لرو چې دا کار به نه یوازې د فولکلور مینه والو له پاره ګټور تمام سي بلکې د اتنوګرافۍ د مینه والو له پاره به هم په زړه پوري وي.

د یادوني وړ ده چې نوموړي لوبي او د مېلو ټاټوبي به په جلا توګه د ځای، وخت او خپل خاص ارزښت پر اساس څرګند او معرفي کړو.

په کندهار کې د شالمار، ډب کلا او د کال لومړۍ چهارشنبې ورځ، د خواجه خضر زنده حیات عنعنوي مېلې د ځانګړي یادوني وړ دي. نوموړي مېلې د دستور په لحاظ یو له بل سره توپیر لري، حتی د هندوانو او پښتنو مېله، د ښځو او نارینه وو مېله یو له بل سره توپیر لري او په جلا جلا وختونو کې سره جوړیږي. د دغو مېلو تر څنګ نوري وړې وړې مېلې هم په ځینو ځایونو کې سته خو اجراء ئې ځانګړی وخت نه لري. ډېر خلک د ژمي تر یخونو وروسته نوموړو مېله ځایونو ته ورځي او د یوې ورځي یا شپې په تېرېدو سره

خپله مېله سر ته رسوي. مثلاً د کندهار د ګيدړي د چينې مېله. نوموړی ځای د کندهار د يوه غره په سر کې کان طلا غره ته نژدې واقع دئ چې د بابا د غره په سلسله پوري تړلی دئ. دلته د غره په سر کي يوه چينه سته نوموړي چينې ته د کندهار خلک د ګيدړي چينه وايي. د ګيدړي چينه د کندهار ښار په پنځه کيلومترې کې واقع ده. کندهار ښار له يادي چينې څخه ډېر ښکلی معلومېږي. په نوموړې چينه کې په ژمي او دوبي کې روڼې او صافې اوبه موجودي وي، کله کله چې د خلکو مېله نه وي او يا خلک د مېلې له پاره نه وي راغلي نو په دې چينه کې ډېر وحشي حيوانات هم ليدل سوي دي. له همدې امله نوموړي چينې ته د کندهار خلک د ښکار له پاره هم ورځي، په خاصه توګه د زرکو ښکار هلته ډېر رواج لري. په همدغه ترتيب د ګيدړي په چينه کې يو ډېر لوی تخت يا دوکانچه هم په پاخه ډول طبعي جوړه سوې ده چې نسل پر نسل تر اوسه هم پاته ده.

کله کله هلته په يوه وخت کې له لسو څخه تر پنځلس پوري د مېلو او بانډار خلک هم راغلي وي، ولې د هر چا ټاټوبی يا اطاق په ځانګړي ډول جوړ سوی وي او خپل دېګ او کاسه ئې سره بېله وي. د ګيدړي چينې ته ډېر کم يا لږ کسان د شپې تېرولو له پاره ورځي، ځکه دا ځای له وحشي حيواناتو څخه خلاص او بېغمه نه دئ. تنها هغه کسان چې د هوسيو له ښکار سره مينه لري، دلته د سلاح سره شپې تېرولای سي. د مېلې مينه وال يوازي د جمعې په ورځ د يوې ورځي له پاره راځي. د مېلې مينه وال کله کله له ځان سره کلنګ او نور د کيندلو وسايل هم راوړي ځکه د نوموړي غره په لمن کي يا د کان طلا غر چې د ګيدړي چينې ته ډېر نژدې دئ هلته ټاټوکي له مځکي څخه راباسي او خوري ئې. د مېلې مينه وال ټاټوکي په ګډه سره راباسي او په آخر کي ئې د ټولو په منځ کي په ګډه سره تقسيموي (وېشي) او نوموړي ټاټوکي و ښار ته د ځان سره د سوغات په يا تحفې په توګه راوړي او د خپلې کورنۍ او د کوڅو پر ملګرو باندي ئې څه ناڅه وېشي. دا د دې معنا لري چې ګواکي نوموړی نفر د ګيدړي چينې ته تللی وو او يا ئې مېله ورايستلې وه.

د ګيدړي چينې مېله د ډېر کم وخت له پاره وي او دغسي د مېلو ځايونه په کندهار کي ډېر نور هم سته چې موږ ئې نومونه اخلو لکه د سرپوزې د غره مېله، د نارنج د تخت مېله چې په زاړه ښار کي واقع ده او يو وخت د شاه حسين هوتکي تخت هلته موجود وو. ولې ډېري مهمي مېلې نه دي. نو ځکه موږ د نوموړو مېلو له ډېري توضيح څخه تېرېږو او

پر هغو مېلو خبري کوو چې ډېري مهمې او زموږ له نيکه ګانو څخه موږ ته راپاته دي او اوس لکه په پخوا کې چې وې په هماغه شان او شوکت نه دي پاته خو د ارزښت له مخې لازمه بولو چې نوموړي مېلې د يوه دود او دستور په حيث دلته ثبت کړو.

**لومړی - د شالمار مېله:**

د شالمار تاريخي او عنعنوي مېله چې د کندهار له ډېرو ښو او نامتو مېلو څخه ګڼل کيږي ډېر تاريخي او کلتوري اهميت لري. د دې مېلو خبري اتري زموږ د ډېرو پخوانيو نيکه ګانو په خولو او سينو کې دي او همېشه د مجلس د ګرمولو او خاطراتو د بيانولو په وخت کې له همدې مېلې څخه يادونه کوي. دا مېله په خاص وخت کې د ارغنداب د ښکلي اولسوالۍ په ښکلو بڼونو کې تر يخو سايو (سيوري) لاندي جوړيږي. دا مېلې د يوې محدودي سيمي يا اولسوالۍ له پاره نه وي بلکي د کندهار د ټول ولايت له ګوټ ګوټ څخه پرګنې په دې تاريخي مېلو کې ګډون کوي او د خپلو پسرلنيو شپو او ورځو څخه خوند اخلي او خپلې پسرلنۍ شپې د خپلو ښو او نژدې ملګرو سره په خوشحالي تېروي. نو داسي تصور او فکر کوي چې ګواکي تر دې وروسته به ټول کال په خوشحالي راباندي تېر سي. نوموړې مېله د نېک شګوم په ډول نيسي. نو ځکه هغه چا چې د شالمار په مېله کې ګډون کړی وي هغه ځان د کال نېکمرغه فکر کوي ولې هغه څوک چې د ناتوانۍ يا کوم بل مشکل په وجه له دې مېلې څخه محروم سوی وي هغه ډېر افسوس کوي چې په نوموړې مېله کې ئې ګډون نه دئ کړی او د آينده کال له پاره د مېلې د ګډون تياري نيسي او لازم شرايط ورته برابروي.

په کندهار کې د شالمار مېلې له پاره وختي لا تياری نيول کيږي. په ځينو ځايو کې ګډ انداز سره اچول کيږي او وختي لا ټول مواد او د مېلې لازم سامانونه لکه د موسيقۍ سامان، د پخولو لوښي، د آب بازۍ سامانونه، د کښېنستلو ټغرونه، کمبلي او داسي نور مواد تهيه کيږي. د موادو تهيه کول د يوه نفر يا يوه ټبر کار نه دئ بلکي دايوټولنيزکار دئ هر څوک په ځانګړې توګه د خپل کلي پر ځوانانو او مېله والو باندي ځيزونه ايږدي.څو هغوی نوموړي شيان د ميلې له پاره تهيه کړي، ولې ميله وال که دښار څخه صحراوته

ځي دښار څخه هم ځيني توکي وروړي.ډوله ميله وال ئې يو ځاى د مېلې ډاټوبې ته په ګډه وړي او هلته يو ځاى چې مخکې ئې سره ټاکلى وي ايږدي او ميله پيلوي.

د شالمار مېله د کندهار له ښار څخه وتلې او له سردار مددخان چوک څخه په شل کيلومتري کې د ارغنداب په اولسوالۍ کې جوړيږي. د ارغنداب اولسوالۍ باغونه په خورا پراخه او ارته سيمه کې سره پراته دي. نوموړې مېله د پسرلي په موسم کې د توتو له پخېدو سره پيلېږي. په هغه وخت کې په ډلو ډلو مېله وال د ارغنداب و ګوټ ګوټ ته راځي او د ارغنداب په شنو باغونو کې سره تيت او ځاى پر ځاى کيږي. هره ډله د ځان له پاره د پخولو نغرى جوړوي. دا نغرى بايد د ارغنداب د باغوانانو د اصولو سره سم جوړ سي او پر خپل سر چې هر ځاى ئې زړه وغوښتى نه سي کولاى چې نغرى جوړ کړي. دا په دې خاطر چې د باغونو درختو (ونو) ته تاوان رسيږي او د باغ په هغه ساحه کې د اور لګولو اجازه ورکول کيږي چې شين بوټى موجود نه وي او يا کوم پالېز ته زيان و نه رسول سي. نو ځکه دستور داسي ايجابوي چې هغه شرايط چې باغوان ورته څرګند کړي دي هغه بايد په پوره ډول مراعات کړل سي. د مېله والو او د ارغنداب د باغونو د باغوانانو تر منځ لاندي تړونونه موجود دي:

لومړى: د مېلې مينه وال نه سي کولاى چې پر خپل سر اور بل کړي.

دوهم: د مېلو اعضاوي (غړي) که کوچنى وي او که لوى نه سي کولاى چې اومه مېوه له ونو څخه پر خپل سر باندي وشکوي. په دې کار د باغوان زياته خوا بديږي او پر نوموړو مېله والو باندي ډېر بد ويل کيږي، نو ځکه خپله د مېلې راغلى کمپ يا ډله او يا ووايو ګډ انډيوالان د خپلو کلتوري اړيکو او عنعنې برابر يا متقابل تعهد او وعدې له مخې نوموړى نامناسب کار نه کوي.

دريم: له درختي څخه د سوځلو په منظور لرګي نه پرې کوي يعني د ونو څانګې د سوځلو په خاطر بايد پرې نه کړل سي ځکه چې داسي څانګې هم سته چې مېوې لري او د باغوان له پاره تاوان يا زيان دئ.

څلورم: مېوې چې اصلاً د شالمار د مېلې د ټولو غړو په خدمت کې دي خو پر خپل سر او يا بې له اجازې څخه ئې نه سي شکولاى. دا په دې چې باغوان خپله هغه مېوې چې لازمې وي ورته شکوي يعني هغه چې پخې او د خوړلو وړ وي او خامې نه وي او له بله پلوه

هغسي مېوې وي چي که ئې و نه شکوي پر مځکه رالوېږي او خرابيږي. نو ځکه ئې باغوان د مېله والو په خدمت کي ايږدي او يوازي باغوان ته دا څرګنده وي چي د نومړي درختې يا ونې مېوه لازمه ده که نه

پنځم: د مېلو انډيوالان چي په هره سيمه يا باغ او يا بل کوم مناسب ځای کي غواړي په وړيا توګه کولای سي چي اطاق ونيسي او د استوګني ټاټوبی ځان ته غوره کړي او په همدغه ترتيب د عمومي دود او دستور له مخي داسي راغلې ده چي ټوله مېوې د مېله والو په خدمت کي وي، ولي مېله وال د خپل ځان سره د خوړلو ځيني شيان راوړي او د خپل وخت د تېرولو مطابق يعني هر څومره شپې او ورځي چي ئې مخکي اټکل کړي وي په هغه اندازه مواد له ځان سره راوړي او يا بايد ووايو هغه مواد چي د ارغنداب د باغونو په ونو کي نه وي او د مېوو په څېر په ارغنداب کي نه پيدا کيږي، له ځانو سره ئې په بازارونو کي رانيسي او يا ئې له کورونو څخه راوړي. د مثال په توګه: چای، پلمېټ[5] يا تشلمه[6]، هغه مواد چي بايد له ځان سره ئې راوړي، همدغه رنګه ډوډۍ او يا اوړه چي ډوډۍ ځني پخه کړي

د شالمار مېله چي څلوېښت ورځي او شپې دوام پيدا کوي ډېره اوږده او دوامداره مېله ده. په دې مېله کي د رېګ اڅکزي او نور قومونه په خاصه توګه له کوټي څخه بيا د کندهار تر ښاره او يا غره کلي پوري خلک او د مېلې مينه وال راځي چي په دې کي پښين، عبدالله خان کاريز او د ګلستان اڅکزي برخه اخلي او ګډ اتراک[7] جوړوي.

پس له هغه چي په اتراک کي د مېلې انډيوالان ګډ سره ځای پر ځای سول نو په لوبو پيل کوي. لوبې په لاندي ډول دي:

[5] پلمېټ چي په کندهار کي يوه مشهوره مروجه او ناموره اصطلاح ده، د کندهار خلک ئې د چايو له شېريني سره استعمالوي او په کابل کي پلمېټو ته شېريني وايي.

[6] تشلمه: نومړې اصطلاح هم د کندهار ښار او شاوخوا کي له فراه څخه تر زابله پوري استعماليږي يعني هغه شېريني چي له چايو سره خوړل کيږي.

[7] اتراک: د شالمار په مېلو کي اوتراک يا اتراک يوه مشهوره او لرغونې اصطلاح وه چي عموماً د ګډو ملګرو او انډيوالانو له خوا څخه يو کمپ يا اطاق او يا هم پر يوه ټاټوبي، کمبله يا سترنجي باندي ګډ دېګ او کاسه د ګډي مېلې له پاره ايښودل کيږي او هلته به په ګډه توګه پخلی کوي چي نومړی ګډ ژوند او پر ګډ ځای د ګډو انډيوالانو مېلې ته اتراک وايي.

**۱. د غېږي ايسـتلو لوبه:**

په دې لوبه کې په سوونو حتی زرونو تنه برخه اخلي. نوموړې لوبه داسې پيلېږي چې لومړی د غېږي ايستلو له پاره ډېر لوی او غټ ميدان جوړيږي او چارچاپېره يا په گرداگرد (شاوخوا) ډول سره ميدان او ډگر تړي. څه وخت چې ميدان جوړ سو نو مشهور غېږبازان چې پخوا لا سره ټاکل سوي وي ميدان ته رالوېږي او غېږي ته په ميدان کې ځانونه چمتو کوي. د غېږي د ميدان غېږبازان چې د کندهار په اصطلاح ناميان هم ورته وايي عموماً د دوو مختلفو قومونو تر منځ دا ناميان سره ټاکل کېږي او د ميدان يو پخوانی او تجربه کار استاد راولاړيږي او نوموړي دوه تنه سره راولاړوي او د ميدان غړو ته ئې ورپېژني. په دې غېږه کې د يوه تن او بل تن تر منځ سيالي او لوبه نه بلکې د دوو قبيلو او قومونو تر منځ د سيالۍ او سيالدارۍ مسئله طرحه ده، نو ځکه د ميدان ليدونکي او تماشاچيان په ډېره مينه نوموړې لوبه گوري. د قومونو احساسات وار په وار پر جوش او خروش راځي نو هر قوم په دې وخت کې د زياتو پيسو د ښندلو له پاره اماده وي او کوښښ کوي چې خپل پهلوان يا غښتلي غېږباز ته ډاډ ورکړي او مورال ئې ورلوړ (قوي) کړي. پر پيسو سربېره نقل او نخود شيندل کېږي او پسونه د پېرزو او بريالیتوب په خاطر حلالوي او ډېري قربانۍ ورکوي.

پس له هغه چې د غېږي ميدان گردچاپېره د يوې انځور سوي دايرې په ډول له اتياوو څخه تر سلو مترو په شاوخوا کې جوړ سو نو لوبه داسې پيلېږي چې د غېږي پهلوانان د خپل قوم له طرفه څخه تر چاپي کېدو وروسته ميدان ته راولاړيږي. په همدغه ترتيب په ميدان کې د خوشحالۍ زوږ پورته کېږي او د غېږبازانو لاسونه پورته کوي. نومونه ئې اخيستل کېږي تر دې وروسته پر غېږبازانو باندي د قومونو او يا په ځانگړي ډول پر هغه غېږباز چې په لوبه کې بريالی سوی دئ پيسي پاشل کېږي او پيسې په دې خاطر پاشل کېږي چې غوزار سوی نفر څرگند سي او که هر چا غوزار کی هغوی وگټل او پيسې د خوشحالۍ او وياړني په مفهوم هم شيندل کېږي.

په همدې لوبه کې ډېر سخت زور ځکه موجود وي چې د پهلوان غوزارول اصلاً د قوم غوزارول دي نو که چېري کوم قوم غوزار سو هغوی ډېر خوابدي او خواشيني وي او

هغه قوم چي وګټل له خوشحالۍ څخه په اصطلاح (په کالیو که نه ځاییږي) چي د نوموړي قوم په خوشحالي کي ځان خوشحال ګڼي هغه د ګټلي قوم طرف ته د خولي خوږولو له پاره ځان رارسوي او په ګډ اتڼ کي ئې ځان شریکوي. په همدغه ترتیب قومونه یو د بل سره پېغورونه او تعڼي ورکوي او پخواني او لرغوني سوابق سره پلټي او یو بل ته د پېغور په دود یادونه کوي، مثلاً وایي: تاسي هیڅ وخت د غېږي میدان نه دئ ګټلی او نور ...

خو برسېره پر دې هم د قومونو تر منځ دوستي او خوشحالي موجوده وي، ځکه لوبه کول اصلاً د دوستۍ او خوشحالۍ مفهوم او معنی ورکوي، نو په همدغه ترتیب په میدان کي د میدان مشران چي عموماً دوه کسه وي د میدان نظم او د میدان د ګرم او خوشحاله ساتلو له پاره هراړخیز تنظیم په لاس کي اخلي او له دوو څخه تر څلورو جوړو پوري راولاړیږي او غېږه په داسي ډول سره پیلوي:

لومړی سړی یا غېږباز خپل راسته لاس د مخامخ یا مقابل لوري د چپه لوري د تشي سره نژدې واګه نیسي او مخامخ لوبغاړی هم خپل لاس د هغوی پر لاس برسېره ایږدي په همدغه ترتیب د هغه د تشي سره نژدې واګه نیسي او دوهم لاس یعني چپ لاس د مقابل لوري غېږباز و نس ته نژدې یا څرمه طرف ته واګه[8] یا پرتوګاښ ټینګوي او زور ازموینه پیلیږي. په دې لوبه کي چم او چال او یا لینګتي اچونه ډېر مهم رول لري. څنګه چي د پهلوانانو زور پر واګه ډېر وي نو د ملا د ټینګښت له پاره کله کله ملا په یوه بل ټینګ شي سره هم تړي. په هر صورت کله چي موټونه یا موټان سره ټینګ سول نو هغه څوک قهرمان دئ چي پر زور برسېره ئې چمونه هم زده وي، د کندهار په پهلوانۍ کي یا د غیږي په لوبه کي چمونه عبارت دي له:

**۱. په غېږ کي ځینګی:**

دا هغه چم او چال دئ چي د غېږي په لوبه کي ستر رول لوبوي او تقریباً د ټولو غېږبازانو زده دئ. ځینګی پر دوه ډوله دئ:

1. چپه ځینګی

---

[8] واګه: په اڅکزو کي یو ډول پرتوګاښ دئ چي له عادي او بازاري پرتوګاښونو څخه پنډ او غټ وي او په خاص ډول زونبکان پکښې کار سوي وي او زرین ګلابتون ئې په زونبک کي کار سوی وي.

2. راسته ځينګی.

اوس نو که چيري د بازۍ حريف په قبضه کي ورغی او پر راسته پښه يا ورون ئې راواړوی نو راسته ځينګی ئې استعمال کړی دئ او که ئې پر چپه ورون باندي حريف راواړوی له چپه ځينګي څخه ئې کار اخيستی دئ. کله کله داسي هم پېښيږي چي يو غېږباز مقابل نفر پر ښي ځينګي واخلي او پر کيڼ ځينګي ئې د هغه د تېر ايستلو له پاره پر مځکه څملوي چي و دې ته په اصطلاح کي له راسته څخه چپه ته او يا هم په دغه ترتيب له چپه ځينګي څخه و راسته ته راپورته کي او پر چپه ځينګي ئې وڅملوي نو په اصطلاح له چپه څخه راسته ځينګی ئې هم بولي.

**۲. کوښکه:**

په غېږ ايستلو کي له نابېره او پټو چمونو څخه يوه هم کوښکه ده. کوښکه هغه وخت مثبت اثر او اغېزه کوي چي مقابل نفر غافلګيره او وارخطا غوندي کړي، نو کله چي مخامخ پهلوان د يوې پښې په تعقيب بله پښه پورته کړه په دې حساسه لحظه کي مخامخ نفر د هغه دغه پښه له بلي پښې سره جنګوي او د خپل نيولي مټ په قوت ئې راڅملوي چي په اصطلاح پر چپه تخته ئې اچوي. کوښکه څرنګه چي يو ناګهاني او پټ عمل دئ په غېږ کي د ډېرو مهمو او ښو اصولو له جملې څخه ګڼل کيږي او په کندهار کي ډېر لږ پهلوانان په دې ستر چم باندي بلد دي.

کوښکه اچول په تقريبي ډول په سل کي اتيا فيصده بريالی عمل دئ او مخامخ پهلوان په ډېر ژر او سخت ډول پر شا غورځوي چي کله کله د ډېر سخت خوږ سبب هم ګرځي. نو په همدغه دليل سره مخامخ نفر ډېر کوښښ کوي چي ځان له کوښکي څخه باخبره وساتي.

**۳. غبرګه:**

غبرګه عموماً د پخو غېږبازانو په منځ کي نه استعماليږي. دا ځکه چي د مخامخ پهلوان د غوځارېدو احتمال ډېر پکښې کم دئ، حتی امکان د دې هم سته چي خپله دی پکښې غوځار سي. دا په دې چي په غبرګه کي له ډېر قوت څخه کار اخيستل کيږي نو که

د مخامخ پهلوان یا غېړباز قوت ډېر وو خپله د غبرګي اچوونکی غوځاریږي او بل هم په غبرګه کي عموماً خپلي دواړي پښې بندوي او د مقابل نفر پښې هم بندوي، نو ځکه که هري خوا ته توازن (برابروالی) درهم و برهم سو نو هغه خوا ځملول کیږي.

غبرګه عموماً د راستې پښې په وسیله داسي اچول کیږي چي د هغه دوې پښې ونیسي او ډېر زور د ورونونو په وسیله کیږي، څرنګه چي د مخامخ نفر دواړي یا غبرګي پښې نیسي نو ځکه ئې د غبرګي په نوم یادوي.

**٤. پېچی:**

دا هغه چل دئ چي مخامخ پهلوان باید لومړی ځانته رانژدې کړه سي او بیا خپله راسته پښه د هغه د دوو پښو په منځ کي تېره کړي او چپه پښه یا د خپلي راسته پښې مخامخ پښه په خپله پښه کي داسي وپېچي چي د هغه نوموړې پښه د مخ و لوري ته راکش کړي. په دې صورت کي هغه کومه تکیه ګاه نه لري او بالاخره په یو ناوړه ډول د شا پر تخته لوېږي. په همدغه ترتیب چپه پېچی چي د چپې پښې په وسیله اچول کیږي ډېر لږ خلک او پهلوانان ورسره آشنا دي عموماً رواج او دود راسته پېچي دئ.

که چیري لومړی پهلوان بریالی سي چي مخامخ پهلوان ته د خپلي راستې پښې په وسیله پېچی واچوي نو که مخامخ پهلوان پوهېدی چي رد ئې ووایي او یا د هغه د پېچي په برابر ئې د خپلي راسته پښې په وسیله وکولای سوای چي د هغه چپه پښه چي پېچي اچوونکی تکیه پر لري ټینګه کړي نو خپله پېچي والا په ډېره سخته توګه غوځاریږي او بل ترتیب هم سته چي پیچي ته د رد جواب وایي او کوټه کوي ئې یا ئې ردوي.

هغه دا چي خپله پښه د پېچي اچوونکي د پښې سره یو ځای پورته کوي نو په دې وخت کي به یا مخامخ پهلوان خپله غوځاریږي او یا به هم خرې په خرې[9] کیږي چي په دې صورت کي هم پهلوان پېچی کوټه کولای سي یا ردولای سي او ناچله کیږي او پېچي اچوونکی خپله غوځاریږي نو د پېچي اچولو تر میتود د هغه د ردولو میتود د غېړي په لوبه کي ډېر مهم دئ.

---

[9] خرې په خرې: که چیري د غېړ ایستلو په لوبه کي دواړه پهلوانان یو ځای پر بغل سره راواوړي او د یوه پهلوان شا هم و مځکي ته ولاړه نه سي نو په دغه وخت کي یو برابر حالت څرګندیږي چي و دې ته په اصطلاح کي خرې په خرې وایي.

**۵. مړوند ټینګول:**

که چیري د جوړه پهلوانانو له جملې څخه یوه پهلوان وکولای سوای چي مخامخ پهلوان په هراړخیز ډول سره ځانته رانژدې کړي او په خپله قبضه کي ئې راولي نو د خپلي یوې پښې په وسیله د هغه دوې پښې داسي ورټینګوي چي هغه پر شا کښېکاږي او پر ملا ئې کوږ کړي. څو هغه په دغه ترتیب سره د شا پر تخته غوځار کړي. په مړوند کي ډېر قوت په کار دئ که چیري پهلوان ډېر قوت و نه لري نو نه سي کولای چي مخامخ پهلوان مړوند کړي. نو په همدغه ډول په غېږ کي ډېر لږ پېښېږي چي مړوند دي یو پهلوان وکي یا ووایو چي پهلوان دي مړوند کړل سي او بیا دي غوځار نه کړه سي.

نو په همدغه ډول په غېږه ایستلو کي ډېر نور وړوکي چلونه هم سته چي د حساب وړ نه دي. موږ هم د مطلب لنډولو په خاطر ډډه ځني کوو او د غېږي پر دې فولکلوریکي لوبي باندي خپل بحث و نورو اړخونو ته راګرځوو. د دې خبري لنډ مطلب دا دئ چي باید ولیکو:

په دې کي شک نسته چي پهلوانان په هره سیمه کي سته، ولې په دې کي هم شک او شبه نسته چي د هري سیمي پهلوانان او د پهلوانۍ لوبي توپیر سره لري. په یوه سیمه کي په یوه ډول لوبي کېږي او په بله سیمه کي بیا بل ډول لوبي رواج لري. یعني په کندهار کي د پهلوانۍ لوبه کېږي چي هغه ته موږ غېږ ایستل وایو، په نورو سیمو کي کشتي ګېږي هم ورته وایي. یوازي د غېږي لوبه په هغه ډول چي په کندهار کي کېږي د افغانستان په نورو سیمو کي دود نه لري. نو ځکه ئې په ډېرو ځایونو کي کندهارۍ غېږه هم ورته وایي. بله د یادولو وړ خبره دا ده چي د کندهار په ټولو قبیلو کي غېږ بازان سته خو په خاصه توګه چي زیات غېږبازان لري د اڅکزو قبیله ده. په همدغه پرتله د نورزو په قبیله کي هم زیات غېږبازان سته، نوموړې قبیله په سیمه ایز لحاظ له اڅکزو سره ګډې سیمي لري. ځوانان ئې د ساتېري او تفریح په وخت کي د غېږي ایستلو لوبي کوي او تقریباً نوموړي قبیلې صحرایي ژوند لري. ولې پر نوموړو دوو لویو او د نفوسو په لحاظ سترو قبیلو سربېره پوپلزي هم ښه غېږ بازان لري چي ماماګی ئې د یوې بېلګي په ډول یادولای سو او همدغسي نور غښتلي غېږبازان سته چي موږ به ئې په عمومي توګه نومونه ذکر کړو. دا تقریباً هغه

پهلوانان او غېږبازان دي چي په مشهورو او نامدارو مېلو کي لکه د شالمار مېله کي ګډون کوي او د شالمار د مېلو مشهور غېږبازان دي. نوموړي غېږبازان په ټولو قومونو پوري اړه لري چي په ښار او هم په صحراوو کي ئې ژوند کړی دئ چي نامدار پهلوانان ئې په لاندي ډول دي:

عبدالحکيم غېږباز چي د کندهار د لرګو په ګنج کي د بي بي حوا په کوڅه کي اوسېدی. ملکو، ميرګی په قوم نورزی، عبدالرحمن ميرګي، حاجي عبدالرحمن، جمعه خان د نورزو پهلوانان ول.

بازمحمد غېږباز چي د کندهار د ښار اوسېدونکی دئ او د وړيو فابريکي کارګر دئ. په غېږ کي ډېر شهرت لري او د خپل وخت ډېر نامتو پهلوان دئ.

رنګين پهلوان د حاجي محمدغني زوی د بولدک اوسېدونکی، مصری پهلوان د بولدک اوسېدونکی، نصرو او املوک چي څه وخت د شالمار په مېله کي غېږ ايستلې، ملوک ئې غوځارکړی دئ او نصرو ډېر شهرت پيدا کړ. نظرجان اڅکزی چي اصلاً د بولدک اولسوالۍ دئ. همدغسي پيرمحمد غېږباز چي په قوم نورزی دئ نامدار غېږباز دئ.

نورک د کندهار د سپين بولدک اوسېدونکی او د ساکن زوی په قوم اڅکزی دئ، په غېږه کي ډېر نامدار دئ. فيض محمد د شاباز زوی، غلام محمد د شېرمحمد زوی په قوم اڅکزی، سکندرجان د حاجي ظريف خان زوی، محمدافضل د بورک زوی، حاجي عبدالرحمن د محمدخان زوی په قوم اڅکزی، سرطب ملېزی، رستم د نصرالدين زوی او داسي نور مشهور او نامدار پهلوانان سته چي فعلاً له قلم څخه پاته دي.

نصرو اڅکزی په اڅکزو کي اردوزی د کونچي اوسېدونکی چي د سپين بولدک په اولسوالي پوري اړه لري. ډېر نامتو پهلوان او غېږباز دئ. عبدالله خان کاکوزی د سپين بولدک د ميل اوسېدونکی اوس مړ دئ او په خپل وخت کي د کندهار له ډېرو نامتو پهلوانانو څخه شمېرل کېدی. مرتضی خان اڅکزی کاکوزی د سپين بولدک د ميل اوسېدونکی وو، اوس مړ سو.

محمودخان شکي زی چي د اڅکزو يوه پښه ده، ډېر نامتو غېږباز وو. لومړی د سپين بولدک په بامبول کي اوسېدی، وروسته ئې استوګنه د کندهار ښار مربوط د لوی والي پر غاړه پيل کړه.

محمدسعید چې اصلاً په تخته پول کې اوسیږي په قوم اڅکزی د کندهار د لومړیو او پیاوړو غېږبازانو په جمله کې حساب کېږي. یو وخت ئې نظرجان نامتو غېږباز د ډب کلا په مېله کې غوځار کړی دئ او بل هم نامتو او لرغونی غېږباز چې د شالمار په مېلو کې ئې په پرلپسې توګه ګډون کړی دئ اخترمحمد پهلوان دئ. په قوم اڅکزی او د سپین بولدک د تخته پول اوسېدونکی وو. تر اوسه هم په اڅکزو کې نوم او نښان لري.

ماماګی غېږباز د کندهار د پنجوایي اولسوالۍ د سپېروان کلي اوسېدونکی، په قوم پوپلزی وو. زیاتره وخت ئې په ښار کې کاروبار کاوه. غښتلی او نامتو غېږباز ګڼل کېږي. تقریباً ښاري ژوند ئې درلود. په ځواني کې د یوه ځوان له طرفه د چاکو په وسیله په ناځواني سره ووژل سو او د کندهار د پهلوانانو او غېږبازانو د خواشینۍ سبب وګرځېدی.

سورکی پهلوان د سپین بولدک د وېش اوسېدونکی، ډېر لرغونی غېږباز دئ په قوم اڅکزی وو او تر ډېره وخته ئې خپل شهرت ساتلی وو. څه وخت وروسته د ګلستان په علاقه کې د ماماګي غېږباز له لوري غوځار سو. ټول پهلوانان په دې عقیده وه چې سورکی غېږباز کمزوری نه وو بلکي د هغه حریف ماماګی ډېر غښتلی غېږباز وو.

بل هم د اوسني وخت مشهور غېږباز سپین پهلوان دئ. اصلي نوم ئې عبدالاحد د نصرالله خان زوی په قوم اڅکزی د تخته پول د ماکران کلي اوسېدونکی دئ. په همدغه ترتیب نور هم ډېر پهلوانان دي چې ډېرو ئې د شالمار په مېلو کې ګډون کړی دئ.






# تاریخي او لرغوني اسناد د شالمار د تاریخچې په هکله

موږ په پورته بیان کي هم ذکر کړل چي د شالمار په عنعوي مېله کي په خاصه توګه له ګلستان څخه تر تور کوتل پوري پرګنو ګډون کړی دئ، د دې خبري علت او انګېزه هم موږ په لاندي دلایلو سره په تاریخي لحاظ سره څېړلای سو.

موږ ته څرګنده ده، چي په ۱۷۶۱ع کال کي د کندهار ښار د احمد شاه بابا په زیار سره آباد او نوی جوړ سو. ټولو قومونو او قبایلو ته ډول ډول امتیازات ومنل سول. په مختلفو ځایونو کي کاروان سرایونه (ټټۍ) جوړ سول او د قومونو تر منځ په منطقي او لازمي ډول سره وویشل سول. د دې منطقي وېشلو په سلسله کي ئې تر ښار دباندي هم د قناعت وړ مځکني اصلاحات وکړل. ټولو قومونو ته د مځکو د آبادولو پوره حق ورکړل سو او شاړي مځکي په زراعتي مځکو بدلي سوې. ولي په دې سلسله کي سیمه ایز اصلاحات هم په قومي لحاظ وسول. د بېلګي په توګه چارده او پنجده زراعتي مځکي و بارکزو ته ورکړل سوې، اوسنۍ داله او شاه ولیکوټ پوپلزو ته، د ارغنداب د رود غاړي الکوزو ته، د کندهار غربي سیمي محمدزو او پوپلزو ته ورکړل سوې او په همدغه ډول د کندهار جنوب غربي مځکي نورزو ته ورکړل سوې. ولي شرقي سیمه هم د پوپلزو په واک کي ورکړه سوه. د کندهار جنوبي برخي چي ریګیستانونه دي، مځکي ئې اوبه نه لري، د ګټي وړ نه دي. د اڅکزو په برخه سوې او اڅکزي هم د نوموړي وېش پر بنسټ هم هلته مېشت سول. په وروسته کي نوموړي مځکي څنګه چي د مېلو تم ځایونه ئې نه لرل او د هغوی د قناعت په خاطر تصمیم ونیول سو، چي نوموړو قومونو ته دي چي شنه باغونه نه لري، دوی دي هم له آبادو مځکو څخه ګټه واخلي او له بلي لوري دي خپل د وجود شکره او نور د میوو لازم ویټامینونه د ارغنداب له باغونو څخه په لاس راوړي. د شکري د نسته والي په خاطر د ریګستانو د سیمو اوسېدونکو شکره کمه ده او شکره هم ډېره خوري او په دې هکله اصطلاح سته چي: څنګه اڅکزی یې چي خوړې نه خوري. کله چي لوی احمدشاه بابا په ۱۷۵۲ع کال لاهور فتح کړ. په دغه بریالي فوځ کي د احمدشاه بابا سره اڅکزي او د رېګ د سیمي اوسېدونکي شامل وه. د لاهور تر فتحي وروسته لوی احمدشاه بابا د شالمار د باغ په نوم ځای او سیمه کي خپله اوسېده. د نوموړي باغ سیمه ایز

موقعیت د لاهور د شمال په یوه سمسوره برخه کې وو. په همدغه وخت کې د رېګ اوسېدونکي مشران لوی احمدشاه بابا ته ورغې او عرض کوي چې: نورو قومونو او خلکو ته د مېلو له پاره سمسوري سیمې ورکړل سوي دي، ولې موږ د رېګستان خلکو ته هم باید میله ځای راکړل سي. په همدغه ډول احمدشاه بابا امر کوي، چې د دغې سیمې خلک چې د مېلو تم ځایونه نه لري، د څلوېښتو ورځو له پاره دي په وړیا توګه د ارغنداب او چارده د سیمې له باغونو څخه د مېلو له پاره ګټه واخلي. تر دې وروسته به نوموړې سیمې ته د ریګیستان خلک د مېلو له پاره راتلل او نوموړي مېلې د هغه فرمان له مخې چې احمدشاه بابا ذکر کړی او یا ئې په تاریخي سندونو امر کړی وو، تر نن ورځې پورې د شالمار د مېلو په نوم د یوه اجتماعي منل سوي قرارداد په ډول پاته سو او امکان سته چې نوموړی نوم هم د هغه شالمار له نامه څخه راپاته سوی او نقل سوی وي چې د لاهور په شمالي برخه کې د شالمار باغ په نوم موجود دئ او احمدشاه بابا له هغه څخه تفریحي ګټه اخیستله. د شالمار نومونه نور هم په تاریخي لحاظ ډېر یاد سوي دي، چې موږ ئې په جغرافیایي ډول سره په نورو سیمو کې هم لیدلای سو. خو دومره ویلای سو هر ځای چې د شالمار ذکر کیږي هغه سیمې سمسوري او د مېلو او تفریح له پاره آماده وي.

ډاکتر ګنډاسینګ د خپل اثر (درانی احمدشاه) په ۲۰۰ مخ کې د شالمار د باغ داسې یادونه کړې ده: د احمدشاه بابا استازی چې کله د ډهلي امپراتور ته ولېږل سو د ۱۷۵۶ کال په پای کې ډهلي ته ورسېد. ورپسې زیاتوی: قلندر خان ته د شالمار په شاهي بڼ کې ځای ورکړه سو. امان الله خان او باقي بیګ خان د ده د مېلمه پالانو په حیث ومنل سول. له پورتني تاریخي سند څخه څرګندېږي چې د شالمار مېله ډېر تاریخي اهمیت لري او په ډېرو ځایونو کې ئې نومونه اخیستل سوي دي. د کندهار په ښار کې هم یو ښوونځی د شالمار په نوم موجود دئ او تر نن ورځې پورې ئې هم خلک د شالمار په نوم سره بولي.

زه فکر کوم چې د شالمار پر تاریخ او ریښه بحث موږ له اصلي موضوع څخه لیرې کوي، نو د دې موضوع له تاریخي بحث څخه ډډه کوو او د شالمار په مېلو کې یوازې فولکلوریکه برخه چې د لوبو په سلسله کې مو د غېږبازۍ په برخه کې څه ولیکل اوس به د دې فولکلوریکي مېلې د نورو بازیو او لوبو په اړه بحث وکړو:

### د اتڼ لوبه:

اتڼ د ټولو پښتنو او پښتني سيمو يو مشترک دود دئ او د پښتنو په لوبو کي ډېره مهمه او په زړه پوري لوبه ده. د پښتنو په منځ کي د هر پښتون اتڼ زده دئ. د دې لوبې پيل د اتڼ په نارو سره کېږي او ځوانان د دايرې په ډول شاوخوا په منظمو قدمونو سره ګرځي او راګرځي. په لومړي سر کي ځوانان پر شا ګرځي او راګرځي. په اول پړاو کي لومړی راسته پښه اچول کېږي او چپه ته راځي، په دې ډول لاسونه هم د چکي په وهلو سره د قدمونو سره تنظيموي. د اتڼ نغمه کرار کرار ګرمېږي. ډول، شپېلۍ او تولۍ رغول په اتڼ کي ستر رول لري. په پرله پسې توګه پړاو پر پړاو اتڼ ګرمېږي او هر پړاو ئې ځانته ځانګړي نارې لري. په دوهم پړاو کي چي ډول او سورنا ګرمه سوه، نو ځوانان هم په جوش او شوق سره راځي او د يوې چکي پر ځای دوې چکچکي کېږي او اتڼ سرعت پيدا کوي او هر څه په پوره سرعت سره تر سره کيږي. د سر او څنو غورځول په منظمه توګه، ولې نسبتاً په چټک ډول سره اجرا کېږي. په دريم پړاو کي چي د اتڼ هغه ستره برخه ده، اتڼ داسي تېزېږي او چټکېږي، چي پر راسته اوړه باندي لټ وهي يعني پر راسته اوږه باندي اوړېدل د لټ په نوم سره يادوي، چي په دې ډول سره په اتڼ کي يوه لټه اتڼ او دوه لټه اتڼ او درې لټه اتڼ او حتی څلور لټه اتڼ کېږي. نومورې لوبه د شالمار د ځوانانو له پاره ډېره په زړه پوري ده او کله چي د شالمار له مېلو څخه راستانه سي هم د اتڼ د لوبو يادونه کوي.

### د اتڼ د لوبو نارې:

د لومړي پړاو نارې يا اوازونه (په نورو پښتنو سيمو (پکتيا) کي ئې شوری هم بولي) په لاندي ډول سره دي:

دا تا چي يار نيولی - داسي يار به جوړ کړم د څرمني

چټي چي په پښو دي کړې چوټي

تور مار د دېواله بغل نيولی - د سپيني خولې پر لور راغلی

کمره مېړه ولاړه پر ډبره

په دې ادامه نوري هم سته چي په لاندي ډول دي:

ارغنداب کوځې کوځې - شالمار ځای دئ د مېلې

ښاد سې کندهاره - څلور دي دروازې څلور بازاره

د شالمار مېلو ته ځمه - غونډېو تا به راولمه

سره اوښان په قطارو ځي - ژړ ځوانان ئې پر څنګو ځي

داسې نوري نارې او اوازونه هم سته چې يو ځای سره ويل کېږي، لکه دغه لاندي ګډې نارې په ګډه توګه:

ما ويل ولاړی مير نادر خان زوروکی - بندي د سقاو ولاړی

ما ويل اور دئ - سم راځه صاحب جان ګله

ويل جنګ دئ پر لاهور

په غاړه راوړه امېلونه - چې مسافر اشنا مي وکه ديدنونه

سترګې توري که نرۍ - د رنجو من په قندهارۍ

د شالمار په مشهورو اتنونو کې يو هغه دئ چې له سلاح سره مل وي. د اتڼ دغه ډول د سلاح په جم و جوش او شوق سره شورع کېږي. دا چې په افغانانو کې د سلاح مينه او علاقه په تاريخي لحاظ خورا ډېره ده او د سلاح ساتنه د ننګ او ناموس ساتنه ګڼي، نو د دغه غرور په وسيله هغوی سلاح د شوق له پاره د اتڼ په وخت کې د ځان ګاڼه بولي او په دې وخت کې سلاح يا ټوپک په داسې ډول سره نيسي چې راسته لاس ئې پر ماشه باندي برابر وي او لټ پر لټ رااوړي. کله چې اتڼ پر جوش راغی، نو په منظمه توګه کله چې له يو لټ څخه بل لټ ته اوړي؛ د ټوپک ډزي (ټکان) په منظمه توګه په يوه ږغ سره کوي. دغه حالت د ځوانانو پر احساساتو باندي ډېره اغېزه کوي او د اتڼ قطارونه نور هم پر احساساتو باندي راولي. برسېره پر دې د شاوخوا سيمي خلک چې د ټوپک اوازونه اوري هغوی هم د مېلې او اتڼ په شوق سره د ټوپک د ډزو شاوخوا ته ځان رسوي او د اتڼ تماشا کوي.

د دې ډول اتڼ پيل د عادي اتڼ په څېر لومړی له ښي خوا څخه پيل او پر کيڼ لوري باندي راتېل وهل کېږي او ټول د اتڼ ګډون کوونکي بيرته په يوه صلاح سره مخته ځي او اتڼ ګرموي. نو کله چې د اتڼ په جريان کي له يو لټ څخه بل لټ ته اوښتل په دې وخت کي د ټوپک د ډزو پيل په يوه پلا پيليږي. دا ډول اتڼ ته د سلاح سره اتڼ وايي.

د کندهار خلک د سلا سره اتڼ ډېر خوښوي. که څه هم د سلاح سره اتڼ ډېر لږ او په لږ وخت کي کېږي، خو برسېره پر دې هم ويلای سو چي د سلاح سره اتڼ د اځکزو په سيمه کي له ډېري پخوا او لرغوني زماني څخه عام او څرګند وو او د اځکزو په ودونو کي به هر چا دا تقاضا لرله چي د سلاح سره د اتنونو مېله به کوي او د ټوپکو په ډزو باندي ئې له ليري سيمو څخه اولسونه راځي. همدغسي د سلاح سره اتڼ په سنتيو او نورو خوشحاليو کي هم کېدای سي.

د وسلې سره اتڼ عموماً د ځوانانو کار دئ او ځوانان په دې ډول اتڼ کي برخه اخلي. زاړه، کوچنيان او ښځي د دې ډول اتڼ سيل او تماشه کوي او ګردچاپېره پر راټول وي.

پر اتڼ سربېره د شالمار په ميلو کي يو ډول ځانګړي غاړي چي د اځکزو د غاړو په نوم شهرت لري او ډېر خلک ئې مينه وال دي او ډېر ځايونه ئې په ودونو او نورو مجلسونو کي هم وايي، ويل کېږي. نمونې ئې په لاندي ډول ليدای سو.

موږ دلته يوازي هغه لندۍ، چاربيتي او د اځکزو غاړي رااخيستي دي چي د شالمار په ميلو کي ويل کېږي او يا د دې زماني د خلکو په خولو کي وي، لکه:

د بوټو تنۍ تړې ګوله پر کومه راڅه ځې

د بوټو تنۍ تړمه د شالمار مېلې ته ځمه

ته چي سپينه خوله لرې

پر ما ئې ولې کنجوې...

سپنيه خوله به کړم دروړاندي

ژړ کميسي ګناه کاري...

که مي نه په ډبوې

ګرانه ولاړ سه د وياليې...

خوند ئې نه وکی باجې

ګوتې د بل پر ښورېدې

د سرو اوښو رمبکی دئ

ګرانه کښېنه پېشلمی دئ

سره اوښان په قطارو ځي
ژړ ځوانان ئې پر څنګو ځي
د ګاډۍ پېچونه لوړ دي
ګرانه مړه دي زورور دي
یو مي کال په غره کي تېر کړو
بل مي رنګ د ګرانو هېر کړو
سپینه خوله په خندا خاندي
مازدیګر دي که راباندي
زما او ستا دي ډېر ګرانی
د ړوبه لیري دي بورګی

نوموړي نارې د نارینه وو په اتڼونو او مېلو کي ویل کېږي. د دغو اڅکزو غاړو د ویلو له پاره په کندهار کي ځانګړي شوقیان او ځوانان یا سندرغاړي سته چي په ځانګړي طرز سره ئې وایي او په کندهار کي ئې شوقیان بولي. هغه شوقیان چي ښه غاړي کوي دا دي:

ولي جان چي د کوټي په ولي جان باندي شهرت لري. ډېري ښې غاړي کوي همدغه راز په کندهار کي ولي محمد کندهاری دئ چي په همدغه ډول د ځینو مېلو د تم ځایونو څخه د ولي جان او ولي محمد په خوله ویل سوي دي. په لاندي ډول سره ئې را انتقال کړي دي. نوموړي غاړي هم د شالمار په مېلو کي ویل کېدې او د هغه وخت همځولي همزمانه لنډۍ او غاړي ورته ویلای سو، لکه چي وایي:

ارغنداب کوڅې کوڅې
شالمار ځای د مېلې
سپینه خوله دي په لکو ده
رضا ستا د شنو خالو ده
سپینه خوله دي غونډه منډه
بوري خدای دي کړه راکونډه
که دي زړه زما پر زړه دئ
بازارګی لیري ځای نه دئ

سپیني پېغلي په اودو کي
ګراني خوند کوي ستا ټوکي
تا چي لاس وښوروی
په ما دي اور ولګوی
زما او ستا دا ځله ولاړه
ما له خپل امانت راوړه
یاري راسه ماځیګر
که شنه لاری نه سوه پنچر
د شالمار مېلو ته ځمه
غونډو تا به یادومه
ګله مه کوه دیغت
پر سړو تل ورځي زحمت
و پانسی تي خېژوی
شېرجان سګرېټ ولګوی
د شېر جان توري څنګي
پانسی پورته که د ځمکي
په شېر جان پانسی پسي
ولاړی غیرت د زماني
د سهار پر سترګه راغلي
پر ما خور وي بیرته ولاړي

بل هم:

زه یم طوطي طوطي بلند اوازه
یار مي نادان دئ نظربنده مي ساتینه
جانانه بد وای بد مي اموخته کړي
چي خوله درنګړم لېونی ګرځي مینه

د تورو زلفو په ځنګل کې
لاړ مې سوه ورکه ستا د مخ په رڼا ځمه
حلالولو له مې بیایي
بېلتون قصاب د بیلتانه خرڅه کړې یمه
بیلتونه غبرګ زامن دي مړه سه
چي یو ښخېږي بل د مرګ سوګلی وهینه
بیلتون پر هر چا مېلمه کېږي
پر ما چي راسي، نو خېمې ودروینه
جانانه دا دي څه عادت دئ
چي پر ما راسې پر مخ ونیسې لاسونه
جانانه راسه چي پخلا سو
عمر کوتا دئ ارمانجن به پاته سونه
د غم رباب د غم شاباز دئ
د غم سیتار د غم نارې پکې وهینه
خلک تمامه شپه ویده وي
زه په ګولۍ ویشتلی زړه ټکورومه
راځه چي غم سره شریک کړو
یواځې ما په لبمو مه سوځه مینه
زړه مي ټوټې ټوټې سو خدایه
هره ټوټه نارې وهي چي جدا سومه
عالمه مینه مینه نسته
سوداګري ده یو پر بل ئې خرڅوینه
بیلتانه وسوم غم ایرې کړم
رضا د باد ده چي پر هر طرف ئې وړینه
تر بېلتون بل بې وفا نسته
چي بې زړه سویه دوه مین جلا کوینه

جانان دي بد پر ما ثبوت کړي

بې بدو زړه له ما نه ولې ځوروینه

پر کلا دروا وړم ژیړکه

مات په قلف د دروازې کړم

پر کلا راواوړه سپینه

ناسته یم لکه یتیمه

چي ولاړه ئې راځه

پر صادق جان راغله خطره

د صادق ویني بهېږي

پښتانه باندي ژړېږي

د موټر هنداري توري

جدولیان باران ترې ګوري

د موټر هنداري سپیني

جدول سپین بولدک له غواړي

مور د بوري کره ځو

پر ګاډی زور ورکه بابو

ګرمي تېره که تر سیوری سي

که پنچر درته ګاډی سي

ما و تا سره کتای و کار ته بل ولاړېدای

بل:

ما وتا به سره ګورو ارمانجن به سره ګورو

عالمه ټکه، ټکه زمانه سوه

یار به لستوڼی ورکوي منګول ساتینه

ټکي دي وکړه ټکه یاره

ستا د ټکی کاغذ په جیب کي ګرځومه

په غاړه راوړه امېلونه

چي مسافر اشنا دي وکړي ديدنونه

پر بام ولاړه يې نازکي

مرګی دي هېر دئ په پېکو وهې لاسونه

په کاکړو يا د اڅکزو په غاړو او نارو کي وروسته تر دغه سروکي بيا په ګډه توګه تکرار وايي:

په غاړه راوړه امېلونه

چي مسافر اشنا دي وکړي ديدنونه

بيا وايي:

تر دا چپه کاکل دي جار سم

يا ئې ماشين کړه يا ئې واړوه سرونه

زما و ستا لېونی مينه

تر منځ مو چا وکړه د صبر تاويزونه

بيا وايي:

په غاړه راوړه امېلونه

چي مسافر اشنا دي وکي ديدنونه

زما او ستا چي پر واده وه

زما پر هغه ځواني اور ولګېدنه

دا لونګين مي اوبو يووړ

په غم شريکه ياره نيسه ګودرونه

بيا په ګډه سره د کورس په ډول وايي:

په غاړه راوړه امېلونه

چي مسافر اشنا دي وکي ديدنونه

که چا خبر د جانان راوړ

دا مي اقرار دئ سر به زېری ورکومه

پورته موزون کلامونه چي د اڅکزو د غاړو په نوم د شالمار په مېلو کي ویل سوي دي او د هغه وخت سره همزولي موزون کلامونه دي، تر اوسه ئې هم خپل شهرت ساتلی دئ او د کوزي یا کښته پښتونخوا او لوړي سیمي بر پښتانه ئې په خپلو ودونو او مېلو کي لولي. د کندهار شوقیان ئې د اڅکزو د غاړو په څېر وایي. د بېلګي په توګه د ولي محمد کندهاري او ولي جان نومونه یادولای سو او نوموړي غاړي د لنډیو په څېر هم ویل کېدای سي.

دا چي لوړ مو د شالمار پر مېلو باندي څه ناڅه رڼا واچوله، نو که مو د هغه وخت پر سندرغاړو باندي څه ویلي وي، بې ځایه به نه وي او نوموړی دود مو د فولکور د مینه والو له پاره وړاندي کړی او د خلکو له سینو څخه مو را وایستل او د کاغذ پر مخ مو ثبت کړل.

اوس نو لازمه ګڼم چي د شالمار د مېلو د له منځه تلو په اړه هم لږودېر بحث وکړو:

ویل کېږي د شالمار د میلو په جریان کي د ارغنداب باغونه او نوموړي سیمه ورځ په ورځ پراخېدله او ډېره ګڼه سیمه وګرځېده او بالاخره ډېره لویه اولسوالي ترینه جوړه سوه. نوي باغونه سمسور سول، نوي نهالونه او وړې درختي (ولي) ستري سوې او د مېوو تجارت رونق وموند. د سوداګرۍ اړیکي نه یوازي د افغانستان په داخل بلکي د نړۍ له هېوادونو سره ټینګي سوې. مېوې د ارغنداب له اولسوالي څخه په هغه اندازه و بهر ته ولېږدول سوې، چي خپله د ارغنداب بزګرو او د کندهار ښاریانو د خپل ضرورت وړ مېوې په ارزانه توګه نه سوای تر لاسه کولای او په نتیجه کي ګټه وټه په دې لاره کي پراخه سوه. تقاضا ډېره سوه، چي په همدغه دلیل د میوو ډېر تولید ته اړتیا پیدا سوه. هر فیوډال او یا مالک به د ډېري ګټي وټي د لاسته راوړلو له پاره خپلو مېوو ته ډېره ښه پاملرنه کوله. په همدغه دلیل سره هغه پخوانۍ بې بند و بارۍ او بې تفاوتۍ په آزاد ډول له منځه ولاړې. د میوو لږوالی احساس سو او د هغې تنګي او وړې سیمي تر غوښتني مېوه ډېره سوه. څه وخت چي مېوه بهر ته د لېږدولو له پاره واستول سوه. د تجارت په دې معامله کي د سیمي د غوښتني مېوه هم بهر ته ولاړه، څو د پیسو دوران ښه جریان صورت ونیسي، نو ځکه هغه بزګر چي په خپله به ئې مېوه تولیدوله؛ هغه به بیا خپله هم مېوه نه لرله چي له اولادو سره ئې وخوري، البته دا موضوع یوه وتیزه موضوع ده.

په همدغه ډول د ارغنداب خلکو او باغوانانو د شالمار له مېلو څخه شکایتونه د خپل وخت اولسوال ته وړاندي کړل او د بیروکراسۍ په سلسله کي هغه هم نوموړي شکایتونه د خپل وخت والي ته وړاندي کړل او په همدغه ډول ئې اځکزي د شالمار له مېلې څخه منعه کړل او د شالمار مېلې بندي سوې. د نوموړو مېلو پر ځای نوري مېلې رامنځته سوې، د مېلو له پاره هم له باغونو څخه ګوښه تم ځایونه جوړ او وټاکل سول. د شالمار مېلو یو بل ډول پیدا کړ او په داسي مېلو سره واوښتل، نور به له لیرو سیمو څخه خلک نه ورته راتلل، بلکي د ښار له شاوخوا سیمو څخه به خلک د یوې یا دوو شپو له پاره یا به هم د یوې ورځي د تېرېدو له پاره ارغنداب ته راتلل او خپله مېله به ئې سر ته رسوله. د مېلو تم ځایونه هم له باغونو څخه په لیري فاصله سره جوړ سول. د ارغنداب اولسوالۍ مرکز یا د هغه ځای په درې کیلومتره لیري واټن کي د سرکاري باغ په سیمه کي چي د سرده باغ هم ورته وایي مېلې جوړېدلې او یا هم د بابا صاحب د زیارت په شاوخوا کي چي هلته هم ډېري ښکلي باغچې او چمنونه جوړ سوي وه، مېله والو به اطاقونه نیول او ورځنۍ مېلې به ئې جوړولې. د نارینه وو پر مېلو سربېره د ارغنداب په سیمه کي ښځینه مېلې هم رامنځته سوې او ښځو هم د مېلې ځانګړې ورځ ځانته وټاکله او د کال لومړۍ چارشنبې د ښځو د میلو ورځ د بوې عنعنې په توګه ځای ونیو او تر نن ورځي پوري د کال په لومړۍ چارشنبې ښځي د بابا صاحب د مېلې او زیارت په خاطر ارغنداب ته ځي او خپله ځانګړې ښځینه سلیقه سر ته رسوي. د ښځینه مېلو په راتګ سره د شالمار د مېلو نوم د ارغنداب په سیمه کي د مېلې په عنوان خاموشه او د نوموړي مېلې ډېوه مړه سوه. پس له هغه چي د اځکزو مېلې د شالمار په نوم د بابا صاحب یا ارغنداب په سیمه کي بندي سوې، نور نو نوموړي مېلې که هر ډول وې د ارغنداب د مېلو په نوم رامنځته سوې، چي د بابا صاحب د مېلو له جملې څخه یوه هم د ښځو مېله ده. د کال په لومړۍ چارشنبې، چي په لاندي ډول به څه ناڅه پر وړغېږو.



# د کال د لومړۍ چارشنبې مېله په بابا صاحب کې

بابا صاحب د کندهار د ارغنداب په غره کې پروت دئ او د خورا مشهورو او نامتو زیارتونو له جملې څخه ګڼل کیږي. د کندهار خلک ډېر احترام ورته لري او هره د جمعې ورځ او د نورو رخصتیو کې زموږ پرګنې د مېلې او زیارت کولو له پاره ورځي او خپل مرادونه او غوښتني څني کوي او د زیارت کولو دودونه تر سره کوي. د بابا صاحب اصلي نوم حسن ابدال دئ. مګر په کندهار کې د بابا صاحب لقب ورکول سوی دئ او خلک ئې د احترام په خاطر بابا صاحب بولي. د ده د زیارت پر سر بل زیارت سته چې هغه د غره په سر کې پروت دئ شاه حسیني صاحب نومیږي او د بابا صاحب د مېلو مینه وال ئې زیارت ته ورځي او پر خلکو سربېره ښځو هم د ډېر درناوي او احترام په خاطر د باباصاحب لقب ورکړی دئ. نو څنګه چې و دې زیارت ته ډېره عقیده سته نو ځکه دود او دستور داسي راغلی دئ چې په کال کې یوه ورځ د کال د لومړۍ چارشنبې په ورځ د کندهار د ښار ښځې د خپلې کورنۍ د نارینه وو په اجازه سره د زیارت کولو له پاره او په څنګ کې ئې د مېلې له پاره ورځي. په دې ورځ د کندهار ټولې ښځې حتمي و نوموړي مېلې ته ځانونه رسوي او اتراکونه یا اطاقونه جوړوي. کمبلې هواروي او دلته غذا پخوي او یا ئې کله په کورونو کې غذا پخ کړې وي هغه دلته خوري، ډېري ښځې خپل اومه خواړه دلته پخوي.

په دې مېله کې يوازې ښځې ګډون کولای سي، هيڅ نارينه په دې ورځ يعني د کال په لومړۍ چارشنبه بابا صاحب ته نه سي ورتلای، نو ځنګه چې د ټول کندهار ښځې هلته ځي نو نارينه په دې ورځ د مېلې و شاوخوا ته  نه ورځي او که ورسي غټ عيب ګڼل کېږي. ښځې له سهار څخه خپله مېله پيلوي د ماځيګر تر لمر لوېدو پوري مېله کوي.

په دې ورځ په کندهار کې د ښځو جمع و جوش وي او ډېرې خوشحالۍ په ګډې وي حتی ځو مياشتې مخکې لا و دې مېلې ته خوشحالۍ کوي. کالي يا جامې او لباسونه جوړوي او هلته هغه ښځې هم سره ويني چې په يوه کال کې ئې نه وي سره ليدلي. دا مېله د ښځو له پاره په دې هم ډېره خوندوره وي چې د کندهار نارينه کوښښ کوي چې ښځې ئې دباندې و نه وزي نو دا د ښځو له پاره يو ښه او مناسب چانس دئ چې راووزي او د تفريح له پاره باغونو ته ولاړې سي. تر دې لا ګټور او د توجه وړ خبره دا ده، هغه ښځې چې ځوانان زامن لري د هغوی د کوزدو پيدا کولو له پاره نوموړی وخت ډېر مهم ګڼل کيږي او د ښايستو او کارنده نجونو د پيدا کولو په لټه کې وي. زياتره دوستی په کندهار کې تقريباً د مېلې له ځرک څخه کيږي خو د مېلې اصلي هدف همدا نه دئ بلکې اصلي هدف ئې د مذهبې دودونو د سر ته رسولو په مفهوم سره راځي.

په نوموړې مېله کې د ښځو هر ګروپ يا ډله د هغوی د سن و سال پر اساس جوړيږي، يعني سپين سري ښځې په خپلو منځو کې مجلس سره کوي او ځواناني يا مړوښې بيا و يو لوري او بل لوري ته چکر وهي. پر ابشارونو  يا د کندهار په اصطلاح (جوش) يا غټو غټو شورشورکو باندي ګرځي، د ويالو پر شاوخوا باندي راتاويږي او مجلسونه کوي.

د کال د لومړۍ چارشنبې په مېله کې په ځانګړيو ځايونو کې د امنيت قواوې هم ولاړې وي، هغه په دې چې کوچنيان له رود او ابشارونو څخه وژغوري او يا بل کوم تکليف و ښځو ته و نه رسيږي، نو ځکه نوموړې امنيتي قوتونه هم مؤظف سوي وي او بل هم د زيارت ملنګان په زيارت کې ناست وي نور نو هيڅ ډول نارينه و نوموړې سيمې ته نه ورپرېږدي چې ورسي او که په غلا سره ورغلی وي نو د کندهار خلک ډېر بد ورته وايي. يوازې دغه دوې ډلې د نارينه وو چې امنيتي قوتونه او ملنګان دي د مجبوريت په خاطر د بابا صاحب په شاوخوا کې ليدل کېدای سي.

په کندهار کي د کال د لومړۍ چارشنبې مېله د ماځيګر د لمر لوېدو سره سم پس له هغه چي اتراک ټول کړل سو او د مېلې راوړي لوښي سره ټول سول نو بيا زيارت ته ځي او د زيارت د دودونو او رواجونو د تر سره کولو وروسته د مېلې د شاوخوا سيمو څخه راوزي او هلته ليري ځاى کي چي د ترانسپورت وسايل ولاړ وي هغه لوري ته ځي او د خپل تګ چاره کوي. په دې وخت کي ځيني د بګۍ[10] په وسيله او ځيني بيا د شخصي موټرانو په وسيله چي د دوستانو له خوا ورته راغلي وي خپل ځان رسوي. نوموړې سيمه ليني موټران هم لري ځيني بيا د هغو په وسيله ځانونه تر ښار پوري رسوي او په دې ډول د کال د لومړۍ چارشنبې مېله هم پاى ته رسيږي. د کال د لومړۍ چهارشنبې په ماځيګر د ښار ټول خلک په دې پوهيږي چي نن ورځ د ښځو د مېلې ورځ ده، ولي د کندهار ښار او کوڅې له ښځو څخه ډکي وي او د کندهار په ښار کي د ښځو يو ښور،زوږ پروت وي.

مخکي له دې چي ښځي و ښار ته راورسېږي د هري کورنۍ نارينه يا سړي د چونۍ په خوله کي ورته ولاړ وي يا د سردار مدد چوک د موټرونو پر تم ځاى ورته ولاړ وي او خپلي ښځي له ځان سره خپلو کورونو ته بيايي. په همدغه ډول د ښځو عنعنوي مېله يا د کال د لومړۍ چارشنبې مېله پاى ته رسيږي.

### د ډب کلا مېله:

ډب کلا د کندهار ښار په لس کيلومټري کي واقع ده. يا د کندهار او سپين بولدک د لاري په يوه برخه کي چي د غره کلى ئې بولي سيمي ته نژدې د لويي ويالې يا د (ظاهرشاهي) ويالې په يوه برخه کي د ختيځ لوري ته. نوموړې مېله خاص د اختر په ورځو کي کيږي. دې مېلې ته د پاکستان له لوري غېږبازان لکه د ګلستان او عبدالله خان اڅکزي د کارېز، چمن، بولدک، تخته پول او د کندهار ښار د شاوخوا خلک نوموړي مېلې ته راځي او ګډون پکښې کوي.

د ډب کلا د مېلو مينه وال هم بايد د شالمار د مېله والو په څېر د مېلې په تم ځاى کي وختي لا کمپ يا اتراک ونيسي او خپل ټول ضرورت وړ څيزونه بايد مخکي لا تيار کړي

---

[10] بګۍ: د کندهار خلک د آس و ګاډۍ ته بګۍ وايي.

تر څو ګډه مېله د څو تنو له خوا څخه د يوه اوتراک په نيولو سره تر سره کړي. په دې مېله کي ډېر هغه خلګ ګډون کوي چي د غېږي له لوبي سره مينه ولري او يا هم خپله غېږباز وي. له دې مېلې څخه خپله غېږبازان ډېر خوند اخيستلای سي. برسېره پر غېږ ايستلو په ډب کلا کي د هګۍ جنګولو لوبه هم کيږي. په لومړۍ سر کي هګۍ په کورونو کي ايشول کيږي څو د هګۍ سپين او ژړ ډېر کلک سي، له مايع يا اوبرن حالت څخه جامد حالت ونيسي او هګۍ د ماتېدو په وخت کي له تويېدو څخه وژغورل سي او يا هم دلته هغه هګۍ د جنګولو له پاره رانيسي چي پخوا لا د دکاندار يا خرڅوونکي له خوا څخه پخې سوي وي. د هګۍ د جنګولو په لوبه کي هغه هګۍ د اهميت وړ ده چي ټينګه وي او بله هګۍ په آسانۍ سره ماته کړي. د هګۍ جنګولو لوبه په لاندي ډول سره پيلېږي:

لومړۍ: هګۍ يو د بل سره په غاښ کتل کيږي او دا يوه مناسبه هنري پوهه ده هغه څوک چي ډېره تجربه او يا پرکټس ولري هغه ښه په پوهېدلای سي چي کومه هګۍ ټينګه ده او کومه هګۍ سسته ده. په هر صورت د هګۍ هر درلودونکی کوښښ کوي خپله هګۍ برسېره کړي او د بل هګۍ لاندي کړي چي دا کار هم د هګۍ په ګټلو کي مرسته کوي. نو که د هګۍ جنګولو خلګ چنې سره وهي څو مقابل لورى قانع کړي او هګۍ ئې لاندي راولي. د هګۍ د ګټلو په لوبه کي ډېر چم او چمبازۍ کيږي او که مقابل لورى د هګۍ د جنګولو په فن کي مهارت و نه لري نو فوراً ئې هګۍ ماتيږي، مثلاً: که د مقابل لوري هګۍ لاکي وي يا ئې مصنوعي هګۍ تېره کړې وي او يا ئې هم خپله په شکل کي ټينګه هګۍ د کم سنجاق په وسيله برمه[11] کړې وي په شکل کي داسي معلومېږي چي ګواکي هګۍ ټينګه ده او مقابل لورى هم په دې قانع وي چي د هغه هګۍ ټينګه ده خو په دې صورت کي د برمه کړي هګۍ خاوند خپله هګۍ د مقابل لوري له هګۍ سره اليشوي او د اليشۍ په صورت کي د هغه بل په په سسته هګۍ خپله برمه کړې هګۍ ماتوي.

## لاکي هګۍ:

---

[11] برمه کول: دا د هګۍ چل او ميتود دئ چي خپله هګۍ په ستن يا سنجاق سره سورى کړي.

دا هغه ډول هګۍ ده چې د هګۍ یوې برخې ته ئې نامعلومه غوندې سورۍ ورکړې وي او د هګۍ د سارک[12] خوا ته ئې لاک وراچولي وي. دغسې هګۍ لاکي هګۍ بولي او ماتول ئې ګران کار دئ. په ډېر تکلیف سره څوک په پوهېدلای سي چې نوموړې هګۍ لاکي ده او کله کله هم داسې پېښېږي چې یو دوې هګۍ چې یو ډول رنګونه ئې ورکړي وي یوه ټینګه او بله چې د هغې همرنګه ده سسته وي. لومړی هغه سسته هګۍ ورتېره وي خو کله چې د هګۍ د جنګولو وخت راغی خپله ټینګه هګۍ ورسره جنګوي چې دا ډول د مقابل لوري هګۍ ماتیږي.

په دې لوبه کې تر هر څه دمخه پوهه او هنر او تر هغه راوروسته د لاس چالاکي په کار ده. د هګۍ لوبه د اختر په ورځو کې هم تر سره کیږي او هغه مېلې چې د اختر په ورځو کې تر سره کیږي لکه د ډب کلا مېلې په داسې لوبو کې د اختر هګۍ هم جنګول کیږي. د ډب کلا په مېله کې یوازې نارینه ګډون کوي او ښځې هلته ګډون نه سي کولای او یا یوازې هغه کسان چې د غېږو د لوبو سره علاقه ولري. په نوموړو لوبو کې د ګډون له پاره د ډب کلا مېلې ته ځي. برسېره پر دې که څه هم د ډب کلا په مېلو کې د اتڼ لوبه هم کیږي چې نوموړې لوبه مو د شکل له پاره د شالمار په مېلو کې وڅېړله چې تقریباً په ټولو پښتني سیمو کې د اتڼ لوبه د مېلو او خوشحالۍ په ورځو کې کیږي نو ځکه ئې دلته له بحث څخه ډډه کوو.

## د ډب کلا په مېلو کې د مېله والو خوراکه باب:

د ډب کلا مېله لکه څنګه چې مو وویل یوازې د اخترونو په مېلو کې یا د اختر په ورځو او شپو کې تر سره کیږي، نو ځکه د دې ورځو او شپو د رخصتیو څخه د ګټې اخیستلو په خاطر هم اتراکونه راوتلي وي او ځینې مېله وال په ځانګړې توګه د یوې یا څو ورځو یا څو ساعتونو له پاره په نوموړې مېله کې د ګډون له پاره راغلي وي.

[12] سارک (سرک): د هګۍ دوې برخې جنګول کیږي، یوه ئې د سر برخه ده چې په اصطلاح سارک ئې بولي او بله ئې بېخ دئ چې کونک هم ورته ویل کیږي.

د ډب کلا په مېلو کې پر اوتراکونو برسېره سماوارچيان هم راوتلي وي او خېمې ئې درولي وي او هغه مېله وال چي خپله ډوډی ئې له ځان سره نه وي راوړې او يا د يو څو ساعتونو له پاره مېلې ته راغلي وي هغوی ته چاينکی[13] ورجوړوي او هغه کسان چي د څو شپو او ورځو د تېرولو په خاطر راغلي وي هغوی له ځانو سره پسونه راوستلي او حلالوي ئې څو خپلي شپې او ورځي ورباندي تېري کړي. همدغه راز څرنګه چي د ډب کلا مېله د ښورانداام په شاوخوا کي سر ته رسيږي او د ښورانداام سيمه چي په پخوا کي د دامان علاقه داري وه.اوس اولسوالي ده د زردکو ډېره ښه سيمه ده او دلته ډېري مشهوري خوږې ژړي او توري زردکي پيدا کيږي او په کندهار کي ښوراندامی زردکي (ګازري) ډېر غټ نوم لري چي د ډب کلا په مېلو کي ئې خلک خوري او له مځکو څخه ئې راباسي او بيا ئې پرېولي (مينځي). د ډب کلا په مېلو کي د زردکو مېله هم د خوراکي موادو په جمله کي د يادولو وړ ده. نوموړي زردکي اومې او تازه خوړل کيږي. چي په همدغه ډول سره د ډب کلا مېله پس له درو يا څلورو ورځو څخه پای ته رسيږي.

د ډب کلا مېله هم د شالمار د مېلې په څېر عنعنوي او تاريخي اهميت لري ولي تر دغو مېلو وروسته بيا د ارغنداب د بابا صاحب مېلې چي په اونی کي يوه ورځ کيږي راپيل سوې او خپل ځانګړی اهميت ئې ساتلی دئ. د ارغنداب په مېلو کي ډول ډول لوبې او د ساتېري فولکلوريک دودونه تر سره کېدل چي د بابا صاحب دربار ئې نور هم ګرم کړی دئ او نوموړی زيارت او شاوخوا ئې پر مذهبي دودونو برسېره د لوبو او ساتېريو ټاټوبی هم ګرځولی دئ. په دې بيان کي به موږ د هغه وخت ډله ايزي لوبې او د مېلو پر پيلېدو باندي رڼا واچوو.

## په بابا ولي عليه الرحمه کي عنعنوي لوبې:

---

[13] چاينکی: د پسه غوښې په سماوارکي پر نغريانو او د سکرو پر انګار باندي داسي پخوي چي نوموړي غوښې د چايو په چاينکه کي اچوي او پر انګار ئې ايږدي. څو هغه غوښې ئې پخې او اوبه ئې بيا د ښوروا په څېر استفاده سي، دې ته په اصطلاح چاينکی وايي.

څه وخت چې د کال د لومړۍ چارشنبې د ښځو مېله سر ته ورسېده نو بابا ولي چې په بابا صاحب باندي مشهور دئ د نارینه وو د هفته وارو مېلو له پاره پاته کیږي او د هغې سیمې د شنو باغونو او بې شمېرو جوشونو او ابشارونو څخه په آزادانه توګه نارینه مېله وال ګټه اخلي. د ویالو پر غاړو ګرځي، د غرونو د شنو باغونو او غټو غټو درختو (ونو) تر سیوري لاندي ګرځي، تفریح او ساتېرى کوي. ځیني مېله وال بیا په غټو غټو ویالو کې لمبیږي یا آب بازي باندي ځانونه خوشحاله کوي.

په هر صورت نوموړې په زړه پوري سیمه یوازي د لوبو او ساتېریو ټاټوبى نه سو ګڼلاى، بلکي و نوموړي سیمې ته تګ یو مذهبي او عقیدوي اړخ هم لري. دا ځکه چې د بابا صاحب لوړ شخصیت ته د کندهار پرګنې ډېر احترام لري او درناوى ئې کوي. د باباولي صاحب تاریخي ایتنوګرافي محمدولي زلمي د خپل کتاب (کندهار) په ۱۷۰ مخ کي داسي څېړلې ده:

باباولي علیه الرحمه چې د سبزوار (شین ډنډ) له سیدانو څخه دئ. نوم ئې بابا حسن ابدال دئ. ډېر بزرګوار شخصیت دئ. د سیند پر غاړه پر یوه کوچنوټې تپه ښخ دئ. په ۹۲۰هـ ق کال په کندهار کي وفات سوى دئ او بیا د ارغنداو رود پر غاړه خاورو ته سپارل سوى دئ.

اوس ئې نه یوازي د کندهار پرګنې بلکي د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه خلګ د مېلو او زیارت له پاره راځي او خپل مرادونه ځني غواړي. هر څوک چې نوموړي سیمې ته د مېلو او ساتېري له پاره راځي دود او دستور داسي دئ چې مېله وال د مېلې تر پیلولو مخکي لومړى زیارت ته ځي او د زیارت کولو دود او دستور تر سره کوي او کله چې ئې مېله پاى ته ورسوله بیا نو په اخیر کي یو ځل بیا زیارت ته ځي او زیارت کوي چې په نوموړي ډول او دود سره مېله پاى ته رسوي. د زیارت دود د مېلې په پوره کولو کي مهم اړخ دئ.

په بابا صاحب کي د نارینه وو مېله عموماً د رخصتیو په شپو او ورځو کي پیلیږي چې د جمعې شپې یا ورځي اکثراً د مېله والو د ډلو څخه د ارغنداب کوڅې او باغونه ډک وي. په دغو مېلو کي د مېله والو له خوا ډول ډول لوبي کیږي، دلته به هره یوه تر جلا جلا عنوان لاندى مفصله وڅېړو:

**۱. د دورنه خط لوبه:**

دا لوبه داسي پیلیږي: پر مځکه باندي یو ګردی خط د یوې دایرې په څېر انځوریږي او تقریباً د څلورو او یا پنځو مترو پر شاوخوا ساحه نومورې خط کښل کیږي. لوبغاړي د دوو ډلو په وېشلو سره یوه ډله د پنځو یا اوو نفرو په شاوخوا کي دننه دایرې ته ورننوزي او نور پنځه یا اووه نفره دورنې په لاسونو کي اخلي او لوبه پیلوي. مخکي تر دې چي لوبه پیل کیږي دورنې اخیستونکې ډله چي ګټلې ډله ده لوبه په وچه لنده[14] سره وایي، هري خوا چي وګټله هغوی دورنې اخلي.

په دورنه خط کي دود داسي دئ چي د دوو نفرو له خوا څخه چي میرا ورته وایي یعني هر نفر ئې د خپلي ډلې مشر دئ هغه وچه لنده سره کوي او په پای کي هغه ډله چي دورني ئې واخیستلې دورنه په راسته لاس کي داسي تر ملا راتاووي چي بل سر د دورنې په چپه لاس کي نیسي او د یوې غټي نارې په کولو سره (وهه ئې نه درغورځي) د دورنې سخت واري پر مقابل لوري کوي او بیا په ډېر مهارت سره ځني تښتي او هر نفر د دغې ډلې څخه نور نفر په دورنو سره وهي څو بل لوري ته لوبه ورانتقالیږي او یا هغه ته د دوی نوبت ورسیږي.

د دورنې خط ځانګړي اصول لري چي تر هغو اصولو تېرېدل د دورنه خط په لوبه کي غلطي کول یا درواغ کول دي نو په ځانګړې توګه د دورنې لرونکي د اوو نفرو څخه هر نفر چي په مقابل لوري کي په دایره یا خطه کي وي هغه تر ځنګون کښته په دورنه باندي وهي او لوړ تر ځنګون وهل غلطي ګڼل کیږي. نو هر لوری کوښښ کوي چي غلطي و نه کړي.

همدغسي مقابل لوری چي په خط یا دایره کي دننه دئ هغه هم څه وخت چي د دورنې واری پر کیږي په دې وخت کي بې له دې څخه چي تر دایرې پښه واړوي باید هغه له خط څخه را ودې خوا ته د دایرې و لوري ته باید د دورنې خاوند په لغته سره ووهي.

---

[14] وچه لنده: د لوبي په دې دود کي ډېره لندوي او لوړه ئې غورځوي یوه ډله لنده خوا اخلي او بل وچ اړخ نو که د هر چا پر طالع برابر سو نو هغې خوا لوبه ګټلې ده.

که ئې په دننه دایره کې وکولای سوای چې د دورنې خاوند په لغته ووهي نو لوبه مقابل لوري ته ورانتقالیږي او مقابل لورى د میدان و دایرې ته ورننوزي او لوبه بیا پیلیږي.

په کندهار کې د دورنه خط لوبې ته شاوخوا خورا ډېر نفر ولاړ وي او د خلکو د ډېري میني وړ لوبه ده. عموماً د دوو کوځو تر منځ نوموړې لوبه کېږي. او سخت سیالي یو د بله سره لري چې عموماً د رخصتی په ورځو کې په باباولي علیه الرحمه کې د دورنه خط لوبه کوي. تر اوسه پورې د کندهار د ده خواجې پهلوانان ډېر نامتو او غښتلي ګڼل سوي دي او همدغسې د برو دروازې پهلوانان هم نامتو ګڼل کېږي.

د دورنه خط په لوبه کې ډول ډول دورنې استعمالیږي یعني هم ډېري کلکي او هم پستې وي. پستې دورنې ئې له لنګوټې څخه جوړوي چې چندان څوک نه په خوږیږي او کلکي یا سختې دورنې ئې په ډېرو غټو او د سیالیو په لوبو کې استعمالیږي چې له رسیو یا تناوو څخه جوړیږي او لوبه په کوي. د ارغنداب یا باباصاحب په مېلو کې له کلکو دورنو څخه ډېره ګټه اخلي.

په دورنه خط کې هغه څوک ډېر بریالی دئ چې د دورنې د وهلو سره سم ئې کاټی واټی زده وي، مقابل لورى ئې په لغته و نه وهلای سی او ځانګړې چالاکي په دې لوبه کې ولري.

د بابا ولي په مېلو کې بله دپام وړ لوبه خوسی دئ.

**خوسی:**

په کندهار کې څرنګه چې هوا توده ده نو دغه لوبه په عمومي ډول د غټ ماځیګر او ماپښین د یخو ونو تر سیوري لاندي کېږي. د لوبو د اجراء کولو ترتیب ئې داسي دئ:

د دوو ډلو لوبغاړي او میران یا د سر خانان سره ولېږي او هره ډله ځانته ملګري او د سرخان پیدا کړي او بیا یوه ډله خپل ځان ته د خاورو څلی د کلا په نوم جوړ کړي او یو نفر ئې ساتنه کوي. هغه نور ملګري چې د مقابلې خوا یرغل د کلا د ورانولو له پاره شروع سي په مقابله ورسره لګیا وي او هغه وخت مدافعه کوونکی مغلوب ګڼل کېږي چې کوټه ورانه کړي. په دې لوبه کې د ښي پښې بټه ګوته چې د شا د خوا ئې په کیڼ لاس نیولې ده ځني ایله سي نو لوبه هغه وخت پای ته رسیږي چې د کوټې محافظ هم په دې

توګه پوچ کړه سي او د لوبي وړل هغه وخت اعلانیږي چي درې ځله د مقابلي خوا د خاورو کوټه ورخرابه کړي محافظه ئې پوچ کړی.

په خوسي کي کله کله هغه ساتونکی چي د کوټي د ساتلو دنده لري هغه که په لوبه کي پوچ کړه سو نو لوبه د مقابل طرف یا لوري په ګټه سره پای ته رسیږي او نوموړی ساتونکي ته غوا هم وايي او پوچول ئې د غوا وهل دي. نو کوښښ کیږي چي ساتونکی یو قوي او غښتلی سړی وي.

## د بابا صاحب د مېلو په وخت کي د خوراک څېزونه:

څنګه چي نوموړي مېلې د پسرلي په موسم کي تر سره کیږي نو په همدغه خاطر سره ډېري مېوې نه وي. د خوراک په څیزونو کي د کاهو مېله د یادولو وړ ګڼل کیږي چي شرحه ئې په دې ډول سره ده:

لومړی د کاهو شنه بلګونه (شنې پاڼي) پرې کیږي او ژړ ژړ بلګونه ئې پاتیږي او هغه پر یوه غټ د تختو پر تخت باندي په چپه ډول داسي ایښوول کیږي چي سر ئې لوړ او نوري پاڼي ئې کښته وي او خپله کاهو پر خپلو پاښو باندي سرچپه ولاړ وي. هره شېبه اوبه پر اچول کیږي او تازه ئې ساتي. د کاهو په منځ کي سره بوتلان د شکنجبینو هم پراته وي او کاهو پلورونکی نارې وهي: بره کاهو راورسېدل بره کاهو راورسېدل. نو بیا خلک پر نوموړي تخت د خپلو نورو اندیوالانو سره کښېني او د شکنجبینو سره کاهو خوري چي نوموړي کاهو او شکنجبین ډېر خوند سره لري.

هلته کاهو په ترازو یا تله سره نه پلورل کیږي بلکي د غټ او کوچني کاهو د ځانګړني پر اساس ګران او ارزانه کاهو په بېلابېلو قیمتونو سره پلورل کیږي. کاهو تل د ویالو پر غاړه باندي پلوري. په دې چي تازه تازه اوبه پروشیندي او لنډ پرېولل سي. نوموړې د کاهو د خوراک یا پلورلو مېله د بابا صاحب او نورو مېله تمځایونو کي ډېر د خوند مېله وي او د تفریح او مېلې پر خاطراتو باندي ډېره مهمه اغېزه لري.

د کاهو پر خوراک برسېره په بابا صاحب کي د نخودو رانیول او پلورل هم په ډېره پیمانه سره دود لري. د کندهار نخود پلورونکي چي لومړی په یوه کپه کي چي له لوخو څخه جوړه سوې وي د نخود څخه ډکه وي او د مېلو د ګڼي ګوڼي ځای ته ئې راوړي او هلته نارې پر وهي چي : "پوله پوله نخود راورسېدل." په دغه ډول نوري نارې هم په دغه

وزن او قافیه سره وهي. نومورې نخود د یوه کوچني ترازو په وسیله پلورل کیږي چې د کندهار د دود او دستور پر اساس د نومورې ترازو ډبرې یا کاڼي چې سیر(خورد) ورته وایي او د کابل له سیر څخه په ډېره پیمانه توپیر لري، یعني د کابل خورد زموږ د کندهار په اصطلاح سیر ګڼل کیږي. د همدغه سیر د کندهار یا د کابل خورد په نوم کاڼی په اساس نخود پلورل کیږي او خلک ئې د ساتېري نخود په نوم سره یادوي چې خپله نخود پلورونکی هم د پلورلو په وخت کي د پوله پوله نخودو سره یو ځای د ساتېري نخود په نوم هم په دې ډول سره نارې وهي: "ساتېري نخود راورسېدل، ساتېري ..."

د باباولي د مېلې په تمځای کي بل هم د ماهیانو، سنبوسو او چوغوکو پلورلو دود او دستور سته چي نومورې څیزونه هم د مېلې وکړي ګوني ځای ته په کپو کي راوړل کیږي. ماهي، سنبوسه او چوغکي پلورونکي مجمه پر سر باندي اخیستې وي او نارې ئې په دې ډول سره وهي: "ماهیان چوغکي راورسېدل" او بیا په دوهمه ناره کي بیا وایي: "سنبوسې چوغکي" تکرار ئې داسي دئ: "تازه ماهیان او چوغکي او تازه تازه راورسېدل ... او داسي نور ...

خلک نومورې څیزونه د دودونو او دستورونو په ډول خوري څو له مېلې څخه ئې خوند اخیستی وي. نومورې هفته واره او د اونۍ مېلې بیا هم د ماځیګر په وخت د زیارت په کولو سره پای ته رسیږي.

### په خواجه خضر زنده حیات کي د هندوانو د مېلې تم ځای:

د هندو ملیت یو شمېر کورنۍ چي د کندهار د کابل بازار او ښکارپور یا ښکاپر بازار په سیمه کي مېشتي دي خپل د مېلې ځانګړي تمځایونه لري چي یو هم له هغو څخه د خواجه خضر زنده حیات په نوم یادیږي.

خواجه خضر زنده حیات چي د کندهار د سرپوزې جنوبي لوري ته پروت دئ تر زاړه ښار لاندي ډېر شنه او سمسور باغونه سته. د اوبو ډېري مستي ویالې پکښې بهیږي. دلته د هندوانو خپل ځانګړي باغونه او ملکیتونه سته چي په همدغه سبب ئې د مذهبي دودونو د سر ته رسولو سیمه هم ده.

هندوان برسېره پر دې چې د کندهار پښتنو ورونو سره په ګډو مېلو کې ګډون کوي خو د خپلو ځانونو له پاره هم ځانګړي ځایونه لکه خواجه خضر زنده حیات غوندي ټاټوبي لري. هندوان خپلو مېلو ته د خپلو ځانونو سره شېریني راوړي او خپله ډوډۍ په کورونو کې پخوي او بیا ئې په خپلو باغونو کې خوري. هندوان خپلو مېلو ته په اونۍ کې یوه ورځ د جمعې یا جمعې په شپه راځي چې په نومړو مېلو کې نارینه او ښځې ګډې مېلې کوي. په نومړو مېلو کې هندوان پر نورو لوبو برسېره د چوب بازۍ په نوم لوبه چې لرګي غورځونه هم ورته وېلای سو ډېره کوي او نومړې لوبه ئې دومره له کیفیته ډکه لوبه ده چې پښتنو ته هم ورانتقال سوې ده. په نومړې لوبه کې د چوب بازۍ ټول ګردچاپېر سره درېږي او د پښتنو د ملي اتڼ په څېر شاوخوا راګرځي. ولې په دې وخت کې له دوی څخه په دواړو لاسونو کې لرګي وي او په ډېره درست او منظم ډول سره یو د بل لرګي په داسي ډول سره وهي چې یو ړغ یو آهنګ تولید او څرګند کړي او د موسیقۍ د یوې ښې نغمې په څېر خوند او کیفیت څرګندوي. په نومړې لوبه کې د لرګي غورځولو په وخت کې کله کله ټول نارینه ګډ ولاړ وي او کله کله هم ټولې پېغلې نجوني وي. خو کله کله داسي هم لیدل کیږي چې نارینه او یوه ښځه لرګی سره وهي او ګردچاپېره سره ولاړ وي. زموږ د کندهار هستوګنه کوونکي نومړي لرګي غورځوونکي لوبي ته د دوی د سیل له پاره ورځي او د خواجه خضر زنده حیات په سیمه کې د هر راز مېوو وني سته. غټ غټ لښتي (ویالې) پکښې بهیږي چې د سیمې د ښکلا پر زیاتوالي ښه زیاتونه ده. د لیرو او نژدو څخه د غرونو څوکې څرګندیږي. د ډول ډول مرغانو اوازونه اورېدل کیږي او د مېلې شور او زوږ شاوخوا سیمه نیولې وي. په نومړې سیمه کې د هندوانو شخصي باغونه دي، ولې باغوانان ئې ټول مسلمانان او د کندهار اوسېدونکي پښتانه دي او د دود او دستور پر اساس یا د مذهبي دودونو په وجه دوی د هندوانو هیڅ ډول مېوه او لرګي یا نور څیزونه د هغوی له اجازې پرته نه اخلي او غاړې نه په بندوي.

باغوانان عقیده لري چې هندوان کافران دي او د کافر حق باید مسلمان و نه خوري. نو د همدغه دود په لرلو سره مسلمانان او هندوان ډېره ښه ګذاره سره کوي او څه وخت چې په اصطلاح د باغونو مالک باغ ته راننوزي او یا د مېلې په دود باغ ته راځي نو باغوانانو ټول څیزونه مخکې لا ورته تیار کړي وي او هندوان په خواجه خضر زنده

حیات کي د ماځیګر تر لمر لوېدو پوري مېله کوي او په همدغه ډول ئې د مېلې دود او دستور د مذهبي رواجونو د اجراء کولو څخه وروسته سر ته رسیږي او د خپلو کورونو پر لور روانیږي.

# په کندهار کي ډله ایزي لوبي

موږ څه ناڅه د مېلو تمځایونه وڅېړل. دا هغه مېله ځایونه ول چي د کندهار په ښار او شاوخوا کي ئې مېلې تر سره کېدې او اوس ئې تقریباً د پخوانیو مېلو د دودونو او دستورونو په څېر نومونه پاته دي. د دې له پاره چي له منځه نه وي تللي نو موږ ئې هغه عمده او اصلي ټاټوبي په ګوته کړل. اوس به هغه لوبي چي په کندهار کي په ډله ایزه توګه بې له مېلو له تمځایونو څخه تر سره کېدې د کوڅو او مامتو[15] په ټاټوبي کي وڅېړو. د بېلګي په توګه لاندي لوبي:

د سپیانو جنګول یا سګواني، چرګان جنګول، د زرکو جنګ، ځغاسته، غورځېدنګ یا ټوپ وهل، د هوایي مرغک لوبه، دوهم: توپ ډنډه یا توپ لنډه، دریم: بجلي، څلورم: مردکي، پنځم: کاغذباد، شپږم: الاداد، اووم: په انګورو کي، پټېدنګی، ړوند چرګ، اناګۍ، لپانکی، ټنډه خره او داسي نوري لوبي سته چي ډېري نامتو ئې پورته وویل سوې.

## لومړی - هوایي مرغک:

نوموړې لوبه عموماً د ماځیګر په وخت کي تر سره کیږي. د دې علت هم دا دئ چي په دې وخت کي هوا برابره وي او په نوموړې لوبه کي د لوبي کېوون کوونکي خولې کوي نو ځکه د نوموړي لوبي وخت په دوبي کي د ماځیګر وخت ټاکل سوی دئ.

باید یادونه وکړو چي نوموړې لوبه اصلاً د ژمي په شپو او ورځو کي تر سره کیږي. د دې علت دا دئ لکه مخکي چي مو وویل نوموړې لوبه ډېره قوي لوبه ده او ډېره انرژي

---

[15] مامتې په کندهار کي هغو شنو ورشوګانو ته وایي چي هلته پر هوارو میدانونو سرېبره شین چمن یا شنې شپیشتي کرل سوي وي، ولي هلته مېلې هم تر سره کیږي او هلکان د ساتېریو له پاره هغو ورشوګانو ته ورځي.

مصرفوي او بل علت ئې دا دئ چي په دې وخت کي يعني د ژمي په شپو او ورځو کي د ښوونځي هلکان رخصت وي. نو د ژمي فصل د دې لوبي له پاره په زړه پوري وي.

په دې لوبه کي ډېر کسان يا غړي کولای سي ګډون وکړي. د يوه پراخ ميدان په بېلابېلو اړخونو کي دريږي. په دې لوبه کي هر څوک ځانګړې مسئوليت او صلاحيت لري، ولي د ميدان په يوه برخه کي يو نفر چي توپ او ډنډه ئې په لاس کي وي او د خپلي برخي د معلومولو له پاره ئې يوه کرښه هم کښلې وي و کرښي ته نژدې ګيند يا (توپ) په ډنډه يا هغه لرګي چي په لاس کي ئې دئ وهي. ګيند لوړ ځي او بيا کښته راځي چي د راتګ په وخت کي يو څوک د ميدان د لوبو کوونکو څخه بايد پيدا سي چي نوموړی ګيند په هوا کي داسي ونيسي چي مځکي ته و نه لوېږي، نو لوبه د ده په برخه ده او د کرښي لوري ته ورځغلي او ډنډه او ګيند اخلي. نوموړی نفر هم په دغه ترتيب لوبه پيلوي.

د هوايي مرغک په لوبه کي که چيري ګيند يو خېز پر مځکه ووهي او پس له هغه ئې لوبه کوونکی ونيسي نو په دې صورت کي ويل کيږي چي خېزک صحيح دئ که نه؟ يعني د لوبه کوونکو په موافقه دا دوه ډوله هوايي مرغک کيږي.

**دوهم - توپ ډنډه يا توپ لنډه:**

نوموړې لوبه هم د ژمي په موسم کي تر سره کيږي او سټرې کوونکې لوبه يا سپورټ دئ. د دې لوبي کوونکي لوبغاړي ډېري خولې کوي چي حتی کله لوبه کوونکي پهلوانان خپل کالي هم کاږي او د توپ لنډې لوبه کوي. پيل په دې ډول سره کيږي:

لومړی دوه نفره چي د ډلي مشران او ښه لوبه کوونکي پهلوانان وي د نمايندګانو په توګه ټاکي. دغو دوو تنو ته ميران يا مشران وايي. وروسته نور هلکان يو او بل سره جوړه خوښوي خو کله چي ئې يو د بله سره خوښ کړل بيا خپلي دوې ګوتي و ميراګانو ته نيسي او هغه بې له دې څخه چي وپوهېږي کومه ګوته د کوم نفر انتخاب ده يوه ګوته ئې غواړي. دغه کار ته لېږل وايي. لېږل هغه وخت کيږي چي ميراګان په خپل منځ کي د هلکانو پر خوښولو جوړ رانه غلل، يعني په دوو نفرو کي يو غټ او بل کوچنی وو نو په دې صورت

کې نوموړي دوه نفره يو له بل سره په اصطلاح لېږي[16] او د لېږلو دود او دستور ئې داسي دئ چې:

نوموړي دوه هلکان او لوبه کوونکي خپل مخونه اړوي او يو د بل په غاړه کې لاسونه اچوي او بې له دې ځخه چې څوک ئې ووينې پټ دوې ګوتي سره نيسي يعني د خپل مابين غټه ګوته او د شهادت ګوته سره نيسي او بيا بې له دې ځخه چې مشر يا ميرا خبر واوسي هغه يو نفر د ګوتي په اساس انتخابوي. نو بخت او طالع چې هر نفر ورغی ورغلی به وي. وروسته لوبه په وچه لنده سره وايي او هري ډلي چې لوبه وګټله هغه ګيند او ډنډه اخلي او نور نفر د ميدان په شاوخوا کې سره تيت او پرک پر خپلو هغو ځايونو باندي دريږي چې مشر يا ميرا ئې ورښيي.

وروسته له هغه چې بازي پيل سوه نو ميرا د خپلو نفرو د يوه طرف يا لوري ته د درولو له پاره خپل ځای معلوموي او يوه اوږده کرښه کاږي نو بيا د يوه نفر په لاس ډنډه ورکوي چې ګيند په ووهي، ګيند وهل کيږي او لوبي ګټونکې ډله هر يو د درو توپو يا درې پلا توپ وهلو حق لري چې ګيند په ډنډه ووهي. کله چې ئې د لوبي په شروع کې ګيند په ډنډه ووهی مقابل لوری کوښښ کوي چې ګيند په هوا کې ونيسي که چيري ئې ګيند په هوا کې ونيوی نو لوبي ګټونکی د خپلو درو نوبتونو ځخه چې د ګيند وهلو ئې لري محرومه کيږي او خپل درې سره نوبته چې ئې تېر کړل بايد په دريم يا اخيرني نوبت باندي له کرښي ځخه تېز وځغلي و هغه مخامخ لوري ته چې پخوا لا د ډبرو يا خاورو په وسيله نښاني سوی وو، نو د نوموړي لوبي کوونکي د ځغستلو په وخت کې بايد د مقابل لوري لوبه کوونکي د ځغاستي خاوند يا د تراټي[17] خاوند بايد په ګيند باندي وولي يا وويشتل سي. نو په همدغه ډول ځه وخت چې له کرښي ځخه دباندي راووتی نو مقابل لوری هم کوښښ کوي چې ګيند يو او بل ته داسي وروغورځوي تر څو د تراټي وهونکي خوا ته ئې ورنژدې کړي او هغه په داسي ډول وولي چې ګيند خطا ولاړ نه سي او يا ئې په لاس کې ځني ټينګ

---

[16] لېږل: که چيري دوه هلکان خپلي دوې ګوتي د ميدان مشر ته ونيسي او ځانونه په دې ډول د دوو ډلو پر ميراګانو باندي انتخاب کړي، و دې انتخاب ته لېږل ويل کيږي.

[17] تراټي: په کندهار کې ځغستلو ته تراټي ويل کيږي، نو که په نوموړې لوبه کې چا تېز وځغستل نو ئې تېز تراټی بولي.

و نه نيسي. يعني چکه ئې نه کړي. تراټي وهونکی کوښښ کوي چي ګيند ته شا ور و نه ګرځوي او د ګيند له ويشتلو څخه داسي نجات پيدا کړي چي ځان يو اندازه کړوپ کړي څو داسي ځان کوچنی کړی چي ګيند پر و نه موښلي او خپل دوه لاسونه د مخ لوري ته ور نژدي کوي. که چيري مقابل لوری په دې بريالی سو چي د تراټي خاوند وولي نو په هغه صورت کي لوبه ورانتقاليږي او که ګيند خطا ولاړی او پر ده باندي و نه موښتی نو طبعاً بايد ګيند ليري ولاړ سي نو په دې وخت کي دوی کوښښ کوي چي ولاړ سي تر خپله خطه پوري ځان راسي. دې ته په اصطلاح کي پوخ وايي يعني دی بيا هم درې ګينده وهلای سي او يا خپل امتياز ئې بيرته تر لاسه کړی او که چيري د تراټو په وخت کي د مقابل لوري څخه په ګنيد باندي وويشتل سو نو و دې ته په کندهار کي په اصطلاح پوچ ويل کيږي چي په همدغه صورت کي نو د ټولو لوبه بدليږي او لوبه د مقابل لوري په ګټه تغير خوري او ډنډه او ګيند مقابل لوری په لاس کي اخلي.

تر ګيند وهلو وروسته د ډګر لوبه کوونکی يو او بل ته ګيند ورغورځوي يعني (پاس ورکوي) څو دغه لوبه کوونکی چي ځغلي هغه ته ګيند ورنژدې کړي او هغه بې له دې چي ګيند په لاس کي ځنې ونيسي هغه په وولي.

د ګيند د وهلو امتياز د لوبه کوونکو تر منځ توپير کوي يعني د لوبي د ډګر ميرا يا مشر پنځه نوبته لري چي ګيند ووهي او نور عادي غړي درې درې نوبته لري او ميرا د لوبي په آخر کي چي د نورو غړو نوبت ئې تېر سو ګيند او ډنډه اخلي او په خپل ټول قوت سره ګيند داسي په ډنډه وهي چي تر ډګر ئې واړوي او په همدغه خاطر بايد د لوبي مشر يا ميرا ډېر ښه توپ وهونکی واوسيږي او تر نورو باقوته وي.

همدغسي د (توپ لنډي يا توپ ډنډې) په لوبه کي د لوبي ګډون کوونکي نه سي کولای چي هر لوري ته چي زړه ئې وغوښتی ګيند ارتاو[18] کړي، يوازي کولای سي چي مخامخ ګيند ارتاو کړي. که ئې قصداً د بغل پر لور ګيند ارتاو کړ نو په دې وخت کي د نورو ملګرو او لوبه کوونکو له خوا څخه تر انتقاد لاندي راځي او د نومړي نوبت سوځي او په همدغه


---

[18] ارتاو: د کندهار په پرګنو کي ارتاو اصطلاح د غورځولو په معنی سره ده، نو که يو څوک و بل چا ته ګيند يا بل کوم څيز غورځوي نو د ارتاو اصطلاح کاروي.

ډول د میدان یا ډګر دواړو خواوو ته کرښې یا خطونه کاږي او د لوبې سیمه معلوموي. په همدغه ډول لکه چې پورته څرګنده سوه د توپ لنډي لوبه له یوې ډلې څخه و بلې ډلې ته ورنقلیږي او په دې توګه د توپ لنډي لوبه پای ته رسیږي.

## دریم - د بجلو کولو لوبه:

نوموړې لوبه هم په کندهار کې د ډله ایزو لوبو په جمله کې راځي. یاده لوبه په خپل ځان کې ډېر ډولونه لري چې هر ډول ئې له بل ډول څخه بېل او توپیر لري. د بېلګې په توګه د بجلو له لوبو څخه د شوکیلال لوبه او ایر خط، شکشکه، دوګی، سې سې، سې خر، ګندکه چې دا ئې د لوبې مهم ډولونه دي چې موږ به ئې په ډله ایزو لوبو کې وڅېړو.




## شوکیلال:

په دې لوبه کې تر هر څه مخکې دوه یا درې نفره لوبه کوونکې لومړی یوه ګردی دایره کاږي او د دایرې په منځ کې یوه نری کرښه بله هم داسې باسي چې ډېره اوږده نه

وي او بیا وروسته په یوه اندازه او تعداد بجلي برسېره پر خط ایږدي او لومړی هغه څوک پر بجلو باندي وار کوي چي لوبه ئې د وچه لندي په وسیله ګټلې وي او نوموړی نفر چي پر بجلو باندي وار کوي هغوی په عادي بجلو باندي وار نه کوي بلکي د ارغوند په وسیله چي نسبتاً غټه بجله وي او یا ئې نوموړې بجله د سرپو په وسیله ډکه کړې وي څو وزن ئې دروند سي او پر خط باندي پښه نیسي او په ډېر زور سره پر بجلو باندي د ارغوند په وسیله وار کوي څو وکولای سي چي بجلي له میدان څخه وباسي، نو هغه بجلي چي د ارغوند په وسیله له میدان څخه ووتلې نو بیا کولای سي چي پر هغو بجلو باندي چي د لومړي وار په وسیله ئې تیت او پاشلي دي بیا واری وکړي که ئې بجله وایستله د بل واري چانس هم لري که ئې و نه ایستله نوبت و بل نفر ته رسیږي څو په همدغه ډول ټولي بجلي له میدان څخه وباسي.

## ایرخط:

دا لوبه هم د بجلو له لوبو څخه ده چي د شوکیلال په څېر یوه کوچنۍ دایره کاږي ولي په دې ډول لوبه کي په ناستي سره لوبه اجراء کیږي. نوموړې لوبه په څو تنو سره اجراء کیږي. په دې لوبه کي څوک یوه بجله اچوي څوک دوې یا درې بجلي اچوي او ډېری یو ځای سره کښېني او ټولي بجلي پورته غورځوي نو د هر چا بجلي چي شکي سوې بیا په هغو شکو سوو بجلو کي چي د هر چا بجله آس[19] ودرېده نو هغه نوري بجلي چي خر[20] ولاړي وي هغه ټولوي یا ګټي. که چیري په میدان کي آس نه وو ولاړ نو هغه بجلي چي خر ولاړی وي هغه ټول موړان ټولوي. ولي چوک نه سي ټولولای، آس هم خره ټولوي او هم چوک ګټلای سي. ولي مړ نه سي ټولولای او ګټلای. ځکه خر بیا چوک نه سي ټولولای نو په همدغه ډول خر مړونه ټولوي، آس هم چوک او هم خره ټولوي او نوري بجلي چي پاته

---

[19] آس: د بجلو په لوبو کي هغه بجله چي داسي ودریږي چي ډبې ډبې اړخونه ئې سر سر وي نو په اصطلاح سره وایي: "آس ده زما بجله."

[20] خر: د بجلي داسي درېدل چي هغه ښوی طرف ئې پر سر وي نو خر ورته ویل کیږي.

کیږي هغه په داسي ډول سره ولي چي له ایرخط څخه ئې وباسي نو هغه بجله ئې هم ګټلې ده چي له ایر خط څخه ئې دباندي ایستلې ده.

**شکشکه:**

نوموړې لوبه هم د ناستي له لوبو څخه ده. څو کسه بجلي سره اچوي او لوړي خوا ته بجلي غورځوي نو په دې بجلو کي هره بجله چي شکه سوه یا ودرېده نو نوري بجلي ئې ګټلي دي په دې خاطر چي د لوبي کوونکي بجله شکه سي نو لوبه کوونکی کوښښ کوي چي خپله بجله شیته کړي. یا خپله بجله داسي وتوړي چي هغه خوا ئې ښه پیته سي او ژر ودریږي. دا ډول بجلي ته په اصطلاح شیته بجله وایي. شیتي بجلي د لوبو په ځینو میدانو کي پریږدي او په ځینو میدانو کي ئې نه پرېږدي او د دې کار سره لوبه کوونکي خپل مخالفت کوي.

**دوګی:**

نوموړې لوبه هم په ډله ایزه توګه د دوو یا ډېرو کسانو سره کیږي. هغوی بجلي سره یو ځای کوي او لوړي ئې غورځوي چي په دې توګه د هر چا بجله چي شکه ودرېدله که خر ولاړه وه نو موړان ټولوي او چوکان نه سي ټولولای، هغه هم ولي څو هغه هم پر دغه بله خوا راواړوي که ئې پر بله خوا راواړوي نو هغه بجله ئې هم وګټله او که ئې وانه ړوله او یا خطا سوه نو په دې صورت کي نوبت مقابل لوري ته رسیږي. په دې ډول که آس ودرېدله نو بیا هم چوک طرف بجلي ګټي او مړ[21] ولي څو هغه هم چوک[22] راواړوي او وئې ګټي.

**سې سې:**

---

[21] مړ: که چیري بجله پر هغه بغل پرته وه چي پرسېدلې معلومېده، نو د بجلو په دود او دستور کي مړ ورته ویل کیږي.

[22] چوک: که چیري پر هغه بغل باندي بجله پرته وه چي ژوره خوا ئې سربېره معلومېده نو چوک ورته ویل کیږي.

دا د ناستې لوبه ده، څو کسه څنګ پر څنګ سره کښېني او نومورې لوبه کېږي. دا لوبه عموماً د مېلمستياوو په شپو او ورځو کې کېږي. دا لوبه د کوچنيانو له پاره ډېره په زړه پورې ده. په دې لوبه کې ټول کوچنيان يا لوبه کوونکي د کور په يوه خونه کې يو ځای کېږي او په خپل منځ کې دا لوبه کوي. لوبه داسې پيلوي: لومړی درې دانې بجلۍ چې تقريباً په يوه اندازه او ډول وي رااخلي او پر ميدان يا د لوبې پر ځای ئې ګېلوي. د نومورې لوبې بجلۍ عموماً د هوسۍ د پښو بجلۍ وي چې په کندهار کې ئې په اصطلاح سوچيان بولي. نومورو سوچيانو ته په کندهار کې د سې سې بجلۍ هم وايي. دا ځکه چې د سې سې بجلۍ عموماً په يوه اندازه وي. نومورې بجلۍ د لوبې په وخت کې د ميدان له يوه سره څخه ګېلوي او هغه وخت چې درې سره بجلۍ يو ډول يا پر يوه خوا باندې شکې سوې نو د هغه نفر سې سې راوخته. يا وايو چې سې سې ئې راوسته. څو بيا بل نفر ته نوبت ورسيږي. که چيرې دوې بجلۍ شکې او يوه ئې غوځاره وه نو په دغسې صورت کې ئې سې سې نه ده راوستلې، نوبت بل لوبه کوونکي ته ځي او هغه ئې ګېلوي. د ګېلولو په وخت کې دغه منظومه اصطلاح ورسره وايي: «سې سې! که به راځې، د پلانکي[23] پر تالې». د لوبې په سر کې ئې سر ټاکلی وي، مثلاً پنځوس يا سل. هر چا چې سې سې راوسته هغه نفر تر دېرشو پورې آسونه، خره، مړان يا چوکان راوستل نو په دې څلورو صورتونو کې هغه مير يا پاچا ګڼل کېږي. په کندهار کې د دې لوبې سره مير نه يادوي بلکې پاچا ئې بولي، څوک چې پاچا سو هغه پر نورو امر کولاس سي، تر مير وروسته چې دوهم نفر ډېرې سې سيوي راوستلې هغه هم وزير او دوهم نفر ګڼل کېږي يا ئې هم د پاچا مرستيال بولي.

دا لوبه د کندهار تر ښار دباندې په کليو او بانډو کې هم رواج لري. د دې لوبې مينه وال اکثر کوچنيان او واړه ماشومان وي، چې عمرونه ئې تر لسو کالو پورې وي تر دغه عمر غټان نومورې لوبه نه کوي. کله چې د يوې کورنۍ غړي په بله کورنۍ کې مېلمانه وي نو د کوربه کورنۍ کوچنيانو له مېلمنو ماشومانو څخه پوښتنه کوي چې د سې سې بجلۍ مو راوړي دي که نه؟ که ئې نه وي راوړي نو په دې صورت کې هغوی په خپل کور کې د سې

[23] له پلانکي څخه هدف دا دئ چې د يوه نفر چې په تالې (طالع) کې زورور وي نوم اخلي مثلاً د احمد پر تالې. هر وخت چې يو څوک يادېږي او هغه غايب وي نو د هغه د نامه پر ځای د پلانکي اصطلاح يادېږي.

سې بجلي پیدا کوي، که ئې خپل کور پیدا نه کړې د ګاونډیانو کور ته نفر استوي څو د هغوی له کور څخه ئې راوړي او ماشومان لوبي په وکړي.

د سې سې لوبه د ماشومانو له پاره ډېره په زړه پوري لوبه ده، تول یو له بل سره راټولیږي او د خندا او ساتېري وسیله ئې ګرځوي. په دې وخت کي غټان یعني د کوچنیانو میندي او پلرونه د دوی له نارو او غالمغال څخه پوره په امن وي او د ټولو غټانو زړونه بېغمه وي چي کوچنیان ئې تر سترګو لاندي په آرامي ناست وي او خپلي لوبي کوي. غټان کولای سي چي په پوره اطمینان او ډاډ سره مجلس وکړي.

د سې سې په لوبه کي ځیني وخت داسي هم پېښیږي چي کله ئې درې سره بجلي ګیلي کړې امکان لري چي دوې دانې ئې شکي سي که خر ولاړ وو او که آس، دریمه بجله ئې چي نه ده شکه سوې د هغه له پاره درې پلا پوري چانس او نوبت سته چي تر یوې څنډې بجله نیسي او د سر څخه ئې د کرملاغ په ډول راغورځوي او که شکه سوه نو په دې صورت کي دا لوبه د ګټلي په ډول حسابوي او که دریمه بجله شکه نه سوه نو د لوبي نوبت و بل لوبه کوونکي ته ورکول کیږي او په دې وخت کي هم د خپل اطمینان په ډول په ډېر احتیاط سره وايي: «سې سې که په راځې د یو نفر نوم اخلي د هغه پلانکي نفر پر تالې» او بجلي په همدغه ډول سره غورځوي.

## سېخر:

د بجلو په لوبو کي سېخر بله د یادوني وړ لوبه ده. دا لوبه د کندهار ښار او شاوخوا اولسوالیو کي دود ده. نوموړې د غټانو لوبه ده، عموماً ئې هغه کسان کوي چي د خمار یا قمار شوقیان وي. خو د بجلو په میدان کي د بجلو ګټلو په خاطر کیږي. خو د خمار په وخت کي د ډېرو پیسو ګټلو په خاطر کیږي.

سېخر هم په لږو کسانو کیږي هم په زیاتو. عموماً له شپږو څخه تر لسو کسو پوري وي، خو په دوو درو کسانو هم کېدای سي. دا لوبه په ناسته کېږي. په دې لوبه کي درې بجلي د لوبي ډګر ته اچوي او هر یو خپله یوه دانه یا دوې دانې بجلي ایږدي او د لوبه کوونکو څخه یو تن بجلي ګېلوي. که چیري بجلي مرې وي نو هیڅا هم لوبه نه ده ګټلې او

بیرته باید بجلي ګیلي سي او که چیري یوه بجله  شکه وه او نوري بجلي پرتې او مړې وې[24] نو په دې صورت کي هم چا لوبه نه ده ګټلې او که چیري دوه خره سره ودرېدل نو و دې ته په کندهار کي د سبخر په لوبه کي دوخر[25] وایي او لوبه هغه څوک چي بجلي ګېلوي هغوی د نورو ایښوول سوو بجلو په دوه چنده سره راټولوي. ولې که ئې بیا دوپلشت[26] راوستی په دې ډول کي د خپله ځانه څخه تاوان ورکوي او د هري ایښوول سوي بجلي په بدل کي دوې داني بجلي تاوان ورکوي یا ئې ورغورځوي. همدغسي که چیري د سبخر په لوبه کي سه پلشت[27] راغلی وي نو دا تر ټولو ډېره خطرناکه یا د ډېر تاوان وړ وي او په دې صورت کي لوبه کوونکي یا هغه څوک چي بجلي ګېلوي هغه به درې چنده تاوان و میدان ته ورکوي.

که چیري ګېلوونکی د بجلو د ګېلولو په وخت کي درې سره خره راوستل یا ئې درې سره آسان راوستل نو په دې صورت کي ئې لوبه ګټلې ده او که ئې درې سره خره راوستل نو سبخر[28] ئې پر مقابل لوري راوستلي دئ چي څلورچنده تاوان د لوبه کوونکو څخه اخلي یعني د درو خرو په عوض کي چي شک سوي دي د څلورو تاوان باید واخلي. که په سه پلشت کي چي لوبه کوونکی یا د بجلو ګېلوونکی څلور چنده تاوان ورکوي همدغسي په سه خر کي څلور چنده ګټه لري.

---

[24] مړې بجلي: د سبخر په لوبه کي چي کومي لوبي بجلي نه وي هغو ته مړې بجلي وایي.

[25] دوخر: په سبخر لوبه کي که چیري بجلي دواړه خره ودرېدل نو موږ وایو دوخر ئې راوستلی دئ.

[26] دوپلشت د بایللو په معنی سره دئ او په دې ډول کي بجلي یوه مړه وي یوه ئې هم آس ولاړه وي او بله ئې خر ولاړه وي. یعني بجلي سره مخالفي وي او هغه څوک چي بجلي ګېلوي هغه ئې د دوپلشت په صورت کي بایلي.

[27] سه پلشت: که چیري درې سره بجلي شکي سوي وي او یوه دانه ئې د نورو خلاف آس ولاړ وو او نوري دوې داني ئې خره ولاړ وه نو په دې صورت کي سه پلشت راغلی دئ او که دوه آس ولاړه وه او یو ئې خر ولاړ وو نو بیا هم سه پلشت ګڼل کیږي او ګېلوونکي بایللې ده.

[28] سبخر د بجلو په لوبه کي د خمار یو ډول دئ چي په بجلو سره کیږي او د بجلو ګېلولو په وخت کي چي درې سره بجلي خر ودریږي نو موږ وایو چي سبخر ئې راوستی او دا ډېر ښه چانس دئ چي لوبه کوونکی ئې راولي او ډېر لږ وخت داسي چانس برابریږي.

دا چي د سپخر لوبه د خمار له ډولونو څخه ګڼل کېږي نو ځکه په ښکاره ډول سره نه کېږي او په دې لوبه کې لوبه کوونکي يوه ليري او ګوښه ځای ته پناه وړي او هلته د يوه دېوال بغل ته يا په هديرو کې لوبه کوي. که د کندهار مشران د خپلې کوڅې هلکان پر نوموړې لوبه وويني نو هلکان تهديدوي او ترټي ئې. نو ځکه هلکان دا لوبه په پټه سره اجراء کوي او همدغسي ئې د پلټنيانو يا پوليسو څخه پټوي چي هغوی هم هلکان دغې لوبې ته نه پرېږدي.

د سپخر لوبه عموماً په غټو او درنو بجلو سره کېږي، سپکي بجلي[29] د سپخر په ميدان کې نه پرېږدي. کله کله د دې له پاره چي نوموړي بجلي ښکلي ښکاره سي رنګه کړي ئې وي. د سپخر په بجلو کې يوه دانه چي ډېره مهمه بجله ده لر غټه غوندي وي او د ګټې او تاوان په وخت کې ګټه او تاوان دوه چنده زياتوي. مثلاً کله چي په سپخر کې درې بجلي يو ځای سره خره درېږي نو په دې وخت کې څلور چنده ګټه اخلي چي هغه غټه بجله هم ولاړه وي او يا هم کله چي سه پلشت راغلی وي نو په دې وخت کې هم څنګه چي غټه بجله ولاړه ده ګېلوونکی بايد څلور چنده تاوان ورکړي.

## دګندکي لوبه:

دا هم د سپخر لوبې غوندي د بجلو لوبه او د خمار يو ډول پر کېږي. ولې په دې لوبه کې چي د دوو بجلو په وسيله باندي تر سره کېږي دواړه ګېلوي، که دواړي خره ودرېدل نو ګېلوونکي ګټه کړې ده او که چيري دوې بجلي داسي ودرېدلې چي يوه ئې خر او بله آس ودرېده نو په دې صورت کې ګېلوونکی لوبه بايللې ده او که دوې بجلي يوه چوک او بله مړ وې نو د دوهم وار ګېلولو چانس لري. بايد بيا ئې ګېلي کړي. که چيري يوه بجله خر ولاړه او بله مړ پرته وه نو په دې ډول کې بيا هم ګټه د ګېلوونکي ده او که چيري يوه بجله د کندکي په لوبه کې آس ولاړه وه او بله بجله مړ پرته وه نو ګېلوونکی لوبه بايللې ده او که يوه بجله خر ولاړه وه او بله بجله چوک پرته وه نو په دې ډول کې هم د بجلو ګېلوونکي لوبه بايللې ده او تاوان بايد ورکړي.

---

[29] سپکه بجله: دا اصطلاح په بجلو کې هغو زړو بجلو ته کارېږي پوسکه يا پسکه بجله هم ورته وايي.

نوموړې لوبه د بجلو د خمار د لوبو له ډولونو څخه ګڼل کیږي او د سپخر غوندي یوه لوبه ده چي توپیر ئې په دې کي دئ چي په سپخر کي درې بجلي استعمالیږي په ګندکه کي دوې دانې بجلي استعمالیږي. که خماربازانو درې بجلي نه درلودې نو کندکه کوي.

## څلورم - مردکي:

مردکي هم د کندهار د نورو لوبو غوندي د ډله ییزو لوبو له جملې څخه ګڼل کیږي او په خپل ځان کي د ځانګړو مقرراتو او اصولو لرونکې لوبه ده.

مردکي د هیواد په ګوټ ګوټ کي د وړو هلکانو د ساتېري او لوبو وسیله ده او هر وړوکی ورسره مینه او بلدیت لري. زموږ د هیواد د تولیداتو له جملې څخه نه ګڼل کیږي بلکي له بهر څخه په تجارتي ډول واردیږي او دلته ئې ډېر شهرت پیدا کړی دئ. څنګه چي هره لوبه د هري سیمي په شاوخوا کي ځانګړي خصوصیات لري نو په همدې ترتیب د کندهار په شاوخوا کي د مردکو لوبه په ځانګړې توګه کیږي.

د مردکو لوبه خپل ځانته ډولونه لري هر ډول به ئې لاندې په جلا جلا توګه تشریح کړو:

## جوغجوغ:

د مردکو په لوبو کي یوه هم جوغ جوغ ده. د لوبه په ناسته تر سره کیږي او د ډېرو آرامو لوبو له جملې څخه ده. دا لوبه په دوو یا څو تنو باندي کیږي. په دې لوبه کي هر یو خپله مردکه ایږدي بیا ئې د یو و بل د مردکي لوري ته ورګېلوي، که ئې چیري د بل لوبه کوونکي مردکي ته خپله مردکه دومره ورنژدې کړه چي له هغې سره پیوست سوه نو دغه حالت ته جوغ ویل کیږي. د جوغ کولو معیار هم دا دئ چي د دوو مردکو تر منځ باید خمچه ګوته تېره نه سي که چیري فاصله ډېره وه یعني خمچه ګوته تېره سوه نو جوغ نه ده او هغه چا چي د مردکي د نژدېوالي حرکت ئې کړی وي یا مردکه ئې ورګېله کړې وي نو هغه لوبه ګټلې ده. مردکه ګټي او اخلي ئې. څو بله مردکه بیا کښېښوول سي. کله کله له ګټلي طرفه څخه داسي هم کیږي چي د خمچي ګوتي په وسیله خاوره د مردکو د منځ څخه

راوباسي نو بيا هغه يا بايلوونکی خاوره د ګوتي په وسيله راباسي او که چيري لومړي ګېلوونکي مردکه د مقابل لوري ته ورګېل کړه او هغه جوغ نه سوه نو بيا د مقابل نفر وار دئ هغه هم خپله مردکه ورګېلوي، څو خپله مردکه دومره ورنژدې کړي چې څو وکولای سي چې جوغ ئې کړي. نومورې لوبه په دوو نفرو باندي ښه کېدای سي، نسبت څلورو پنځو نفرو ته.

**ګرګومېش:**

په دې لوبه کي چې په څو کسو باندي کيږي هر يو خپله مردکه قطار او په خپل وار سره ايږدي او په يوه اوږده قطار کي ئې د مستقيمې کرښي په ډول ايږدي. بيا يوه کرښه د يوه متر او يا دوو مترو په فاصله باندي کاږي. هر نفر راځي خپله مردکه چې د ارغوند په نوم ياديږي د نورو قطار سوو مردکو لوري ته ئې ورخوشي کوي او هغه د ميدان په يوه برخه کي حتماً ځای پر ځای کيږي يا دريږي نو بيا بل نفر خپله مردکه د دوو ګوتو په وسيله ټينګوي او خپله مردکه د (ګنې[30]) و لوري ته ورنژدې کوي. له خپلي مردکي څخه مو مراد دلته ارغوند دئ چې هر لوبه کوونکی د نورو مردکو سره يوه دانه ارغوند ساتي حتی که چيري نوري مردکي بايلوي وروستی مردکه يعني ارغوند ساتي. هغه له ځانه سره ګرځوي څو نوري مردکي پيدا کړي او د ارغوند په وسيله ئې وګټي. کله کله داسي هم پېښيږي چې د مردکو په لوبه کي لوبه کوونکی ارغوند و نه لري ولي نوري مردکي ولري نو لوبه کوونکی د لوبي له کولو څخه ډډه کوي او د ډډي کولو علت ئې هم دا دئ چې ارغوند نه لري.

څه وخت چې ارغوند و ګنې ته نژدې سو نو په نورو ارغوندانو کي هغه ارغوند چې ډېر ګنې ته نژدې وو هغه لومړی نوبت يا وار لري چې لومړی مردکه وولي او يا ئې پوچه کړي نو څه وخت چې ئې ګنه يا مردکه وويشتله نو بيا کولای سي چې نژدې ارغوند هم وولي. د هر چا ارغوند چې ئې وويشتی نور هغه د پوچ په نامه ياديږي او د ميدان يا لوبي

---

[30] ګنه: هغه مردکه چې مخکي ايښوول سوې وه د ارغوند په وسيله پوچيږي او هر څوک کوښښ کوي چې خپل ارغوند و هغه ته نژدې کړي. د ګورګوميش په لوبه کي ګنه ورته وايي.

 څخه وزي او خپل ارغوند له ځانه سره اخلي او بیا نوموړی نفر چي لومړۍ مایه ئې پوچه کړېده پر بله مردکه ټک کوي که ئې وویشته د بل ټک نوبت هم لري او که ئې و نه ویشته بیا هغه څوک واری کوي چي نسبت نورو ته مېش ته نژدې پروت وي. په دې لوبه کي هغه څوک چي ښه نښان ویشتلای سي هغه ګټونکی دئ نو په دې ډول ارغوندونه یو له بله سره پوچوي او هر ارغوند چي ډېري ګنې یا مایې ګټلي وي هغه په آخره کي پاتېږي.

کله کله د لوبې په آخر کي چي دوه نفره سره پاته سوه نو اخرینه ګنه نه ولي او یو له بله سره اغوندان پوچ کړي نو په دې وخت کي یو له بله سره وایي او هوډ سپاري چي ګنه به نه ولو او ګنه نه ویشتل کیږي، په کندهار کي دې ته د (ګنه ماینه ده) اصطلاح کاروي. یعني ګنه باید وساتل سي نه به ئې ته ولې او نه به ئې زه ولم. تر دې هوډ وروسته د لوبې له ځایه یو څه راوزي یعني له ګنې څخه لیري کیږي تر څو یو او بل سره پوچ کړي او هر یو چي پوچ کړي نو مقابل لوری د مردکو په اصطلاح ورته وایي چي تولې مردکي مي په خوړوهلې.داد خوږ وهلو اصطلاح یوه ځانګړې اصطلاح ده. په همدغه ډول د ګرګومېش په اصطلاحاتو کي یوه بله اصطلاح هم سته چي ډېره دود ده. کله چي لومړۍ مردکي یا ارغوندونه د ګنو و لوري ته لومړی هلک ورګېل کړه د دوهم لوبي کوونکي ارغوند هم کوښښ کوي چي و ګنې ته نژدې سي، څو لومړی نوبت د ویشتلو تر لاسه کړي خو که ئې هغه و نه کولای سو نو د ټک کولو په وخت کي د لومړي ارغوند سره دوهم ارغوند وموښتی نو و دې ته د کندهار په اصطلاح کی ګنډک[31] ویل کیږي.

ګنډک عموماً د لوبې په سر کي واقع کیږي. مثلاً که څلور ارغوندان د ګنې لوري ته ورګېل سوي وه پنځم ارغوند که څلورم یا دریم یا دوهم او یا هر یو چي وي هغه وولي نو ویل کیږي چي ګنډک سو. لوبه د ګنډک په وخت کي له سره پیلیږي، دا حالت د ځینو لوبه کوونکو په تاوان وي او د ځینو په ګټه. مثلاً هغه څوک چي ګنې ته ورنژدې وي د لوبې په ګنډک کېدو نه وي خوشحاله او هغه څوک چي له ګنې څخه لیري وي هغه ئې په ګنډک کېدو خوشحالی کوي او پورته پورته غورځي.

---

[31] ګنډک: د ګرګومېش په لوبه کي تر هغه وخته چي ګنه نه وي ویشتل سوې که هر ارغوند بل ارغوند وویشتی نو لوبه له سره پیلیږي یعني ګنډک سول او که ګنه ویشتل سوې وه نو په دې صورت کي هر ارغوند چي بل ارغوند وولي هغه پوچ ګڼل کیږي.

د ګرګومېش په لوبه کې زده کړه او تجربه لوی رول لري. دا ځکه هغه څوک چې هنر پکښې ولري کولای سي چې ډېري مردکي وګټي د مثال په توګه که وغواړي چې د لوبه کوونکي ارغوند مردکي وګټي نو غواړي چې د لوبه کوونکي ارغوند چې د بغل پر لوري ولاړ سي نو د ارغوند په وسیله ګنه پر راسته بغل داسي ولي چې د مردکي بغل او د ارغوند راسته بغل سره تماس پیداکړي نو ارغوند بیا پر راسته لور ځي. همدغسي چپه بغل ته که غواړي چې حرکت وکړي هم له دې هنر څخه کار اخیستل کیږي او که وغواړي چې شا ته راسي نو ګنه ټینګه ولي په دې صورت کې ارغوند شا ته راځي که چیري د چا نوموړی هنر زده نه وي نو ډېر ژر خپلي مردکي بایلي او له میدان څخه خالي لاس وزي. دا هنر یوازي په پوره تجربه سره تر لاسه کېدای سي.

### جفت او تاک (جفت او طاق):

په مردکو کې د جفت او تاک لوبه هم ډېره دود ده. نوموړې لوبه داسي پیلیږي چې لومړی یو موټ مردکي په لاس کې نیول کیږي او مقابل لوري ته وروړاندي کیږي. له هغه څخه پوښتنه کیږي چې جفت که تاک؟ هغه خپلي لازمي مردکي چې شرط ئې پر تړلی دئ پر میدان یا ډګر ایږدي او وایي چې جفت یا تاک.

که چیري د ده له خبري سره سم مردکي جفتي راوختلې یعني دوې دوې دانې برابري سره راغلې نو جفتي دي او که یوه دانه ډېره یا اضافه سوه نو تاک دي. که ئې جفت ویلي وه او مردکي هم جفت وې ګټه ئې کړېده او نوبت هم هغه ته رسیږي او که ئې جفت ویلي وه او تاک سوې نو مقابل لوري بایللې ده او د لوبې نوبت هم د دوباره له پاره د لومړي لوبه کوونکي دئ. نوموړې ډېره ساده او آسانه لوبه ده. هنر چندان نه غواړي او فقط په بخت او طالع پوري اړه لري. په دې ترتیب د جفت او تاک لوبه ډېر کوچني ماشومان هم کولای سي.

## دکندهار دمهمو فولکلوریکو لوبو څخه یو هم دچناغ ماتول دي

چناغ ماتول هم ښه لوبه ده اوهم ډیره ښه دماغي سرګرمي ده. چي دیاداښت ساتل یا دحفیظي په معلوملو کی ارزښت لري. یعني په دې سره

ديوچاه دحفيظې ازمايښت معلوميږي،چې ديوچاه خومريوشى پيادپاته كيداى سي. نو دكندهار دفولكلورپه سلسله كې دغه لوبه هم ديادولو وړګڼل كيږي.

چناغ پر دوه ډوله دى : - لومړى چناغ ديوه شي په وركول،دوهم چناغ په هو(او) يا (يئه)سره چې دواړه ډولو نه ئې دلوبي او حفيظې دازمايښت په خاطر استعماليږي.

خپله چناغ دچرګ ياچرګې په سينه كې هغه هډوكى دى چي ديوې دوښاخي په ډول ئې هر چرګ او چرګه لري. نو څه وخت چې چرګ دكورنى په منځ كې وخوړل سو .نو دهغه دسينې څخه چناغ راباسي اودوه كسه ئې ديوڅه يا شي په مقابل كې سره ماتوي. دغه څه يا شى اوشرط نو په مختليفو ډولونو سره كيداى سي. يا قيمتي وي يا هم يو معمولي شي سره. نو په همدغه تر تيب دهغه هډوكى يو ښاخ يو نيسي او بل ښاخ ئې يوبل كس يا مقابل لورى. هډوكى كش كړل سي اوبيا دهريوه په لاس كې يوښاخ پاته كيږي. نو دهمدغه لحظې څخه چناغ را پيل كيږي. چناغ هغه وخت بايلل او ګټل لري كوم چي يوشى يونفروبل نفرته په لاس كې وركړي نو ورته وائي زما ئې دربانديي نو هغه نفر چي دده څخه ئې شى اخيستى دى ،هغه بايلونكى او مقابل نفر چي شى ئې وركړى وو.او زما ئې دربانديي ئې ورته وويل هغه ګټونكى بلل كيږي. او په هغه څه چي چناغ ئې مات كړى وو. هغه به وګټونكي ته وركوي.نو دلته كه ديو چاه حفيظه كاروكي او هغه شى چي مقابل بازيګر ئې وركوي،مخكى تر دې چي هغه شى واخلي ورته وائي زما ئې پياد نو هغه شى كه واهم اخلي چناغ نه پر باندي كيږي.او كه ئې (زما ئې پياد ونه ويلى نو خامخا چناغ پر باندي كيږي).

دوهم ډول : هغه چناغ دی چي ګټونکی او بايلونکی يا دچناغ لوبغاړي ئې په خبرو کي دهو يا (يا) په نوم چناغ سره ماتوی په دغه صورت کي پسله هغه چي دچناغ هډوکی ئې مات کی نو بايد په خپلو خبرو کي احتياط وکړي او دغه دوه لفظ(هو،يا)استعمال نه کړي. چي دغه خورا ډيرستونزمند چناغ دی. او که دچاه حفيظه کارونه کړي نو امکان لري چي دخبرو په منځ کي په ډيرلږ وخت کي چناغ په (هو، يا ) سره بايلوي.دبيلګې په توګه دچناغ دلوبې مقابل طرف ورته وائي (بازارته ولاړې) نو که هغه وويل: (هو،يا) نو ئې چناغ بايلوی او يا ئې وويل زما ئې پياد (هو ،يا) هوولاړم،يا نه ولاړم.نوپه دغه صورت کي هيڅ چناغ نه بايلل کيږي. مخکي تر هغه چي (هو،يا) وائي زما ئې پياد حتمي دی.خوا! (ديا ،نه) په صورت کې هم چناغ بايلوی. او په هرشي چي ئې چناغ مات کړی وي هغه به مقابل لوري ته ور کوي.



دچناغ ډولونه

**پنځم - د کاغذباد لوبه:**

د کاغذباد لوبه هم د کندهار د ډله ييزو لوبو له جملې څخه ګڼل کيږی. ياده لوبه هم واړه ماشومان او هم ئې لويان کوي. يعني ځوانان هم په دې لوبه بوخت دي.

په کندهار کي عموماً د کاغذباد لوبه د دوبي يا اوړي په موسم کي کيږي. په دې لوبه کي دوه هنره د يادولو وړ دي: لومړی- د کاغذباد جوړول هنر، دوهم- د کاغذباد په هوا کولو هنر. دا دوه جلا جلا هنرونه دي. د دې لوبې ځيني لوبه کوونکي ښه کاغذباد جوړولای سي خو ځيني بيا ښه کاغذباد په هواکولای سي.

د کاغذباد جوړولو هنر: کاغذبادونه له ځانګړي کاغذ څخه چې په کندهار کې خوشکي ورته ویل کیږي جوړیږي. نوموړی کاغذ ډېر نازک او ښایسته وي. بېلابېل رنګونه لکه: سپین، تور،سور،شېرچایي،نصواري،زرغون،شین او داسي نور ... رنګونه.

کاغذباد پر څو ډولونه جوړیږي. هر ډول ئې د باد له ځانګړي جریان سره په هوا کیږي. نو ځکه هر ډول ئې ځانګړی غتوالی او کوچنیوالی لري. موږ لاندي د دغو ډولونو پر هر یوه جلا جلا بحث کوو:

ماهی، پتنګ، کوناتي داره کاغذباد، اشه داره کاغذباد، چنګک داره، څلورکونجه کاغذباد، ناوکی او داسي نور ...

پورته ډولونه د کاغذباد ډېري ښې بیلګي بللای سو او هر ډول ئې غټ او واړه جوړېدای سي.

**ماهی**: ماهی هم له یوې تختې څخه او هم له نیمي تختې کاغذ څخه جوړېدای سي. یعني که چیري تخته پر کونج باندي کت کړو او بیا ښې د یوه نري تار (سپېنسي) په وسیله پرې کړو او داسي ئې سره سریښ کړو چي د مخ حیصه ئې پلنه راسي او لاندي برخه ئې نرۍ غونډي راسي نو وروسته یو بانس په اوږدوالي وراچول کیږي چي د (تیرک) په نوم یادیږي او بل بانس داسي پر راتاو کړي چي یو غوږ او بل غوږ سره تینګ کړي او په کش سره یې راولي، دغه بانس ته (کمانه) ویل کیږي. په دې ترتیب سره ماهی کاغذباد جوړیږي. ماهي کاغذباد ته عموماً لکۍ هم ورکول کیږي، په دې چي ډېر کرملاغونه و نه وهي او د ماهي کاغذباد تر جوړېدو وروسته و هغه ته یو اوږد تار ورتړي چی توبندي[32] ورته وایي. پر توبندي باندي مانجه[33] تړل کیږي او بیا کاغذباد د یوه هلک په لاس ورکول کیږي او هغه لیري ځغلي کاغذباد او تار له ځانه سره وړي او د کاغذباد یو غوږوکی او بل غوږوکی نیسي

[32] هر کاغذباد باید توبندي ولري یعني د کاغذباد شا ته یو تار چي کمانه او تیر په تړل کیږي او بل اړخ ئې چي د لاندی اړخ بانس په تینګوي، دغه ته توبندي وایي. د توبندۍ تار ځړېدلی وي او چي څوک ئې ونیسي یوه حاده زاویه جوړوي.

[33] مانجه: هغه تار چي کاغذباد په په هوا کیږي او توبندي په تړل کیږي هغه ته مانجه ویل کیږي په نورو ځایونو کی ئې د کاغذباد تار هم بولي.

او ماهی کاغذباد د باد پر لوري برابروي او کرار،کرار مانجه ورایله کوي، کاغذباد د هوا لوري ته خېژي.

ماهی کاغذباد که چیري څوک وغواړي چي د بل کاغذباد سره ئې وجنګوي نو د جنګ کاغذباد هم کېدای سي ولي ډېر وخت نوموړی کاغذباد یوازي د ساتېري او دوامداره الوتني له پاره استعمالیږي او د جنګ کاغذباد نه ګڼل کیږي. ماهی هم په هوا کي مېخ دریږي او لږ داسي هم استعمالیږي چي د ساتېري له پاره غوټې او پرېږي په ووهل سي. څوک چي ښیښه یي مانجه نه لري هغوی عموماً ماهي کاغذباد اخلي او یوازي د زیات وخت لوبي کولو له پاره ئې الوزوي.

**پتنګ**: نوموړی کاغذباد چي نسبت ماهي کاغذباد ته څلورکونجه او ګردی غوندي دئ داسي جوړیږي چي یوه تخته خوشکي داسي پرې کوي چي د خوشکی دوه کونجه سره نیسي او دوې څنډې ئې پرې کوي چي نوموړې تخته پاته سوه بېله دې څخه چي پر منځ دي پرې سوې وي په منځ کي ئې تیرک او پر غوږ باندي ئې کمانه راګرځوي او د کاغذباد پر غوږونو باندي یوه بله توټه هم سریښیږي او د بانسو کمانه ورباندي ټینګیږي.کله چي ئې کمانه سریښ سوه نو بیا د کاغذباد څوکي د یوه تار په وسیله داسي ټینګیږي چي کمانه او تیرک یو له بله د تار په وسیله سره وتړل سي او بیا پر تار باندي سریښ وهل کیږي او څنډې باندی کاتیږي دا نو ډېر سخت راځي او د باد او نورو افتونو په مقابل کي مقاومت او ټینګوالی پیدا کوي، څنګه چي مو د ماهی کاغذباد په هکله وویل چي توبندي وراچول کیږي پتنګ کاغذباد ته هم توبندي وراچوی او الوزوي ئې.

پتنګ کاغذباد په الوتلو کي ډېر کش لري او د مانجې په ورخوشي کولو کي ډېر ځرخ خوري او که ئې په ځرخ کي مخ و لوړي لوري ته وو او مانجه ئې راکش کړو نو په دې ډول سره ډېر لوړ خیژي او که چیري مانجه بیرته ورایله کړو نو بیا ځرخ پیدا کوي او که ئې سر لاندي وو او مانجه ئې راکش کړو نو په دې صورت کي غوټه خوري او کښته راځي او که بیا مانجه ورخوشي کړو نو بیا هم د ځرخ حالت ته راځي. همدغسي پتنګ کاغذباد هر لوري ته وړای سو چي په اصطلاح سره پره ورته وایو یعني که د کاغذباد مخ هر لوري ته

راغې نو پر هغه لوري ئې کشوو او پره په وهلای سو. نومړی کاغذباد د غټو هلکانو د لوبو او پرو وهلو له پاره ډېر برابر کاغذ ګڼل کيږي.

پتنګ عموماً د کاغذباد لوبه کوونکي د جنګولو له پاره ساتي ځکه چي تار په کش سره وړي او د بل کاغذباد پر مانجه باندي زور اچولای سي. نو ځکه ئې جنګي کاغذباد هم بولي.

**کوناتي داره کاغذباد**: که چيري نيمه تخته کاغذ يا خوشکي کونج پر کونج سره ونيسو او پرې ئې کړو او بيرته ئې څوکي راسته کړو او څوکي ئې دواړې يو له بله سره د يوه مستقيم خط په څېر سره سريښ کړو نو د کاغذباد په وروستۍ برخه کي دوې راځړېدلي ټوټې د کوناټو په څېر پيدا کيږي چي دې ډول کاغذباد ته کوناټيداره کاغذباد ويل کيږي.

کوناټيداره کاغذباد هم د نورو په څېر يو تير او کمانه لري او وروسته توبندي ورتړل کيږي. دغه ډول کاغذبادونه د جنګولو له پاره نه دي بلکي ډېر وخت نومړی کاغذباد د ساتېري او يا د دې له پاره چي په يوه ليري کور کي يو څوک يا د کاغذباد حريف په خبر کړي نو کوناټيداره کاغذباد الوزوي.

کوناټيداره کاغذباد په الوتلو کي ډېر غر و پر کوي يعني ږغ ئې تر ډېره ځايه پوري اورېدل کيږي او که چيري باد تېز وي نو د کاغذباد ږغ هم ډېرېږي نو ځکه نومړی کاغذباد د تېز باد له پاره مناسب دئ. کوناټيداره کاغذباد پرې او غوټې ډېري ښه وهلای سي که چيري نومړی کاغذباد د غوټې له حالت څخه و لوړي خوا ته پورته کړو نو ډېر ږغ کوي چي خورا ښه او ځانګړی اواز توليدوي. که چيري د کوناټيداره کاغذباد کمانه ټينګه وي يعني ټينګ کمانی وي نو ډېر ژر خپل کوناټي له لاسه ورکوي او ږغ ئې هم لوړ وي. که ئې کمانه سسته وه او يا په اصطلاح سست کمانی جوړ سوی وو نو ږغ ئې هم کښته وي. کوناټيداره کاغذباد عموماً د تختې له څلورمي برخي څخه جوړيږي. يعني هم غټ او واړه جوړېدلای سي خو د څلورمي برخي کاغذباد د ږغ او موسيقۍ له مخي هلکان خوښوي او تر نورو کاغذبادونو ئې ږغ لوړ وي.

**اشه داره کاغذباد:** نومورې کاغذباد هم خاص سکښت او جوړښت لري. په دې ډول کې عموماً له يوې تختې څخه نيولې بيا تر څلورو او پنځو تختو خوشکيو پوري کاغذباد جوړيږي، هر څومره چې کاغذباد غټ وي په هغه اندازه ډېر ښه وي. په اشه داره کاغذبادونو کې کوچني ډېر کم جوړيږي. کله چې نومورې کاغذباد جوړو سي د هغه يوه او بل طرف ته اشې ورکوي او بيا ئې الوزوي. نومورې کاغذباد د جنګ له پاره نه په کاريږي بلکی يوازې په ډېر احتياط سره ئې الوزوي او پانوس[34] په ځړول کيږي. وروسته د يوه نفر په لاس دغه کاغذباد ورکول کيږي يو بل نفر هم په ډېر احتياط سره پانوس ورسره وړي، که احتياط و نه کړي نو امکان د دې سته چې پانوس اور واخلي او يا شمع چپه سي، د نومورې کاغذباد جوړېده او په هوا کېده دواړه ډېر فهم او احتياط غواړي.

اشه داره کاغذباد په عادي تار يا روسي ګوټ نه الوزول کيږي ځکه چې هغه ئې مقاومت او طاقت نه سي راوړلای. د دې کاغذباد د الوزولو له پاره له ډېر پنډ تار څخه استقاده کيږي. په کندهار کې و دې ډول تار ته چې پانوس يا اشه داره کاغذباد په الوزوي رجه ويل کيږي. که چيرې باد مناسب يا برابر نه وي نو څنګه چې د کاغذباد او مانجې وزن درونډ وي نو نه سي الوتلای، بله د يادوني وړ خبره دا ده چې اشه داره کاغذباد بايد د شپې له خوا والوزول سي څو ډېر خلک ئې تماشا وکړي. اشه داره کاغذباد چې پانوس هم ولري ډېر وخت پر دښتونو او لوړو ځايونو باندې الوزول کيږي.

اشه داره کاغذباد اصلاً غوټې او پرې نه وهي او په هوا کې مېخ ولاړ وي، کله کله پانوس کاغذباد چې ډېر لوړ سو نو بيا ئې پر يوه خاده يا کوم مېخ باندې ټينګ وتړي او هغه هم اسمانخانه يې وي، تر څو د باد جريان وي کاغذباد هم په هوا کې مېخ ولاړ وي.

پانوسي کاغذباد چې اشې هم لري تر هر ډول کاغذباد غټ وي نو ځکه په يوه نفر نه الوزي بلکې لږ تر لږه بايد څلور پنځه کسه د اشه داره کاغذباد په الوزولو کې مرسته

---

[34] پانوس: له خوشکې څخه يو ډول جوړ سوی څراغ دئ چې شاوخوا ئې بانس او په منځ کې ئې يو شمع ځړول کيږي او د باد جريان ئې د خوشکی په وسيله نيول کيږي، د يوه اوږده تار په وسيله په کاغذباد پوري ځړول کيږي. خلک ئې له ډېري ليري فاصلې څخه تماشه کولای سي. هغه کاغذباد چې پانوس په ځړول کيږي هغه ته په کندهار کې ګودړۍ ويل کيږي ځکه چې له ډېرو ټوټو څخه ئې سکښته او جوړښت وي او له رقم په رقم خوشکيو څخه جوړ سوی وي.

وکړي. یو نفر باید څرخه ونیسي او دوه نفره باید خپله کاغذباد د غوړوکو نیولو له پاره انتقال کړي او یو نفر هم هغه څوک چي کاغذباد په هوا کوي لازم دئ.

اشه داره کاغذباد برسېره پر دې چي پانوس ئې له لیري څخه څرګندیږي د اشو سره چي ئې باد موښلي ډېر نرم موسیقي ډوله آواز ورکوي.

**چنګکي کاغذباد:** دغه ډول کاغذباد ډېرو هلکان او لوبه کوونکي خوښوي. تر نورو کاغذبادونو په تکلیف جوړیږي او کړاو ئې زیات دئ او ځانګړي خلک ئې جوړولای سي او تر بل هر کاغذباد ئې کش هم ډېر دئ. نو ځکه د جنګ په وخت کي ډېر ګټور وي او همېشه د څرخ په حالت کي وي یعني په هوا کي څرخي چي دا ئې ډېره ښه ځانګړتیا ده. چنګکي کاغذباد له یوې یا نیمي تختې څخه جوړیږي. د نوموړي کاغذباد لومړی جوړښت د پتنګ یا څلورکونجه کاغذباد په څېر وي ولي د کماني بانس ئې د غوړونو په برخه کي یو څه راتاویږي او نازک وي او د چنګکانو په څېر راکږیږي نو ځکه ئې چنګکي کاغذباد بولي.

چنګکي کاغذباد کوچني او واړه هلکان نه سي الوزولای ځکه چي ډېري غوتې او پرې وهي او بل ډېر قیمتي او ګران دئ نو ځکه ئې غټ هلکان چي کنټرولولای ئې سي او وتېز ژوند ئې سم وي رانیسي او یا ئې جوړوي.

**څلور کونجه کاغذ باد:** څلور کونجه کاغذ باد د نورو کاغذبادونو په څېر یو تیرک او کمانه لري او د یوه مربع غوندي انځور لري. دغه ډول کاغذباد هم ټینګه کمانی او هم سسته کمانی جوړېدلای سي. د دې خبري مفهوم دا دئ چي هم ئې کوچنیان او هم ئې غټان الوزولای سي. څلور کونجه کاغذ باد په هوا کي مېخ دریږي. ډېري غوتې او پرې نه وهي. ځکه نو ډېر واړه ماشومان هم لوبه په کولای سي. نوموړی کاغذ باد د جنګ له پاره نه استعمالیږي خو ډېر لږ وخت جنګول کیږي. له نوموړي کاغذ باد څخه اشه داره کاغذ باد هم جوړیږي. ولي پانوس بیا نه په ځړول کیږي ځکه چي نوموړی کاغذ باد ووړ او کوچنی وي.

**ناوکۍ کاغذباد:** نوموړی کاغذباد د کاغذبادونو په ډله کې ډېر ښایسته او ګران کاغذباد دئ چې یوه دانه کاغذباد ئې په یوه ساعت کې جوړیږي او انساني قوت او انرژي ډېره په مصرفیږي او څو ډوله جوړیږي هم ماهي ناوکۍ هم د چنګکي ډول ناوکۍ کاغذباد او نور...

ناوکۍ کاغذباد پس له هغه چې جوړ سو نو بیا له ډېرو نورو رنګه خوشکیو څخه ډول ډول ګلان، ستوري او سترګې سپوږمۍ غوندي څیزونه جوړیږي او هغه کاغذباد ته ئې پر مخ ورکوي او ښکلی کوي ئې. ولې ځیني وختونه پر ناوکۍ کاغذباد باندي ډېري ښې له خوشکي څخه جوړي سوي سترګې هم ورکول کیږي. یعني د یوې پېغلي په څېر ښې سترګې، پزه او شونډې ورکول کیږي چې د کاغذباد ښکلا ورډېروي او له لیري څخه ئې نور لوبه کوونکي هم په ډېر خوند سره تماشا کوي او وایي چې د پلانکي په کور کې یا پلانکي نفر ناوکۍ جوړه کړې ده چې د کاغذباد په لوبه کې ډېر مهم کار دئ. ناوکۍ کاغذباد جنګول کیږي که نه؟ دا چې نه جنګول کیږي د دې علت یوازي دا دئ چې نوموړی کاغذباد په ډېر کړاو او ربړ سره جوړیږي او ډېري پیسې پر لګیږي نو ځکه یوازي د هوابازۍ (الوتلو) له پاره استعمالیږي، نوموړی کاغذباد ډېري ښې غوټې او پرې وهي.

ناوکۍ کاغذ باد هم ښکلی او ناښکلی جوړیږي چې هغه په کاغذباد جوړوونکي پوري اړه لري.

پورته د کاغذباد بېلابېل ډولونه وه چې هر ډول ئې موږ په ترتیب سره ولیکی او و مو څېړی. اوس به په کاغذباد پوري تړلي څیزونه چې د کاغذباد وسایل او افزار جوړوي، پر هغه به هم وږغیږو.

لکه څنګه چې معلومه ده کاغذباد په تنهایي سره نه الوزول کیږي بلکي ډېر څیزونه د دې لړۍ له پاره مهم او لازمي دي، چې موږ ئې په لاندي کرښو کې لیکو.

لومړی: ښیښه يي مانجه او څرخه یا ګوټ او تار. مانجه یا تار د کاغذباد په الوزولو کې ډېر ستر رول لري، کله کله کاغذباد په ډېر عادي تار یا مانجه باندي الوزول کیږي ولې دا ډول الوزول اصلاً د ساتیري په خاطر واړه هلکان کوي یا هغه کسان چې کاغذباد نه جنګوي خو عموماً کاغذباد په ښیښه يي مانجه باندي الوزول کیږي او نوموړی د جنګ تار هم بولي هر څوک د ځان له پاره د ښیښه يي تار مصاله یا مواد لري چې د هغه په

وسیله د کاغذباد تار ښیښه یي کوي څو دومره تېز او تیره راسي چي د بل کاغذباد مانجه غوڅه او پرې کړي. په کندهار کي د کاغذباد د تار ښیښه یي کول په لاندي توکو دود او دستور لري:

لومړی - روسی ګوټ رانیول کیږي او وروسته لاندي مواد سره ګډوي او پر تار باندي ئې تېروي څو مانجه ښیښه یي سي یعني سریښ، د ترمز ښیښه یا د ګروپ ښیښه او یا هم د فانتا او کوکا کولا د بوتل ښیښه را اخلي چي په دې کي په لومړي درجه ارزښت د ترمز ښیښه لري. د اوړو سیپارو کونډري په څه اندازه سریښ داسي سره ګډوي چي تر سان ئې باسي چوني ئې او بیا اوبه ور اچوي او څه حرارت ورکوي څو اوبه ئې لړ وچي سي، پسله هغه ئې پر هغه تار تېروي چي مخکي ئې لا په کوڅو او درختو کي اوږد تړلی وي، لومړی لاس په عادي توګه تېرول کیږي او دوهم لاس چي تار د لومړي لاس ښیښه خوړلې ده په یوه لاس کي مصاله او په بل لاس کي توکر نیسي څو پر تار باندي غټی وچ پاته نه سي هر څومره چي تار ښوی او صاف راسي په هم هغه اندازه ډېر اهمیت پیدا کوي او تار هغه وخت چي ئې درې لاسه ښیښه وخوړله نو بیا پر څرخه باندي پېچل کیږي او اخیرنی سر د تار د څرخي پر لاس باندي تینګیږي او یا په څرخه کي یو چاک ورکول کیږي او هلته تړل کیږي. د ښیښې مصالې ډېر ډولونه لري ځکه هر ډول ئې خپل ځانګړي تینګوالی او سست والی لري. په ځینو وختونو کي د ښیښې تار د جوړولو له پاره لاندي مصاله او څیزونه هم سره چوني لکه: ساکودانه، سې پاړو،سریښم،کونډري، د هګی ژړ، د ترمز کوکی او نور څیزونه وراچول کیږي په کندهار کي د مانجې مصاله نه ورښوي او یو له بله ئې سره پټوي څو بل یو د ده په څېر مانجه و نه وهي.

## شپږم - الاداده مړه ئې کړو:

الاداد یوه ډله ییزه لوبه ده. په دې لوبه کي له لسو څخه تر شلو پوري هلکان لوبه کولای سي. د الاداد په لوبه کي یوه ډله یوې لوري ته او بله ډله مخامخ و بلي لوري ته کښیني او دوه کسه میراګان سره ټاکي او بیا لوبه په وچه او لنده سره وایي. هري ډلي چي وګټله د هغه میرا په کوڅو او ګوښه ځایونو کي پټیږي او د مخامخ ډلي مشر یا میرا پسي تر هغو پوري نه ورځي چي له هغه څخه جواب د پټېدو وا نه وري، نو د جواب د اورېدو له

پاره بايللې ډله ناري کوي او داسي واي: «منګی دړي وړي، منګی مات» ... او نوموړې ناره څو ځله تکراروي چي منګی مات... خو بيا د هغې ډلي مشر چي ځان ئې پټ کړی دئ له هغې لوري څخه رېغ ورکوي او مقابل جواب ورکوي چي راسه او يا هم مه راځه. په دې ډول ورته ويل کيږي: «منګی مات» يا هم وايي: منګی نه مات يعني مه راځه نو د منګي مات په صورت کي مقابل لوری د ده د پيدا کولو تلاښ پيلوي خو هغه يعني لومړي نفر چي پټ سوی دئ د يوې داسي لاري يا لوري څخه راځي چي هغه بل نفر ئې و نه ويني او وئې نه نيسي، د لوبو هغو هلکانو ته ځان ورسوي چي مشر ئې د ده په لټولو کي ليري تللی دئ نو دې خپل سوکان پر شا په خپل قوت سره ورکوي او هغه په مقابل کي په دې چي مشر ئې خبر سي او ژر را وځغلي نو نارې وهي او وايي (الاداده مړه ئې کړو، الاداد) او تر پايه پوري نوموړي ناري وهي، څو خپل مشر خبر کړي. مشر چي ئې نوموړي نارې واوري نو په تراټ سره ځان د خپلو انډيوالانو لوري ته را رسوي او د هغه د نجات په لټه کي کيږي نو هغه بيا ځغلي او ځان په يو بل ځای کي پټوي او د بايللي ډلي مشر هم ورپسي ځغلي خو که ئې ونيوی نو وايي دغه دئ غل مو ونيوی. تر دې وروسته په همدغه ډول سره بيا خپل د بايلونکي ډلي مشر چي په دې پلا کي ګټونکی سوی دئ خپله د لومړي نفر په څبر پټيږي او بيا د دوهمي ډلي مشر چي سترګي ئې پټي دي او يا ئې هم و بل لوري ته اړولي دي په تکرار سره داسي نارې وهي: منګی «دړي وړي منګی مات» بيا هغه د نه يا هو جواب ورکوي. په دې صورت کي هغه هلکان چي ناست دي او د الاداده مړه ئې کړو نارې وهي هغوی و خپل مشر ته نه سي ويلای چي مقابل لوري نفر او يا مشر چيري پټ سوی دئ بې له دې څخه چي له چا څخه پوښتنه وکړي ورځغلي به او هغه به پيدا کوي او نيسي به ئې. د نيولو په صورت کي دی هم بريالی دئ او د ده ډله نور د وهلو او الاداده مړه ئې کړو له نارو څخه بېغمه کيږي.

د الاداده مړه ئې کړلو لوبه عموماً د ماښام په وختونو کي اجراء کيږی او په ورځ کي څنګه چي د پټېدو زمينه برابره نه ده نو چندان دا لوبه نه کيږي او د تاريکې په لومړي ماښام کي اجراء کيږي. بل علت ئې دا دئ چي نوموړې لوبه د ځغستلو ډېر ښه سپورټ او پهلواني ده نو ځکه د ورځي په ګرميو کي په کندهار کي يو څه ګران کار دئ او په ځغستلو کي ډېري خولې د لوبه کوونکو بدن کوي او هغه څوک چي منډه وهلای سي يا ځغستلای

سي هغوی ډېر کامیابه او بریالي وي نو ځکه هغه څوک مشر او میرا کوي چي دغه صفتونه ولري یعني غټ، قوي او غښتلی وي تېز وځغلي او نور.....

د الاداد په لوبه کي هره خوا کوښښ کوي چي د بلي خوا لوبه کوونکي په دغه وخت کي چي د هغوی مشر را رسیږي دومره وټکوي څو نارې وړپورته کړي او وئې تښتوي نو ځکه د مقابل لوري د مشر په راتګ نارې وهي: «الاداده مړ ئې کړو - سره او زرغونه ئې کړو، الاداده مړ ئې کړو - سره او زرغونه ئې کړو» او په دغه ډول لوبه تر پایه دوام پیدا کړي.

### اووم: په انګورو کي دئ:

په انګورو کي دئ لوبه یو له ډېري لرغوني زمانې څخه راپاته لوبه ده چي تر اوسه ئې هم هلکان د لوبې په دود او دستور سره تر سره کوي. نوموړې لوبه یوه ډله ییزه لوبه ده چي ډېر لوبه کوونکي په دغه لوبه کي برخه اخلي او ډېره خنداوره لوبه ده. ډېر کسان چي د لوبي اصلي غړي هم نه وي په ګوښو کي د سیل له پاره ورته ولاړ وي او خوند ځني اخلي. (په انګورو کي دئ) لوبه عموماً په اوږدو کوڅو او پراخو ډګرونو کي او یا هم په داسي ځای کي چي فاصله ئې ډېره وي کیږي.

(په انګورو کي دئ) لوبه په شلو کسو کیږي. لس کسه ئې یوې خوا او لس ئې بلي خوا ته وي. د دواړو خواوو مشران او میراګان جلا سره ولاړ وي، ولي دواړه په غوږ کي یو او بل ته یو څه سره وايي. مثلاً کشمش انګور به وټاکو خو بیا یو د بله پر کشمش یا په ځانګړې توګه پر سپینو کشمشو سره جوړیږي، د هري ډلي میرا په نوبت سره خپلو ملګرو ته ورناري کوي: «زما انډیوالانو په انګورو کي دئ». انډیوالان ئې پس له هغه چي په خپلو کي ئې صلاح سره وکړه ورته وايي، مثلاً: تور انګور. څنګه چي سپین کشمش ټاکل سوي دي وايي چي یا. د هغي بلي ډلي نوبت رارسیږي میرا ئې پر خپلو انډیوالانو باندي ږغ کوي وايي: «زما انډیوالانو! په انګورو کي دئ» هغوی تر مشورې وروسته ورته وايي چي: ټنډان انګو» نو بیا هم څنګه چي سپین کشمش ټاکل سوي دي نو بیا هم میراګان ځواب ورکوي چي یا. په همدغه ډول بیا هم هغه بل میرا خپلو انډیوالانو ته په تکرار سره ورنارې کوي چي: «زما انډیوالانو! په انګور کي دئ» بیا هغه ځواب ورکوي د مثال په توکه هغه دا پلا درست جواب ورکوي چي: (سپین کشمش) بیا د هغه میرا ږغ پر کوي او وايي (خرخري) نو

د دې نارې په اورېدو سره ګډونکې ډله په تيزي او چالاکي سره ورځغلي او د هغي بلي ډلي و ځای ته ځان ورسوي او هر يو د بل نفر په شا کيږي يعني لس نفره د هغي بلي ډلي د لسو نفرو پر شا باندي سپريږي چي و دې حالت ته د کندهار په فولکلوري اصلاحاتو کي د خرخري کلمه استعمال سوې ده.

پسله هغه څخه دغه لس نفره چي د هغي بلي ډلي پر شا باندي د ګډونکو په رول او ډول کي سپاره سوي دي تر هغه ځايه وړي چي دوی پخوا ناست وه او هغه بيا بيرته په ځغاسته تر خپل ځايه پوري ځانونه را رسوي او بيرته  د پخوا په شان پر ځای باندي کښېني او بيا هم ميراکان چي په سپرېدو کي ونډه نه اخلي په غوړ کي پټ سره وايي چي په انکورو کي دئ بيا هم يو ډول انګور ټاکي او خپلو انډيوالانو باندي هر ميرا په خپل نوبت باندي رږغ کوي څو چي بازي يا لوبه يوه ډله وګټي، ګډونکې ډله پر بلي ډلې باندي سپارکي ګټي. يا سپارکي خوري کلمه هم استعماليږي.

په انکورو کي دئ لوبه يوازي په انګور کي څه نه ټاکي بلکي د لوبي د ډېر دوام په خاطر د انګورو ډولونه خلاصيږي او بيا دوی نور شيان ټاکي، نو کله کله د خندا په خاطر د کوڅې د خلکو څخه څوک ټاکي او داسي هم وايي: «په حاجيانو کي دئ» تر څو هغه ټاکلی حاجي ياد کړه سي بيا هغه ډله ئې ګټي او يا وايي په کوڅو کي دئ او داسي نور څيزونه ټاکي او لوبه سره کوي.

(په انګورو کي دئ) لوبي ميراکان يوازي د کنټرول په خاطر ولاړ وي خپله په لوبه کي ګډون نه کوي او په همدغه ډول تر پايه پوري دوام پيدا کوي او ختميږي.

### اتم - پټېدنګی:

د پټېدنګي لوبه پوره ماښام او يا هغه وخت چي د ماښام ډوډۍ وخوړه سي، اجرا کيږي. نوموړې لوبه ډېر وخت د هلکانو تر منځ اجرا کيږي.

په دې لوبه کي يو تن پټيږي، چيري چي ئې زړه وغوښتی هلته ځان پټوي او کله چي ځان په داسي ځای کي پټ کړي چي د ده خوښ او د علاقې وړ وو نو بيا هغه څوک چي دی پيدا کوي او لټوي ئې د هغه و دغه رږغ ته چي وايي: «منګی دړي وړي، منګی مات» جواب ورکوي او وايي: «منګی مات» پسله دې رږغ څخه يو تن او کله کله څو تنه په ده

پسی ورځي او ببلابېلي برخي پلټي څو نومورې پیدا کړي که ئې پیدا کړ بیا نو دی خپلي سترګي یا خپله پټوي او یا هم د کوم بل چا په وسیله سترګي پټوي او نفر ایله کوي. د نفر له ایله کولو سره سم دی هم نارې وهي: «منګی دړي وړي، منګی مات؟» هغه وایي نه مات! څو خپل ځان د لومړي نفر په څېر په یوه سم او غلي ځای کي پټ کړي او بیا د هغه د ږغ په مقابل کی ور ږغ کوي چي منګی مات! نو بیا نفر ورپسي ځغلي او ټینګ یې نیسي او له ځانه سره ئې راولي. هره ناغه چي یې مخکي سره کړې وي هغه ځني اخلي او په دې ډول سره نومورې لوبه پای ته رسیږي.

## نهم - ړوند چرګ:

د ړوند چرګ لوبه په رڼا او تیاره کي اجرا کېدای سي. په کندهار کي په ډله ییزو لوبو کي یوه په زړه پوري لوبه ګڼل کیږي او تر اوسه پوري ئې خپل فولکلوریک اهمیت ساتلی دئ. دا لوبه په څو تنو اجرا کیږي یعني په دې لوبه کي لومړی څو کسه شاوخوا سره کښیني او په یوه دایروي انځور سره ټولي لاري بندوي او بیا یو نفر د میدان په منځ کی دروي او سترګي ئې په یو دستمال باندی داسي ورتړي چي هیڅوک و نه لیدلای سي او بیا د میدان د لوبه کوونکو څخه یو نفر پټوي او ټوکر په لاس کي نیسي او نومورې نفر چي سترګي ئې ټینګي تړلي وي او د (ړوند چرګ) په نوم سره یادیږي هغه په نومورې ټوکر باندي نفر ولي او ړوند چرګ هم کوښښ کوي چي هغه ونیسي هغه بیا هم ځني پټیږي او یا ئې ټینګ په هغه تاو کړې ټوکر یا رخچینه[35] سره ولي او له یوې او بلي خوا څخه ناست کسان هر یوه ته چي دا رخچینه په لاس ورتله و میدان ته ور داخلیږي او ړوند چرک په ولي او بیا ځغلي. ړوند چرګ کوښښ کوي چي هغه ونیسي، څه وخت چي پر دې بریالی سو چي ویشتونکی ونیسي نو بیا د ده سترګي خلاصوي او د هغه چا چي ړوند چرګ په خپل تلاښ سره نیولی وي سترګي ورتړي. د لومړي سړي (ړوند چرګ) په څېر ئې په رخچینو سره ولي او خپلي خنداوی پر کوي په دغه ډول د ړوند چرګ لوبه هم پای ته رسیږي.

---

رخچینه: په کندهار کی هغي خولۍ ته چي د خامک په وسیله خامک سوې وي او یا ئې په مریو باندي جوړه کړې وي ویل کیږي. نومورې خولۍ ته چي پر هغه باندي لنګوټه تړي و هغې ته خولۍ نه بلکي رخچینه وایي.

**لسم - اناګۍ:**

د اناګۍ لوبه چې د ماپښین او سهار په وخت تر چایو چښلو وروسته اجرا کېږي د ډېرو وړو ماشومانو لوبه ده. غټان نوموړې لوبه ډېره نه اجرا کوي.

د اناګۍ لوبه په دې ډول پیلیږي: لومړی څو کسه پر یوه لوړ ځای سره کښېني یا درېږي او بیا د یو سره حساب پیلوي او اخیرنی حساب ځان ته معلوموي. د مثال په توګه شل ئې اخیرنی حساب وټاکه نو بیا د یوه سره یو، دوه غړي میراګان سره درېږي او نور ټول د لوبې غړي حسابوي پر هر چا چې شل راغله هغه انا بلل کیږي. بیا یو لاندې را کښته کیږي او انا ورپسې ځغلي څو هغه ته لاس ور وړي او هغه بیا انا بلل کیږي. مخکنۍ انا بیرته لوړ خیژي. د اناګۍ په لوبه کې یوه لوړه نه وي، بلکې لوبه کوونکی کولای سي چې هري لوړي ته چې د ده په شاوخوا کې نژدې وي وخیژي او ځان له انا څخه وساتي. د اناګۍ په لوبه کې معمول داسې دئ که چیري لوبه کوونکی و لوړي ته وروختی نو بیا خپله انا حق د دې نه لري چې لوړ ورپسې وخیژي. څرنګه چې دواړو په کښته کې ډېر سره ځغستلي دي نو په دې خاطر هم لوبه کوونکی مجبور دئ چې د ځان د هوسایي له پاره و لوړي ته ورسوي. کله کله داسې هم پېښیږي چې یو نفر لوبه کوونکی انا د خپل ځان سره بوخته کړي او بیا بل نفر او یا څو نفره نور لوبه کوونکي هم راکښته سي او انا له کړاو سره مخامخ کړي. انا په دې وخت کې حیران پاته وي چې په کوم یوه پسې وځغلي او کوم یو انا کړي. کله په یوه او کله په بل پسې ځغلي څو د ځان پر ځای کوم بل نفر انا کړي. په دې سرګردانه حالت کې لوبه کوونکی وایي چې انا مو لیونۍ کړه.

د لوبې اصلي هدف دا دئ چې انا باید خپل ټول لمسیان چې لوړ ئې یو ځای سره را غونډ کړي دي، کنترول کړي او هیڅوک پرې نه ږدي چې سره تیت او پرک سي. خو برسیره پر دې هم لمسیان شوخ وی، یوې او بلې خوا ته ځغلي او انا ورپسی ځغلي. نوموړې لوبه په دې ډول پیل او ادامه پیدا کوي. اوس ئې یو فولکلوریک اهمیت پیدا کړی دئ اوپه دې ډول تر پایه پوري پایښت پیدا کوي او تمامیږي.

## يوولسم - لپانکی:

په دې لوبه کې اساسي اجزاء ګنجونی[36] او لپانکی[37] دي چې لوبه په کېږي. په لوبه کې دوه نفره برخه اخیستلای سي ځکه نوموړې لوبه دوه نفری لوبه ده. نور نفر په دې لوبه کې نه ځاییږي. نوموړي دوه نفره یو او بل ځیني شرطونه او څیزونه په خپل منځ کې ایږدي او بیا د ګټلو په وخت کې یو له بل څخه نوموړی شرط تر لاسه کوي. د نوموړی لوبې پیل په دې ډول دئ:

تر هر څه مخکې یو اوږد خط یا کرښه باسي او په یو معین ټکي باندي ګنجونی ایږدي او بیا په نوبت باندي هر یو له لوبې کوونکو څخه خپل لپانکی د ګنجونې و لوري ته ور اچوي چې څومره و ګنجونی ته ورنږدې دئ او بیا به هغه بل نفر خپل لپانکی و ګنجونې ته وراچوي. هر لپانکی چې و ګنجونې ته ور نژدې وي هغه د لومړي واري یا ویشتو حق تر لاسه کوي. پس له هغه څخه پر ګنجونې باندي واری کوي او هغه لیري فاصلې ته لغړوي او بیا نوموړې فاصله له هغه ځای څخه چې ګنجونی ئې لغړولی دئ د ګامونو په وسیله ګاموي او ګامونه شمېري که ګنجونی ښه ګردی وو نو ډېره فاصله لغړي او که ډېر ګردی نه وو نو لږه فاصله لغړي نو ځکه باید ګنجونی په پوره اندازه سره ګردی وي. پس له هغه څخه چې ئې د ګنجونې فاصله د ګامونو په وسیله سره وشمېرله نو بیا پر هغه ګنجونې چې اوس ئې فاصله لیري ده ټک کوي که چیري ئې ټک خطا ولاړی نو بیا نوبت و دوهم نفر ته رسیږي او ګنجونی ولي. بالاخره هغه هم خپل ګامونه شمېري. هر چا چې د نوموړو دوو نفرو لوبه کوونکو څخه حساب ژر و شلو یا هغه معین حد ته چې مخکې ئې لا سره ایښی وي ورسوي هغه بریالی دئ او لوبه د هغه په ګټه سر ته رسیږي. وروسته هغه بایلونکی و ګټونکي ته سپارکي ورکوي او که ئې کوم بل څیز یا شرط سره تړلی وي هغه ګټونکي ته ورکول کیږي او د لپانکي لوبه په همدغه ډول سر ته رسیږي.

---

[36] ګنجونی: هغه ډبره ده چې په لپانکي باندي ویشتل کیږي او هغه بیا په قدمونو حسابوي نوموړې ډبري ته ګنجونی ویل کیږي.

[37] لپانکی: هغه پیته ګردی اوږده ډبره یا کانی دئ چې په لاس کې ښه نیول کیږي او د هغه په وسیله سره ګنجونی ولي.

د کندهار په ډله ییزو لوبو کې پر پورته لوبو سربېره یو لړ نورې لوبې هم سته چې ډېر رواج لري. د هغو له جملې څخه موږ د ځینو لوبو یوازې نمونه څرګندوو او د نوموړو لوبو په شاوخوا کې به وروسته څېړنه وکړو څو په هغه اصلي ډول وکولای سو چې نوموړې لوبې پیدا او د یو او بل څخه ئې نوشته کړو.

د دې لوبو نومونه په لاندې ډول دي: ارکاره او چاړه، ټنډه خره، کاڼې کړپ، اوږده مېړانه، ورت، ورت لوبه او داسې نورې لوبې چې ممکن له قلم څخه پاته وي. زه په ډېر معذرت وایم ډېر کوښښ مې وکړ چې نوموړې لوبې راغونډې کړم ولې ومې نه سو کولای چې د فولکلور پر ډګر ئې روښانه کړم. اوس به د دې مطلب په جریان کې د هغو حیواناتو پر لوبو باندې څه ولیکم چې د کندهار په ښار کې د لوبو وسیله ګرځي او په ډله ییزو لوبو کې پوره ځای درلودلای سي لکه د کوترو په وسیله لوبه، د کرک په وسیله لوبه، د زرکو په وسیله لوبې او ساتېرې. سګواني (د سپیانو جنګول) او همدغسې چرګ بازي یا د چرګانو جنګول او نور حیوانات. په یو تعداد مرغانو باندې لکه په نورو سیمو کې چې ساتېرې کېږي په کندهار کې رواج نه لري مثلاً د باز په وسیله ښکار کول.

## کوتر بازي:

په کندهار کې له ډېرې زمانې راهیسې د کوترې لوبه دود لري یعني د کوترو په وسیله لوبې کول ډېر دود دي. په کندهار کې په عام ډول کوتربازي ورته وایو او هغه څوک چې نوموړې لوبه تر سره کوي و هغه ته کوترباز وایي. په همدغه ډول کوترې لکه څنګه چې هر چا ته معلومه ده د کورنۍ حیواناتو له جملې څخه ګڼل کېږي او د انسان او انساني ژوند سره اړیکې پیدا کولای سي. کوترې پر دوه ډوله دي: یو ډول ئې لوټن نومېږي او بل ډول ارغه کوترې دي. هره ډله ئې بېلې بېلې ځانګړتیاوې لري او هره ډله ئې خپل ځانګړی جنس او ذات لري او خپل ځانګړې ارزښتونه لري.

## لومړی - ارغه کوترې:

دا ډول کوتري غټې دي او د الوتلو پر وخت ډېري نه سي لوړېدلای. د اوږد واټن وهونکو کوترو په نوم هم یادیږي. څه وخت چي والوتلې نو د ډېر وخت له پاره په ډېره ټیټه فاصله کي د کورونو پر سر لاندي په ډېر سرعت سره تېریږي او یو ځانګړی آواز خپروي او د وزرونو ږغ ئې څه ناڅه موسیقیت لري.

د کوترو یو تعداد علاقه مندان ارغه کوتري خوښوي او ډېر ښه ډولونه ئې ساتي. د ارغه کوترو هغه ډله چي شال دومبی[38] ولري کوتر بازان ئې نه خوښوي او یوازي صافي بې له شال دومبي څخه د علاقې وړ ګرځي او ډېر ارزښت هم لري. کومي کوتري چي شال دومبی ولري ډېر لږ قیمت لري، خلک ئې په کور کي نه ساتي او یوازي ئې له غوښو څخه ګټه اخلي.

د کوترو په نسل کي هغه کوتره چي شال دومبی ولري هغه بیا له بلې کوتري سره د نسل په خاطر نه جوړه کوي او بل هغه ارغه کوتره چي ګیچ[39] وي هغه د الوتلو له پاره نه ساتل کیږي.

**د کوترو دوهم ډول ته لوټن وايي.** تر ارغه کوترو لږ څه وړې او کوچنی وي. څو ډولونه لري. دغه ډولونه یې ډېر مهم دي: آودي ډوله کوتره، کاغذي ډوله کوتره، زاغ ډوله کوتره، سنګي ډوله کوتره په دې ترتیب زاغ سپین لکی، آودي سپین لکی او سنګي سپین لکی کوتري سته.

لوټن ډوله کوتري په لوبو او الوتلو کي د بازۍ کولو ډېر ښه استعداد لري. نوموړي کوتري په الوتلو کي ډېري لوړي خیژي حتی دومره خیژي چي د سترګو له دید څخه ورکیږي او پناه کیږي. ولې د کور پر سر باندی دوري وهي او لوریږي او د ارغه کوتري برعکس لیري تاوونه نه وهي. لوټن کوتري ډېر کرملاغونه او هوایي ډیپونه وهي. کوترباز یې و دې ډول لوبو ته ډېر خوشحالیږي او په اصطلاح کي و دې ډول کوتري ته بازیګره کوتره وايي. لوټن

---

[38] شال دومبی: هغه کوتري چي په لکی یا وزرونو کي پر یو ډول رنګ برسیره بل رنګ هم ولري او یو څو بڼې ئې بل ډول وي. یعني که ئې لکی ټوله سپینه یا سره یا هم توره وه او یو پر په سپینه لکی کي تور یا سور یا بل ډول وو نو ئې شال دومبی بولي.

[39] ګیچ کوتره: هغه کوتره ده چي د الوتلو توان او طاقت و نه لري. کله چي په هوا سي بیرته په کرملاغونو باندي را لویږي. که شال دومبی و نه لري نو د نسل له پاره ئې ساتي که شال دومبی ولري نو ئې حلالوي.

بازیګري کوتري خورا ډېر ارزښت لري. کوترباز دمخه تر دې چې و کوترو ته دانه ور واچوي، کوتري الوزول کیږي یعني هغه وخت چې کوتري له کوډلي څخه راخوشي سوې نو وروسته ئې د یوه ټوکر په وسیله سره یاغي کوي. دغه حالت ته د کندهار په اصطلاح کي د کوترو تورول وایي او تر تورولو وروسته کوتري نه پرېږدي چي و خپل تاټوبي یا کوډلي ته نژدې کښېني او د یوه شپېلک په وسیله چي په خوله ورته وهل کیږي کوتري توروي او الوتلو ته ئې مجبوروي. څه وخت چي کوتري و هوا ته ښې لوړي سوې نو کوترباز ئې هم د یو کونج او کناره څخه یا له یوه ګوښه ځایه تماشه کوي.

کله کله داسي هم پېښېږي چي یو کوترباز کوتري ایله کړي، بل کوترباز هم خپلي کوتري ایله کوي څو د ده کوتري د هغه بل له کوترو سره ګډې سي او د هغه کوتري په خپل تور کښېباسي او ګډې ئې کړي.

څه وخت چي د مقابل لوري کوتري د ده په کوترو ګډې سوې نو دستي نوموړی کوترباز خپلي کوتري کښېنوي او د کښېنولو ډول ئې داسي دئ چي یا دانه ورپاشي او یا هم ماده کوتره ورغورځوي او خپلي کوتري کښېنوي او بیا ئې د کوډلي لوري ته ورشړي. شړلو ته د کندهار په اصطلاح کي خانه کول ویل کیږي یعني کوتري خانه کوي. که چیري نوې کوتره د نورو کوترو سره یو ځای خانه سوې وي نو بیا ئې نیسي او وزورونه ئې ورتړي او که چیري خانه سوې نه وي نو بیا ئې په تور باندي وهي او تر تور لاندي ئې راولي او نیسي ئې بیا ئې وزرونه ور تړي .

د کوترو د وزرونو تړل داسي وي چي د وزرو هره بڼه د بلي بڼي څخه جار باسي او د تار په وسیله ئې یو د بل سره تړي او ایله کوي ئې. تر څو ورځو وروسته چي ښه عادت ونیسي بیا ئې که نر کوتر وي د ښځي کوتري سره جوړه کوي او که ښځه کوتره وه نو ئې له نر کوتر سره جوړه کوي. د جوړه کولو دود او دستور ئې داسي دئ: لومړی ماده کوتره او بیا نر کوتر تر یوې سودې او یا ساپي او یا کوم بل داسي څیز لاندي کوي چي له دباندي څخه هوا ورسي او څه ناڅه روښنایي هم ورسي یعني کوتري نفس وکښلای سي. نو دوې یا درې ورځي په نوموړي ځای کي دانه ور اچوي او اوبه ورته ایږدي وروسته ئې بیا ایله کوي. که چیري ئې واده سره کړی وو (جوړه سوي وه) نو په همدغه ډول خپله ځاله دلې سره جوړوي او هګۍ اچوي. نور د دغه کور بلده کوتره سوه. په کندهار کي د بلدي کلمې

اصطلاحي معنا د کوترو په دود او دستور کې (جلده) بولي یعنې کوتره جلده سوې ده او بیا هغه څوک چې لومړی د کوترې خاوند وو هغه حق نه لري چې بیرته خپله کوتره واخلي. دا د کوترو په دود کې یو باارزښته پرنسیپ غوندي ګرځېدلی دئ او هر کوترباز د دې مراعات کوي یعنې بیرته خپله کوتره نه غواړي او کوښښ کوي چې خپلې کوترې وساتي.

د کوترو د الوزولو په دود کې هغه کوتره چې پر هګۍ ناسته وي هغه نه الوزول کیږي او هغه کوتره چې په کوربز کې وي هغه هم نه الوزول کیږي. که چیرې د هګۍ کوتره له هګیو څخه په زور مجبوره سي، د هغې کوترې هګۍ ورستیږي او چیچې نه نیسي. په جلدو کوترو کې داسې کوتره هم سته چې له ډیر واټن څخه هم خپل ځانونه و کور ته را رسوي او پس له څو میاشتو څخه هم خپل ځان و کور ته را رسوي. عموماً دا هغه کوترې وي چې په همدغه کورکې زیږیدلي او لویې سوي وي او اموخت ئې دلته نیولی وي او په نورو ځایونو کې د څه مودې له پاره کېدای سي چې پاته سي ولې بیرته خپل اولني ټاټوبي ته راځي.

دا ځانګړتیا په ارغو کوترو او لوټن کوترو دواړو کې یو شانته ده، ولې ارغه کوترې لوړ پرواز نه سي کولای او د کورونو پر سرونو باندې په ډېر تېز سرعت سره تېریږي ولې دا ډول ځانګړتیا بیا په لوټن کوترو کې نسته او هغه په یوه ډېره لوړه ارتفاع سره لوړیږي، کرملاغونه وهي او د سترګو له دید څخه ورکیږي. لوټن کوترو ته چې په جسم باندې کوچنۍ کوترې دي بازیګر یا د بازیو کوترې هم وایي ولې ارغه کوترې په جسم باندې غټې دي او پر سر باندې یو غټ ټکی یا نښان هم لري چې کوتر بازان ئې ډېر ښه توپیر کولای سي او له لوټن څخه جلا کېدای سي.

## د کرک په وسیله لوبه:

د کرک په وسیله لوبه چې کرک بازي هم ورته وایي پر دوه ډوله ده: یو هغه ډول کرک چې د جنګولو له پاره ساتل کیږي او خپلې ځانګړتیاوې لري. دوهمه ډله ئې هغه کرکان دي چې د نارو وهلو له پاره ساتل کیږي. دا ډله هم ځان ته ځانګړتیاوې لري.

لومړۍ ډله کرکان چې د جنګ او جنګولو له پاره استعمالیږي عموماً د کرک لومړی پړاو دئ او په دوهم پړاو کې ئې بیا د نارو له پاره ساتي. د کال په لومړي فصل کې چې غنم

را شنه سول او تقريباً د کندهار په هر سيمه کې غنم کرل کيږي نو څه وخت چې غنم څه ناڅه سره غټ سول، کرکان په دغو ځايو کې ځانونه پټوي او بيا دلته خپل لومړني اثار ښکاره کوي. لومړي اثار ئې يا د پښو قدمونه څرګنديږي او يا هم ږغونه چې وايي: (سيو سيو ټک پرک) نو کرک بازان پوهيږي چې کرک راغلی دئ او د نيولو اقدام ئې کوي. کرک نيول پر دريې ډوله دي: د تور په وسيله، د ډبري په وسيله او کرکي سپيو په وسيله.

تر هر څه مخکي دا معلوميږي چې ايا په نومړو غنمو کې چې د کندهار په دود خسيل[40] ورته وايي کرک سته که يا؟ کله چې ئې دا معلومه کړه چې کرک سته او اعلامې ئې ورڅرګندي سوې او د کرک د معلومولو ډول هم داسي وي چې لومړی توپچه[41] د خسيلو په شاوخوا کې وهي او د کرک ږغ و ځان ته معلوموي څرنګه چې ئې د کرک ږغ څرګند کړ نو بيا په ډېر احتياط او ارامتيا سره تور غوړوي او بيا يو نفر د خسيلو منځ ته ور ننوزی او (کرک توروي)[42] څو هغه والوزي څرنګه چې مخکي لا جال ورته غوړېدلی وو نو کرک د جال پر سر باندي معلوميږي او بيا يو نفر ورننوزي او کرک نيسي. د کرک په نيولو کې د توپچې رول خورا ډېر دئ. د توپچي وهل هم ځانته مهارت غواړي هر څوک سمه توپچه نه سي وهلای او د کرک د نيولو مينه وال يا شوقيان بايد تور، توپچه او ښځه کرکه (کرکۍ) ولري.

څه وخت چې کرک ونيول سو، سمدستي ئې په قفس کې اچوي او وزرونه ئې ورلنډوي. کرک تر ډېره وخته خاموشه وي او حتی دانه هم نه خوري، کرک پر دانه راوستل هم داسي نه دئ چې ايږدن يا دانې په قفس کې ورته واچول سي بلکي په بل کوم ځای کې اچول کيږي او بيا څه وخت چې ئې کرک راويستی نو بيا دانې په لاس کې ورته نيسي او

---

[40] خسيل: هغه غنم چې نوي را شنه سوي وي او وږي ئې لا تر اوسه پوري نه وي نيولي نو دې حالت ته په کندهار کې خسيل ويل کيږي.

[41] توپچه: توپچه چې اصل فشار پر پې باندي واقع کيږي او تلفظ کيږي. توپچه يو ډول اله ده چې د کرک ږغ څني راوزي او خپل مسلکي خلک ئې جوړوي او کرک هم پر ږغ راځي.

[42] توروي: دلته د توروي کلمه يوازي او يوازي د ياغي کولو او بېرولو په مانا سره راځي. يعني کرک والوتی، وبېرېدی، وتورېدی. ټولي يو ډول کلمې دي.

کرک پر را ایله کوي. په دې وخت کې خپل ټول شاوخوا د پټو په وسیله سره پټوي او په پټه سره دانه ورکوي، څو کرک اموخته کړي.

### کرک نیول د ډبرۍ په وسیله:

په هغو خسیلو کې چې د کرک نخښې او علامې څرګندې وي یعني د کرک د پل نښاني ولیدل سي او یا هم د کرک فضله مواد (غول) ولیدل سي هلته یو منظم ډب کیندي او شاوخوا ئې په ډېر ښه ډول ګردی راولي او په هغه اندازه نوموړی غارګډی جوړیږي چې کرک وکولای سي، نوموړی غارګډي ته په اسانی سره ورننوزي او د هغه غارګدي په اندازه سره یوه ګردی ډبره پیدا کوي او بیا ئې د غارګډي و لوري ته پر یوه کرښه نژدې داسي کړه ودروي چې کله چې راچپه سي ټول غارګډی پټ کړي. د را چپه کېدو له پاره ئې هم یو لرګی په خپله په غارګډي کې اوږد اوږد ایښودل کیږي چې د غار یو سر او بل سر ونیسي او پر نوموړي لرګي باندي په اوږدوالي سره یو بل لرګی داسي درول کیږي چې پر یوه سر ئې ډبره جګه ودروي او بل سر ئې پر هغه لاندي لرګي باندي داسي تکیه کوي چې یو څیز ورسره ومښلي ډبره خطا سي او کرک یا بل کوم څیز چې د لرګي سره ئې تماس کړی دئ په غارګډي کې بند سي.

وروسته د غارګډي و شاوخوا لوري ته د غنمو یا ایرډونو دانې شیندل کیږي او د دانو مسیر یا کرښه د غارګډي و لوري ته را تېریږي او په خپله په غارګډي کې ډېري دانې اچوي چې د کرک توجه و هغه لور ته راواړوي او د شاوخوا دانې کموي ځکه چې کرک هم دلته په نوموړو دانو باندي موړ نه سي او خپل ځان غارګډي ته راورسوي. څه وخت چې غارګډي ته کرک راغی او د لرګي سره ومښتی نو ډبره پر ورخطا کیږي او کرک په نوموړي غارګډي کې بند پاتیږي.

څه وخت چې د ډبرۍ خاوند په خپل وخت و ډبرۍ ته راسي او وګوري چې ډبره رالوېدلې ده نو حتماً فکر کوي چې کرک بند سوی دئ. وروسته یو پټو داسي پر ځان باندي اچوي چې خسیل ټول شاوخوا بند کړي او یوازې خپل لاس په ډېر احتیاط سره و ډبرۍ ته ور نژدې کوي او کرک راباسي. کله کله داسي هم پېښیږي چې د کرک پر ځای چونګښې له ډبري سره تماس نیولی وي او په ډبره کې بنده وي نو څه وخت چې ډبرۍ ته د کرک په

نیت لاس غزول کیږي چونګښه ئې په لاس ورسي. په دې ډول سره کرکان نیول کیږي او ډېرۍ د کرک نیولو ډېره اسانه طریقه ده.

**د سپي په وسیله د کرک نیول:**

د ښکار سپیان په کندهار کې ډېر ډولونه لري. یو له هغو څخه د کرکي سپي په نوم شهرت لري. کرکي سپی د چیني سپي غوندې کوچنی وي او تر غټ خېل سپي ووړ او کوچنی وي. پر بدن باندې ښکې کمې لري یعنې کرکي سپی ښوی غوندې وي او کله کله تازي سپیان هم کرکان نیسي. څه وخت چې نوموړی سپی کرک پیدا کړي نو ئې په پر له پسې توګه تعقیبوي او هغه داسې په منګلو کې نیسي چې خوږ او زخمي هم نه سي. سپی تر هغو پورې کرک ساتي چې څو د سپي مالک راسي او هغه ته کرک ورتسلیموي.

نوموړي سپیان په کندهار کې له کوچنیوالي څخه روزل کیږي تر څو چې غټ سي او ښکار په کوي. د کرک د نیولو سپیان ډېر ارزښت لري او جلا نسل لري او جلا نسل ئې تربیه کیږي.

اوس چې کرک ونیول سو دا چې په هر ډول نیول کیږي د کرک باز تر لاس رارسیږي، نو بیا هغه ساتي او یوه کوچنۍ کڅوړه چې له ټوکر څخه جوړه سوې وي کرک پکښې اچوي او ځروي ئې څو نوموړی کرک پر دانه راسي. څه وخت چې نوی کرک پر دانه راغی بیا ئې د جنګولو په خاطر تر ځانګړي تربیې لاندې نیسي چې څو هغه و جنګ ته تیار سي. لومړی کرک و هنداري ته چیغوي یعنې دانه ورته نیسي څه وخت چې کرک پر دانه باندې ګرم سو نو دانه ځنې ایسته کوي او هنداره ورته نیسي. د کرک ګومان دا وي چې بل کرک ورته ولاړ دئ نو د جنګ اماده ګي نیسي. په همدغه ترتیب کرک باز کوښښ کوي چې کرک ډېر په لاس کې وګرځوي څو خپلې هغه بڼې چې پخوا ئې درلودې هغه ټولې توی کړي او نوي ښکې راوړي. د کرک باز په اصطلاح سره د لاس غوښه ئې جوړه کړې ده او یا هم وایي چې غوښه ئې کلکه سوې ده او په اصطلاح سره کرک پوسته سوی دئ. دې ډول کرک ته چې په لاس کې ډېر ګرځول سوی وي (پوسته کرک) وایي. پوسته کرک نو جنګ ته آماده کرک وي. غوښه ئې هم تر نورو کرکانو کلکه وي او د وهلو طاقت لري. نوموړی کرک د کوم بل کرک سره جوړه کوي او جنګوي ئې. د کرک تر جنګولو دمخه پوسته کرک

ته بدخوبي ورکوي يعني تر سهاره پورې نومړی کرک په لاس کې ګرځول کېږي چې بېده نه سي او تر سهاره پورې ړدن هم نه ورکول کېږي. سهار ئې جنګوي. د جنګ په وخت کې يو تعداد خلک چې مخکې لا خبر سوي وي د کرکبازۍ ډګر ته راځي. نومړی خلک ځنګ پر ځنګ داسې سره کښېني چې فاصله ئې په منځ کې پيدا نه سي او پر سرونو باندې يو پټو هم اچوي چې کرک و نه بېرېږي. وروسته هر کرکباز خپل کرک چيغوي او دانې ئې مخې ته نيسي څو هغه ښه پر دانو باندې ګرم راسي. وروسته کرکان مخ په مخ سره دروي څو حملې يو پر بل باندې وکړي. تر يوې يا دوو دقيقو يې سره ايله کوي که چيرې يو کرک بګيل نه سو نو ئې بيرته نيسي او هوسا کوي ئې او د کرک د څټ برخه ور پو کوي څو يو څه هوسا سي او بيا ئې د دانې په وسيله مستوي او يو د بل سره ئې مخ په مخ ايله کوي. تر هغه مهاله چې يو له کرکانو څخه وتښتي او مقابل لورى ئې وګټي. نومړې لوبه د پيسو په وسيله هم کېږي او خپله د کرک د ګټلو او بايللو په خاطر هم تر سره کېږي

څه وخت چې کرک بګېل سو، د کوم بل کرک سره ئې نه جنګوي ځکه جنګ نه کوي او د پخوا په شان نه چيغول کېږي او د کويت، کويت ږغونه پورته کوي. هغه کرک چې کويت کويت ږغونه کوي په اصطلاح سره بګېل کرک ورته وايي. تر هغه وروسته چې کرک کويت کويت ږغونه وکړي نو ئې و يوه غټ قفس ته وراچوي څو کرکان ډېر سي او د نارو کرک ځنې راوباسي. هغه قفس ته چې د نارو کرکان وراچوي هغه ته ګله يې قفس هم وايي. په کندهارکې داسې اصطلاح هم سته چې يو سړی بېغيرته وي او په ټولنه کې د نورو خلکو بد ځنې راځي يا هم بېرندوکی غوندي وي نو نور خلک وايي چې پلانکی سړی بېغيرته دئ چې ګله يې قفس ته ئې ور واچوئ او يا وايي چې (دا بې غيرته د ګله يې ور دئ). په همدغه ډول څه وخت چې کرکان په ګله يې قفس کې سره ډېر سول نو بيا ږغونه کوي او هر ږغ خپل خاص او ځانګړی ارزښت لري او نرخ ئې هم د کرک د ږغ په اسانۍ سره تعينيږي او ښه کرک په ګله يې قفس کې ځان معلوموي چې له ډېرو کرکانو څخه ډېر کم تعداد ښه کرکان راوزي يعني ښه ږغ لرونکي کرکان ساتي هغه نور چې ږغونه ئې پسې خراب وسي هغوی حلالوي.

اوس راځو خپلې دوهمې موضوع ته چې د کرکانو لوبه د ناره يې کرکانو په وسيله سره ده.

**ناره يي کرکان:**

کرکان په ګله يي قفس کي هغه وخت ځانونه معلوموي چي د مني لومړی فصل شروع سي او دوی پر نارو راسي. د نارو يا ږغونو ډولونه يې داسي وي: «ميو ميو ټک پرک» يا هم ږغ کوي: «ميو ميو تيت پرک» او هم وايي: کوچړ غړو، کوچړ غړوت او نورډولونه ئې ښرګنديږي. څه وخت چي کرک په قفس کي ناره وکړه نو د کرک خاوند ځان په يو ګوښه کي ورته پټيږي څو نوموړی کرک معلوم کړي. تر معلومېدو وروسته ئې په قفس کي نښاني کوي وروسته نوموړی کرک و بل کوم قفس ته په ځانګړي ډول سره اچوی او له ګله يي قفس څخه ئې جلا کوي او هغه قفس چي کرک په جلا ډول پکښې اچوي هغه ته پنبه يي قفس ويل کيږي چي د ډېرو ښو کرکانو له پاره پنبه يي قفس رانيول کيږي.

د کرکانو په نارو کي چي خلک ئې ډېر خوښوي او د شوق کرکان ورته ويل کيږي هغه ډېر لوړ اواز لري او ميو ميو ټک پرک لومړی درجه کرک دئ چي ډېر قيمت هم لري يعني ګران خرڅيږي. هر څوک ئې و نارو ته غوږ نيسي او له ږغ څخه ئې کېستونه او پيټې هم ډکيږي او د شوق ځايونو ته وړل کيږي يعني هغه ځايونو ته چي شوقيان او غزلې ويونکي ناست وي. هلته کرکان هم د نارو له پاره پر خادو باندي ځړول کيږي او د کرکانو د نارو ږغونه په پرله پسې ډول ډېريږي او د شوقيانو (غزلې ويونکو) پر ساز او موسيقي برسېره ټوله فضاد کرکانو دنارو(ټکهارو) زوږ نيولې وي او په فيتو کي يا کسيټوهم هغه فيته ډېره ګرانه وي چي د شوقيانو په اوازو کي ئې د کرکانو ږغونه هم وي. څه وخت چي د کرکانو په منځ کي يو کرک ږغ پورته کړي نو بل کرک هم ږغ ورپسي پورته کوي چي په همدغه ډول د نارو تسلسل تر يوه وخته په کرکانو کي ساتل کيږي. په دوهمه درجه کي هغه ناره يي کرک د قدروړ دئ چي د ميو ميو تيت پرک نارې وهي. همدغسي نور ډولونه هم شوقيان له ځانه سره ساتي.

کرکان عموماً د دوبي په وختونو کي پر نارو راځي. ددوبي په موسم کي د کرک شوقيان خپل ناره يي کرکان را باسي او په لوړو خادو ئې ځړوي چي د کرک د دښمن يعني پيشي څخه ئې وساتي. کرک له غوماشو څخه هم ساتل کيږي نو ځکه په ډېره نری خاصه کي ئې قفس پيچي څو د غوماشې له خطره په امن کي وي.

د کندهار په ښار او په خاصه توګه په کليو او باغونو کې د کرکانو نارې د دوبي په موسم کې اورېدل کيږي او تقريباً په سلو کې ۹۹ فيصده خلک په عامه توګه د نارو کرکان ساتي او خورا ډېر مينه وال لري. که چيرې د هر مسافر شپه د دوبي په موسم کې په کندهار کې راسي نو خامخا د کرکانو نارې له ليرې او نژدې څخه اوري. همدغسې د نارو کرکان د کندهار د ښار په ډېرو مفشنو (لوکسو) هوټلونو کې هم دود لري په هوټلونو کې کرکان ځړيږي او ډېر خلک و هوټلونو ته د کرک د نارو د اورېدلو په شوق ورځي يعنې نوموړی دود په کندهار کې يو عام او قبول سوی دود دئ چې موږ د لوبو په دود کې خبري پر وکړې.

## د سپيانو جنګول (سګواني):

په کندهار کې د سپيانو جنګولو ته سګواني وايي او هغه ځای چې سپيان پکښې جنګول کيږي د سګوانۍ ځای ويل کيږي. سپي جنګول (سګواني) په خپل ځانګړي ځای کې تر سره کيږي. نوموړي ځايونه په کندهار کې د سالو خان چمن او د ظاهرشاهي ويالې (لو واله) غاړه ده. په نوموړو ځايونو کې د جمعې په ورځ سپيان جنګول کيږي. بې له جمعې په بله ورځ د سګوانۍ ډګر ته څوک سپيان نه راولي. څه وخت چې د جمعې په ورځ ډګر ته سپيان راولي نو بيا څو همزولي او په ونه کي سره برابر سپيان جوړه کوي او د سګوانۍ ميدان ته ئې را داخلوي.

تر هر څه دمخه د سپي خاوند له سپي څخه هغه په غاړه کړي زنبکان او نور زينتي څيزونه باسي او يوازي ئې تناو يا پړی داسي په غاړه کي ور اچوي چې مخامخ ئې ميدان ته ودروي او د جنګ سپي ته ئې ور نژدې کړي. څه وخت چې سپي زورووهي دستي خطا سي او سپيان يو له بل سره ونښلي. څه وخت چې سپيان يو له بل سره ونښتل نو بيا د سپيو خاوندان حق نه لري چې د خپل سپي د کومک او مرستي په خاطر د مقابل لوري سپي تر پښې يا کوم بل ځای ونيسي. حتی که ئې د ده سپي په سرو وينو سره هم لړلی وي يوازي د سپي خاوند يا سګوان و خپل سپي ته ځانګړي اشارې کوي څو هغه په نوموړو اشارو باندي وپوهوي او د مقابل لوري له سپي څخه ځان خلاص کړي. په همدغه ډول د سګوانۍ سپيان تر جنګ مخکي له چمنو سره بلد وي او د خاوند و اشارو ته ګوري او

هغه ږغونه چي د سپيو خاوند ئې د جنګ په ميدان کي ورته کوي په بشپړه توګه د سپيو د توجه وړ وي. ټول سپيان خپل ځانګړي نومونه لري او د خپلو نومونو سره بلديت هم لري چي د جنګ يا بل کوم ضرورت په وخت کي خاوند په نوم ږغ ورته کوي.

د کندهار مشهور سپيان چي د سګوانۍ په ميدان کي ډېر شهرت لري او د سپيو مينه وال ئې له نومونو بلديت لري دا دي: کارګه - د حاجي صاحب لطيف خان سپی وو چي ډېر غښتلی او نامتو سپی وو. د حاجي صاحب له خوا هر څه ور زده سوي وه او تربيه سوی سپی وو. همدغسي لړم - نوموړی هم ډېر غښتلی سپی وو چي د ده خوجې په سيمه کي د اوالدار سپي په نوم يادېده. نوموړي سپي غټه ونه درلوده، انسانان ئې نه داړل (خوړل)، يوازي ئې له هغو سپيو سره جنګ کاوه چي د اوالدار له خوا څخه به ور ښکارول کېدی (حواله کېدی).

برسېره پر نوموړو سپيانو د خندکيانو سپيانو جنګول هم ډېر رواج درلود. خندکی سپی چي د نسل او ذات له پلوه يو ځانګړی ډول دئ. د شا ښکي نه لري او تر کوټه سپي څه کوچنی او تر چيني سپي لږ غټ دئ. په دې ترتيب سره ښوی غوندي سپی دئ او د سر يا ککرۍ خوا ئې غټه او ځيګر ئې هم ډېر غټ دئ. ولې د ملا اړخ ئې نری دئ. خندکيان يا په خپلو منځو کي سره جنګوي او يا ئې هم د کوړ سره جنګوي. کوړ يو ډول حيوان دئ چي ډېر غښتلي او قوي غاښونه لري او د سپي په اندازه قد لري. ولې خندکی داسي ورسره جنګوي چي د کوړ خوله ورتړي او که ئې و نه تړي نو بيا خندکی ور ايله کوي. د ډېر وخت له پاره نوموړی جنګ دوام نه پيدا کوي بلکي ډېر لږ وخت خندکی و کوړ ته ور ايله کيږي. په همدې ډول په هغه ورځ چي کوړ جنګول کيږي دمخه تر دې چي کوړ ونيول سي د سپيو په ميدان کي اعلانيږي چي په پلانکي ځای کي د کوړ نخښې نښانی پيدا سوی دي.

هر څوک کولای سي چي د کوړ په نيولو کي مرسته وکړي. نو بيا ډېر مينوال د کوړ په نيولو کي مرسته کوي څه وخت چي د کوړ د نيولو سيمي ته ور داخل سو، نو سپيان ايله کوي څو د سپيو په وسيله کوړ پيدا کړي. کوړ عموماً په غرنيو سيمو کي پيدا کيږي چي په همدې ډول نژدې غرونه د ذاکر غرونه دي. څه وخت چي ئې کوړ پيدا کړ نو څو نفره ورځي او داسي ورته وايي: «کوړ نه دئ لوټه ده، کوړ نه دئ لوټه ده». په همدې ډول سره کوړ نرميږی او ځان تسليموي او بيا دوی په غاړه کي تناب ور اچوي. څنګه چي

نوموړی حیوان ډېر وحشي او داړونکی حیوان دئ ځکه نو د کوړ د نیولو سره سم ئې په مخ باندي بوری ور اغوندي چي څوک و نه ویني او و نه بیرېږي یا و نه توریږي. بیا ئې ساتي او د جمعې په ورځي ئې د سپیو میدان ته د جنګ له پاره راولي. د کوړ په نیولو کي نور روایتونه او دودونه هم سته چي د پښتنو او یا په ځانګړې توګه د کندهار د سپیو جنګولو د عنعنې سره سمون خوري او نژادي اړیکي ورسره لري. د مثال په توګه دري ژبه کي هم د دې ببلګي څرګندیږي لکه چي د کوړ په نیولو کي وایي: (کپتار در غار است) ولي د کوړ د خوا څخه وايي یا ویل کیږي «کپتار نیست» یا نسته.

په څو وارو سره په همدې ډول تکراریږي: «کپتار در غار نیست؟» کوړ وايي «نه». د کندهار په پښتنو کي هم د کوړ په باره کي له پخوا څخه دغه اصطلاح پاته ده. په دغه ډول د کوړ په جنګولو سره د سپیو د جنګولو پر مېله باندي نور هم خوند ور زیاتوي. د سپیو په مېله کي له خلکو څخه پیسې نه اخیستل کیږي او په وړیا توګه هر څوک د نوموړي مېلې تماشا کولای سي. همدغسي د سپیو د جنګولو ډګرونه تر کندهار ښار دباندي د ښکارپور بازار په شاوخوا کي دي. نوموړي سیمي ته د سالو خان چمنونه هم وايي. د سالو خان چمنونه ډېري پراخي ورشوګاني دي چي په طبیعي ډول سره واښه پکښي شنه او د چمنونو بڼه لري. که چیري کوم وخت نوموړي چمنونه تر اوبو لاندي راغلي وي نو د سپیو د جنګ ډګر د لویي ویالې و دښتو ته لېږدول کیږي. هغه هم په خپل سر د سپیو خاوندان دا تصمیم نه سي نیولای بلکي د هغوی مشران چي حاجي صاحب لطیف او یا هم بنګ حبیب الله چي هغوی به دا ورته اعلانوي او د سپیو د جنګ میدان به ورته ټاکي.

د سپیو خاوندانو به خپل سپیان ډېر ښه نازول یعني ښه ئې ساتل که به ئې خپله وچه ډوډۍ خوړله خو سپي ته به ئې حتمي د پسه لړمون او یا به ئې د هګیو خاګینه ورکوله او له دې څخه به ئې ځانګړی خوند اخیستی چي د ده سپي په نس موړ او په تن پټ وي. په همدې ډول د سپیو د جنګولو لوبه یا د سهار څخه تر غرمې پوري وي او یا هم له غرمې څخه تر ماځیګر پوري دوام پیدا کوي. نوموړې لوبه چي د کندهار د نامتو ډله ییزو لوبو له جملې څه ګڼل کیږي فقط د کال په یوه موسم کي چي د دوبي موسم دئ او سختي ګرمۍ د کندهار ښار نیولی وي نه تر سره کیږي نور نو د کال په درو موسمونو کي

نوموړې لوبه تر سره کيږي. د ګرمۍ د پيدا کېدو سره بيرته پای ته رسيږي. په ګرمي کې هر سګوان خپل سپی په خپل کور کې ساتي.

**کبډي:**

نوموړې لوبه هم د کندهار د ډېرو پخوانيو او لرغونو او فولکلوريکو لوبو له جملې څخه ګڼل کيږي او ډېر لرغونی اهميت لري. اوس چنداني نه کيږي حتی بيخي له منځه تللې ده. د کبډي لوبه چې په کندهار کې دود وه نه يوازي د کندهار په ساحه کې تر سره کېده بلکي د نوموړي لوبي دود د هندوستان او پاکستان په ځينو سيمو کې هم رواج درلود. نوموړې لوبه په ډله ييزه توګه اجرا کيږي يعني يوه ډله چې شمېر ئې لسو کسو ته رسيږي يوې لوري ته او بله لس کسيزه ډله هم بلي خوا ته ودروي او په منځ کې ئې يو اوږد خط يا کرښه داسي کشوي چې نوموړې کرښه دوې ډلي سره جلا کړي. وروسته بيا لوبه کوونکي وچه لنده سره وايي. هر لوري چې وګټله بيا خپل يو تکړه پهلوان غوندي ملګری په داسي ډول سره ور ايله کوي چې کالي ئې نه وي يعني (کالي ئې کښلي وي) او قوت او زور ئې هم څه ناڅه ډېر وي چې د بل چا وس په و نه رسيږي چې دی ونيسي. په همدې ډول سره نوموړی نفر د کبډي، کبډي نارې وهي او له خپلي ليکي څخه وراوړي مقابل لوری کوښښ کوي چې دی ونيسي او ساه ئې ورکاږي يعني څه وخت چې دی د لوبي ډګر ته ورځي نو بيا نوموړی پهلوان لوبه کوونکي شا ته وځي او که چيري په دغه نارو وهلو سره بريالی سو نو هم خپلو نارو ته ادامه ورکوي او هم يو بل نفر ته د مقابل لوري څخه لاس ورووړي او بيا کوښښ کوي چې د خط يا کرښي څخه بيرته ووزي او د مقابل لوري لوبه کوونکی کوښښ کوي چې په ټولو ملکرو سره دی ونيسي او بيرته و خپلو ملګرو ته ولاړ نه سي. په دې وخت کې خپل ملګری ئې هم د کرښي څخه هغه لوري ته ولاړ وي او پښه ئې پر خط يا کرښه باندي داسي نيولې وي چې د مقابل لوري لوبه کوونکو و خواته ور وا نه وړي او په دې لټه کې وي چې خپل ملګری تر لاس ونسيي او خپلي خوا ته ئې را کش کړي. نو که ئې د مقابل لوري ساه ور وايستله او داسي ئې ټينګ کړ چې خپلي خوا ته بريالی ولاړ نه سي نو لوبه مقابل لوري ګټلې ده او که پهلوان خپل ځان په زور يا هنر

سره خلاص کړ او  خپلو ملګرو کش کړ او د لیکي څخه ور واوښتی نو مقابل لوري لوبه بایللې ده او نوموړي پهلوان او د ده ملګري لوبه ګټلې ده.

کله کله لوبه په درې پلا باندي ګټل کیږي یعني درې پلا باید نوموړې لوبه په همدغه ډول سره تکرار سي چي په بریالیتوب باندي بیرته بې له دې څخه چي ساه ئې وتلې وي له کرښي څخه خپلو ملګرو ته ور واوړي. په دې لوبه کي هم نوبت مراعاتیږي یعني کله چي نوبت د یوې ډلې پای ته ورسېدی او په اوله پلا ئې ساه وروکښله نو بیا دوهم پلا نوبت د دوهمي ډلې وي. په همدغه ترتیب کوښښ کیږي چي هره ډله خپل درې نوبته په بریالیتوب پوره کړي. په کندهار کي د درو پلا پر ځای داسي  هم ویل کیږي: (ګټو په درې چلي ماتیږي) یعني هر څوک باید خپل غښتلیتوب په یو او دوه پلا معلوم نه کړي. بلکي غښتلی هغه څوک دئ چي درې پلا ئې لوبه وګټله او کله کله هم په یوه پلا باندي د لوبي ګټل او بایلل اعلانوي چي د یوه پلا ګټل ډېر رواج نه لري.

د لوبي په جریان کي داسي دود هم سته چي کله پهلوان و ډګر ته له خپلي کرښي څخه و مقابل لوري ته ورغی او په دې بریالی نه سو چي کوم نفر ته دي د مقابل لوری څخه لاس ور وړي او یا هغوی هم و نه نیوی نو بیا د نوي ساه د پیدا کولو او بل چانس په لاس را وړلو په خاطر کوښښ کوي چي بیرته له کرښي څخه و خپلي خوا ته یا خپلو ملګرو ته ځان ور و رسوي او بیا په نوي ساه سره د مقابل لوري کرښي ته ورسي او خپل لازم شرایط ګوري چي ایا په دې بریالی کېدای سي چي یو نفر پوچ  کړم او که یا؟ نو بیا خپله ساه بندوي او له کرښي څخه په داسي ډول ځان ور اړوي چي ملا ئې څه نا څه کړوپه غوندي وي. څو هغوی په دې بریالي نه سي چي دی ونیسي او څه وخت چي درې پلا هر لوري بایلل نو ناغه ورکوي او لوبه پای ته رسیږي.

## د مړيني دودونه

په کندهار کي مړي ته په خپل کور یا په مسجد کي د طالبانو له خوا غسل ورکول کیږي. د مړي له تجهیز او تکفین سره سم ځیني خلک په هدیره کي د قبر په پرې کولو لګیا وي.مړی چي هدیرې ته دکوراو کلي د خلکو او نورو پېژندلو دوستانو په مشایعت یاملګری ورسیږي هلته جنازه په منځ کي کښېښوول سي او شاوخوا مسکینان او فقیران په یوه

لویه دایره کې کښېني، اسقاط چې عبارت له یو مقدار پیسو څخه وي د ملا په ذریعه وېشل کیږي. قضایي لمونځونه،دروژوفدیه او کفاره ئې سره د نورو شرعي حقوقو د اسقاط په دوروکې اجراء سي. دغه شیان دجنازې تر لمانځه وروسته چې اسقاط وېشل خاتمه مومي او دعا وسي. مړی له چارپایي څخه راواخلي او قبر ته ئې کښته کړي. کله چې ښخ سو او خاوري ئې پر واړولې او د قبر رښکی پر وتړل سوه، درې دعاوي د درو عالمانو له خوا پر وسي او مشایعت کوونکي ځني وخوځیږي.

## پر هدیره خیرات:

په کندهار کې چې مړی هدیرې ته یوسي شتمن کسان تر اسقاط وروسته او تر لمانځه مخکې خوارانو او فقیرانو ته چې هلته حاضر وي پیسې ورکوي او هغه طالب العلمان او علماء چې ورسره تللي وي په دغه خیرات کې مهمه برخه لري، مثلاً کله کله کیږي چې عادي طالبانو ته پر سړي ۲۰ - ۳۰ افغانی او علماوو ته ۵۰ - ۱۰۰ افغانی هم ورکړي.

که مړی ووړ هلک یا نجلی وي یا لوی وي او د فاتحې د نه اخیستلو اعلان ئې پر هدیره وسي نو هدیرې ته راغلي کسان هلته کښېني او د مسجد ملا د مړي څښتن ته د تعزیې او فاتحې دعا وکړي. حاضرینو ته دا معلومه سي چې فاتحه نسته او که مړی لوی وي او فاتحه ئې اخیستله کیږي نو د مړي څښتن په خپل کور یا مسجد کې درې ورځې فاتحه اخلي. په فاتحه کې قاریان وخت پر وخت قرائت وایي. فاتحې ته مساکن، فقیران او ړانده حافظان راځي او دمړي د څښتن له خوا هر ملا چې د فاتحې مسجد ته راځي پیسې ورکوي. د فاتحې په درو ورځو کې که مړی شتمن وي د غرمې له خوا د مړي خپلوانو ته چې پر فاتحه د مړي له څښتن سره ناست وی او د مسجد طالبانو ته مکلفه ډوډی ورکوي او د مازیګر او ماښام تر منځ ۳ – ۴ مسجدونو ته د مړي له کور څخه حلوا د خیرات به ډول ورځي.

## د مړي ختمه:

که مړی شتمن وي په اوومه یا څلوېښتمه ورځ په مړي پسې ختمه (پوخ خیرات) کېږي. طالبان رابلل کېږي کله چې ختمونه وسي نو وروسته تر هغه روپۍ او ډوډۍ ورکوي، که ختمه پراخه وي ټولو بېوزلو او خوارانو ته هم په ماړه نس ډوډۍ ورکوي.

### د مړي په کور کې:

کله چې مړی له مسجد یا کور څخه واخلي او هدیرې ته ئې وړي یو وار ئې دننه کور ته وروړي چې نژدې خپلوان ئې ووینې، نو جنازه دننه  کور ته د محرمو اقرباوو پر اوږو وروړي. د کور ښځمنې پر راټولې سي مخ ئې په کفن کې ورښکاره کړي. زړې ښځې په دې عبارت دعا ورته کوي: وایي:«پټې سترګې دي د خدای په دیدار روڼې سه»، او ځوانانې او پېغلې ئې د وروستۍ وداع په نامه پر تندي مچ او ښکل کړي. د باباجانه! وروړجانه! زما جانه! نارې او غلبلې پر وکړي وژاړي، اوښکې پر توی کړي، کورنځې پر ووهي. درې درې دقیقې وروسته ئې جنازه پر اوږو واخلي او تر کوره ئې وباسي او د هدیرې پر خوا روان سي.

### د مړي کالي:

مړی چې له کوره وباسي د ده ټول مربوط سامان چې تماس ئې ورسره کړی وي لکه فرش، بستره او د ناجوړۍ د زمانې ټوله کالي لمر ته غوړول کېږي او د ده اطاق او شاوخوا ئې تصفیه او تعقیم کېږي. خیرن کالي او نوري مربوطي ټوټې او څادرونه په صابون پاک پرېولي. د مړه په جامو کې دا هم یوه عنعنه ده چې تر پرېولو وروسته (بالعکس د ژوندیو) کالي لمر ته راسته هواریږي، خو دا یوه عنعنه ده مطلب ئې نه دئ ښکاره او دا نه سي ویل کېدای چې دا نو ولې او د څه له پاره؟

### د وخت راوړل:

د مړي څښتن ته د دوستانو او خپلوانو له خوا د فاتحې په ورځو کې پسونه ورلیږي، مثلاً څوک پسه او څوک د پسه قیمت د مړي کور ته ورلیږي. د مړي کور د فاتحې په درو

ورځو کې د هغو پسونو څخه استفاده کوي. د ورځې يو يو حلالوي يا که ډېر وي څومره چې لازم وي حلالوي ئې. دا پسه يا روپۍ وخت بولي.

## له کمبلي څخه ولاړول:

د مړي کورنۍ وروسته تر درو ورځو فاتحې د خپلوانو او اقرباوو له خوا دعوت کيږي او د شپې له خوا د نورو اقرباوو سره يو ځای له کمبلي څخه ولاړيږي. دا د فاتحې څخه د ولاړولو دعوتونه د مړي خاوند د اقرباوو په ډېروالي او لږوالي پوري اړه لري چې نژدې خپلوان ئې ډېر وي ډېري مېلمستياوي کيږي او که لږ وي لږي مېلمستياوي کيږي، خو داسي کسان هم وي چې کرۍ مياشت په دغه ډول مېلمستياوو تېروي.

## د فاتحې د کمبلي ټولول:

د فاتحې په آخره ورځ د مازيګر تر لمانځه وروسته چې فاتحه ختمه سوه نو کمبله ټوليږي. د مجلس مشر او معزز سړی له يو روحاني سړي څخه چې په دې وخت کې حاضر وي خواهش کوي او ورته وايي: «صاحبه! که د کمبلي څوکه تاسي ټوله کړئ نو مهرباني به مو وي» هغه چې څوکه واړوي يوه مختصره دعا په دې کلماتو وکړي: «خدای مو دي له باقي غم څخه وساتي». په دې سره د فاتحې ختمېدل رسماً اعلان سي او د فاتحې فرش له مسجد څخه کور ته يووړل سي.

## کور ته ورتلل:

د مسجد فاتحه چې ټوله سي دمړي دڅښتن خپلوان او محرم اقرباء کورته ورسره ولاړ سي. په کورکې سپين سري او مشري ښځې د فاتحې پر کمبله پاته او ځواناني په خونو ننوزي. نارينه دښځو دفاتحې پرفرش په دوره کښېني. تر يو مختصر تلاوت وروسته دعا وسي او د ښځو د فاتحې کمبله هم ټوله سي.

# د مسافرت دودونه

## تر قرآن شریف ایستل:

پښتون مسافر د خپلي عقیدې پر اساس د سفر او مسافرت پر وخت تر قرآن ځان باسي او تر هغه وخته له کوره نه وزي څو دا تبرک حاصل نه کړي. دا دود په دوه ترتیبه کیږي: ځیني کسان په خپل کور کي قرآن په ټادر کي ایږدي او ټادر د دوو تنو له خوا چي یو د شمال او بل د جنوب خوا ته ولاړ وي لوړ نیول سوی وي او مسافر د قبلې له خوا ورته ودریږي قرآن کریم چي په ټادر کي پروت دئ مسافر ئې په دواړو لاسونو نیسي او درې ځله ئې ښکلوي او په سترګو پوري ئې موږي او تر وزي، چي تر ووتی له هغې خوا بیا مخ پر راوګرځوي او بیا ئې ښکل کړي چي دغه عمل درې ځله تکرار سي. په هغه ټادر کي یو څه د شکرانې په توګه ورواچوي او تر کور ووزي.

## د اوبو او اوربشو پاشل (شیندل):

مسافر چي له کوره ووزي او د خپل منزل تر دروازې پښه واړوي سمدستي ئې کور والا تر دروازې دباندي اوبه ورپسي پاشي او یو موټي اوربشي او ماش هم پسي پاشي. دا د دې له پاره کوي چي اوبه د پښتنو مېرمنو په نظر د رڼا علامه ده نو د رڼا په خیال اوبه پسي پاشي او اوربشینه ډوډۍ څو د پخوانیو پښتنو ډوډۍ او طعام وو نو د رزق او طعام په نېکمرغي ئې پسي پاشي. د ماشو یا(میو) څخه مطلب دا وي چي سفر ئې لنډ سي او د ماشو غوندي د کور پر لور راورغړي.

## په مسافر پسي آذان:

مسافر چي ترکوروزي،ترکوردباندي وداع کوونکي کسان چي ورته منتظر وي خدای پاماني ورسره وکړي چي پر آس یا په موټر کي سپورسي یو یا دوه یا درې تنه دده د سفر لورته مخامخ ودریږي او آذانونه ورپسي وکړي.

# د کال ښې ورځې

### د محرم لسمه (دهه):

د محرم لسمه چې مذهباً او عقیدتاً هم اهمیت لري په پښتني کورو کې په دغه ورځ څه ناڅه خیراتونه کیږي. کوم یو چې هیڅ وس او قدرت و نه لري هغه یودپنډو ورجو شوله هرومرو پخوي او په کورونو کې ئې وېشي. دا شوله په زعفرانو یاکوم بل ژړرنګ رنګ سوې وي او خوږه هم وي خو غوړي نه وي ورلوېدلې.په دغه ورځ هر ډول خیراتونه کیږي. له پسونو څخه بیا ترغوایانوپوري هم حلالیږي اوغوښې ئې اومې خیراتوي. ډېر غریبان کورونه شومه وومي اوفقیران ماړه سي.ځیني خلک اوګره (دلده) پخوي،پسونه او غوایان حلالوي اوغوښې ئې پکښې اچوي. د دې ورځې مذهبي دود دا دئ چې هره کورنۍ هدیرې او مقبرې ته له اوبو سره ورځي اودخپلو مړوپر قبرونو اوبه اچوي. دا د دې ورځې یو مذهبي او ثوابي عمل ګڼل کیږي او زموږ په اسلامي ادابو او مراسمو کې یو ثابت اصل هم لري.

### سروري چارشنبه:

د صفري د میاشتي وروستۍ چارشنبه په (سروري چارشنبه) مشهوره ده. دا ځکه چې مذهبي عنعنات ښکاره کوي چې دحضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د وفات او رحلت ناروغي دهمدې میاشتي له سره څخه پېښه سوه. په دغه چارشنبه دحضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم تکلیف لږ سوی اوخوشحالي پېښه سوې ده.نو پښتانه دغه ورځ د خوشحالۍ چارشنبه بولي او دا خوشحالي په دې ورځ څرګندیږي.

### نذر ورکول:

د مالیدې نذر هغه مېله ده چې په اکثرو کورونو کې جوړیږي. په دې ډول: سهار له وخته اوړه اخښل کیږي او پتیري ځني پخیږي. تر هغه وروسته ئې داسې میده کوي چې تر غلبېل ووزي. غوړي او شېریني ورواچوي، په لویو لګنو کې ئې سره ګډ کړي. نذر (مالیده)

چي جوړه او تياره سي يو اوږد سترخان هواروي او د نذر لوی لګن په منځنۍ نقطه کي چي په دوو درو سترخانونو کي پېچلی پروت وي د يوولسو بجو په حدود کي رابلل سوي مېلمنې ښځي چي پوره زېب او سينګار ئې کړی وي او ښکلي جامې ئې اغوستي وي وروورو د سترخان خوا ته رانژدې کيږي او ټولي د سترخان پر شاوخوا ځايونه نيسي. مجلسي سپين سري د نذر لوښی پرانيزي او هغه ارزوګاني او مرادونه چي د مجلس مېرمني ئې لري د نذر په برکت له څښتن تعالی څخه غواړي. وروسته نو نذر پر دغه سترخان په غابونو او غوريګانو کي ورتقسيموي او د هري مېرمني په وړاندي ايښوول کيږي. د نذر مجلس ډېر متين او دروند وي. مېرمني او پېغلاني په دې مجلس کي د عقيدې له مخي اشتراک کوي. خو د نذر تر خوړولو وروسته دود داسي دئ چي پېغلاني او د مېلې ګډون کوونکي خوشحالی کوی او درېي رااخلي بدلي وايي او مېله په ساتېري سره پای ته رسوي.

### د پنځلسي شپه:

د برات پنځلسمه په پښتنو کي يوه نېکمرغه شپه ګڼل کيږي. که هر څوک کوزده ولري د پنځلسي په نامه ځانګړی دود ورسره کيږي او ځانته رسوم ئې اجراء کيږي. دا دود او دستور (د پنځلسي جوړه) بولي. د زوم له خوا يوه يا دوې مکمل کالي (جامې) د مياشتي له سره څخه تر نظر لاندي نيول سوي وي او عنعنوي ترتيب ئې مونډلی وي. د پنځلسي تر شپې يوه ورځ دمخه جوړه دزوم له کوره د ناوي کور ته ورلېږي او د دغي ورځي يا شپې له پاره په هر کور کي د ماښام ډوډۍ په يو متحد پروګرام سره خاص خواړه پخيږي. دا ځکه چي د دې شپې په باب عمومي عقيده دا ده چي په دې شپه چي هر څومره ډېر او راز راز خواړه پر دسترخوان موجود وي د کال تر آخره به په کور کي هغومره وسعت او پراخي موجوده وي. نو ځکه هر کورکوښښ کوي چي د دغي شپې خواړه متنوع او دسترخان ئې معموروي. خو کوم شيان چي ضروري او حتمي دي هغه سبزيجات او لبنيات دي. دا دواړه شيان به هرومرو هر کور او د هر کاله پر دسترخوان موجود وي. دا دوه که چا نه درلودل نو لکه چي په هغه کور کي د پنځلسي شپه نه ده کړې او د دې شپې له برکته څخه محروم دي او په ټوله راتلونکي کال کي ئې پراخي او پريماني په برخه نه سوه.

په دغه شپه پر دسترخان د شکري وجود هم یو حتمي او ضروري امر دئ او دا باید هرومرو له وریجو سره وخوړل سي. که شکره په دغه شپه پر وریجو وانه چوله سي هغه شپه د پنځلسي شپه نه بلل کیږي او په دباندي کي هم تر سهاره پوري هلکان ساتېری کوي.د پنځلسي شپې ته هلکان د میاشتي په سر کي لا تیاری نیسي او د دې ځانګړي ساتیري د شپې له پاره باروت،ټکان،سورسورانکي[43]، سګلاوګان[44]، غربیڼي[45] اونوردبازیواو ساتېریو وړخیزونه د دې ځانګړي شپې د ځانګړي پروګرام له پاره رانیسي. کله چي د پنځلسي شپه راورسیږي، تر ډوډۍ خوړلو وروسته هلکان په ټکانو باندي پیل وکړي او دومره د ټکانو زوږ وي، ځکه د کندهار په ټوله ښار کي ټکان ویشتل کیږي. نوموړي ټکان لاسي ټکان وي یعني باروت په ځانګړي مهارت سره په کاغذ کي داسي پېچل کیږي چي څه وخت ئې په زور سره له مځکي ووهي یا ئې له دېوال سره وجنګوي نو ډېر غټ ټک کوي، نو هلکان په پرله پسې توګه ټکان له مځکي وهي چي ځانګړي خوند ځني اخلي او کله هم ټکان د غربیڼې یا کوچنې توپ په وسیله کیږي. نوموړي توپ ته باروت داسي ورتخته کوي چي په وروسته کي ئې خوله په ټوکرانو باندي ورټینګه کړي. نوموړی توپ د میل پر سر باندي یو راوتلی غوندي سوری هم لری چي هلکان ئې د ماشې په نوم یادوي چي د دې ماشې پر سر باندي یو څه باروت وراچوي او داورلګیت په وسیله اورورته،ورته کوي. څه وخت چي د ماشې اور د میل و باروتو ته ورسېدی نو هغه باروت په خپل قوت سره د میل و خولې ته ورتېل وهلي ټوکران په زور سره غورځوي او یو غټ آواز ځني پورته کیږي چي نوموړی آواز له یوې کوڅې څخه تر بلي کوڅې او سیمې پوري په آساني سره رسیږي. نو د بلي کوڅې د هلکانو له لوري د غربیڼې مقابل ږغ پورته کیږي، دې ته د کوڅو رقابت هم وایي. یعني هره کوڅه کوښښ کوي چي ږغ ئې خاموشه نه سي. په دې ترتیب سره ټوله شپه چي د سپوږمۍ

---

[43] سورسورانکه: له یو ډول اوږده کاغذ څخه جوړه سوې وسیله ده، دننه ئې باروت او نور سوځوونکي څیزونه وراچوي او څه وخت چي اورلګیت ورته ووهي نو لوړه خیژي او له ځانه سره ډول ډول رڼاوي اچوي، له لیري او نژدې څخه ئې خلک سیل کوي.

[44] سګلاوو: نوموړی څیز تر سورسورانکي کوچنی او لنډ دئ، سګلاوو نه په هوا کیږي بلکی د مار په څېر پر مځکه تاویږي او حرکت کوي. کوچنیان کوښښ کوي چي پایڅې ځني وژغوري یعني په پایڅو ننوزي.

[45] غربینه: له لرګو څخه کوچنی جوړ سوی توپ دئ چي د اوسپني یو میل هم لري او غټ ټک ځني خیژي.

روښانه اوځلېدونکي پلوشې هم څرګندي وي د کندهار په هره کوڅه او بازار کي د سورسورانکو ټکان جريان لري او تر سهاره دغه حالت دوام کوي.

د پنځلسي په شپو او ورځو کي د کندهار په بازارونو او دوکانو کي ډېره عمده او مهمه سودا د ټکانو خرڅول، د سورسورانکو او باروتو خرڅول وي او د هري کوڅې هلکان يا په ګډه سره اندازاچوي او د پنځلسي د ورځي مبلې له پاره سورسورانکي او نور څيزونه رانيسي او يا ئې په ځانګړې توګه رانيسي. ولې غربينې پيدا کول يو حتمي او ضروري کار دئ چي بايد په هره کوڅه کي ئې په ګډه د کوڅې هلکان ولري او ددې کار له پاره د کوڅې هلکان اندازاچوي او غربينه رانيسي. په کندهار کي داسي کوڅه نسته چي هغه دي د خپل ځان له پاره توپ يا غربينه نه وي رانيولې. په همدغه ترتيب سره په کندهار کي د پنځلسي شپه تجليل او لمانځل کيږي.

د پنځلسي شپه پر دې سربېره چي مذهبي رنګ لري او دکورنی غړي په ګډه يو ځای ډوډی خوري، پېغلي نجوني درېي وهي، خوشحالی کوي او دا شپه په پوره خوشحالي سره لمانځي. هلکان او ځوانان د دې شپې له پاره د ټکانو او باروتو ځانګړی پروګرام جوړوي او ټوله شپه په ټکانو او د باروتو په استعمال تېروي. د هلکانو په ټکانو کي رنګارنګ ډولونه شامل وي چي ځيني ئې په دې ډول دي:

1. ګردي ټکان چي د کاغذ په ذريعه باروت پکښې پېچل کيږي او په تار باندي ټينګ تړل کيږي او د يوه کوچني توپ يا ګيند په څېر شکل لري، لاسي ټکان ئې هم بولي.
2. غربينه چي په پورته ډول ئې ذکر وسو.جنګي توپو ته ورته کوچني توپونه دي.
3. سکلاوو، د ساتېري بل ډول وسيله ده چي د استعمال په وخت کي ډول ډول لمبې څني پورته کيږي.او ځای پر ځای څرخي او را څرخي
4. سورسورانکي: خورا ډېر ډولونه لري. هر ډول ئې بېل بېل خوند او ساتېری لري. ځيني ئې ډېري لوړيږي او ځيني هم کښته ځي. ځيني چي ډېري لوړيږي تر ډېرو سيمو پوري د تماشې وړ وي. همدغه ډول د ځينو لمبې ډېر دوام پيدا کوي خو ځيني برعکس وي.

5. باغ[46] یا باغونه: دا هم د سورسورانکي په څېر داوړده کاغذ په دننه کې لګېدونکي باروت وراچوي، ځانته د جوړېدو ځانګړی تخنیک او هنر غواړي، هر څوک ئې نه سي جوړولای. یو تعداد علمي او فني جوړوونکي لري چې هغوی ئې جوړولای سي. نو ځکه ئې موږ د جوړېدو د تخنیکي برخي د لیکلو څخه ډډه کوو او یوازي دومره لیکو چي باغ د پنځلسي شپې د ساتېري په دود او دستور کي تر ټولو ښه او په زړه پوري وسیله ده، قیمت ئې هم ډېر ګران دئ. د ډېرو کمو کسانو په وس پوره وي چي باغ رانیسي او ساتېری په وکي. باغ چي څه وخت رانیول سو  نو د کوڅې نورو هلکانو ته هم خبر ورکول کېږي چي پلانکي باغ رانیولی دئ او د باغ د لګولو محل او ځای ته راځي او هلته باغ لګول کېږي، هلکان پر راټولېږي. نوموړی پر هر لوري د یوه یا دوو مترو په اندازه سره رنګ رنګ ګلان غورځوي او ډېره ښایسته رڼا ئې جوړه کړې وي، و دې ته د باغ د ګلانو مېله هم وایي.

باغونه ځیني شتمن کورونه د خپلو کورنیو د ټولو غړو یعني ښځو او نارینه د ساتېري له پاره په کورونو کي لګوي څو د کورنۍ ټول غړي د دې وسیلې تماشا وکړي. او په همدغه ډول دپنځلسي له شپې پرته دخوشحالۍ په نورومراسموکي هم نوموړې وسیله استعمالیږي لکه د سنتې خوشحالي، د واده خوشحالي او داسي نوردخوښۍ او خوشحالۍ مراسم. خو د پنځلسي په شپه د باغ درلودل یوه حتمي خبره ده او دکندهار اکثر خلک داشپه د باغونو په لګولو سره پای ته رسوي.

[46] باغ: یو ډول سورسورانکه ده چي د باروتو په وسیله ډول ډول ګلان غورځوي. د ګلانو رنګونه سپین، ژړ، زرغونه، شیرچایي او نور ښایسته رنګونه دي. د همدغي رنګارنګۍ له امله ئې د کندهار ښار او شاوخوا سیمو کي د باغ په نامه یادوي.

# عامیانه طب

طب او طبابت په نړۍ کې له پخوا زمانې رواج درلود او له طبیعي بوټو او نورو طبیعي څېزونو څخه به ئې ګټه اخیسته. په خاصه توګه هغه وخت چې د انسانانو لومړی یووالی د کورنۍ په څېر رامنځته سو او له طبیعت څخه ئې په بېلو بېلو خواووکې ګټې پیل کړې. د طبیعت بې پایانه شتمنۍ ته ئې د ژوند په اړوند خواوو کې لاس وراوږد کړ او ګټه ئې ځني واخیسته، په دغو خواوو کې یو اړخ هم له طبیعي بوټو څخه ګټه اخیستل وو. زموږ په ګران هیواد افغانستان کې د زیاتو طبیعي شتمنیو په لرلو سره د طبیعي بوټو د ډېر موجودیت پر اساس نوموړې برخه د ژوند یعني عامیانه طب ډېرې پخوانۍ ریښې لري او په نړۍوالە سطحه په افغانستان کې ډېر ستر پوهان او وګړنیز طبیبان وو چې نړۍوال شهرت ئې درلوداو ډېرې تجربې ئې زموږ پرګنو ته پریښې دي چې تر ننې ورځې پورې د ګټې وړ دي او زموږ پرګنې ګټه ترې اخلي. له هغه وخت څخه چې زموږ تېرو نیکه ګانو به د سوماله بوټي څخه ډول ډول ګټې اخیستې او ډېروکتابونو د سومادبوټي عامیانه ګټه اخیستنه لیکلې او خوندي ساتلې ده.

زموږ په ګران هیواد افغانستان کې ډېر طبیبان تېر سوي دي چې اوس ئې موږ په نومونو باندي ویاړ کوو. نوموړي طبیبان لکه ابن سینا او خوشال خان خټک چې یو مکمل اثر ئې د عامیانه طب پرې ایښی او په دې هکله ئې لازمي یادوني پرې ایښې دي. د نوموړي اثر طب نامه نومیږي، اوس هم زموږ په لاس کې ده خو یوازې موږ خوشحال خان او ابن سینا دنمونې او بېلګې په توګه یاد کړل ولې موږ پوره یقین لرو چې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د طبابت پوهان او عالمان وه او اوس هم سته چې و خلکو ته په دې لاره کې خدمت کوي. د موضوع د لنډوالي پر اساس له نور بحث څخه په دې ځای کې ډډه کوو. یوازې د کندهار په ښار او د هغه په شاوخوا کې د عامیانه طب پوهان، خدمتګاران او د یادولو وړ خلک او پرګنې څرګندوو چې هغوی د طبابت میتودونه له پخوا زمانو څخه چې پېړۍ پېړۍ پر تېري سوي دي او سینه پر سینه ئې تر نن ورځې پوري رارسولي دي یادوو او په ځانګړې توګه د خپل وخت د طبابت څرګندونکي کېدای سي.

په کندهار کې طب او طبابت له ډېرې پخوا زمانې په مختلفو ډولونو رواج درلود چې په دې برخه کې فولکلوریک طب د یادونې او دلچسپۍ وړ ګرځي. په دې طب کې هم معقول او هم غیرمعقول اړخونه ځای لري خو په خپل وخت کې په پوره ډول د خلکو او پرګنو د تاییدوړوو. خلکو د نوموړي طب پر علاج او تداوۍ باندې پوره عقیده درلودله. د مثال په توګه د ماراوده کول، تاویزورکول، پر زخمونو باندې ناړې موړل، پرزخمونو باندې دپښې تله تېرول،دولیانو او غټو بزرګانو له خواځخه اوده کول او دمول چې نوموړي میتودونه د طب یو عقیدوي اړخ ګڼل کېږي او ډېرې پرګنې په دې عقیده وې چې نورئې مریضې د دې علاجونو او تداوۍ سره جوړې سوې او جوړېږي. برسېره پر دې یو تعداد مریضۍ په داسې ډول باندې هم تداوي کېدې چې نوموړې تداوي او علاج کول ئې بنیادي او علمي برخه او منطقي سلسله لرله، او د تجربو علمي او مادي میتودونو پر اساس علاج کېدی. نوموړی اعلاج د ځینو طبیعي بوټو په وسیله سره سر ته رسېدی. په دې هکله هم ډېر لږ کسان په دې باندې پوهېدل او هغه کسان چې په نوموړي طب کې لاس لري هغوی ډېر شهرت د خلکو په منځ کې تر لاسه کړی وو. د خپلو درملنو په چارو کې ئې له لاندې بوټو ځخه ګټه اخیسته لکه: سپېرکی، خواږه ولنې، توره اربړه، ژېړه اربړه، کندهاری ګل ګلاب، ګل بنفشه، ګل ګاوزبان، ګل نیلوفر، ګل ختمي،دمارزهر،تاریاک یاکوکنار،خاکشیر، ملنګیان، کشمیری ریحان، کندهاری ریحان، اناف، بدره بوټی، کت تباشیر چې دواړه یو ځای کېږي او کت تباشیر ځیني جوړېږي او د دوا په څېر ئې استعمالوي. شیرخشت، د نارنج پوستکی، نانا، شینشوبی، د ترتېزک تخم، د ترپو تخم، کندهارۍ شکمپاره چې په دري ئې (سپرزه) هم بولي، بادرتنګ، خوږه ولې، زرغون مازو، کمرکش، انجروت، ساکودونه، انګورتوره چې ژړه او توره دواړه رنګونه ئې پیدا کېږي، دکارګه ټکۍ، مرغونی، سرمکی، ساکودانه چې نوموړی بوټی د هر ډول تداوۍ او علاج له پاره په جلا جلا توګه د مریض د ځانګړتیا سره سم استعمالېږي او دطبیبانو له خواځخه په معینه اندازه سره د یوې نسخې په ډول و مریض ته ورکول کېږي. پورته نباتي بوټی او عامیانه طب او د بوټو داستعمال ځایونه ما د کندهار دسیمي له ډېرې نامدارې او مشهورې طبیبې ځخه چې د کندهار ټول خلک ئې و طبابت ته احترام او عقیده لري، ثبت کړي دي. نوموړې طبیبه محترمه حضرتو نومېږي. اوس د ۷۵ ځخه تر اتیاوو کالو پورې عمر لري او د ډېرې پخوا او لرغونې زمانې ځخه ئې

د عامیانه طب په مختلفو برخو کې تجربې او پوهې ترلاسه کړې دي او په هر ډول مریضیو باندي ډېره ښه پوهېږي او دپورته طبیعي بوټو په وسیله باندي ستړي ناروغۍ جوړوي. نوموړې پوهه طبیبه محترمه حضرتو نه یوازې دکندهار په ښار کې،بلکې له صحراوو څخه هم ډېر ناروغان ورته راځي او محترمه حضرتو ئې ترعلاج لاندي نیسي او تداوي کوي ئې.

محترمه حضرتو چي اصلاً په ابۍ باندي مشهوره ده او د کندهار خلګ ئې د ابۍ په نوم سره پېژني او پر هر ناروغ باندي چي دناروغۍ دوره اوږده سي،نو بیا ئې حتمي و ابۍ ته راولي څو د ناروغ پوره ډاډ وسي. ابۍ په خته بارکزۍ او په بارکزو کي په ابازۍ پښه اړه لري. د کندهار د حاجي محمدشریف خان لور ده او په خرقه شریفه کي ئې ژوند پیل کړی دئ. د خرقې شریفي او دستر احمدشاه بابا د مقبرې په څنګ کي ئې کور دئ او اوس هم هلته ژوند کوي. نوموړې طبیبه اوس دوه زامن، درې لوڼې او ډېر لمسیان لري. په هر صورت د ابۍ په نظر د بوټو ترکیب د ډول ډول مریضیو له پاره په لاندي څو مخونو کي واضح کولای سو چي ممکن د فولکلوریک طب یا عامیانه طب د مینه والو له پاره ګټور او په زړه پوري تمام سي. دلته هر یو د حضرتو یا ابۍ له خولې ثبتوو:




دکندهار دعامیانه طب نامتو طبیبه محترمه حضرته مشهوره په ابۍ

**سپېرکۍ:**

سپېرکۍ چي زموږ دهیواد په ګوټ ګوټ کي زموږ پرګڼي ورسره اشنا دي او ټوله ئې د یوې صحي دواپه څېر پېژني. د عامیانه طب ډېره غوره برخه ده. د ډول ډول مرضیو له پاره استعمالېږي. تراوسه هم لادکندهار په ډېرو کورو کي خامخا دځینو مرضیو له پاره استعمالېږي چي په لاندي ډول شرحه کېږي:

۱. د ځیګر د تخته کېدو او یا هغه حالت چي ریزش او زکام دومره ډېر سي چي ځیګر ونیسي او سخت ټوخی ورسره وي نو په دې ناروغي کي سپېرکۍ ښه پاکېږي او بیا ئې د کپې په ډول په ورغوي کي دکوچنیانو له پاره لږ او دلویانو له پاره ډېره یعني دوې درې کپې ورکول کېږي، درې وخته پس له ډوډۍ څخه په دغه ډول سپېرکۍ خوړل کېږي.

۲. د نس ناستي یااسهال له پاره د سپېرکۍ استعمال: په دې ناروغي کي هم سپېرکۍ مؤثر دوا ده.څه وخت چي د ناروغ مېدې (معدي) ته میکروب ورغلی وي او ناروغ د کولمو په تاو یا اسهال اخته وي او د نسه خراب کښېني نو دناروغ د تداوۍ له پاره سپېرکۍ ورکول کېږي. ولي داسهال په وخت کي د سپېرکۍ استعمال یوه اندازه احتیاط غواړي. یعني لومړۍ باید سپېرکۍ ډېره ښه پرېوله سي، وروسته ئې په تودو اوبو کي شمه کاږي او بیا ئې ګرمه خوري چي دمکروب دوژلو له پاره ګټوره تمامېدای سي. په دې ډول کي سپېرکۍ ته لږ څه بوره هم د خوند دسمون په خاطر وراچوي او نباداغ ځني جوړوي. د اسهال له پاره دنباداغ جوړول دعامیانه طب په زړه پوري دواده.څه وخت چي دسپېرکۍ شمه وکښل سي نو بیا څه خاکشیر او بوره هم ورسره وراچوي، و دې ته په اصطلاح کي نباداغ وایي چي د اسهال او نورو میکروبي مریضیو له پاره ئې استعمالوي.

۳. **د ریزش له پاره دسپېرکۍ استعمال**: دریزش له پاره هم سپېرکۍ استعمالیږي ولي په دې ناروغي کي له سپېرکۍ څخه ددوا په څېر داسي ګټه اخلي. لومړۍ سپېرکۍ بریانه کوي یعني سپېرکۍ پر تبخي او یا کړایي او یا کوم بل لوښي کي بریانه کوي او پس له هغه څخه ئې میدوي او په ګرمو اوبو یاچایوکي ئې اچوي او داوبو سره ئې حلوي څه وخت چي ښه حل سوه، نو د سپېرکۍ محلول یا داوبو سره ګډه سوې سپېرکۍ یو ګیلاس د زوکام یا ریزش له پاره ګټوره تمامېږي. د سپېرکۍ په خوړلو سره ځیګر نرم او پستېږي.

۴. **د سپېرکۍ استعمال د هضم په خاطر:** سپېرکۍ د ډول ډول ناروغیو له پاره په ډول ډول لارو باندي استعمالېږي،هرقسم ئې دځانګړي مریضی له پاره ګټوره تمامېږي. همدغه ډول د ارړي د بدوالي یا تېغ خرابېدو له پاره چي ناروغ ډېره ډوډۍ خوړلې وي او معده ئې د هضم قدرت و نه لري نو د ناروغ د صحت په خاطر په عامیانه طب کي سپېرکۍ داسي ورکوي چي لومړی سپېرکۍ ډېره ښه میده کوي او پس له هغه څخه ئې تر یوې خاصې چوني څو په ډېر ښه ډول باندي د هضم قدرت او توانمندي پیداکړي او ناروغ ئې د ښه صحت په خاطر وخوري. دهضم له پاره سپېرکۍ هم دګرمواوبو سره خوړل کېږي او هم دکپې په ډول خوړل کېږي په دواړو صورتونو کي دتېغ سمون او د هضم له پاره ښه اثر لري.

د سپېرکۍ بوټی هم په طبیعي ډول شنه کېږي او هم د ځینو کروندګرو له خوا د کښت په ډول سره کرل کېږي. تقریباً ترنیم متر پوري ونه کوي او جګېږي. د نوموړي بوټي حاصل د مني یا اوړي په موسم کي اخیستل کېږي.

## خواږه ولني:

خواږه ولني هم د عامیانه طب د دواوو ډېره مهمه او عمده برخه جوړوي. خواږه ولني په کندهار کي د بعضو کارېزونو او ځینو ویالو پر غاړو په طبیعي ډول راشنه کېږي او کال په کال ئې تخم د ویالو پر غاړو ډېرېږي او بالاخره ډېره سیمه نیسي او راټولېږي او تخمونه ئې په طبیعي ډول د ویالو پر غاړو او د جیوو پر شاوخوا باندي راپورته کېږي. نرۍ نرۍ پاني کوي چي خپله پاني ئې هم په تازه ډول باندي خوړل کېږي او د نس دبادونو او نورو دغسي ناروغیو له پاره ګټوري دي. خواږه ولني ډېره خوندوره او مزه داره دوا ده، کېدای سي چي خپله د خوږو ولنیو داني ناروغ په خوله کي واچوي او د غاښو په وسیله ئې میده کړي او بیا ئې تېر کړي او هم کېدای سي چي په اونګ کي میده سي او بیا د اوبو په وسیله تېره کړل سي. خو په هرصورت د خوږو ولنو په وسیله لاندي ناروغۍ تداوي کېدای سي:

۱. د زړه جوش: د خوږو ولنیو په وسیله د زړه جوش تداوي کېږي او دغه ډول ناروغ ته طبیب خواږه ولني په دې ډول ورکوي چي خواږه ولني میده کوي او له بورې سره

ئې ګډوي او کېه ئې له بورې سره يوځاى خوري او بل هم يوازې خواږه ولني د غاښو په وسيله ژويي او تېروي ئې او څو کې درې وخته خوري او جوړېږي.

۲. د تبې او عمل د بندولو له پاره: څه وخت چې ناروغ د نسه نرى کښېناست نو ويل کېږي چې عمل ئې کېږي. د دې ناروغۍ له پاره هم خواږه ولني ناروغ ته ورکول کېږي. ولې په دې صورت کې خواږه ولني ميده کېږي او بيا ئې له اوبو سره يو ځاى لږه اندازه جوشوي چې په اصطلاح سره کناره جوشه هم ورته وايي او څه وخت چې کناره جوشه سول نو بيا ئې لږ څه سړوي او خوري ئې چې د عمل بندولو له پاره و ناروغ ته ګټه رسوي.

په دغه ډول لکه د عمل له پاره چې خواږه ولني ورکوي د تبې له پاره هم خواږه ولني ورکوي او بيا ناروغ په تلتکانو کې پېچي او ښه ئې پټوي او بالاخره د ناروغ تبه پس له څو ساعته سمېږي او جوړېږي.

خواږه ولني د نورو مريضيو له پاره هم استعمالېږي او کله کله ئې د خولې د خوند او ښه بوى په خاطر هم خلګ استعمالوي. د کندهار په هر باغ کې خواږه ولني کرل کېږي. دا ځکه چې په کندهار کې د خوږو ولنو استعمال په ناروغيو کې ډېر دئ او د کندهار خلګ ئې د راز راز ناروغيو له پاره استعمالوي.

۳. د خولې د وتلو، د ژبې د تناکو او ستونې د ميکروبي کېدو له پاره کت تباشير **ګلابي او تباشير استعمال:** څه وخت چې پر ناروغ باندې سختې تبې تېرې سوي وي نو د تبو تر تېرېدو وروسته د ناروغ شونډان تناکې کېږي يعني خوله ئې وزي چې د عاميانه طب پوهان چې په کندهار کې ئې د يوناني دواوو پوهان هم بولي و ناروغ ته يوناني دواوې چې د کندهار د عطارۍ په دکانونو کې خرڅېږي، د يوې نسخې په ډول کت او تباشير[47] سره د ګل انار فارس په نوم، ميله، ايشوارق سره ګډېږي او ټوله يو ځاى سره ميده کوي او بيا ئې پر شونډو ايږدي او يا که ژبه خوږينه سوې وه پر ژبه ئې ايږدي او شونډې، ستونى او ژبه جوړوي. که چېرې څه قدر ئې تېر هم سي تاوان نه کوي.

---

[47] تباشير: يو ډول سپينه ډبره ده چې د کندهار د عطارۍ په دوکانو کې د طبيعي دواوو په څېر خرڅېږي او له نورو دواوو سره يو ځاى کېږي او د دواو په څېر ګټه ځني اخلي.

**توره اریړه:**

توره اریړه د کندهار د عامیانه طب په یوناني دواوو کې ډېره استعمالېږي. او د کندهار عطاران ئې په خپلو دکانونو کې پلوري. ولې د کندهار د زراعتي تولیداتو له جملې څخه نه ګڼل کېږي او له هندوستان څخه ئې د نباتي او طبیعي بوټو په وارداتو کې زموږ پلورونکي واردوي او خرڅوي ئې.

توره اریړه د دغو مریضیو له پاره استعمالېږي لکه د نس د خرابېدو ډول ناروغیو له پاره، د معدې د نرموالي او پوستوالي له پاره. توره اریړه هم په ځانګړې توګه نه استعمالېږي بلکي له نورو ځیزونو سره ګډېږي او بیا ئې د قبض، د سر ګرځېدل یا سرګښتی، د عضلو د درد یا د بدن د درد له پاره او د اشتها له پاره او په داسي نورو مواردو کې استعمالېږي.

همدغسي د توري اریړې پر ځای کله کله ژړه اریړه هم استعمالېږي ولې فقط توپیر ئې په دې کي دئ چي د یوناني طبابت پوهان وایي چي ژړه اریړه خونکه ده نو هغه کسان چي ګرمي ډېره لري هغوی ته ژړه اریړه ورکول کېږي او هغه کسان چي ګرم مزاج و نه لري هغوی ته توره اریړه ورکول کېږي. چي دا خاصه ځانګړتیا د ژړي اریړې ده، ولې نور خواص او عمل کرد یا تاثیر ئې د توري اریړې سره یو شانته دئ.

**ځیره:**

ځیره پر دوه ډوله ده چي هر ډول ئې ځانګړي خواص لري او د ځانګړو ناروغیو له پاره استعمالېږي. ځیره د یوناني طب یا عامیانه طب ډېره غوره دوا بلل کېږي. ځیره پر توره او سپینه ځیره باندي پېژندل کېږي چي له نورو دواوو سره ګډیږي، او د ځانګړو ناروغیو له پاره ئې استعمالوي.

**الف - سپینه ځیره:** سپینه ځیره له خوړو ولنو، سپېرکی او سپین مسري سره یو ځای کېږي او د وینې د صافېدو او د خوب د ډېرېدو له پاره استعمالیږي، ولې په دغه ډول کې یوازې لویان چي عمر ئې تر پنځلسو کالو پوري وي او یا هم تر پنځلسو کالو ډېر وي هغه کسان ئې خوړلای سي او د کوچنیانو له پاره نه استعمالېږي. په همدغه ډول ئې د خوب

له پاره هم استعمالوي او کوچني ته ئې په کپه کې ورکوي چې نسخه ئې په دې ډول جوړېږي: سپينه ځيره د خوړو ولنو، سپېرکۍ، ګل ګلاب، کوچني اېل سره يو ځای کېږي او هم ئې کوچنيان او لويان د ناروغيو او دردونو له پاره استعمالوي. د ملا د درد نسخه ئې په دې ډول سره ده چې لومړی اوړه بريانوي او بيا ئې په يوه معينه اندازه سره د سپين مسري، سپينه ځيره، چکښو يا اکښو چې کوچني اېل هم ورسره اچوي او د ملا د درد له پاره ئې لويان استعمالوي چې هم د ښځو له پاره ګټور تمامېږي او هم د نارينه وو له پاره.

**ب - توره ځيره:** توره ځيره چې خپله يوه خوشبويه دوا ده د رېزش او زکام له پاره ئې په وريجو کې اچوي. له يوه طرفه د دوا په څېر ګټه ځني اخلي له بله پلوه ئې د وريجو د خوند او ښه بوی په خاطر هم استعمالوي. د توري ځيرې استعمال په کندهار کې له وريجو سره خورا ډېر دئ او تقريباً ټول کورونه په دې خوشبويه دوا پوهېږي. توره ځيره برسېره پر وريجو د خيساندې په ډول هم ګټه ترې اخيستل کېږي او د کوکنارو، خاشخاشو، شنو چايو، خوړو ولنو سره يو ځای جوش ورکوي او د ځيګر د نرمولو، زکام، تبي او نورو دغه رنګه ناروغيو له پاره ئې استعمالوي چې خيسانده ځني جوړوي او خيسانده هم واړه او هم غټان استعمالوي مګر غټان ئې تر وړو يا کوچنيانو ډېره استعمالوي او پر ډوډۍ برسېره خوړل کېږي.

**پلوس:**

پلوس تور اوږد بوټی دئ چې په دوه ډولو باندي استعمالېږي:

لومړی ډول ئې د ماښام و ستورو ته خشتېږي او تر سهاره پوري ئې خشته په اوبو کې ايږدي، څو ښه پاسته سي او بيا ئې سهار چې خيشته سول، نو ئې سربېرن بلګونه باسي يعني پوستکی ئې باسي او مغز ئې په اوبو کې حلوي او بيا ئې تر يو ټوکر ډاګۍ يا خاسې باسي او درې وخته ئې يوه ماس خورۍ (ماستخورۍ) کاشوغه چيښي او د پرهېزدانې په څېر درې وخته نرم او پاسته خواړه ورسره خوړل کېږي. يا درې وخته شوله وريجي چې ښې نرمي سوي وي، ورسره پخوي او ناروغ ته ئې ورکوي. په دې ډول کې پلوس د معدې د نرمولو، قبض او صيغل له پاره ډېر ګټوره فولکلوريکه تداوي ده. زموږ پرګڼې

په هغو ځایونو کې چې  د ډاکټر لاس هلته نه رسېږي، یعني په کلیو او بانډو کې نومړې دوا تر اوسه په عامیانه ډول استعمالوي.

دوهم - په دې ډول پلوس د قبض او دغسي په نورو ناروغیو کې استعمالېږي. ولې د استعمال ډول ئې دلته توپیر پیدا کوي یعنې په دې ډول کې پلوس د ایمالې په ډول ناروغ ته ورکوي چې له پخوا ځخه نومړی دود تر اوسه پاته دئ.

په دې ډول کې پلوس د ختمې ګل خوشاوزه چې د یوه ډول بوټي ریښه ده او د عطارئ په دکانو کې د یوناني دوا په توګه خرڅېږي. له اناف سره یو ځای کېږي او په دېګ یا کوم بل ځیز کې ئې سره یو ځای کوي او درې برخې ځني جوړوي، چې یوې برخې ته ئې مالګه او نورو دوو برخو ته ئې بوره وراچوي او بیا ئې د ایمالې په ډول سره و ناروغ ته ورکوي او یا هم ناروغ ته د پرهېز په ډول سره شوله ورکوي تر څو د ناروغ ناروغې په ښه ډول سره تداوي سي او نومړې درمل سهار، ماښام او غرمه درې وخته ورکول کېږي او که ئې چیرې په یو ځل باندې ناروغې جوړه سوه، نو هماغه یوه پلا کفایت کوي او و نورو پلاوو ته ضرورت نه پیداکېږي، ولې که جوړ نه سو نو بیا ئې تکرار او دوامداره نوره هم ورکوي تر څو ناروغ جوړ سي.

### بهي دانه:

بهي دانه چې د بهي تخم هم ورته وایي ډېر ګټوره او لرغونې دوا ده چې په عامیانه طب کې کارېږي. نومړې دوا د زکام او قبض له پاره استعمالېږي. هم ئې ورو ماشومانو ته د ناروغئ په وخت کې ورکوي او هم ئې غټان خوري. د ورو او غټانو له پاره په خپله اندازه بهي دانه د درمل په څېر ورکول کېږي. لومړی د زکام له پاره بهي دانه په اوبو کې ایشوي یا جوشوي یا په کوچنې دیګې او یا په کټوري کې ئې د بهي دانې سره لږ څه شیریني او بارتنګ هم اچوي او بیا درې وخته یوه یوه ماستخوری کاشوغه ښل کېږي او په همدغه ډول چې پورته ذکر سول د قبض له پاره استعمالېږي. بهي دانه ډېره ګټوره او تجریبه سوې دوا او درمل دي. ولې برسېره پر دې خپله بهي هم ګټور ځیز ګڼل کېږي، بهي هم خام او هم پوخ خوړل کېږي او هم ئې بعضې خلګ تر تودو یا هغو ایرو لاندې کوي

چي نيم خامه اوړ هم ورسره وي او تر ايرو لاندي ئې پخوي او تر پخولو وروسته ئې تاوده تاوده خوري.

### کندهاری ګل ګلاب:

کندهاری ګل ګلاب په ډېرو ناروغيو کي استعمالېږي او په ډېرو نسخو کي اچول کېږي. په يوناني طب يا عاميانه طب پوهنه کي ډېر ناروغان د درمل په څېر ګټه ترې اخلي او عام اولس داسي عقيده لري چي کندهاری ګل ګلاب د ټولو ناروغيو له پاره دوا او درمل دي چي ما هم نوموړې خبره د يوناني طب پوهي حضرتو (ابی) څخه ليکلې ده. له ګل ګلاب څخه ګل قند هم جوړوي د ګل قند د جوړولو له پاره لومړی د ګل بوټي څخه ګل ګلابونه ټولوي او پاني پاني کوي ئې او بيا ئې په صافي او يا کوم بل لوښي کي اچوي او لمر ته ئې د وچولو له پاره ايږدي تر وچولو وروسته ئې ميده کوي او لږ څه شيريني او يا بوره وراچوي او ګل قند ځني جوړوي او د درمل په څېر ګټه ځني اخلي. ګل قند د کوچنيانو او لويانو له پاره ګټور دي چي لويانو ته ډېر او کوچنيانو ته لږه اندازه ورکول کېږي. ګل قند د زړه د درد، بادو او بريښو له پاره مؤثره دوا ده او په همدغه ډول په نورو نسخو کي هم د نورو درملو سره يو ځای کېږي او ناروغ ته د تداوی له پاره ورکول کېږي.

### کندهاری بنفشه ګل:

کندهاری بنفشه ګل هم يوازي نه استعمالېږي، له نورو درملو سره يو ځای کېږي او ناروغ ته د ناروغی جوړولو له پاره ورکول کېږي. بنفشه ګل، د ګل ګاو زبان، ګل نيلوفر، کودومه دانه[48] او پري شاوشان نوموړي څيزونه سره يو ځای کوي او په يوه کوچني ديګ يا کټو کي ئې اچوي او ايشوي ئې پس له هغه چي اوبه ئې وايشولې بيا ئې صافوي او مغزيانه يعني بادام او خاش خاش هم وراچوي او د جوشاندې په ډول ئې و ناروغ ته ورکوي. نوموړي درمل درې وخته خوري چي د ډېرو ناروغيو درمل دي لکه: د ځيګر تخته

---

[48] کودومه: يو ډول درمل دي چي د عطاريو په دوکانونو کي عطاران ورسره بلد دي. په افغانستان کي نه کرل کيږي د هندوستان د صادراتو له جملې څخه ګڼل کيږي، ولی زموږ په عاميانه طب کی رواج لري.

کېدل او نفس تنګي او سخت ربزش له پاره ورکول کېږي. نوموړي درمل هم غټان خوړلای سي  او هم کوچنيان، يوازېنی توپير ئې په دې کې دئ چې کوچنيانو ته لږه اندازه ورکول کېږي او غټانو ته ډېره اندازه ورکول کېږي او بل د کوچنيانو له پاره په درمل کې بادام او خاش خاش نه وراچول کېږي ولې غټانو ته په درملو کې د ښه قوت او انرژی په خاطر مغزيانه چې پورته مو ذکر کړل هم وراچول کېږي څو نوموړی ناروغ د پوره توان او طاقت څښتن کړي او رټ مټ ئې د ناروغی څخه پر پښو ودروي.

## ګل ګاو زبان:

دا هغه ګل دئ چې په کندهار او د افغانستان په نورو سيمو کې هم پيدا کېږي او بيا د درمل په توګه ګټه ترېنه اخلي. ګل ګاوزبان په طبيعي ډول د لويو او کوچنيو دايمي ويالو پر څنډو باندي په طبيعي ډول راشنه کېږي او د کندهار عطاران و دې درمل ته ګل ګاو زبان وايي. ګل ګاو زبان له نورو درملو سره يو ځای کېږي او د ډول ډول ناروغيو له پاره استعمالېږي لکه د ځيګر او نفس تنګی له پاره چې لوړ مو ذکر کړل. ګل ګاو زبان هم د بنفشه ګل، نيلوفر، کودومه دانه او پري شاوشان او نورو څيزونو سره يو ځای کېږي او د جوشاندې په ډول جوړېږي او ګټه ترې اخلي. په ځانګړي ډول نه استنعمالېږي لکه نوري دواوي يا درمل چې موږ وويل لکه پلوس، اريړه او دا ډول نور څيزونه ولې د نفس تنګی له پاره يو ضروري جز د نسخې او درمل ګڼل کېږي. همدغسي د ګل ګاو زبان تخم د نورو ګلانو د تخمونو سره يو ځای کوي يعني په يوناني دواوو کې ګل ګاو زبان نه اچول کېږي بلکي د هغوی تخمونه د درمل په څېر استعمالوي.

## ګل نيلوفر تخم:

ګل نيلوفر چې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې کرل کېږي او په طبيعي ډول سره هم راشنه کېږي او په همدغه ترتيب د کندهار په هغو ځايونو کې چې اوبه  ئې ډېري وي نوموړی ګل پيدا کېدای سي. د مثال په توګه د کندهار د ارغنداب په اولسوالي کې او هم د مالجات په شاوخوا کې پيدا کېدای سي او په عاميانه طب کې د نوموړي ګل له تخمونو

ځخه ګټه اخلي. د نومورې ګل تخم له نورو څيزونو سره يو ځای کوي او يوه نسخه ځني جوړوي او بيا ئې د ډول ډول ناروغيو له پاره استعمالوي. د مثال په توګه ګل نيلوفر د خاکشير او بورې سره يو ځای کېږي او بيا د ناروغ د تبي له پاره استعمالېږي او هم په نورو ناروغيو کي د ګټي وړ ګڼل کېږي. چي ممکن موږ ئې په راز راز نسخو کي نومونه ذکر کړو او د نسخې په جوړښتونو کي به بحث پر وکړو.

## ګل تخمي:

ګل تخمي له ډېر قديم ځخه په کندهار کي په يوناني طب او دواوو کي استعمالېږي. ګل ختمي يو صحرايي او لرغونی بوټی دئ چي په طبيعي بوټو کي راځي او د غرونو په لمنو کي پيدا کېږي. د ګل ختمي تخم د نورو څيزونو سره يو ځای کېږي او د ايمالې په ډول ناروغ ته ورکول کېږي او د ناروغ د سيغل او قبض له پاره ګټور درمل ګڼل کېږي. نومورې تخم چي د ګل ختمي د ګل ځخه تر لاسه کيږي، پس له هغه چي ګل خپل د موج او پسرلني تازګی او ښکلا ځخه ولوېدی، نو بيا په اخير کي تخمونه کوي او تخمونه ئې د دوبي د موسم په اخر او د مني په موسم کي پيدا کېږي او بيا زموږ پرګڼې د غرو ولمنو ته د ګل د تخم د ټولولو له پاره ورځي او د نومورې ګل تخم راټولوي او د درمل په څېر ګټه ترې اخلي. د ګل ختمي تخم د امالې پر ورکولو سربېره و ناروغ ته د خولې له لاري هم ورکول کېږي او خوړل کېږي او د ډېرو ناروغيو درمل ګڼل کېږي او په يوناني طب کي ئې خپل اهميت پوره ساتلی دئ. د عطاري په دکانونو کي خورا ډېر پلورل کېږي او د نسخې نور درمل هم ورسره يو ځای کېږي چي موږ به ئې په نورو ناروغيو او درملو کي وڅېړو.

## د مار زهر:

د مار زهر د ډېرو غورو او ښو درملو له جملې ځخه ګڼل کېږي او د ډېري لرغوني زمانې راهيسي په يوناني طب او عاميانه طب کي استعمالېږي او انسانان له پخوا ځخه په نومورو درملو باندي پوهېدلي دي او تر نن ورځي پوري ئې خپل اهميت ساتلی دئ. په ټولو درملتونو کي د مار زهر د درملو او درملتونونو د سمبول په حيث ځرګند وي او نن ئې

په ډېر عصري ټیوبونو کي د ډول ډول نورو درملو سره یو ځای کوي او ډېري ناروغۍ په نوموړي دوا باندي تداوي کوي. ولي په پخوانیو زمانو کي به ئې یوازي د واسلینګو یا واسلینو سره نوموړي درمل یو ځای کول یا به ئې په ځانګړي ډول باندي د مار زهر استعمالول او ډول ډول تداوی به ئې د مار د زهرو په وسیله باندي تر سره کولې. په کندهار کي د عطاریو په دکانونو کي نوموړي درمل پلورل کېږي او د عطاری د دکان یو ډېره غوره برخه جوړوي. د مار زهر که چېري له وینې سره ګډ سي، نو ډېر تاوان لري او د یو زهر په څېر انسان یا حیوان یا بل کوم ژوندی څیز له منځه وړي او مسموم کوي ئې. که چیري د هډوکو د دردونو له پاره نوموړي درمل پر جلد برسېره ووهل سي نو د هډوکو د دردونو له پاره غوره تداوي ګڼل کېږي. د مار زهر په نني طب کي د ډېرو عصري او مډرن ټیوبونو په وسیله په درملتونونو کي پلورل کېږي او نوموړي د پخواني او عامیانه طب د تجریبو محصول ګڼل کېږي او نن ورځ نوموړي درمل د روماتېزم او پښو او لاسونو د هډوکو د دردونو له پاره استعمالوي. د مار زهر د بدن د عصبي ریښو له پاره هم استعمالېږي په همدغه ډول که چېري د بدن کومه برخه بریښ او درد ئې ونیسي، نو نوموړي درمل ورباندي موږي او په نني طب کي د ډېرو عصري انالجزیکو په څېر ګټه ترې اخیستل کېږي. په همدغه ډول د لرغونو تجربو څخه څرګندېږي چي ماران د زهرو له پلوه توپیر سره لري ولي د کبرا مار زهر د عامیانه طب ډاکټران خوښوي او نوموړی مار د درمل په خاطر نیول کېږي او زهر ئې څني باسي او بیا ئې زهر پلوري.

په کندهار کي د مار نیولو له پاره ځانګړي خلګ سته چي یوازي د مار نیولو په هنر باندي پوهېږي او د مارانو ځانګړي ځایونه ورمالوم وي او هغو سیمو ته ځي او ماران نیسي. د مار نیوونکی په دې باندي چي دلته یا هلته مار هستوګنه لري که یا؟ خو پس له هغه چي د مار څرک پیدا کي بیا د مار په لټه کي کېږي او مار نیسي چي بیا ئې غاښونه او زهر کاږي او پلوري ئې او د دې مینه وال خورا ډېر دي. ولي برسېره پر دې هم د مار مینه او د مار نیول بې خطره عمل نه دئ لکه څنګه چي په کندهار کي ځانګړی متل سته چي وایي «د مارګیر مرګ به د مار له لاسه وي» په همدغه ډول د مار چیچل د مارګیر له پاره هم خطرناکه پېښه ده او په همدغه ډول د مار چیچل بیا خپل ځان ته د اودې خلګ لري هغه څوک چي وچیچي هغه نو بیا د خپلو ځانګړو میتودونو له مخي د مار چیچونکی تداوي

کوي. نوموړی کار په کندهار کي عموماً بزرګوار خلک کوي يعني سيدان او اغاګان او د دوی کورنۍ د مار اوده کوي او پس له هغه څخه مار چيچلی شخص جوړېږي. په هرصورت څنګه چي زموږ د بحث موضوع نه ده نو ځکه ډېره تري کوو.

يوازي د کندهار مهم مارګير د کندهار د ده خوجې اوسېدونکی محترم ولي جان قصاب ډېر مشهور او نامداره مارګير وو چي په همدغه لارکي ئې ځان قرباني کړ او بالاخره د يوه قوي مار له خوا څخه وچيچل سو او مړ سو. د کندهار خلک په دې عقيده دي چي د مارزهر د هر ډول بريښ او پښو د درد او د هډوکو د درد له پاره دوا ده او په يوناني طب کي د درمل په څېر نوموړی درمل د پورته ناروغيو له پاره ورکول کېږي.

## خاکشير:

خاکشير چي د افغانستان په ګوټ ګوټ کي پيدا کېږي د يوناني طب له ډېرو غورو درملو څخه ګڼل کېږي چي له پخوانيو وختونو څخه ئې خپل شهرت ساتلی دئ او د کندهار د عاميانه طب يوه غوره برخه جوړوي او د عطاريو په دکانونو کي پلورل کېږي. خاکشير هم په ځانګړي ډول استعمالېږي او هم د يوې نسخې په ډول له نورو څيزونو سره يو ځای کېږي او لازم درمل ځني جوړيږي. خاکشير په عاميانه طب کي د ډېري شديدي تبي له پاره استعمالېده او هغه وخت چي نوالجين نه وو کشف سوی او خلکو ته نه وو معلوم او نه وه ورسره اشنا، نو به عوامو خلکو او زموږ پخوانيو پرګنو د تبي له پاره استعمالول. خاکشير د نسخې په ډول د نيلوفر د ګل تخم او څه اندازه بورې سره يو ځای کېږي او بيا بې له دې څخه چي وايشول سي او يا پاخه سي په يخو اوبو کي اچول کېږي او ناروغ ته پس له دوه‌ی خوړلو څخه درې وخته ورکول کېږي او د تبي د ښه کېدو سبب کيږي. خاکشير په کندهار کي هم کرل کېږي او هم په طبيعي ډول سره د لښتيو او ويالو پر څنډو باندي راشنه کېږي او د خاکشير د درملو مينه وال ئې ټولوي او په بازار کي ئې پلوري.

## ريحان:

ريحان چې عموماً ئې د خنکيانې په ډول د دوبي په ګرميو کې استعمالوي، ډېر په زړه پوري او له تجربو څخه راوتلې دوا ده. ريحان ډېر ښه بوی لري چې عموماً ئې په کندهار کې د باغچو او ګلانو په منځ او شاوخوا کې هم کري او ډېر ښه بوی ورکوي. ريحان په پسرلي کې کرل کېږي ولې پس له هغه څخه چې په وړي کې ئې دانې پخې سوي نو هر وړی ئې په جلا جلا توګه رااخلي او بيا ئې د لمر په وسيله وچوي او د ډول ډول ناروغيو له پاره ئې استعمالوي. ريحان برسېره پر دې چې د خنکيانې په توګه د دوبي په سختو ګرميو کې ئې استعمالوي د نورو څېزونو سره د يوې ګډې نسخې په ډول هم استعمالېږي لکه د شکمپارې، ملنګيانو او بورې سره يو ځای کېږي او د دردونو، مړې تبې، د ستوني درد او نورو ناروغيو له پاره ګټه ترې اخيستل کېږي. ريحان پر دوه ډوله پېژندل کېږي چې يو ډول ئې د کندهاري ريحانو په نوم سره شهرت لري او بل ډول ئې د کشميري ريحانو په نوم سره پېژندل کېږي چې د عطاري په دکانونو کې ئې دواړه ډولونه موجود وي او هر ډول ئې ځانګړي خصوصيات لري. کشميري ريحان چې ډېر اصلي ريحان ګڼل کېږي، عموماً د عاميانه طب ډاکټران ئې د کمزورۍ له پاره ورکوي او يا هم په هغه صورت کې چې د انسان وجود ضعف سي او هم ئې د زړه د پرېش او د زړه د قوت په خاطر و ناروغ ته ورکوي او پس له هغه ناروغ جوړېږي.

### اناف:

اناف د عاميانه طب د درملو له جملې څخه دي چې زياتره برخه ئې زموږ ګران هيواد افغانستان ته د پاکستان او هندوستان له لوري راځي او واردېږي. اناف په عاميانه طب کې داسې درمل دي چې په ځانګړي ډول سره نه خوړل کېږي او نه استعمالېږي، د نورو څېزونو سره يو ځای کېږي او د جوشاندې او امالې په ډول سره استعمالېږي يعنې هم د معدې د ناروغيو له پاره استعمالېږي او هم د تبې له پاره استعمالېږي.

### پري شاوشان:

پري شاوشان هم د عاميانه طبابت له مهمو اجزاوو څخه ګڼل کېږي او د يوناني طب په ډېرو نسخو کې استعمالېږي. په ځانګړي ډول ئې د ځيګر له پاره په جوشانده او د جوشاندې د نورو غوره درملو سره يو ځای کوي او بيا ئې د زوکام، ځيګر او نورو دغه ډول ناروغيو له پاره استعمالوي. پری شاوشان چې زموږ د ګران هيواد له توليداتو څخه ګڼل کېږي د عطاريو په دکانونو کې پلورل کېږي، د افغانستان په ګوټ ګوټ کې په طبيعي ډول سره پيدا کېږي او په همدغه ډول په کندهار کې هم نوموړی بوټی په طبيعي ډول سره د ښاګانو په هغه برخه کې چې لنده بل ډېر وي نوموړی بوټی په اسانۍ سره خپله ريښه اوبو ته نژدې کولای سي او راشنه کېږي او په ښاګانو کې پيدا کېږي. همدغسې د سايې يا سيوري بوټی دی، چندان لمر ته ضرورت نه لري.

پری شاوشان په کاريزونو کې هم خلک راټولوي او بيا ئې بازارونو ته د پلورلو له پاره راوړي. پري شاوشان په جوشانده کې د خوږو ولنو، بورې او کوکنارو د بلګونو او نورو څيزونو سره يو ځای کېږي او د درمل په څېر کټه ترې اخلي.

**بدره:**

بدره چې تقريباً زموږ ټول هيوادوال ئې له نامه سره بلد دي زموږ د ګران هيواد افغانستان د پيداوارو له جملې څخه ګڼل کېږي او د يوناني طب يوه غوره برخه جوړوي. بدره د افغانستان د کودامن (کوهدامن) په برخه کې ډېره پيدا کېږي چې يو ميکروب وژونکی نبات دئ او د سپېلنيو په څېر دوديږي او د ډول ډول ناروغيو مخه نيسي. بدره په ځانګړي ډول په هغو اطاقونو کې لګول کېږي چې هلته ناروغ ژوند کوي او يا هم ډېر ماشومان هلته اوسېږي او يا هم په کومه کوټه کې يا کور کې چې مړی سوی وي نو پس له هغه چې مړی له کور څخه ووتی نو بيا هلته بدره دودول کېږي څو د اطاق هوا د بيا له پاره له ميکروبونو څخه وژغورل سي. بدره د سپلنيو په څېر هم د نظر ماتولو له پاره دودېږي چې په مختلفو وختونو کې لکه څنګه چې مو د سپلنيو دودولو او نظر ماتولو په دودونو کې وويل په همدغه ډول له بدرې څخه هم ګټه اخيستل کېږي. يعني خپله بدره خوړل کېږي نه، بلکې دودول کېږي د ميکروبونو د وژلو په خاطر چې په عامه اصطلاح سره د نظر ماتولو په دودونو کې ګټه ترې اخلي.

**کت تباشير:**

کت او تباشير دوه جلا جلا بوټي دي چي د نورو طبيعي بوټو سره هم يو ځای کېږي او د ډول ډول درملو په څېر ګټه ترې اخيستل کېږي او په ځانګړي ډول سره هم کت او تباشير سره يو ځای کوي او ډېر عالي درمل ځني جوړېږي او د ملهمو په څېر ګټه ترې اخيستل کېږي. نو په هغو ناروغيو کي چي پس له ډېرو تبو څخه د ناروغ صحت سمون وموندی او د ناروغ خوله د تېرو ناروغيو په وجه ووتله او تناکي پرې راوختلې، دې ته دخولې وتل او يا هم خوله خوړينېدل وايي، نو په داسي وخت کي د ملهمو په څېر کت او تباشير سره يو ځای کوي او د ناروغ پر ټپونو باندي ئې ور وهي کت او تباشير د داسي ناروغيو تر ټولو ښه درمل ګڼل کېږي او زموږ په عاميانه طب کي پوره شهرت لري.

**شيرخشت:**

شيرخشت د عاميانه طب يوه برخه ده چي د ډول ډول ناروغيو له پاره استعمالېږي. شيرخشت په ايماله کي هم له نورو څيزونو سره استعمالېږي. ولې په ځانګړي ډول سره هم استعمالېږي او د سوزاک، شاشه بندئ او دغه ډول نورو ناروغيو له پاره ډېر ښه درمل ګڼل کېږي. شيرخشت د بورې، بورزوی سره هم د درمل په څېر استعمالوي.

**د ترتېزک تخم:**

د ترتېزک نوم يو عام نوم دئ چي زموږ ډېر خلګ ئې له نامه سره بلد دي او ډېر خلګ ترتېزک خپله هم پر دسترخان له ډوډئ سره خوري او يو خوندور نبات ګڼل کېږي ولې برسېره د ترتېزکو له بلګونو او پاڼو څخه خپله د ترتېزک له تخم څخه هم ګټه اخيستل کېږي او په ډول ډول ناروغيو کي استعمالېږي او د ډول ډول څېزونو سره يو ځای کېږي او د سر او نزلې له پاره ګټور درمل ګڼل کېږي. چي د دغو څيزونو لکه کودومه، بادام، پسته، خاشخاش، ګل بنفشه سره ئې يو ځای کوي او ناروغ ته ئې ورکوي او د مغزياتې په ډول ئې استعمالوي او خپله د ترتېزکو تخمونه د رېزش د اوبو د راايله کولو

له پاره هم يو ګټور درمل دي چې د دې ډول ناروغيو له پاره کله د رېزش او هغه ناروغۍ چې دماغونه ئې بند او تبه هم ولري د دې ناروغيو په وخت کې د ترتېزکو له تخم سره ګل ګاو زبان چې مخکې مو خبري پر کړي دي، بهي دانه، سيپاړو او زرغون مازو چې کلکې دانې لري ميده کېږي او په شيدو کې ئې خيشتوي او خوړل کېږي چې هم تبه جوړوي او هم د نزلې اوبه ايله کوي.

### د تربو تخم:

ترب هم د ترتېزکو په څېر د دسترخان پر سر باندي خوړل کېږي او د ډوډۍ او دسترخان له ځيزونو څخه يوه غوره غذا ګڼل کېږي. ولې له تخم څخه ئې د درملو په څېر ګټه اخيستل کېږي او د عاميانه طب د درملو پلورونکي عطاران ئې په خپلو دکانونو کې د درمل په څېر پلوري او يو غوره درمل هم دي. نوموړي درمل په کپه کې خوړل کېږي او د نورو ځيزونو لکه سپېرکۍ، خواږه ولني، بوره، سپپاړو او نورو د کپې له ځيزونو سره د ترب تخم هم اچوي او د بادو د ناروغيو له پاره ګټور درمل ګڼل کېږي.

### بارتنګ:

زموږ د هيواد په ګوټ ګوټ کې د بارتنګ تخمونه کرل کېږي او په ځينو ځايونو کې په طبيعي ډول هم راشنه کېږي او د يوناني طب د پلورونکو له خوا څخه په بازار کې پلورل کېږي حتی تر هيواد دباندي هم صادرېږي. د بارتنګو دانې د ډول ډول ناروغيو له پاره ګټوري دي لکه د سيغل دپاره او داسې نوري ناروغۍ. بارتنګ لومړی ډېر ښه پرېولل کېږي او بيا په يخو اوبو کې اچول کېږي او لږ څه بوره هم ورسره اچوي او خوړل کېږي چې د عاميانه طب ډاکټران ئې خورا ډېر استعمالوي.

### زرغون مازو:

زرغون مازو لکه څنګه چې مو د ترتېزکو د تخم په درملو کې خبري پر وکړې يو غوره درمل دي او د عطارۍ په دکانونو کې پلورل کېږي. زرغون مازو کلکې دانې لري او رنګ ئې هم زرغون وي چې په اونګ او يا کوم بل ځيز کې ميده کېږي چې له يو تعداد نورو

درملو سره ئې یو ځای کوي او کونډري هم ورسره اچوي او پر یو ټوکر باندي اچوي او د سر د نزلې له پاره کټور تمامېږي.

**کمرکش:**

نوموړي درمل چي اصلاً د هندوستان له لوري څخه موږ ته راصادرېږي زموږ په ملک کي د عطارانو په دکانو کي پلورل کېږي او خپله زموږ په هیواد کي نه کرل کېږي. کمرکش د سر د نزلې له پاره ناروغ ته ورکول کېږي چي د سرد نزلې د ځینو موادو سر یو ځای کېږي لکه د ترتېزکو تخم، زرغون مازو، کونډري او داسي نورو سره یو ځای کېږي او د درملو په څېر ګټه ترې اخلي.

**کارګه ټکی:**

د کارګه ټکی چي زموږ د ګران هیواد د طبیعي بوټو له جملې څخه دي. په ګرمو سیمو کي په طبیعي دښتو کي په اول پسرلي کي پر پسته خاوره باندي راشنه کېږي او انافي ګلان کوي چي د پاڼو او تخم څخه ئې د درملو په څېر ګټه اخلي او د عطار په دکانو کي د عامیانه طب د څېزونو په څېر پلورل کېږي. د کارګه ټکی د ایمالې له څېزونو څخه ده او غوړمواد لري چي په ایماله کي دقبض او دغه ډول ناروغیو له پاره ګټوردرمل ګڼل کېږي.

**مرغونې:**

یو طبیعي بوټی دئ په هغو دښتو کي چي په لومړي پسرلي کي اوبه ډېري وبهېږي او د اوبو په وسیله باندي نور واښه هم راشنه سي نو په پسته خاوره کي مرغونې هم راشنه کېږي او د هندوانې غوندي بوټی او پاڼې لري چي وروسته ژړ ګل کوي او په ژړ ګل پسي یو دانه نیسي چي غټېږي او د مشنګي په څېر ښایسته کوچنی توپ غوندي ګردی شی ځني جوړېږي. خوړل کېږي نه او ډېر تریخ خوند لري ولې په یوناني یا عامیانه طب کي ئې د باد او بواسیرو ناروغیو له پاره استعمالېږي چي د نوموړي ناروغی تر ټولو ښه علاج او درمل ګڼل کېږي. مرغونې د بواسیرو له پاره داسي استعمالوي چي لومړی مرغونې د خپل دننني

تخم یا زښو او دانو سره یو ځای وچوي او بیا ئې ښه کوټي او تر خاسې ئې چوني چي وروسته ئې د غوا له غوړو سره اچوي او د باد او بواسیرو پر ځای (کونه) باندي ئې موږي چي په دې ډول د بواسیرو د ناروغي پس له څو ورځو څخه کمېږي او بالاخره له منځه ځي. د بواسیرو ناروغی ته د کوني درد هم وايي. ولي مرغونې بیا د کوني د درد درمل ګڼل کېږي. په عامیانه طب کي ډېر غوره درمل دي او د عطاري په دکانونو کي پلورل کېږي. مرغونې لکه څنګه چي مو مخکي هم وویل نه خوړل کېږي او که وخوړل سي تاوان کوي ځکه ډېره ترخه ده ولي پر زخمونو باندي موږل کېږي. مرغونې یوازي د بواسیرو پر زخمونو نه بلکي پر نورو زخمونو باندي هم موږل کېږي او یو میکروب وژونکی درمل ګڼل کېږي.

## سرمکۍ:

سرمکۍ هم زموږ د هیواد د طبیعي شتمنیو له جملې څخه ګڼل کېږي او ډېر ښه خوند لري. د هیواد په بیلو بیلو ولایتونو کي په طبیعي ډول راشنه کېږي. سرمکۍ په ځانګړي ډول باندي خوړل کېږي او لکه مخکي چي مو وویل ډېر ښه خوند لري نو پر همدغه اساس د غذايي موادو له جملې څخه هم ګڼل کېږي، ولي د عطارۍ په دکانونو کي نه پلورل کېږي بلکي د ترکاري پلورونکو په دکانونو کي پلورل کېږي او بیا د ګندنې، تروکو، خولفې په څېر په دیګونو کي پخېږي او بیا ئې د بولانیو په ډول خوري او ګټه ترې اخلي.

سرمکۍ د یوناني طب د درملو په څېر یو ګټور درمل دي چي د بادو له پاره ګټه ترې اخلي او د بادو د ناروغیو له پاره استعمالېږي. د یوناني یا عامیانه طب په هکله خورا ډېري خبري وجود لري او ممکن په سوونو سوونو بوټي موجود وي او ډېري وسیلې د پخواني طبابت سته چي پخوانیو انسانانو به ګټه ترې اخیستې او عامیانه طب د انساني ژوند مهمه برخه جوړوله. په نوموړي طب کي عقیدوي موضوع ګاني شاملوي او د درملو مختلف څیزونه وو چي د عقیدې په وسیله سره به مریض په ښه کېدی. د عقیدوي موضوعاتو څخه مو مقصد هغه برخه ده چي انسانانو به یو تعداد ناروغی په تلقیناتو باندي تداوي کولې. د مثال په توګه د تاویز ځړول، خورده خوړل، دمول، د توري چرګې حلالول، خیرات او داسي نور ډول ډول علاجونه به ناروغ کول چي د خپل وخت د طبابت

یوه برخه ئې جوړوله او د انساني شعور یوه برخه دغو تلقیناتو جوړوله. په همدغه ډول تر اوسه هم زموږ شریف وطنوال نوموړي یعني پورته تداوۍ د یوې عنعنې په ډول تر سره کوي او زموږ د ټولني یو مهم جزء هم دغه عقاید، دودونه او ډول ډول دستورونه جوړوي او ډېري کورنۍ مو تر اوسه پوري خپل علاجونه او طبي موضوعات په هغه عقیدوي ځانګړو دودونو باندي سر ته رسوي. نوموړي دودونه زموږ د ټولني یو مهم اړخ دئ او زموږ د ټولني د ځانګړتیاوو له جملې څخه ګڼل کېږي.

زموږ ټولنه په دغسي دودونو او یو قانونمنده تکامل پر اساس چي د خلکواو پرګنو د شعور یوه برخه ده باید ټولنیز عمل وسي او ټولنه د هغو عقیدو پر اساس د تکامل لوري ته وهڅول سي. یعني نوي تولیدي قوتونه ایجاد او د زړو اړیکو ځای ونیسي. د دې خبري مفهوم او معنی دا نه ده چي ټول زاړه باید رد کړل سي بلکي زړو انساني اړیکو ته باید تکامل ورکړل سي چي په همدغه ډول سره پخوانی او لرغونی طب چي زموږ د انساني ژوند یواړخ دی ورو ورو له تجربېو څخه په علمي بنسټونو باندي تکیه سي او نن ورځ دیوه ډېر پاخه علم په ډول رامنځته سي.په هرصورت نوموړی بحث موږځکه وکړچي پخوانی تجربې که نن ورځ له منځه تللي هم دي ولي په پخوانیو او لرغونو زمانو کي د ګټي وړ علم وو.

د مثال په توګه د هډوکو ماتېدل، د لاسونو او یا هم نورو بندونو د وتلو تداوي چي ځانګړي طبیبان ئې لرل یعني د شکسته بند په وسیله د نوموړو ناروغیو تداوي د ځانګړو پوهو په وسیله سره سر ته رسېده چي نوموړی طبابت د عامیانه طب یوه بله برخه وه. حتی یو تعداد ناروغان تر اوسه هم په ډاکټر باندي نه تداوي کېږي او شکسته بند ته ئې وړي.

شکسته بند د هډوکو د ماتېدو او برېښ، د بند وتل، د هډوکي وړوکي اوښتلو او دغه ډول رګي کېدو له پاره د تداوۍ ډېر ډولونه لري چي د یو کال، میاشتي، هفتې او ورځي علم او پوهه نه بلکي د کلونو د تجربو محصول پوهه او علم دئ. حتی ځینو شکسته بندانو ته نوموړی علم میراثي له یوه پښت څخه بل او له بل پښت څخه بل ته ورپاته سوی دئ یعني د پلاراو دنیکه له وختو څخه د شکسته بندۍ د ناروغۍ په میتودونو باندي پوهیږي. په همدغه ډول د سنتي پوهان او ډاکټران چي په عامیانه طب کي ډېر لوی ځای لري هم دکندهار ښار او شاوخوا کي سته چي تراوسه پوري ئې هم زموږ دښاریانو او پرګنو

ضرورتونه ور رفعه کړي دي. او زموږ د ښار او صحراوو په بېلو بېلو برخو کې د کوچنیانو سنتي (ختنه) یو ډول خلک کوي چې اصلاً ئې کسب او کار هم سنتول نه وي او کسب او کار ئې دلاکي وي یعني سر او ورېښتان جوړوي. خو په نورو ځایونو کې دلاک ته د سلماني یا نايي نوم هم ورکول کېږي. نوموړی دلاک هلکان سنتوي او د سنتیو په دودونو باندي هم ښه پوهېږي چې د دې ډول دودونو له پاره لازم سامانونه لري.

په هر صورت اوس بیا هم د شکسته بندۍ د علم په باب یو څه ووایو: په کندهار کې ډېر لږ کسان سته چې په نوموړي ناروغي باندي پوهېږي او د کندهار په شاوخوا کې ئې خپل شهرت ساتلی دئ او د ټول کندهار یعني له فراه څخه تر کلات پوري ټول د کندهار په مشهورو شکسته بندانو باندي ځانونه تداوي کوي. شکسته بند په دې ډېر ښه پوهېږي چې د ناروغ هډوکي ته څومره تاوان رسېدلی دئ او دګوتواولاس په وسیله باندي دهډوکي مات او نه مات پیدا کولای سی. په کندهار کې ډېر نامدار طبیبان د شکسته بندۍ لکه حضرتو (ابۍ) چې موږ د نورو درملو او ناروغیو په لړ کې بحث پر وکی دشکسته بندۍ په عامیانه طبابت باندي هم ډېره ښه پوهېږي اوله ډېرو لیري ځایونو څخه ناروغان په ځانګړي توګه ښځینه ناروغان ورته راځي او علاج ئې کوي. خلک هم شکراني د یوې عنعنې په څېر ورته راوړي او بل هم ډېر مشهور او نامدار شکسته بند د پنجوایي اولسوالۍ اوسېدونکی محترم حاجي عبدل چې خپل پخوانی او دپلار او نیکو نوم ئې تراوسه ساتلی دئ. د کندهار د ډېرو لیرو صحراوو او ښار څخه ناروغان ورته راولي او په نوموړي شکسته بند باندي ئې تداوي کوي. اوس د محترم حاجي عبدل زوی اسماعیل او بل مشر زوی ئې محترم قاسم هم په نوموړي فن باندي پوهېږي او دپرګنودهډوکو د ماتېدو علاجونه کوي. په همدغه ډول د شکسته بندانو په لړ کې د مرت کلا د حاجي عبدالحي نوم هم د یادولو وړ دئ چې ډېر نامدار او پوه طبیب دي او د هر ډول هډوکو په ماتېدو، برېښ، دلاس بند وتنه، بندونو باندي پوهېږي. د مرت کلا عبدالحی برسېره پر دې چې د مرت کلا د سیمي ناروغان او د لاس یا پښې او یا هم د بدن د نورو ځایونو د ماتېدو تداوي کوي برسېره پر دې د کندهار ښاریان هم د حاجی صاحب له پوهي څخه بې برخي نه دي او حاجي صاحب د کندهار په ښکارپور بازار کې خپله یوه ځانګړې معاینه خانه هم لري چې هلته ئې د شکسته بند د دکان په نوم سره یادوي او ناروغان نوموړی دکان ته ورځي او خپله تداوي

کوي. هغه ناروغان چي د دې قدرت نه لري چي دکان ته دي د حاجي صاحب عبدالحي ورسي او يا دي حاجي صاحب عبدل ته ورسي نو بيا خپله نومورى پوه و کور ته له ځان سره راولي او هغه هم د معمول او عنعنې سره سم ورځي او ناروغ تداوي کوي.

د کندهار د هدوکو د ماتېدو د علم عاميانه پوهان چي مورږ ئې نومونه واخيستل نه يوازي د انسانانو تداوي کولای سي بلکي ځيني حيوانات لکه غوا، غوايي، خر، آس او داسي نور مهم حيوانات هم نومورې پوهان تداوي کولای سي او خپل ځانگړي وسايل ورته لري. نو مورږ بايد ووايو چي عاميانه طب زمورږ د انساني ژوند په جريان او تاريخ کي د قدر وړ خدمتونه کړي دي او دانسانانو د ښه صحت ضمانت ئې تر نن ورځي پوري کړی دئ اواوسنی طب او طبابت د لرغوني عاميانه طب پوروړی دئ. فقط توپير ئې په دې کي دئ چي د عاميانه طبابت پوهانو به تداوي په ابتدايي افزارو او وسايلو باندي کوله د مثال په توگه استاد چولک چي مورږ مخکي وويل چي دلاک يا هغه څوک چي هلکان سنتوي هغوی به يو لرگی چي د کيتک غوندي به جوړ سوی وو د هلک د چولکي اضافي برخه به ئې پکښي ونيوله او د پاکي چړې په وسيله به ئې د چولکي اضافه برخه ورغوڅه کړه او بيا به ئې تورکې پر کښېښودل. د هلک د چولکي هغه برخه چي استاد به ورغوڅه کړې وه هغه به ئې پر پښه باندي وروتړله د ښه شگوم په ډول به ئې تر هغه وخته پوري غوښه ورتړلې وه چي د هلک دچولکي زخم به جوړ سو. هر وخت به چي هغه غوښه چي په پښه ئې ورتړلې وه وچه سوه نو بيا به دوی ويل چي چولکی هم جوړ دئ چي دا يو د رغوني ډول وو. همدغسي د لاسونو او بندونو د جوش خوړلو له پاره د عاميانه طب پوهانو ډېر ابتدايي وسايل په کار اچول مثلاً که به د چا لاس يا پښې غلط جوش وخوړی نو بيا به ئې په لم کي پښه وروتړله او پس له يوې يا دوو ورځو وروسته به بند سست سوی وو او په ډېر لږ تکان سره به له ځايه څخه بې ځايه کېدی خو بالاخر به بيا مات سو او له سره به تداوي کړل سو.

د کتاب په اخير کي بايد د نتيجې به توگه وليکم: پخوانی خبري بې گټي نه دي او د نني ساينس او تکنالوژۍ سره قانونمندي اړيکي لري او فولکلورد تاريخ او نورو علومو په څېر د بشري علومو هنر او ادبياتو ډېره غوره څانگه کېدلای سي.

## په کندهار کې دکوډو دود او دستور

دکوډو دود اودستور هم په کندهار کی یو دهغه لرغوني زمانې را پاته سوی دوداو دستوردی چي داهمیت له مخي ئې موږ دلته یادونه کوو.کوډي اوجادو،تعویذګری چي په عمومي توګه دټولني دوروسته پاته والي او داقتصادي جوړي سوی ټولني سره اړه لري .په غریبو هیوادونو کې درشداو پرمختګ بازارئې خوراتود وي.ولي څه وخت کي چي په یوه ټولنه کي سرمایداري مناسبات او اړیکي دتولید دوسائیلو پر مخ تګ داسي را منځته سي چي دهغه مهموپاپېتوخبروروښانه دلایل پیداسي.نو سمدلاسه دکوډو،تعویذګریواوجادو خبری هم دمنځه ولاړي سي.داچي دجادو یا ګوډو مقوله تر نن ورځي پوري هم زمو دهیواددخلکو ذهنیتونه شکنجه کړی دي.اودروحانیت بیلا،بیل مرموزیا پټ حالتونه دجادوګرانو په افسانوی کیسو سره دخلکو پر ژوند ټینګه اغیزه ښندلې ده.او زموږ دټولنیز ژوند یوه لویه برخه تشکیلوي نو ضروری ده چي دکندهار دخلکو په دوداو دستور کې شامله کړو، تر څو دکندهاردفلکوردغه برخه چي دپیړیو راهیسي ئې زموږ په هیواد او کندهار کې خپل تاثیر او اغیزي پرایښي دي دیوه واقیعت په څیر دیاودنی وړګڼل کیږي.که موږ دغه ټوله ذهني خرافاتو ته دیوه عام نوم په اایښولو سره موضوع اسانه کړو نو دغه دکوډو مسئله ،سحر ،طلسمات دغه ټوله یوازی دکوډواو جادو تر نامه لاندی کتلای سو.چی دنړۍ په بیلا بیلو هیوادوکې په مختلفونومو سره ئې یادوي. په اروپاکې دمګي یا (magie) چي دیونا ني ماګیه څخه رااخیسته سوې یا مشتق سوې ده.دلته هم نژدې ودې ته داسي نوم موږ لرو چي کله یو څوک په دماغي کړاو اخته سي موږ وایو میرګي نیولی دی،چي ددې تعبیر داسي کوی چي یاچاه کوډي په کړي دي او یا هم پیریانیان پر ناست دي.او سمدلاسه تعویذ او کوډی په

کوي.چي په دغه ډول زموږ په هیوادکی جادو په عمومي توګه پر درې ډوله دی :

۱ – تور جادو: چي دهغه په عملیاتو کي دخبیثه ارواحواو اهرایمني یا شیطاني قواو په مرسته ناوړه کړنی تر سره کیږي.

۲ – سپین جادو : چي دهغه په چاروکي له خبیثه ارواحوڅخه مرسته نه غو ښتل کیږي نو سپین جادو ئې بولي.

۳ – طبعي جادو : چی دهغه په کړنو کې دطبعي پیښوپه باب له ماهرانه پوهي او چم او چمبازۍ څخه کار اخیستل کیږي.

زموږ خلک دتور جادو ګروپرکړنو باندی نیوکي کوي او دناروا کړنو په سترګه ورته ګوري.چي دجادو یاسحرپه نظرورته ګوري.اوخبیثه شیطانی عملونه ئې بولي.

ددغسي جادو ګرو دتحریم یا بندولو په باب داسلامي فقهي یوشمیر حکمونه هم ددغی برخي سره اړه لري. اوبد ئې بولي.

دسپین جادو په برخه کی چي زموږ دټولني خلک ورسره موافق دي هغه ټوله هغه څه لکه دم کول، تعویذات ورکول،درودونه پر ویل او داسي نور چي هم دیني جوازلري او هم تر یوه حده پوري دمعتقداتو دجملې څخه ګڼل کیږي.او دکندهار خلک هم دادجادو تر عنوان لاندی نه بولي.بلکي دتعویذاتو، دمؤلو(دم وچوپ) تر عنوانولاندی په مذهبی سترګه ورته کتل کیږي.

طبعي جادو ګري:په ټولیز ډول چشم بندي.چي په انګریزي کی ورته شم( sham)وائي زموږ دپښتو سرنژدې والی ښوي.اوهم شعبده بازي اودلاس صفائي په کښي راځي یو عامه پوهه ده.له علمی پلوه جادو یوداسی ټولیزلغات دی چی دایډیالیستي تفکر محصول دی او په ټولنه کې په روایتی توګه ځای

نیولی دی.په دې حساب کې دکوډواو جادو په مقولو کې ډیر لغاتونه اوبیلابیلي اصطلاحوي یادولای سو.لکه: کوډي،تعویذات،طلسم،منتر،جنترونه، دمونه، اودې،خوردې،ټوټکې،اوفاق،عزائم،ښراوي،دوعاوي،اوراد،لاس کتنه، کړنه، رمل،جفر،نجوم ګري،لرغونی طبابت ،کیمیا ګري،ریمیا ،سیمیااو له دې بابه نورټول چمونه اونیرنګونه په یو ډول نه په بل ډول دجادوترمقولې لاندی راتلای سي.دنورمعلومات دپاره.دخدای بخښلي نومیالی کتاب(دکوډو سرنویشت )۹ مخ وګری.

په هر صورت دغه دجادو یا کوډ ماهران چي په مختلیفو چمونو دخلکو دتیر ایستلو تمثیل په خپل مهارت سره کوي. دکندهار په اصطلاح هم دچمبازانو نوم ورکول کیږي. چي په انګریزي کې (شم) بولي.

بیاهم داچی جادو دتاریخ په اوږدو کې پرکندهار باندي خپلي اغیزي ایښي دي او دعلم او تخنیک په پرله پسې پر مختګ سره مخ پر ورکیدو دي. داځکه چی دجادو یا کوډو دمقولې مقابل ساینس واقع دی. او په هغه ځای کی چي علم لږ وي پر مختګ هم لږوی نو دغه مقوله دیوې عنعنی په څیر خپل شتون ساتی او هغه وخت چی په یوه ټولنه کي علم پرمختګ وکړی، ساینس او طبابت پر مخ ولاړسي او دخلکو ستونزه په علمی میتودونو سره حل وفصل سوه نو دغه وخت دغه غیري علمی میتودونه هم خپل ځای ونوی پدیدې یا ساینس او تخنیک ته ورپریږدي.په کندهار کی که څه هم جادوګران او کوډی کونکی ډیر شته خو بیا هم تر مخکی وختونو دعلمی پر مختګونو په وسیله لږ سوی دي.اوپه ځانګړې توګه بیاپه ښارونوکي دصحراوپه پرتله بیخي ډیر لږسوي دي. چي ددې څخه معلومیږی چی سحر،جادواو کوډي په ښاری اوښوونیزوخلکو کې ډیر ي لږ دي، یانسته او دغه طلسمونه تر ډیري کچی په

مذهبی ،روحانی کسانو کي ليدل کيږي، ځکه هغوی لا تر اوسه دنوي ساينس څخه ياخبر نه دي اويائې خپلي ګټي دهمدغه ميتودونه سره وي. سربيره پردې ټولو خرافاتواوعينی څيړنوسره دغه موضوع ډيره ساده هم نه ده.ځکه چی دپخوانيو وختونويعنی دماقبل تاريخ دزمانې داقتصادي شرايطو سره سم په لرغونوهيوادونو کې بشپړه اغيزي درلودلې او دمصر دبابل مدنيت ،هند ،اعراق اوداسی نوروهيوادونوکي به دوخت امپراطورانودغه ډول جادوګران،جوګيان درلودله اودهغوی څخه به ئې دخپل سلطنتونوپه بقأ کی ګټه اخيستل. تر ډيره وخته به حاکمه قواوساتل هم. چی دمختليفو تعبيرو نو تفسيل يا څيړنه به ئې په همدغه مداريانو کوله. او دهغوی افسانې دنړۍ په ګوټ، ګوټ کی دشفاهی فلکلورپه څانګه کی خپل ځای تر اوسه هم په وروسته پاته هيوادو کی ساتلی دی.که څه هم دغه خيالی افسانوی کيسې دپخواني ټولنيزو شرايطو يعنی دکمون اوليه دوخته څخه زموږ ولس په ذهني لحاظ اغيزمند کړی دی ، خو ترنن ورځی پوري هم دغه خپسکه زموږ پر ذهنونو باندی سلطنت کوي. تاريخی پرمخ تګونو ښودلې ده چی دغه ذهنی ناوړه پديده به په پر مخ تللو هيوادو کي دنيست په حالت کی ده.خوپه وروسته پاته ټولنو کی تر اوسه هم ژوندی پاته ده. چي زموږ په هيوادکی ددغي پديدې ډيرعنعنوي نقلونه،افسانې شته دي. چي تراوسه هم پر مغزورا پيچل سوی دي.او زموږ په ټولنه کې يوايډيالوژيک اړخ پيداکړی دی.او دخپل پر مختګ په سلسله کي يو شمير جادو ئي پديدې د ماترياليزم په مقابل کي دايډيالوژيکي مبحث په جريان کي مخامخ سوی دی.نو ځکه وايو چی جادو هم يوه ايډيا لوژی ده.چي دساينس او تخنيک ياعلمی ميتودونواو ايډيالوژۍ سره مخامخ په جګړه کی وي.اودزړې پديدې ئې په ساتلوکی هلي ځلی کوي. داچي شفاهي فلکلور

دهمدغه افسانو په ساتلو کی لویه برخه لري ، نو ویلای سو چي دلویه سره زمونږ په هیوادکي په تاریخی لحاظ دویدی عصر،زردشتي مدنیت ،او بودائي افسانو کی دغه په شفاهی ډول زمونږ هیوادتراغیزی لاندی را وستلی دی او تر نن پوري زمونږ په شفاهي ادبیاتو او فلکلورکی ئې ځای نیولی دی.او دهمدغه باورونو سره مخامخ اړیکی درلودای سي. همدغسي دیونان په لرغوني هیوادکي همدغه افساني هغه وخت زمونږ هیواداوشفاهي ادب ته راداخلي سوې چي یونانیانو دمیلاد څخه وړاندی پردې هیوادباندي خپل نظامي برتری لاسته را وړه.او مونږ پوهیږوچی دیونان لرغوني شفاهي ادبیات دهمدغه ډول افسانو څخه ډک دي،چي ددوی په لرغونی شفاهی ادب کي یو هم دهومرادیسه داستانونه دي.او که دهغه اوږده تاریخ څخه تیرسوداسلامی ثقافت درا منځته کیدو سره سم زمونږ دډیر ونامتو پوهانو او عالمانو په اثارو کي هم دغه ډول افسانې او طلسمونه لیدل کیدای سي. لکه ابن سینا، البیروني او عربي او عبراني لیکوال ابن خلدوم په اثارو کې. په دې باب ابن سینا داستسقاء ( بارانو) دعملي ثبوت دپاره منطقي دلایل وړاندی کوي. دی وایي: کله چي وګړي سره راغوندسي،نوددوی ارواح په تولیزه توګه دفلک پرروح تاثیراچوي.او هغه بیا دعناصرو نړۍ ته داسي اغیزي را نقلوي چي په نتیجه کې باران کیږي.

همدغسي البیروني هم داخبره رانقلوي اووائي:ستوري پرنړۍ اغیزي لري.اودغه اغیزي چي په ستورو کي سته دمنلو وړدي. او ځینی بیا دابوریحان البیروني دغه خبري دعلم په چوکاټ کي بولي.

ابن خلدوم :علوم السحر والطلسمات په مقدمه کي وایي: وپوهیږی چی پوهان خپل ترمنځ دهغه اغیزو په برخه کي چي مونږ ورباندی وږغیدو دسحر

دموجودیت په اړه کوم شک اوشبهه نه لري.) دنورمعلومات دپاره دکوډو سرنویشت اثر ۲۳مخ وګوری.

همدغسی په کندهارکي شفاهی جادو او کتبي جادو اوسحر ګراسته چي کتبي یا مادي جادو ئې دعربي،فارسي کتابونو څخه را نقل سوی دی.

**په کندهار کي دګودو او جادو ځانګي**

په کندهارکي هم دلوی افغانستان اودنړۍ دنوروهیوادوپه څېردکوډو تاریخچه له ډیره پخوا اولرغونې زمانې څخه دلته جریان لري. چی لکه مخکی چي مو وویل: شفاهی ډولونه اوځانګي او مادي یا کتبي برخه دکوډو.

**لومړۍ برخه**: چي دتاریخ په لرغونو وختو کي چي تر میلاد مخکی کلونه پرتېرېږي زموږ په هیواداوکندهارکي دغه ډول افسانې ،روایتونه اودجادوګرانو نقلونه موجود وه چي نه ئې مادي کوم سندپه لیکلی توګه سته او نه هم دیوه علمي میتودولوژۍ له مخی بحث پرکیدای سي. او نه هم دهغه وخت خطي نسخې زموږپه لاس کي سته. خو سینه پر سینه تر موږ پوری ئې نقلونه را رسیدلي دي.دبیلګې په توګه دزبزبانی شاپیرۍ افسانوی کیسه چي زموږ په ملي هنداره کې خپره سوې ده او هلته دجادوګرانو څخه یادونه هم سوې ده. سینه پرسینه زموږ دسیمي یوه افسانوي کیسه ده. چی سینه پر سینه تر موږ پوري راغي.او خدای بخښلي محمد ګل نوري هغه دپناه کیدو څخه ساتلې او دشفاهي افسانو او جادوګریو په سلسله کې خپره کړېده.

دوهمه بر خه:چی په دې باب دمذهب او روحاني کسانو سره تړاو لری هغه موږته داسلامي ثقافت ،کیسو او لیکنو دلاری په دې خاطررا نقل سوي دي چي دغه وخت دلیک او لیکدودزمانه نوې را پیل سوې ده او په عربي، فارسي،عبراني ژبو کي لیک دودرواج پیداکړی دی.او دغه ثقافت په سیمه ایز

لحاظ دپخوانیو مدنیتونولکه مصر،هند ،یونان،مراکش، روم، اعراق منځنۍ آسیا او سورېې هیوادونو دلیکدود په وسیله دغه دجادو فکرونه یو اوبل ته سره رسیدلي دي او تر ډیرو بحثونو وروسته ئې په هرهیوادکي بیلابیلي څانگې هم ځانته پیداکړي دي.زموږ په هیوادکي په ټولنیز لحاظ په دې باب سیکهان او زموږ دټولني ځینی روحاني کسان دیوې کسبي دندي په څیر دوټیزو گټوپه خاطردغه دنده دتعویذگریو،جادو گریو دم اوچو کولو دنده پر مخ وړي ده. ځیني ئې په کورواو ځانگړومسجدونو او یادیوې هتۍ په څیر ځایونه ورته لری اوډیر عقیده مندکسان هم لري او بازار ئې هم ښه تودوي.خو دغه کسان یو لړ ئې بیا سیاسیون هم دي چي سیاست او مذهب سره گډوي اودهمدغه لاري څخه دژوندلویه برخه په لاس راوړي.چي په عمومی توگه اغاگان، سیدان،صاحبزاده گان اواخوندان دي.ددوی معتقیدینو ته مریدان وائي،چي ددغه اغاگانو وټیز ژوند په ډیرپیمانه دمریدانواودروړاخیستلوپه وسیله ښکلی وي.اوپه طبقاتي ټولنو کې دحکومتي چاروکوپه حیث لاس رسی هم پیدا کړی وي. دغه دهیوادپه کچه په عینی ډول په کندهار کی هم دغه ډول کوډگران سته چی هم سیاسی گټه ترې اخلي او هم دهمدغه لاري گټه وټه ترلاسه کوي.اوددغه روحاني نفوذدلاري ځان دسیاست وډگرته وررسوي.او حکومتونه هم ددوی ددغه ولسي نفوذ څخه دولس په راټولولو کی او دخپل سیاسي واک په ساتلو کي گټي ترلاسه کوي.نوځکه خوتر ډیره وخته په طبقاتي ټولنوکې دکوډواوتعویذ گرانو بازارهم تودوی.ځکه چی ددولت یوه برخه همدغه خلک جوړوی.دامعامله گري یوازي زموږپه کندهارکي نه بلکي دهیوادپه کچه هم موږ ډیر ستر تعویذ گران لرو چی ددولت چارواکی هم دي او ډیر غریب ولس ئې ددم او چو په جال کی را ښکیل کړي دي.او همدغسي

په نړیواله کچه هم ددغه ډول کوډګرانو او روحاني کسانو نفوذپه ولسونو کې څرګنده دی.او په سرمایداري هیوادو کې هم دطبقاتي ګټو دساتلو دپاره ساتل کیږي.

**ولسونه دکوموستونزوپه خاطرددغواغاګانوروحانینولاسونه نیسي؟.**

څرنګه چي دایوه عامه پدیده ده ، په هغه ټولنو کې چي خلک ئې دخوار ځواکې باد وهلی وي،هلته بیسوادي،فقراو دستونزو کچه ډیره لوړه وي،ولس ډیرناتوانه او مجبوره وي،دخپلي دغه ناتوانۍ په سبب دهرچاه څخه دمرستي غوښتونکی وی.په علمی لاروچارونه پوهیږي یانه ورمعلومیږي،نودخپلو کړاونو او ستونزو دحل په خاطر ددغه کوډګرانو او یا دسیمي نامتو روحاني مشرانو ته دخپلو ستونزودهوارولو په خاطر پناه وروړي او هغوی ئې دلږ یاډیر دروږ په نامه پال ورګوري یائې دتعویذپه وسیله تلقین کوي اویائې ددم اوچوپه نامه تداوی ورکوي.او سړی فکرکوی چي ستونزه نورحل سوه.دغه ستونزي زموږ په کندهار کي خوراډیر رقمونه دټولنیزو شرایطو سره سم لري.ځکه چی ټولنه موطبقاتي ټولنه ده.نو همیشه پر غریبو یا بیسوادوولسونو باندي دغه ستونزي حاکمی وي.لکه مخکی چی می یادونه وکړه ستونزي خوراډیر رقمونه اوحالتونه لري، چی موږ به ئې دیو څو ډولونو نمونې سره بیان کړو.چي په عمومي توګه په نارینو او ښځوکی دغه ستونزي په صحیح لحاظ،اقتصادی لحاظ او دجنسي جوړښتونو په لحاظ توپیر سره لري.خو دښځو ستونزي چي ډیره برخه ئې په کورنیو جوړښتونو پوري تړلې ده . تر ډیره ځایه په یوه کورنۍ کي سره را ګرځي. او په دغه لاندي ستونزمند حالت کی وتعویذګرانو ته پناه وروړي.

لومړی : دمېرہ سره ستونزه : په هغه صورت کی چی مېره ئې بدخویه وي،دوهلو ټکولوڅخه نوموړې ښځه دخپل بیچارګۍ څخه شکایت کوي. څرنګه چي نورنویوې خواته ئې مخه نه ګرځي،نه ئې دطلاق اخیستلو توانمندي لري او نه هم دمېره څخه دشکایت کولو توانمدي لري او نه هم په خپله کورنۍ کی داسی یوقوت ویني چي دادي ددغه ستونزمند حالت څخه را وباسي. نو ځکه کوډګرانو ته پناه وروړي،چی هغه داسي یو تعویذ ورکړي چي مېره ئې پر مهربانه سي او دا فقط دلت او کوب څخه نجات پیداکړي.

دوهم:بنه یا بل واده کول: داهم هغه ستونزه ده چي زموږدفیوډالی ټولني وروسته پاته کلتوردی چی په عامه توګه په ټولنه کی ئې ځای نیولی دی .زموږ په هیواد کي داسلامي کلتورپر بنسټ تر څلورو ښځوپوري حق اوجوازسته، خودښځوغوښتنه بیا دیوه سړي سره واده کول دي.او دهغه سره ګډژوند ئې ارزواوغوښتنه ده.څنګه چي ښځه دټولني په کاروبارکي شامله نه ده او دوټېزو ستونزو سره لاس په ګریوان ده نو په همدغه خاطر دځان اختیار هم دخپل سرنویشت په باب نه لري او دهغه سرنو یشت لومړی خودپلارپه کورکې دنارینومشرانو په لاس کی وي او یا هم دهغه دکورنۍ دورنو په مشوره دخوریا لوردواده سرنویشت ټاکل کیږي. خو څه وخت چی دواده سرنویشت ئې معلوم سو نوبیا هغه دکورپه څلوردیواله کي ژوندکوي اوټوله اړونده سرنویشت او صلاحیت ئې دمېره،خواښي اوخسر تر واک لاندی وي.نو څرنګه چي دسوادکچه په نارینو او په ځانګړې توګه په ښځوکي خورا ډېره لږده، نو په همدغه سبب دناخوالو په وخت کي بله هیڅ لاره نه ورته معلومیږي بیله دې څخه چي دظلم په مقابل کي یا کوډي اوتعویذته پناه یوسي .او یا هم هغه متل دی چی وائي : ( دخوار دا یا ژړاده یا ښیرا ده) . نو یوه ښځه هغه وخت

تعویذاوکوډي کوي چي یائې میږه وهل ورکوي،یا بله ښځه پرراولي یاهم دخپل انتخاب څخه محرومه وي او دکورني جبر په وسیله ئې یوبل هغه کس ته ور په نکاح کوی چی نوموړي پیغله یا ښځه دخپل زړه دانتخابه څخه محرومه کیږي.دغه دوه ډیر ستر کړاونه دي دیوې کندهارۍ ښځي یاپه ټوله کي زموږ دوروسته پاته ټولني.خو؛نورکوچني اولوی ډول ،ډول حالتونه هم سته چی ښځي وتعویذاو یاکوډوته مخه کوي.لکه :همدغسي تعویذ ګرته ورځي او دخپل کوچني په خاطر تعویذ ځیني اخلي او هغه بیا په غاړه او یا داوږې په کومه برخه کي ورتړي،تر څو ددښمن دهر ډول تاوانه څخه وژغورل سي. داتر ډیره کچي هغه وخت کیږي چي یوه ښځه بن ولري اودهغه دښراواو بدودوعاګانو څخه خپل زوی ساتي. همدغسي لکه چي پورته په لنډه توګه بحث پروسو دښځوپرابلمونه یوډول اودنارینوپرابلمونه بیادباندني اوډیره برخه ئې داقتصاد سره اړه لري.نارینه چي دکورنۍ او حتادټولنی په وټیزحالات کی ستره ونډه لري،دخپل کاروبارپه جریان کي خپلی ځانګړي ستونزي هم لري. نودستونزودحلولودپاره دتعویزاوکوډوڅخه هم ګټه اخلي.پرخپل شرکت، ښایسته موټر،قیمتي مالونو،غوا،غویی اوداسي نوروشیانوباندي دطبعي افت په خاطر تعویزګرانو ته ځی او کوډي او تعویذګري پرکوي.

تعویذچي پرکاغذ باندي نویشته سوي درودونه دي،دروحانینوپه وسیله وخلکواو ښځو ته ورکول کیږي، هغه کاغذ چی درودونه پرلیکلي دي،نو بیا په یوه ټوکریا څرمن کي ګنډل کیږي اودیوه مثلث په څیر جوړیږي او بیا ئې دځانه سره ګرځوي. نو دځانه سره دګرځولو په خاطر بیا هغه دکالو پر یوه برخه یااوږه،دکمیس شاه او مخ باندی ګنډي او یا ئې هم په غاړه کی دیوه تار په وسیله ځړوي.خو که چیري ئې بیا پر کوم ځانګړي شي باندي تعویذ

کړی وي نو دهغه شي پریوه برخه باندي تعویذ ځړه وي دبیلګې په توګه ځیني وختونه دهوټل یارستورانت یادوکان په خاطریوڅوک تعویذکوي.نو؛ سمدلاسه ئې په یوه برخه کې دهمدغه هټیویاځیزونوپرشاه وخوا ځړوي. ترڅوچي دبدوسترګوڅخه راوګرځول سي.همدغسي پرشرکتونو،موټرانوبار وړنکولاریانو حاصیل خیزه پالیزونو باندي تعویذ ځړه وي.موږ تاسي دکند هار په شاه وخوااودښارڅخه دباندي دتعویذددوداودستورڅخه خبریو.اوپه خپله مو هم لیدلي دي. په پای کې دیوې داسي ورځې په هیله چي زموږ ګران هیواد افغانستان یوعلمي پر مختللی هیواد واوسیږي.اود علمي پر مختګ په رڼا کې دتولیدي وسایلو په درلودلو سره دهمدغه جادوګرانو څخه خلاص پر مختللی افغانستان ولرو.

## دکندهار پایلو چان

په کندهار کی یوه سلسله غښتلي،دلوړ همت، کلک عزم اوپه ځان باور مند خلک دي، چي دډیرو ښو صفتونو خاوندان هم دي، خو دپایلچانوپه نوم ئې بولي،دغه نوم که موږ راواخلو هغه چاته ویل کیږي چي پښې ئې لوڅي وی نودفارسي ژبي دغه لغات سره برابریږي. خوداسي نه ده دکندهار دغه پایلوچان خپل ځانګړی لباس لري، چی دبوټواو جرابو پر ځای یا موچڼه استعمالوي اویا هم ځانګړي چوټي ،اوږده کمیسان اغوندي او دمریوخولۍ چي په اصطلاح (رخچینه) ورته وایی او همدغسي لنګوټه دیوې اوږدې شملې سره چي ټوکر ئې یا پاچ اویا هم لونګۍ وي. لونګۍ هم زرینه او هم ساده غوندي وي. دکندهار دغه غښتلي خلک ۰(پایلو چان) هم په خانانو کی ستړه او هم په غریبو خلکو کي ، خو دخپل خصلت له مخي ورته نامي، پایلوچه، ښه ځوان یا غښتلی وائي.دغه خلک دهر چاه سره جنګ نه کوي،خودهغه

چاه سره جنګ کوی چې هغه هم دده په شان غښتلی وي او پریوه موضوع ئې سره اختلاف سي، نو همدغسی دهر چاه په مخ کی چنګ نه کوي،دډیرو خلکو په منځ کی هم جنګ نه کوی.او دوی ځانته دجنګ په وخت کی یواوبل ته خپله ایشاره اواصطلاح کاروي( نری پنډل درواخله) معناداچی دښاربهرمامتو ته درووځه ( مامتې هغه ځایونه دي چې دښارڅخه وتلي دشپیشتو پانډل، دخسیلو پانډل اوداسي نوردکرهڼي مځکي چی تر ښاروتلي وي ).او هلته ګنه ګونه نه وي او نه ئې دخلاصیدو څوک موجود وي.پایلوچان دځان دپاره ځنګړې ژبه استعمالوي، چې عام خلک ئې نه استعمالوي. لکه : نری پا ندل،ځیګر ته خاوره اچول،ناځوانه، جارسم دنامي زویه،زیاته بزیا تره.اوداسي نوري خبري اواصطلاحات دي چې دکندهارپایلوچان ئې استعمالوي.همدغسي پایلوچان هغه غښتلي خلک دي چې څه وخت چی ئې یوه ګناه وکړه نودلښتي په زور اویا نوروشکنجوپه زورئې څوک جرم نه سي پر ثابتولای.ځینی ظالم امنیه قومندانان ددغسي خلکو څخه داقرار اخیستلو په وخت کي ډیربد سلوک ورسره کوی او حتا پراندامونوئې اوروربلوي،تر وهلو لاندی ئې دکوما یا ضعف حالت ته رسوي خو اقرارنه سي ترې اخیستلای.او همدغسي تر مخه تردې چې دپایلوچانو جنګ سره ومښلي یودبله سره وائي چی اقرارخوبه نه کوې.یعني عرض خوبه دجنګه وروسته پرحکومت نه را باندي کوې.یاوائي:(هغه به ناځوانه وي چې عرض یااقراروکړي) یاهم ښکنځل سرایږدي،یا قسم سره یادوي.خوپه هرصورت دوی دجنګه وروسته دخپلي واعدي پر بنسټ پر حکومت اعرض نه کوي.او که چیری دښوونځی یو زده کونکی په تصادفي ډول دجنګ په مقصدورسره مخامخ سي، نودی ئې دجنګ څخه ډه،ډه کوی اوخپله اصطلاح داسي ورته څرګنده وي( موږ دکوتنه والا

سره جنګ نه کوو.) ممکن ددې علت همداوي چي هغه دبایلچانوپه قوانینو نه پوهیږي او دخوړ په وخت کي پر حکومت باندي اعرض کوي.اوداسی نور څه سته چی هغه دښوونځی زده کونکی ئې نه سي مراعت کولای.دکندهار پایلوچان دمرګ څخه هم ډارنه لري او دژوندپه اوږدوکی هم دسختو خطرونو سره مخامخ سوي دي.خو بیریدلي نه دي.دکندهار پایلوچان یاغښتلي که چیري دیو چاه سره مخالفت ولري او دجنګ وړاوته ورسیږي نو مخکي تر هغه چي جنګ سره وکړي قانو ن یواوبل ته وائي: په تش لاس جنګ کوې او که په ډک لاس،چی دډک لاس څخه ئې مرادخنجر،چاړه،پنجه بوکس او نوروسایل دي.نو همدغسي .دهمدغه قانون پر بنسټ خبره سره خلاصوي. دوی خپل قصد خپله اخلي نه دحکومت په ملاتړ. دبیلګې په توګه څه وخت چي دیوه پایلوچه څخه څوک غلا وکړي، یا هم ئې دکوریونفر څوک په ناحقه ورزخمي یا ووژني یابل کوم تاوان ورورسوي،نوهمدغه وخت دی دکورنۍ یادوستانو سره وائي چي تر هغوپوري چی مادغه غچ نه وي اخیستی زما به روژه وي. او همدغسی دخپل دښمن په تلاښ کي کیږي او روژه نیسي. تر څوچي ددښمن څخه ئې غچ نه وي اخیستی دده روژه وي او کله چي ئې ددښمن څخه غچ واخیستی نودی هم روژه ماتوي او خلک په دې پوهیږي چی نوموړي پایلوچه خپل غچ واخیستی.دکندهاردپایلو چانو ډیره برخه دخولې نصوار هم کوي،خوسګریټ په کښي لږ خلک څکوي،یولړ ئې چرس هم څکوي خوشراب په کښي رواج نه لري.ډیره برخه ئې دسپیانو دجنګ او سګوانی مینوال دي ،کرکان هم ساتي اوجنګوی ئې. هغه کسان چي وتېزحالت ئې خراب وي هغوی ډیر زحمت کښه،دخپل ګټي څخه راضي یا خوښ وي.هغوی سپی ډیر ښه نازوي او هر څه چي ګټي په هم هغه سپي ئې خرڅوي. دبیلګې په توګه مایو

پایلوچه پیژنده چي هر مازدیگربه ئې خپل سپي ته دنانوای په دکان کي دهګیو خاګینه دتودې ډوډۍ سره ورکول خو خپله به ئې وچه ډوډۍ خوړل.پر دوی خپل سپي چی په هر اړخیز ډول ئې ددوی سره عادت نیولی وي ډیر ګران او په مینه ژوند ورسره کوي.په پایلوچو یاغښتلو کسانو کي تعلیم یافته ،بیسواده ،خانان او میسکینان هر ډول کسان سته خو ددوی اخلاقی موازین دنورو څخه توپیر لري.او موږ ئې هم دهغه ځانګړنو دمخې دنورو عامو خلکو څخه بیلولای سو. لکه مخکی چی مو یادونه وکړه.

دکندهاردنامتو غښتلو کسانو څخه یوهم دکندهار دکوهک عبدالرشید خان،دکندهاربنګ حبیب الله چي په حبیب الله ماما سره ئې هم نوم درلود.دبنګ حبیب الله کیسې خورا ډیري دي او هرکیسه ئې یوه رساله نیسي نوځکه ئې موږدلته یوازی دنوم یادونه کوو.حبیب الله ماماچی دکندهار دښوځوانانوڅخه وو، دکندهارپه بارودروازه کي په خپل پلارني کورکي اوسیده او هم هلته دسلو کالو په عمر سره وفات سو دپلارنوم ئې مشکو اکانومیده .

همدغسي خدای بخښلی عبدالرشیدخان دکوهک دمحمد زو څخه وو، چی هم خان وو.او هم ئې دمیړاني نوم تللی وو.

همدغسي دکندهاردښوځوانانو او یاپه اصطلاح پایلوچانو دجملې څخه بل هم حاجي لطیف وو. چي هم ئې دغښتل توب نوم او نشان درلوداو هم ئې دډیرو خلکو ملاتړ تر لاسه کړی وو.او دکندهار دښار اوسیدونکی وو، چی دکندهار دسګوانانو دلوبو مشرتابه ئې هم درلودله.دکندهار دنامیانو یا ښو ځوانانو دجملې څخه ګڼل کیده.

همدغسي دکندهار دده خوځې اوسیدونکی شاه زمری:هم هغه غښتلی ووچي دنامیانو په منځ کي دښه ځوان او په اصطلاح دپایلوچه نوم درلودی.

خدای بخښلی شاه زمری چی په یوه لاس یا پنجه کي عیب درلود اودیوه لاس پنجه ئې نه درلودله په ګوډ زمري سره هم نوم درودی. دګوډ زمري کیسې هم خورا ډیري دي چي یوه کیسه به ئې په لنډ ډول ستاسو سره شریکه کړم شاه زمری دوخت نامي : شاه زمری چی دکندهار دده خوجې اوسیدونکی وو، یو وخت ئې یولک افغانۍ دکندهار دګمرک په دروازه کی پیداکړې، داوخت یولک افغانۍ خورا ډیري پیسې وې. ځکه یوډالربه تر لس افغانیو ډیرنه وو. خو هغه دغه پیسې دخپلو نورو ملګرو او ټولو دهی خوجېګیانو سره په چړو چړاو کي مصرف کړې، چي دغه وخت بیا هغه کس چي پیسې ئې ورکی سوی وې،هغه تجار محمد خان نومیده چي په قوم پو پلزی وو.هغه خبرسو .چي په ده خواجه کي شاه زمری چړوچړاو جوړکړی دی.نو سمدلاسه شاه زمری ته ورغلی،وې ویل: دغه پیسې زماوې شاه زمري چي نه ددرواغو سره مینه درلودله او نه ئې هم دپیسو دساتلو سره مینه درلودله. سمدلاسه ئې ورته وویل: دغه پیسې ستا وې او خدای ماته راکړې او ما هم دخپلودوستانو او دده خوجې دخلکو سره دخدای په رزاخرڅي کړې اوس چی ته ئې مالک پیداسوې هغه پاته پیسې به بیرته تاته درکړم ( زیاته به زیاتره) داهغه تکیه کلام ووچي ډیروپایلوچانودځانه سره استعمالوه.هغه تجارته چي حاجي محمد خان نومیده هغه ته ئې بیله جنجاله دپنځویشتو زروپه شاه وخوا کی بیرته وروسپارلې. خو! دلته ډیرهغه کسان چي به دپایلوچویا غښتلو ځوانانو په صداقت نه پوهیده هغوی به شاه زمري ته ویل چي کشکي دي دغه پیسې نه وای رسواکړي او خپل ژوندبه دي په جوړ کړی وای... خو شاه زمری ته دغه خبري بیخي ډیرزوروركوی اوورته ویل به ئې : شاه زمری همیشه خان وو،خان دی.ځکه زه ایمان لرم ،هغه څوک چی ایمان نه لري هغه مسکین

دی.اوپه دغه پیسو زه نه مړیدم. دشاه زمري همت تر دغه لاهم لوړوو، چی دغه غیرت زموږپه ډیرودنیادارو، ښوونیزواوحکومتي چارواکو کې یا نسته او یا هم لږلیدل کیږي. داځکه چي دغسي خلک دځانه سره قناعت لري،او همیشه ئې نیت ډیر پراخ وي.

نو که زه دټولو غښتلو پایلوچیانو کیسې راواخلم ممکن دغه کتاب یو پایلوچ نامه ځیني جوړسي نوځکه ئې دکیسو څخه ډه،ډه کوم اویوازېي نومونه یادوم: چي ماپیژندل بیا هم دده خوجې اتام یا (نورمحمد) چی تر یوه ځایه ئې زده کړه هم کړې وه اوبیا وروسته دکندهار دمیونددولسوالی ولسوال په توګه ئې دنده تر سره کوله.معلم صاحب بازمحمد خان،استاد فضل محمد خان معلم صاحب محمدک خان ، یارکی چی اصلي نوم ئې ممکن (یار محمد) وي. عصمت الله عبیدي چي دزراعت دپوهنتون څخه خلاص سوی وو.ښاغلی ایبک مخلص،همدغسي دکندهار په هره برخه کي نامیان یا غښتلي ځوانان موجود وه، چي ځانته ئې ځانګړي دغیرت نښي نښانې او کیسې درلودلې. دغه غښتلي خلکو چی یو لږ ځانګړنې درلو دلې دوی نه یوازی په افغانستان او کندهارکي په همدغه ورته نوم سره دخپلوځانګړنودمخي ګډ ي ځانګړني درلودلې .همدغه دکندهار غښتلو پایلو چیانو په کابل کې بیا دکاکګانوپه نوم نومول کیده. چی ځانګړنه ئې دکندهار دنامیانو،پایلوچیانواوغښتلوسره توپیرنه درلود.ویل کیږي چي په پا چهانو کی امیر عبدالرحمان چي په غښتلي امیرسره ئې هم شهرت درلود.یو دهغه غښتلو کسانو دجملې څخه وو، چی دهمدغه پا یلو چیانو ځانګړنه ئې درلودلې.

دپایلوچیانونوم په مختلیفو وختونو کي او په مخلیفو هیوادونو او سیمو کي بیلابیل یادسوی دی. او دخپلي سیمی دشرایطو سره نومونه ور کړل سوي

دي.دبیلګې په توګه عیاران،ښه ځوانان،پایلوچیان،کاکګان،غښتلي اوداسي نور...خوداچي دوی په هر نوم سره نومول سوي هم دي . ددوی ځانګړتیاوی دارزښت وړګڼل سوي دي.دغه غښتلی دخپل غیرت په میدان کې دغه دستایني وړځانګړنی لري.

لومړی: رښتیا ویل داهغه صفت دی چي دهر چاه سره نسته اوناتوانه کسان ریښتیا څخه ډه،ډه کوي.

دوهم صداقت : داهغه ستاینه ده چي دډیرو با همته کسانو دطبعی وجدان ځانګړنه کیدای سي.

دریم : پرخپله واعده باندی وفاه کول چي که څوک پرواده وفاه وکړي،هغه دبشپړه باور خاوند وي.او هغه ته موړبا مسؤلیته کس وایو.

څلورم : دسختیو په مقابل کي کلک مقاومت او اعزم دیوه ډیر غښتلي کس په توان او تاقت سره کیدای سي.

پنځم : زحمت کښي داهم هغه صفت دی چي دهرچاه په نصیب نه وي یوازی باهمته کسان دسختیو په مقابل کي مقاومت درلودلای سي. دوی ټول وخت دخپلولاسونو دزحمت کښیوپه تیرولو کي خپل ژوندپرمخ بیائي او هیچاه ته دتمعی په لرلو سره ځان نه محتاجه کوي.

شپږم : رازساتل دوی هغه کسان دي چي دژوندپه چاروکي دهیچاه بد نه وائي او په بشپړه ایمانداري سره دهر چاه رازساتي.

اوم:ځان ترنوررولوړګڼل دا هغه ځانګړنه ده چي دکندهارپه غښتلوپایلو چیانو کي په ډیره ښکارتوګه لیدل کیدای سي.دغه غښتلي په رنګ او قیافه کي ډیر عجزه لیکن په همت کي بې ساري غښتلي وي.

اتم : دکمزورى ملاتړ: دغه غښتلي پايلو چيان دهر کمزوري څخه ملاتړ کوي او دملامت په مقابل کي دواکدار پرضد ولاړوي. دهغوی مغروره کس نه خوښيږي.

نهم : حرام نه خورى: ددوی ځانګړنه څنګه چي کاراوزحمت ايستل دي، نودحرامو څخه پرهيز کوي. غلانه کوي اودغلو څخه ئې هم ښه نه راځي.

لسم: دوی دخلکو دناموس ساتونکي دي او دهرچاه عزت خپل عزت ګڼي. اودبې عزته خلکو اوبې ناموسه خلکو څخه نفرت کوي.

يوولسم دوهلو ،لښتوپه مقابل کي ټينګښت : دوی په زوره اقرار نه کوي،خوپه نرميش سره بيا دهر نرم په مقابل کي نرم طبيعت لري.

پورته لس ځانګړني هغه ځانګړنى دي کوم چي دکندهار دغښتلو پايلو چيانو سره سته. دغه غښتلي په کندهار کي په هر ډول خلکو کي سته هم په هندوانو کى موږ غښتلى پايلوچه ځوانان درلودله، هم په شعيه فارسي ژبو کى او هم دکندهارپه نورو قومونوکې،خوداپه نړې کي هم لکه مخکي چي يادونه وسوه سته او وه.دوی موږ ددغه يولسو ځانګړنوله مخى څخه پيژنو چي که په هر ژبه ږغيږي اويا په هر مذهب او عقيده چي وي دځان دپاره دټولنيزوشرايطو سره سم ځانګړي نومونه لري داچى هرنولري لري وبه ئې لري.خوموږدکندهارخلک دغوپايلوچيانو ته غښتلي وايو او زه ئې هم دغښتلو ځوانانوپه نوم سره پيژنم.

يادونه: دلته يوه يادونه ضروري ګنم چي ځيني وخت يولړ خلک دخپلو توانمنديوله مخي ډيرپه لښته کلک وي او دسختيو په مقابل کي مقاومت هم لري،خو!دادپايلوچانو ترعنوان لاندي نه سي راتلای.دبيلګې په توګه دکندهار مشهوره غله لکه:جمعه ګل او پستکى.چي دظاهرشاه په وخت کې په کال

۱۳۴۹هـ ش کې دکندهارټوله خلک ناارامه کړي وه اوڅوځله دبنديخانې څخه دنه اقرارپه سبب بيرته را خوشي سوی هم وه،خوپه پای کي دکندهار دامنيه قومنداني دخواڅخه دکندهار په پرېپايمال سيمه کي ووژل سوه. په لښته کلک وه خودپايلوچيانوياغښتلوځوانانوځانګړني ئې نه درلودلې.ددغوغلو دوژلوڅخه وروسته دکندهاردخلکودخوشحالۍ په سبب ئې څوورځي دکندهار په ارګ بازارکي ايښي وه څو خلک دبيغمۍ احساس وکړي.

ددغوغلويوه نامتو کيسه ده چي هغه وخت چي ددوی دلاسه خلک دبابا صاحب اودکندهار باغ پول ميلوته نه سوای ورتلای اوهم ئې دشپې خلک په کوڅو کې لوټول،يابه کوروته لويدل.ظالم خلک وه. کيسه ئې هم داسي ده.

کيسه : يوه ورځ يو فقير دکندهاردچونۍ په سيمه کي ورته ودريدی او دخدای په نوم ئې دفقرلاس ورته اوږدکړی وو، چی دخدای په نوم يو کومک را سره وکړه،خدای به جنت درپه نصيب کړي ...جمعه ګل غله وفقيرته وويل:اکا!جنت دي ډيرخوښ دی هغه فقيرورته وويل: بلې هو؛ جنت مي خوښ دی .جمعه ګل غله دتوپنګچې ډزي پروکړې اوفقيرئې په سروويښتو ولړی وې ويل : ته بيا زما دخوا څخه شهيد سوې ځه مخامخ جنت ته...

**پا يله**

په دې کي شک نسته چي دوختونو په تيريدو سره ډير هغه ملی فلکوريک اوتاريخي ارزښتونه دي چي دوخت په تيريدوسره دانساني حفيظوڅخه ورکيږي .او ساتل ئې اړين بلل کيږي. نوکه دغه ارزښتونه ديوه نسل څخه وبل نسل ته ور انتقال سي ،موږبه په عمومي توګه دهنر ادب او علمي بنسټنو يوه لرغونې برخه ساتلې وي.او دتيرو فلکولوريکو بنسټونو څخه به مو ګټه تر لاسه کړې وي. او همدغسی په علمي برخه کي به مو هم دغه معنوي شتمني

دلاسه نه وي ورکړې.نو لکه څنګه چي تاريخي پيښې مهمي دي اوساتل ئې ضروري دي. همدغسي دتاريخ سره دمرستي په خاطر شفاهي ادبيات هم د ګټي وړثابت سوي دي.نوکه موږ دمادي فلکلوريا ليکلي فولکلورته توجووکړو نوموږبه دشفاهي فلکلوريکوادبياتوسره دساتلوپه برخه کی مرسته کړې وي.همدغسي زموږ دهنر اوهنري کسبکارانو چي دفرهنګ او کلتور په برخه کې کوښښونه کړي دي.ستاينه او دعلمي تلاښونو دخوندی کولو ضرورت ئې اړين دی. چي دغه ټوله موږ په ليکلی توګه دځانه سره ولرو او دهغه وخته څخه چی ليک دودرامنځته سوی دی،دنړۍ فرهنګي ، کلتوري او دفولکلور مختليف ډولونه هم نه يوازي داچي په هغه خپله ټولنه کي ساتل سوی دي، بلکي دنړۍ دګوټ،ګوټ څخه ونورهيوادوته هم ور انتقال سوي دي او ګټه ترې اخيستل سوې ده.نو که دغه قيمتي توکی نه وای ساتل سوي. دانسانانو اتنيکي، تاريخي او کلتوري اړيکي به هم نن زموږ دعلمي اوتاريخی تحقيق جزء نه وای. همدغسي په سلهاو نورډولونه دفلکولوريکو اړيکو سته چي موږ ئې په خپل کتاب کي يادونه هم وکړه چي نن دانسانانو دحفيظو څخه يا په ټوله کي ورک دي او يا هم دورکيد وپه درشل کي دي. زه چي اوس ددغه کتاب دوهم ځل خپريدل ضروري ګڼم يو علت ئې دنورو علتو په لړکي دغه هم دی چي که څه هم نوموړی کتاب په چاپي ډول رامنځته سوی دی، خودوخت دضرورت او کاغذدزړيدوپه خاطر ئې دنوي خپريدوضرورت اړين ګڼم.اوبل هم دغه ځينی فلکلوريکي لوبي،چي خوراډيري ځانګی لري ځينی ئې خواوس بيخی دنيست سره لاس او ګريوان دي.او ځيني ئې لاپه نيم ژوانده ډول ساه باسي.حتا هغه وخت چي ما دغه فلکوريک دودونه ليکل زما په يادوه، خو اوس چی زه دوهم ځل دغه کتاب دبيا خپريدو دپاره چمتو کوم ځيني مي دياده هم وتلي دي،

چی دنیکه مرغه دکتاب په لو ستلو سره دبیا دپاره را پیادسوه.نو زه یقین لرم چی دغه فلکلوریکي توکي به زما تر تاریخي مقطعي یا وخت وروسته دډیرو لږو کسانو په یاد کي پاته وي. اویابه نیست او نابودسوي وي. دغه تشه ما دخپل ځانه سره احساس کړه اوپه یوه داسي تاریخي وخت کي مي دځینو تلاښونوپه کولو سره دغه لومړی واردکندهار فلکلورټیه او ولیکی ، چی حالات دجنګ وه او زه دکابل په تاریخي ښارکي داسي قیدوم چي نورو ولایتونو ته دځیړني دپاره نه سوای ورتلای .خو په هر صورت دغه کتاب مي تر دغه ځایه ولیکی.

مالیکلي هغه څه دي چي یادونه مې پرزړه دي
دیادونو سرګرمی ده که داښه دي اوکه نه دي
پښتنو ته یو خدمت دی دافرهنګ بایدهیر نسي
ما ایستلې ده خواري داپه دې چي برباد نسي

ننګیالی بځرکی

۲۰۲۰ – ۱۱ – ۲۰ نیټه

هالینډ فینندال

**« لنډه پیژندنه »**

دکندهاردفلکلورلیکوال ننګیالی بځرکی دمحمد علم بځرکي زوی دحاجي محمدانورخان اڅکزي لمسی دکندهارپه ځلورمه ناحیه کې دبي،بي هواپه کوڅه کې دې د نیا ته راغلی او په ۱۹۷۵م کال کي دکندهاردالبیروني لیسې څخه فارغه سوی دی،لوړي زده کړي ئې دکابل پوهنتون دژبواوادبیاتوپه پوهنځی کې سرته رسولي دي.اوبیا ئې دهمدغه پوهنځی څخه دماستری دیپلوم ترلاسه کړی دی.

کاري دندي ئې لومړی دافغانستان دکودکیمیاوي په ریاست کي بیا په اطلاعات ،کلتوروزارت اړونددخپرونوپه څانګوکې دنده ترسره کړې ده،بیادعلومو اکاډمۍ دلرغون پیژندني په ریاست اووروستۍ دنده ئې دنشراتودریاست

مرستيال بيادهمدغه علومواكاډمي دخارجه چارودا ړيكو درياست دمرستيال په توګه ئې دنده ترسره كړيده.

دننګيالي بښركي ليكلي مضمونونه اومقالي دهيوادپه ډيرواخبارونواومجلوكې خپاره سوي دي.يولړكتابونه هم دده په اهتمام دعلوماكاډمۍ اونوروعلمي مؤسيسو كي دده په اهتمام سر خپاره سوي دي.خوهغه كتابونه چي تراوسه ده ليكل دي. په لاندي ډول دي.

لومړی : دكندها رفلكلوركتاب چي دكندهاردولسونودكلتوراوفرهنګ نماينده ګی كوي.

دوهم: دافغان انګليس په دروجنګوكې رزمي ادبيات : دوخت يوتاريخی ادبي كتاب دی.

دريم: دپښتنوډيرلروني ادبي ستوري اولرغوني ادبيات: دادبياتولرغونتوب په كښي ځرګند دی.

څلورم : دمحمدعلم بښركي دژوند ځيني برخي لومړی چاپ : دوخت يوسياسي كتاب دی.

پنځم : ددوهم ځل دپاره دځينو اصلاحاتو سره دمحمد علم بښركي دژوند ځيني برخي.

شپږم : دوخت احساس اودزړه آوازدشعرونوټولګه دشعرپه ژبه

اووم : دمؤلوی بهرام خان اڅكزي دژوند ملي او ډموكرا ټيكی مبارزې يوسياسي كتلب دی.

اتم : دساجدې بښركي ژونداومبارزه:دغه كتاب دكندهاردښځودغورځنګ په باب دي.

نهم: دستارې فكري وړانګې:ستاره اڅكزی يوه هيوادپاله سياسي مبارزه وه.

لسم: دكندهارد فلكلوركتاب ددوهم ځل اصلاحاتواونورويادونوسره خپريدوته چمتوسو.

يولسم : دپيروژې داستان : په دې رومان كي دوخت ستونزي په رومانتيک ډول ځرګندي سوي دي

یادونه: نورناخپاره سوي دشعروتولګي اوتاریخي،ادبي کتابونه خپریدوته چمتودي .

A short introduction:

A folklore writer of Kandahar, son of Muhammad Alam Batserki and grandson of Haji Muhammad Anwar Khan, Nangyalai Batserki.

Mr, Nangyalai Batserki was born in Kandahar’s 4th constituency in Bibi Hawa Street. He graduated from Al Barooni College in year 1957. He further went to the University of Kabul and graduated from the faculty of Languages and Literature, where he also got the chance to complete his Diploma of Teaching from the same faculty.

He took a start of his career at the Chemical Fertilizers Directorate of Afghanistan. Thereafter, he joined the Department of Information, Culture and News related Department. He later became part of Academy of Education at the Department of Archaeology Information and further went to join the Directorate of Broadcasting as Secretary wherein he also served as Secretary for the Departments’ External and Foreign Affairs section.

Nangyalai Batserki is an author of numerous articles and publications that are published in various magazines and newspapers. Additionally, he is an author of a number of books that were published in different educational institutions and organizations. A list of his publications has been mentioned below:

a. The Kandahar Folklore: This book highlights and represents the culture of Kandahar.

b. Martial Literature in the Afghan-British three Wars: A historical literary book of its time.

c. The Most Ancient Literary Stars of Pashtuns and Ancient Literature: The antiquity of literature is evident in it.

d. A Book on the life of Muhammad Alam Bacharkai (First Edition): A Political Analysis Book

e. A Book on the life of Muhammad Alam Batserki (Second Edition): With some additions to the first edition

f. A collection of poems on the importance of time and the voice of heart in the language of poetry.

g. A political study book on the national and democratic struggle of Molvi Behram Khan Achakzai's life.

h. The Life & Struggle of Sajida Batserki: This book is about Kandahar women's movement.

i. Sitara's Ideology: Sitara Atsakzai was a patriotic political activities.

j. The Kandahar Folklore: This book is ready to be published for the second time with some additional remembrances and amendments.

k. The tale of Pairozha: This novel discusses the problems of time that are expressed in a romantic way.

· Note: Many other poetries, collections, historical and literary books are ready for publication.

(Nazir Ahmed Atsakzai, Inayatullah Karez, Gulistan)

# دافغانستان جمهوریت دعلومو اکاډمي

## دژبو او ادبیاتومرکز

## دکندهار فلکلور

## دوهم ځل چاپ



کابل : لومړی ټوک ۱۳۶۹

کندهار: دوهم ټوک : ۱۳۹۹

لیکونکی : ننګیالی بخرکی